

# پښتو د تاریخ په بهیر کې


لیکوال: **محمد اقبال وزیري**

خپرندوی: **کاکړ تاریخي علمي بنسټ**

د لیکنې ځای: **دوردرېخت، هالنډ**

چاپ وار: **لومړی**

چاپکال: **۱۳۹۴ل/ ۲۰۱۵ز**

چاپشمېر: **۲۰۰۰ ټوکه**

ډیزاین: **سپین سهار**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**


Ketabton.com

**ه بهير کې**

**روې)**

**ل وزيري**

دوردرېخت، هالنډ ۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالــۍ

دا کتـاب درنـو او قـدرمنو وروڼـو: محمـد افضـل خـان لالا او پوهانـد ډاکټـر محمد حسن کاکړ ته ډالۍ کوم.



# د خپرندوی بنسټ یادښت

(کاکړ تاریخي بنسټ) دخپـل کـار لـه پیلـه وعـده کـړې وه، چـې د پیـاوړي افغان تاریخپوه پوهاند دکتور محمدحسن کاکړ داثارو ترڅنـګ بـه د افغـاني فرهنګ او تاریخ په اړه ځینې هغه مهم اثارهم خپروي، چې د دې بنسـټ لـه موخو او تاریخي ـ علمي معیـارونو سره سـمون ولـري. دا دی پـه دوهـم ګـام کې د ښاغلي اقبال وزیـري پـه زړه پـورې اثـر( پښـتو د تـاریخ پـه بهیـر) کـې خپروي. د دې کتاب لیکـوال هڅـه کـړې، د پښتو ژبې تـاریخي رېښـه اود تـاریخ پـه اوږدوکـې یـې د ودې پړاوونـه وڅېـړي او هغـه تـاریخي، ټـولنیز، فرهنګي او سیاسي عوامل راوپېژني چې د دغـې لرغـونې ژبـې د ودې پـه لار کې یې خنډو ځنډ پېښ کړی دی.

په ایراني، هیندو ایراني او هیندو اروپایي ژب ـ کورنیو کې د پښـتو لرغـونی ځای یو په زړه پورې بحث دی، چې له نېکه مرغه په نوې زمانه کې یوشـمېر افغان او لویدیزو ژبپوهانو او فېلالوژسـتانو پـرې څېړنـې او لیکـل کـړي دي. پوهېږو، چې د یوې لرغونې ژبې د بشپړې مطالعې لپاره یوازې ژبنـۍ څېړنـې بس نـه دي، بلکـې هـره ژبـه د ژبتوکمپـوهنیز ( اتنـو لنګویسـتیکي Ethno-linguistics ) بشرــپېژندنې ( Anthropologic)، تـاریخي ـ مقایســوي ژبپوهنې، اړپوهنې (Etymology) او نورو اړوندو پوهنو په رڼا کې لوسـتل کیږي. د پښتو ژبې تـاریخ تـه دشـلمې پېـړۍ تـر پیلـه پـورې پـه دودیـز او روایتي بڼه کتل کېـدل او ددې ژبـې پـه اړه شـننې یـوازې پـر هغـو روایتونـو ولاړې وې، چې دسیالو او تربورو فرهنګـي حـوزو د دودیـزو لیکوالـو پـه لاس کښل کېدل. که څه هم په لویدیځ کې دنورو ایراني ژبو په لړ کـې پـر پښـتو نـوې ـ علمـي څېړنـې لاپخـوا راپیـل شـوې وې، خودافغـاني پوهـانو څېړنـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدې نویو اکاډمیکو معیارونو پربنسټ لاځوانې او نوې دي. په دې بهیر کې دښاغلي اقبال وزیري دغه کتاب هم دځانګړي پام وړ اثر دی، چې ښایي دپښتو ژبې په برخه کې ځینې تیاره ګوټونه رڼا کړای شي. دښاغلي وزیري دکار یوه ځانګړنه دا هم ده، چې د ژبې د ودې په برخه کې یې ځینې ټولنیزاو ادبي ـ شعري بهیرونه هم څېړلي دي. د ژبې د ودې لپاره یې د بېلابېلو دربارونو او شخصیتونه ونډه هم مطالعه کړې ده، چې په راتلونکې کې د دغې ژبې د لابډاېینې لپاره تاریخي تجربې زموږ ترمخ ږدي.

لیکوال د کتاب په پای کې ځینې وړاندیزونه هم لري، چې ښایي زموږ د ژبې د ودې او پراختیا لپاره یې مهم لاسوندونه وګڼو.

کاکړتاریخي بنسټ همدا چې دغه کتاب ترلاسه کړ، نو د چاپ او خپراوي لپاره یې لاس پرکار شو، په تېره بیا دهېواد د درانه تاریخپوه پوهاند کاکړ د سریزې او سپارښتنې له مخې مو دا اړینه وګڼله چې دغه مغتنم کتاب د چاپېدونکیو اثارو په لړ کې لومړیتوب وګڼو او دا دی نن یې ستاسو قدرمنو لوستونکیوترلاسونو پورې در رسوو.

بنسټ به په راتلونکي کې هم د داسې تاریخي علمي اثارو د چاپ له لارې د هغې فرهنګي تشې ډکولو هڅه وکړي، چې زموږ د فرهنګ، ژبې، تاریخ او ملي ارزښتونو په برخه کې شته.

په دې هیله چې په دې برخه کې د لانورو اکاډمیکو او پرنومهالیو علمي معیارونو برابراثارهم ترلاسه او خپاره کړو، د دې کتاب لوستلوته مو رابولو.

په درنښت

کاکړتاریخي بنسټ

د علمي بورډ سکرتریت

کابل، د ۱۳۹۴ لمریز کال دچنګاښ ۴

د ۲۰۱۵ دجون ۲۵



# سرلیکونه

یادونه.......................................................... ۱۰
پښتو د تاریخ په بهیر کې.............................................. ۱۲
لومړی څپرکی........................................................ ۱٤
د انسان او ژبې د پیدایښت ........................................... ۱٤
په هکله یو څو خبرې .................................................. ۱٤
۱-د انسان پیدایښت .................................................... ۱٤
اریایان او د دوی ټاټوبی ............................................... ۱۵
پښتانه او سکندر ...................................................... ۱۸
پارتیا ................................................................. ۱۹
د اریایانو دوهم ستر لېږد.............................................. ۲۰
۲-د ژبې پیدایښت...................................................... ۲۰
د ژبې دندې:.......................................................... ۲٦
دوهم څپرکی.......................................................... ۳۳
پښتانه ................................................................ ۳۳
د پښتنو اصل.......................................................... ۳۳
لومړی د تاریخ له اړخه: ............................................... ۳۸
دوهم د ژبو د اصل او پرتله کولو له اړخه ............................... ٤۳
دریم د نسب پوهنې له اړخه ........................................... ٤۳
دریم څپرکی .......................................................... ٤۵
پښتو ژبه.............................................................. ٤۵
پښتو.................................................................. ٤۵
د پښتو اصل یا ریښه.................................................. ٤۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو د ژبې په توګه.................................................. ۵۰
څلورم څپرکی.................................................. ۵۹
غوري پښتانه او پښتو ژبه.................................................. ۵۹
ترکي غلامان.................................................. ۶۷
پېنځم څپرکی.................................................. ۶۹
د سليمان د غرونو په لمنو او نورو سيمو کې پښتانه او پښتو ژبه...... ۶۹
شپږم څپرکی.................................................. ۷۶
لودي پښتانه او پښتو ژبه.................................................. ۷۶
اووم څپرکی.................................................. ۸۲
روښانيان او پښتو ژبه.................................................. ۸۲
اتم څپرکی.................................................. ۸۸
اولسمه مخزېږدې پېړۍ او پښتو ژبه.................................................. ۸۸
۱-خوشال بابا او پښتو ژبه.................................................. ۸۸
۲-رحمان بابا او پښتو ژبه.................................................. ۹۴
۳-حميد ماشو خېل او پښتو ژبه.................................................. ۹۶
نهم څپرکی.................................................. ۹۹
په هند کې د پښتو اثار.................................................. ۹۹
په هند کې د پښتنو رياستونه او پښتو ژبه.................................................. ۱۰۰
لسم څپرکی.................................................. ۱۰۵
هوتکيان او پښتو ژبه.................................................. ۱۰۵
ميرويس نيکه.................................................. ۱۰۷
د شاه محمود هوتک واکمني.................................................. ۱۱۲
د شاه اشرف هوتک واکمني.................................................. ۱۱۴
د شاه حسين هوتک واکمني.................................................. ۱۱۸



د هوتکيانو په دوره کې پښتو ژبه.................................................. ۱۱۹
يوولسم څپرکی.................................................. ۱۲۹
سدوزيان او پښتو ژبه.................................................. ۱۲۹
احمدشاه بابا.................................................. ۱۲۹
احمدشاه بابا او پښتو ژبه.................................................. ۱۳۲
تيمور شاه او پښتو ژبه.................................................. ۱۳۶
د عبدالخالق خان پاڅون.................................................. ۱۴۰
د پېښور پاڅون.................................................. ۱۴۱
دولسم څپرکی.................................................. ۱۴۳
بهرنی څېړونکي او پښتو ژبه.................................................. ۱۴۳
جان ليډن.................................................. ۱۴۸
الفنسټون.................................................. ۱۴۸
الکزاندر برنز.................................................. ۱۴۹
هنري جورج راورټي.................................................. ۱۵۰
هنري ولټر بيليو.................................................. ۱۵۳
تور برن.................................................. ۱۵۵
ډارمسټټر.................................................. ۱۵۶
جان ګورډون لاريمر.................................................. ۱۵۷
ډ. ل. لاريمر.................................................. ۱۵۷
روس کېپل.................................................. ۱۵۷
هاول.................................................. ۱۵۸
ديارلسم څپرکی.................................................. ۱۵۹
محمدزي او پښتو ژبه.................................................. ۱۵۹
امير دوست محمد خان.................................................. ۱۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير شيرعلي خان........................................۱٦۰
امير شيرعلي خان او پښتو ژبه ........................................ ۱٦۳
امير عبدالرحمن او پښتو ژبه........................................ ۱٦٦
امير حبيب الله خان او پښتو ژبه ........................................ ۱٦۹
مولوي عبداواسع کندهاري ........................................ ۱۷٤
امير امان الله خان او پښتو ژبه ........................................ ۱۷۵
د نادرشاه او ظاهرشاه په دوره کې پښتو ژبه........................................ ۱۷۷
څورلسم څپرکی ........................................ ۱۸٦
د خلقيانو واکمني او پښتو ژبه ........................................ ۱۸٦
د پرچميانو واکمني او پښتو ژبه........................................ ۱۸۷
د حامد کرزي په واکمنۍ کې پښتو ژبه........................................۱۹۰
پنځلسم څپرکی ........................................ ۱۹۵
د ډېورنډ د کرښې هغې خوا ته ........................................ ۱۹۵
پښتانه او پښتو ژبه........................................ ۱۹۵
شپاړسم څپرکی ........................................ ۲۰۳
پښتانه بايد د خپلې ژبې لپاره په راتلونکې کې څه وکړي؟ ........... ۲۰۳
۱-ځان پېژندنه........................................ ۲۰٦
۲-د ټولنې نيمايي وجود ياني ښځو ته ځانگړې پاملرنه ................ ۲۰٦
۳-پښتانه بايد منظم شي........................................ ۲۰۷
اخځونه ........................................ ۲۱۵
پښتنو ته اوس حتمي شوې چې خپله پښتو او هويت وساتي ........ ۲۲٦
د ليکوال ژوندليک ........................................ ۲۳۱



# يادونه

د څه مودې راهيسې دا فکر را سره و چې پښتنو ولې خپلې ژبې ته شا کړې، د هغې په هکله بې پروا، ځينو يې ان ورسره بې انصافي کړې او ځينې لا اوس هم ورسره بې انصافي کوي. ايا د دې لامل دا دی چې پښتو يوه کمزورې ژبه ده او د ودې توان نه لري او که پرعکس پښتانه د خپلې ژبې په اهميت نه پوهيږي او د پښتو ژبې وروسته پاتې والی د پښتنو د وروسته پاتې والي او بې پروايې پايله ده؟

دغو پوښتنو ته مې د ځواب موندلو په موخه هوډ وکړ چې د خپل وس او توان په کچه يوه څېړنيزه ليکنه «پښتو د تاريخ په بهير کې» تر سرليک لاندې وکاږم تر څو د پښتنو پاملرنه دغې مهمې موضوع ته واړوم. خو ستونزه دا وه چې د دې موضوع د څېړلو لپاره ډېرو اثارو ته اړتيا وه چې ما نه درلودل. د ښه مرغه يو شمېر انډيوالانو د يادې شوې موضوع په هکله د کتابونو مرسته راسره وکړه چې تر ډېرې اندازې يې زما ستونزې لرې کړې.

محترم پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ تل مهرباني کړې او وخت په وخت يې خپل خپاره شوي اثار او ژباړې او ان د ځينو اثارو د چاپ لپاره د تيارو شوو مسودو فوټو کاپي، د مخه تر دې چې خپرې شي، را استولې دي. همدارنگه انجنر زکريا پوپل او انجنر محمد ظاهر، چې زما سره نږدې اوسيږي هم خپل کتابونه په واک کې راکړي دي. انجنر زکريا پوپل د خپلو کتابونو برسېره د کاناډا نه د معصوم هوتک څخه د عبدالرؤف بېنوا کتاب «هوتکيان» او د معصوم هوتک کتاب «سل پگړۍ او يو پړونۍ» را وغوښتل چې د ځانگړې يادونې وړ دي. ډاکټر قادر زماني د عبدالغفار فراهي کتاب «د ډيموکراسي او جمهوريت په کلونو کې»، محمد بلال لالپوروال د سيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهادرشا ظفر کاکا خېل کتاب «پښتانه د تاریخ په رڼا کې» او د غلام محمد غبار کتاب «تاریخ مختصر ـ افغانستان»، عبدالرشید وزیري د محمد دوست شینواري کتاب «د افغانستان ژبې او توکمونه» ، صالح الدین وزیري د محمد ولي ځلمي کتاب «د افغانستان او روسیې د سیاسي روابطو لنډه تاریخچه»، جان محمد داوړ د ګل جانان ظریف کتاب «پښتو مېخمیري ډیبونه»، ډاکټر عبدالمحمد درمانګر د محمد انور نومیالي کتاب «د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي»، او بهار د سید امین مجاهد کتاب «جریانات پشت پرده لویه جرګه قانون اساسي» راولېږل. زه د دې انډیوالانو نه د دې پېرزوینې له امله د زړه له کومې مننه کوم.

دا لیکنه انجنر زکریا پوپل، انجنر محمد ظاهر او ډاکټر قادر زماني ولوستله او د لیکنې د ښه والي په هکله یې ګټورې مشورې راکړې چې په مننې سره یې یادونه کوم. دا لیکنه مې بیا د هېواد وتلي او بې جوړې تاریخپوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ته د لوستلو لپاره واستوله. ښاغلي کاکړ صاحب د زیاتو بوختیاوو سره سره زما لیکنه په ورین تندي لوستې او مشوره یې راکړه چې د کتاب په بڼه یې د لوستونکو په واک کې ورکړم. محترم کاکړ برسېره پردې سریزه هم ورباندې وکښله. زه د ښاغلي کاکړ نه د ګټورو مشورو او سریزې له کبله د زړه له تله مننه کوم او ښه روغتیا او اوږد ژوند ورته غواړم.

دا هم باید ووایم چې د دې لیکنې سره د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ یوه مقاله چې «پښتنو ته اوس حتمي شوې چې خپله پښتو او هویت وساتي» تر سرلیک لاندې، چې په افغان-جرمن انلاین سایټ کې خپاره شوې او زما د کتاب د موضوع سره نږدې اړیکه لري، هم ورسره مله ده.



پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ
اپریل، ۲۰۱۵

# پښتو د تاریخ په بهیر کې

دا د پښتو د تاریخي انکشاف په اړه د محترم اقبال یو نوی ابتکاري اثر دی. په دغه نامه او په دغه ډول بله لیکنه لیدل شوې نه ده.

پښتو په دغه اثر کې له دغو اړخونو څخه کتل شوې ده: یو دا چې پښتو د ژبې په توګه څنګه مینځ ته راغله. بل دا چې پښتو د پښتنو په واکمنی کې څنګه انکشاف وکړ، یا ونه کړ؛ کومو واکمنو هغه پاللې، او کومو نده پاللې او ځینو ولې هغه پرېښوده، او نورې ژبې یې غوره کړې، بل دا چې دغه واکمنې کورنۍ څنګه او چېرته واکمنې شوې او څنګه له واک نه ولوېدلې. په دې ډول دغه اثر د پښتني واکمنو کورنیو لنډ تاریخ هم ګڼل کېدای شي.

دغه اثر هغه پښتانه هم راپېژني چې د پښتو په انکشاف کې یې محسوسه برخه لرلې ده. دوی که په ارادي ډول د پښتو پالنه په نظر کې نه وه نیولې په خپلو اشعارو یې هغه پاللې او هم یې د خپلو خلکو د نړۍ لید او کلتور تمثیل کړی دی. وزیري د پښتو د دغسې شعرونو نمونې له لرغوني مهال نه تر اوسه په خپل دغه اثر کې راټولې کړې، او خپل اثر ته یې چې په اصل کې څېړنیز دی، شعري کیف هم ورکړی دی. دا هم د دغه اثر مهمه ځانګړتیا ګڼل کېدلی شي.

که د پخوانیو پښتنو منثور اثار لیدل شوي نه دي، شعرونه یې ډېر او ښه پاخه دي، دغومره پاخه چې ښيي چې ویونکي یې د لوړ فکر او احساس خاوندان وو. دوی په خپلو اشعارو سره په دغې برخې کې پښتون ولس ښه شتمن کړی دی. دا به شاید د همدغو کلاسیکي اشعارو له امله وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو اوس یو ډېر پراخ او دقیق ګرامر لري، چې له برکته یې مطالب پکې په دغسې لنډ او دقیق ډول بیانېدلی شي، چې په ډېرو نورو ژبو کې هغسې ادا کېدلی نه شي. خو دا چې پښتو په معاصر مهال کې چې څنګه ښایي پرمختګ نه دی کړی، په اصل کې د پښتنو د بېرته پاتې والي او پښتو ته د بې پروایۍ له امله ده، نه د پښتو له امله. وزیري دغې موضوع ته ښه ځیر دی، او د خپل اثر وروستی څپرکی یې دغې موضوع ته ځانګړی کړی، او پښتانه یې دېته رابللي دي چې په اوسنیو شرایطو کې خپلې ژبې ته څنګه انکشاف ورکړي. دغه شعرونه او پښتونوالي وه چې پښتانه یې د لوړ او پیاوړي کلتور خاوندان کړي وو.

د دغه اثر بله مهمه ځانګړتیا دا هم ده چې لیکوال یې دا ټولې موضوع ګانې له اول نه تر پایه په منسجم او لنډ ډول بیان کړې دي. ژبه یې هم رڼه، روانه، او له خاصو اصطلاح ګانو څخه خالي ده. ده د ژبې د متخصص او استاد په توګه د بیان طرز او اسلوب ته پوره پام کړی. داسې هم نه ده چې ده خپل اثر یوازې د خپل تخصصي نظر له مخې کښلی وي. نه، ده د خپل اثر د موضوع ګانو په اړه د پخوانیو او اوسنیو لیکوالو اثرونه کتلي او د څېړنو د اصولو سره سم یې د هغو نظرونه ځای په ځای راوړي او په دې ډول یې خپل اثر افاقي او د اعتبار وړ ګرزولی دی.

د کډوالۍ او پردېسي په حال کې د دغسې منابعو له مخې په پښتو کې د دغسې اثر کښل ښیي چې محترم اقبال وزیري له پښتو سره خاصه مینه لري، او نور هم دېته بولي چې د خپلې ژبې په پالنه او علمي کولو کې چې څه کولی شي، وکړي. هیله ده چې د ده دغه ابتکاري اثر سرمشق وګرزي؛ نور څېړونکي د ده په پله روان شي؛ دغسې موضوع ګانې نورې هم وسپړي او پښتانه لیکوال د خپلې ژبې ارزښت او اهمیت ته متوجه کړي.

پای



## لومړی څپرکی

# د انسان او ژبې د پیدایښت په هکله یو څو خبرې

### ۱-د انسان پیدایښت

د انسان پیدایښت پخپله یوه ډېره پېچلې او لانجمنه مسله ده. د دې مسلې په هکله انسانان په دوو ډلو وېشل شوي ځینې وایي چې ټول ژوي او په هغه جمله کې انسان لوی څښتن پیدا کړي دي خو ځینې نور بیا وایي چې ژوند او د انسان پیدایښت د تکاملي عملیې پایله ده.

زیات ساینس پوهان د دې نظریې پلوي دي چې: «د کایناتو پیدایښت دیارلس عشاریه اوه میلیارده کاله پخوا د یوه غټ ټکر یا چاودنې (The Big Bang)»[1] پایله وه. د مځکې کره چې زموږ د لمریز نظام یوه سیاره ده د دغې غټې چاودنې په پایله کې منځ ته راغلې او لومړی د اور د کرې په څېر وه. د مځکې دا کره ورو ورو سړېدله او په پای کې دوو لاملونو د ژوند په منځ ته راتلو کې ډېر مهم رول ولوباوه. لومړې دا چې د مځکې د کرې پر چاپېر د اتوموسفیر تشکیلېدل او بل د مځکې د کرې پرمخ د اوبو منځ ته راتګ و.

پوهان د انسان د پیدایښت لومړۍ ځانګو، د هغه مهال د انسانانو د هډوکو د موندنې او سپړنې (تحلیل) پر بنسټ، افریقا بولي. «له دغو انسانانو نه ځینو یې اټکل سل زره کاله د مخه سویل-لوېدیځې اسیا ته او بیا له دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو نه د اسیا-اروپا پراخو تودو سیمو ته مهاجرت وکړ.»[۲] انسانان په څلورو توکمیزو یا نژادي ډلو ویشل شوي دي چې سپین پوټکي، زیړ پوټکي، تور پوټکي او سور پوټکي دي. دا توکمیزې ډلې په نسبي توګه د ثابتو پیدایښتي ځانګړتیاوو: لکه رنګ، وېښته، مخ او بدني جسامت له مخې یو د بل نه توپیرېږي. اوس د DNA د کتنو په برکت د نژادو توپیر په کره توګه کېږي. سپین پوټکي هم په دوو څانګو وېشل کېږي چې یوه یې سامي او بله یې اریایان دي. خو څرنګه چې پښتانه په اصل کې اریایان دي نو له دې کبله به د اریایانو او د هغوی د ټاټوبي په هکله لنډه یادونه وکړم.

## اریایان او د دوی ټاټوبی

اریایان د سپین توکم یوه څانګه ده چې د هندو-اروپایي خلکو نیکونه دي. د اریایانو د ټاټوبي په هکله پوهان یوه خوله نه دي. ځینې پوهان لکه احمد علي کهزاد، عبدالحی حبیبي، ماکس میولر، ظفر کاکا خیل، دوست شینواری او نور د اریایانو ټاټوبی د اکسوس او سردریا تر منځ سیمه بولي خو ځینې نور بیا د اروپا بېلې بېلې سیمې لکه جرمني، سکندنویا او د مدیترانې سیمې د اریایانو لومړی ټاټوبی ګڼي. ګوردن چایلډ ( Gorden Childe) وایي چې د اریایانو لومړی ټاټوبی به د «سوویلي روسیې یا سکندنویا»[۳] نه یو وي. خو دی د سوویلي روسیې د ګڼهې [فرضیې] شونتیا پیاوړې ویني. پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ وایي چې «دغه نظریه پدې هم قوي ده، چې له سویلي روسیې نه د اریایانو لومړی لېږد څرګند دی.»[۴] دی زیاتوي چې «دغه سیمه د اروپا-اسیا هغه پراخه برخه ده . چې د هنګري له ختیځو ځنګلونو نه د مانچوریا تر شنو ورشوګانو او د سایبریا د جنوبي څنډو نه د تبت تر لوړو سطحو پورې د نړۍ دریمه برخه ځمکه په غېږ کې نیسي-او منځنۍ اسیا یې زړی جوړوي.»[۵] د اریایانو دا لومړی لېږد د دې سیمې نه څلور زره کاله د مخه اټکل شوی دی.



د اریایانو دا لومړی لېږد پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ داسې بیانوي:
«دغه خلک د خپل لېږد په بهیر کې چې پېړۍ پېړۍ یې نیولې په دوو برخو وویشل شول ... لوېدیځه برخه [یې] ... د تور سمندرګي له شمال نه د بالقان او باسفورس په لار وړې اسیا (Minor Asia) یا نننۍ ترکیې ته ننوتل او د هغې له ځای خلکو سره له ګډ کېدلو نه وروسته پرې لاس بري شوه او د هیټایټ (Hittite) په نامه سلطنت یې جوړ کړ.
د هندو-ایراني په نامه د اریایانو بله ډله د کسپین د سمندرګي په غاړه د ختیځ خوا ته تاو شوه او بیا دوه برخې شوه. یوه برخه یې له قفقاز نه واوښته د فرات په لور لاړه او هلته له ځایي خلکو هوریانو (Hurrians) سره میشته شوه او وروسته یې د میټاني (Mittani) په نوم دولت جوړ کړو. بله برخه یې چې تر هغې بلې نه ډېره لویه وه او په هندو-اروپایي څانګې یاده شوه، د ختیځ په لور لاړه، له سردریا او امو نه واوښته په باختر کې میشته شوه او بیا د پنجشېر او کابل پر سینونو ورښکته شوه.»[٦]
دی دا هم وایي چې د اریایانو د دغې ډلې نه یوه برخه یې چې د سویل په لور تله د هغو اریایانو د ډلې له لوري د خنډ سره مخامخ شوه چې د دوی نه د مخه هلته تللي او میشته وو. بیا دوی د لوېدیځ په لور لاړل او نننی ایران کې میشته شول. خو په دوی کې مادانو د نني ایران په شمال لوېدیځ کې د مخزیږدې اومې پېړۍ په نیمایي کې د میډیا (Media) په نامه امپراتوري جوړه کړه چې یوه پېړۍ اوږده شوه او پارسا یې هم لاندې کړې وه او مرکز یې ننی همدان و. پاړسوانو د مخزیږدې شپږمې پېړۍ په نیمایي کې مادانو ته ماته ورکړه او خپله امپراتوري یې جوړه کړه. دوی خپله مینه پارسه، پاچایي ټبر یې پازارګادی (Pasargadae) او پاچایي کورنۍ یې هخامنشي-ونوموله او پدې توګه پارسانو د باختري اریایانو نه ځانونه بېل کړل.
د اریایانو بله ډله د مخزیږدې نه څلور سوه کاله دمخه له اباسین نه تېره شوه او د هغه ځای اوسېدونکي درای ویډیان (Draavidians) یې لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل. دوی خپل هېواد بهاراته ورته (Bharata Varta) ونوموه او پدې توګه دوی هم د پارسا غونډې ځانونه د باختري اریایانو نه بیل کړل.

د اریایانو نورې ډلې لکه سارماتیان (Sarmatians)، ساکا (Sakae)، یوچیان (Yue Chih) یا کوشانیان او هفتالیان د منځنی اسیا په پراخو مځکو کې میشته وو. اریایان له همدې ځایه نورو سیمو ته تیت شول او سارماتیان لومړی اریایي ټبر دی چې اروپا ته تللي دي. خو څرنګه چې پښتانه په اریایانو کې د ساکا د لوی ټبر سره د قوم والی او هم د ژبې له کبله نږدې دي او شاید په اصل کې سره یو وي. نو لازمه ګڼم چې لږ غونډې د ساکا په هکله وغږېږم.

ساکا لکه چې مو د مخه یادونه وکړه د سپین پوټکو اریایانو لوی ټبر دی چې د هخامنشي امپراتورۍ پر مهال «د لوېدیځ کاشغر، ختیځ کسپین او سردریا یا جیحون تر منځ سیمو کې کوچیاني ژوند لاره».۷ اریانا ته د سکندر تر راتګ د مخه د ساکا ډېرې څانګې د اریانا په ډېرو سیمو کې خورې وې.

نایسا (Nysa) د کوفن (کابل) او اباسین تر منځ ښار کې اوسېدل. د حسن کاکړ په وینا نیاسایان په تاریخي لحاظ همغه نسل و لکه ساکای چې په هغه وخت کې په بدخشان او ګاونډیو سیمو کې اباد وو. د نیاسیانو هېواد لږ و ډېر د هېرودت له پکتیک سره سر خوري چې د پکتیانو یاني پښتنو هېواد و. د ساکا بله لویه سیمه باختر او د هغه چاپېر سیمې وې. په بخدي کې د دهای (Dahae) قوم اوسېده چې د ساکا د لوی ټبر څانګه ده. ساکا د سکندر تر راتګ د مخه په سیستان کې هم اباد وو. پدې ترتیب داسې ښکاري «چې ساکا څلور زره کاله د مخه د اریایانو په لومړي لېږد کې په سغدیانه، بکتریا (Bactria) یا بخدي، پامیرونو، سیستان، نای سا (Nysa)، پکتویک، کونړ او سوات کې اباد شوي وو.»۸ د سکندر د راتګ او د اریایانو د دوهم ستر لېږد سره پدې سیمه کې ستر بدلونونه رامنځ ته شول.



## پښتانه او سکندر

سکندر د خپل پلار فیلیپ د مړینې وروسته یونان یو موټی کړ او ویې پتیله چې اسیایي یونان د هخامنشي واکمنۍ نه ازاد کړي. ده د لوېدیځ له خوا په هخامنشي امپراتورۍ یرغل وکړ او د فارس امپراتور داریوش ته یې په څو جګړو کې ماتې ورکړه. سکندر د هخامنشیانو پلازمینې ته اور واچاوه او د اوېستا نامتو اثر چې د غوایي په زرګونو څرمنو لیکل شوی و د منځه لاړ او یوازې یوه کوچنی برخه یې پاتې شوه. وروسته داریوش چې د سکندر له لاسه یې څو ځله ماتې کړې وه د بخدي والي بېسوس (Bessus) له خوا ووژل شو او پخپله بېسوس ځان پاچا اعلان کړ. خو سکندر د هخامنشي فارس د ړنګولو وروسته په باختر کې د لویو ستونزو سره مخامخ شو. باختریانو لومړی د بېسوس او د هغه د مړینې وروسته «د پښتون سپتامنز (Spitamenes) په سروالي د ځایي خلکو له دغسې مقاومت سره مخامخ شو چې د هخامنشیانو په امپراتوري کې له دغسې ټینګ مقاومت سره مخامخ شوی نه و.»۹ سپتامنز له سکندر سره کلکې جګړې وکړې چې نږدې دوه نیم کاله اوږدې شوې. سکندر په پای کې د خپل هوډ نه، چې د امو د رود اخوا سیمې لاندې کړي، واووښت او هند ته د تګ په فکر کې شو. ده په باختر کې شپږ پوځي چونۍ چې د سکندریې پنامه یادېږي جوړې کړې چې وروسته په ښارونو بدلې شوې. ده د باختر د سیمه یز واکمن اوکسیارتز (Oxyartes) د لور رخشانې سره واده وکړ او وروسته د هغه ځای ناستي سلوکوس نیکاتور د سپتامنز د لور اپامه (Apama) سره واده وکړ او د پوهاند کاکړ په وینا وروسته د دوی زوی د لومړي انتیوکوس په نامه پاچا شو. سکندر بیا د هندوکش نه راواووښت او بګرام ته راغی. سکندر د بګرام نه د نني جلال اباد په لوري وخوځېد او هلته د ده لښکرې دوه برخې شوې چې یوه برخه یې د خیبر د درې له لارې اباسین ته روانه شوه او بله یې د کنړ لاره ونیوله چې پخپله دی هم ورسره مل و. په کنړ، باجوړ او سوات کې د پښتنو د کلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقاومت سره مخامخ او ټپي هم شو. سکندر بیا د هند په لور لاړ، د اباسین نه واووښت او جیلم ته ورسېد چې بیا یې پوځ د وړاندې تګ نه ډډه وکړه او د بلوچستان له لارې یونان ته د تګ په لاره کې بابل ته ورسېد او هلته د درې دېرشو کالو په عمر مړ شو. پدې توګه سکندر «پخپلو بې جوړو نظامي بریو سره په ټولې مالومې نړۍ کې د لوی سکندر په نامه یاد شو. هغه نه یوازې ټول یونان لاندې کړو، بلکې د هخامنشي پراخه امپراتوري یې [هم] لاندې کړه او... د ده امپراتوري له یونان نه تر اباسین نه اخوا پورې غځېدلې وه.»۱۰

## پارتیا

کهزاد وایي چې د پکتیانو یوه څانګه د هغو مهاجرینو سره چې د لوېدیځ خوا ته لاړل د هریرود د هغې خوا نه د خزر تر سواحلو پورې نږدې ځایونه ونیول او د پارتیا په نوم یاد شو. پارتیان (Parthiene) د دهایي ساکا د اپرنای (Aparni) څانګې خلک دي.

پارتیانو دوه کاله وروسته له هغې چې د یونان-باختري دولت په بلخ کې د یودتس په مشرۍ واک ته رسېدلی و د یونان-باختر په لوېدیځ کې د پارت دولت بنسټ د ارساس (Arsaces) په سروالی کېښود. «پارتیه د دامغان، شاه رود، جوین، سبزوار، نیشاپور، طوس، ترشیز له سیمو او د هریرود د سیمې نه جوړه وه.» ۱۱ د میریداتس په پاچایي کې د پارتیا واکمني په امپراتورۍ واووښته چې په اروپا کې د روم د امپراتورۍ سیاله شوه او نږدې پنځه پېړۍ یې په پارسانو واک وچلاوه. وروسته ساساني پاچا اردشیر د پارتیا وروستي پاچا ارته بانوس (Arta banus) ته ماتې ورکړه او د پارتیا امپراتوري ته یې د پای ټکی کېښود. اردشیر پارتیا د خراسان په نوم ونوموله تر څو د پارتیا هویت له منځه یوسي. زموږ ځینې افغان وروڼه چې د خراسان نارې وهي ښه به دا وای چې د ایران نه یې د پارتیا د بېرته تر لاسه کولو نارې وهلی او پارسي خراسان یې بېرته پارتیا نومولې وای.



## د اریایانو دوهم ستر لېږد

هغه مهال چې د چین دېوال جوړ شو او چینایانو د هغه په مرسته وکولی شول چې د مغولو د یرغل نه ځان وژغوري نو مغولو د لوېدیځ په لور یرغل وکړ او د دغه یرغل په پایله کې د دغو ولسونو دوهم ستر لېږد پیل شو. دوه زره دوه سوه کاله د مخه د مغولو د یرغل په پایله کې یوچیان او یفتالیان هم مهاجرت ته اړ شول. نو بیا دغو یوچیانو، یفتالیانو او نورو تر فشار لاندې د ساکا څو څانګې له سغدیانې نه شکته شوې، باختر یې ونیو او بیا د هغو په فشار له بخدي نه سیستان ته واوښتل او هلته میشته شول. دوی خپله مېنه په ساکستانه او بیا په سیستان یاده کړه چې د ګوندو فارس (Gondophares) په مشرۍ یې یوه امپراتوري جوړ کړه.

«پوهاند فرای د سیستان ساکا د پښتنو لوړ نیکونه ګڼي او وایي چې د اسلامي پراختیا په برابر کې د زنبېلانو ټینګ مقاومت یو دلیل په یقین سره هغه جنګیالي قومي خلک، د افغانانو یا پټانانو نیکونه وو، چې د یرغلګرو سره د جنګ لپاره یې مېړونه ورکول.»۱۲ د پښتنو په هکله به په دوهم څپرکي کې پوره رڼا واچوم.

## ۲-د ژبې پیدایښت

د ژبې پیدایښت د انسان د پیدایښت د مسلې غوندې ډېره پېچلې او ستونزمنه مسله ده. پوهانو د ژبې د پیدایښت په هکله دوې نظریې وړاندې کړې دي. د لومړۍ نظریې پلویان ژبه یوه ازلي (پیدایښتي) پدیده ګڼي. د دې نظریې نامتو پوه نوام چامسکي (Noam Chamsky)دی چې ژبه یوه ځانګړې بشري وړتیا او استعداد ګڼي چې د خپلې کارونې لپاره له مخکې ټاکلي ګرامري اصول لري. د بېلګې په توګه موږ پښتانه د مخه تردې چې د پښتو ګرامر مو زده کړی وي په ګرامري لحاظ سمې خبرې کوو. نوموړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې انسانان د داسې ميکانيزمو سره زيږېدلي دي چې د ژبې لپاره مناسب دي لکه د غږ پټې (Vocal cards)، د ماغزو هغه برخه چې د ژبې لپاره ځانګړې شوې ده او هغه ميکانيزمونه چې موږ ته دا وس راکوي چې د ژبې شونتياوې وکاروو.

د دې نظريې په هکله لومړۍ اريانوونکې تجربه د لرغوني مصر- فرعون سميتيکاس په امر تر سره شوې ده. دغه فرعون په دوو ماشومو هلکانو باندې په يوه ليرې او پټ ځای کې ديوالونه راتاو کړل او د باندې نړۍ نه يې ګوښې او بېل کړل. دغه فرعون فکر کاوه چې د دې هلکانو له خولې هرڅه چې راووتل هغه به د ژبې پيل وي. هېرودت وايي چې دې ماشومانو په فريګيان ژبه کې، د ډوډۍ لپاره د «بېکس» کليمه راوويسته چې لوستونکې کولی شي د فريګيان ژبې په هکله د زياتو مالوماتو تر لاسه کولو لپاره د ډاکټر رحمت ربي زيرکيار کتاب «ژبه د بابا ادمه تر دې دمه» وګوري. دې تجربې وښودله چې که ماشومان ځانله پرېښودل شي هغوی کولی شي پخپل منځ کې ژبه راوباسي. «هېرودت د دې تجربې له مخې دې پايلې ته ورسېد چې انسان د خبرو د وړتيا سره زيږېدلی دی.»۱۳

دا تجربه په ۱۹۸۰ کلونو کې د کوم مخکيني پلان پرته په نيکاراګوا کې بل ځلي وشوه. په نيکاراګوا کې د ساندينيست واکمنۍ پر مهال دغو واکمنو د کڼو ماشومانو د روزنې پروژه پرانېستله. هلته کڼو ماشومانو پخپل منځ کې ګډه د اشارو ژبه منځ ته راوړه چې امريکايي پوهاندې جودي کېګل وکړای شول چې په درو اونيو کې ددغو کڼو ماشومانو د اشارو ژبې کيلي ومومي اوبيا يې سوکه سوکه د هغې ګرامر وسپړه او پدې توګه يې د نوام چامسکي نظريه جوته کړه «چې د «ګرامر بيالوژي» ورته ويل کيږي او په مغزو کې پراته ده.»۱۴

دوهمه نظريه دا ده چې ژبه د تکاملي ودې او پرمختيا پايله ده چې جسمي، عصبي او کلتوري نوښتونه پکې شامل دي. د دې تيوري پلوي ويګوتسکي



(Vigotsky) د ژبې په پيدايښت او وده باندې د ټولنيز-کلتوري چاپېريال په رول ټينګار کوي. د فرعون سميتيکاس تجربې وښودله چې لږ تر لږه دوه ماشومان د ژبې منځ ته راتلو لپاره اړين وو. همدارنګه د نيکاراګوا د کڼو ماشومانو تجربه ښيي چې يو شمېر کڼو ماشومانو پخپل منځ کې د اشارو ژبه راوايسته. د دې مانا دا هم ده چې ژبه ټولنيزه پديده ده او د خلکو تر منځ د تړون په بنسټ منځ ته راځي. پدې ترتيب د ژبې منځ ته راتګ دوه بنسټونه لري چې يو يې پيدايښتي او بل يې ټولنيز دی. که د انسان د ژبې پيدايښتي جوړښتونو ياني د غږ پټې، په لويو ماغزو کې د ژبې مرکز او د ژبې د کارولو ميکانيزمونو ته زيان ورسېږي نو په ژبه کې خنډونه منځ ته راځي او ټولنيز بنسټ ورسره هېڅ مرسته نه شي کولی. همدارنګه که د انسان پيدايښتي بنسټونه روغ هم وي خو انسان د ټولنې د باندې ژبه منځ ته نه شي راوړی. د بېلګې په توګه په هند کې دا کيسه ډېره د ژبې په سر ده چې وايي «په هند کې د اميلا او کميلا په نامه دوې وړې نجونې لېوه تښتولې وې او خپل غار ته يې وړې وې. يو څه موده وروسته دواړه نجونې د لېوه په غار کې وموندل شوې او د ټولنپوهانو له خوا تر روزنې لاندې ونيول شوې. دا نجونې به د حيواناتو په شان په څلوربولې تلې او خبرې يې نشوې کولای. يوه نجلۍ څه موده وروسته مړه شوه او هغه بله نجلۍ په دې قادره نه شوه، چې خبرې وکړي او د انسان په شان سلوک زده کړي.» ۱۵ دا بېلګه راښيي چې انسان د ټولنې د باندې انسان کېدای نه شي او نه ژبه زده کولی شي. پدې توګه دا دواړه بنسټونه د يوې سيکې دوه مخونه دي د ژبې په منځ ته راتګ کې پيدايښتي لاملونه او هم ټولنيز لاملونه دواړه رول لري او يو بل بشپړوي.

د انسانانو په وجود کې د غږ د پټې برسېره سږي، پزه او وړه ژبه (ژبۍ يا حلقۍ ژبه) ټول د غږ په جوړولو کې ونډه لري. ډاکټر کبير ستوری پخپل اثر کې چې «ژبساپوهنه» نوميږي پدې اړه مهم مالومات راکوي چې لنډيز

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې دا دي:
د زیاترو انسانانو د ژبې مرکز د دماغ په ګڅه یا کینه خوا کې پروت دی. د غړونو د ژبې دستګاه تالو دی چې د غړونو پټې لري او د ژبې د غړي (عضلې) او شونډو په مرسته سره غړونه جوړوي. د انسانانو د تالو د غړونو په پټیو کې د پرتو غړونو شمېر زیات او پراخ دی او بېل بېل غړونه جوړولی شي خو د ژوو د تالو د غړونو شمېر ډېر لږ دی او یوازې څو محدود ږغونه جوړولی شي. پدې ترتیب د انسان ژبه د غړونو د شمېر له پلوه بډای او بشپړه ده او د ژوو بیا نیمګړې او غریبه ده. لدې کبله انسان په ډېره پیمانه او ژوې په لږه اندازه د خبرې کولو توان لري. د غړو ژبه د وزن له مخې له څلورو برخو نه جوړه شوې چې هره ټیټه برخه یې د خپلې جګې برخې ځانګه ده. دا څلور برخې ګړ، څپه، نومونه یا ویې (لفظونه) او جملې دي.

پوهان پدې باور دی چې بې غړه ژبه یا د جسماني اشارو (verbaal) ژبه شاید د انساني ژبې لومړۍ او پخوانۍ بڼه وي. کله چې دوه کسان یو د بل په خبره نه پوهېږي نو بیا د یو بل په فکر، ارادې او احساساتو باندې د پوهېدو لپاره د جسماني اشارو (لکه لاس، خوله، سترګې او نور) نه کار اخلي. پدې ترتیب بې غړه ژبه یا د جسماني اشارو ژبه منځ ته راغې

د بې غړې ژبې یا جسماني اشارو د ژبې وروسته د غړ ژبه منځ ته راغله. د غړ ژبه د غړونو نه چې په لومړي سر کې هېڅ مانا نه لري منځ ته راغې کله چې غړونه په یوه شي او یا د یوه شي د ستاینو (صفتونو) پورې وتړل شي نو بیا مانا پیدا کوي. د بېلګې په توګه پښتانه یوې ځانګړې مېوې ته مڼه وایي خو پارسوان ورته سیب، روسان ورته یابلوکا (iabloka) او انګرېزان ورته اپل.(apple) وایي د یوه پښتون د پاره تر هغه د اپل اواز بې مانا دی تر څو پدې پوه نه وي چې انګرېزان مڼې ته اپل وایي. همدارنګه د یوه انګرېز د پاره تر هغه د مڼې اواز بې مانا دی تر څو هغه پدې پوه نه شي چې پښتانه اپل ته مڼه وایي.



د لیک ژبه د غړېدو د ژبې نه وروسته منځ ته راغلې ده. د لیک ژبه د شیانو او پېښو لفظي انځور دې. د لیک د ژبې تر ټولو پخوانۍ بڼه انځوریز لیک دی چې د مخزیږدې نه لس زره کاله د مخه اټکل کیږي. په دې لیک کې د ټاکلي ویې (لغت) لپاره یو ټاکلی انځور و. سومیري لیک، د مصر هیروغلیفي لیک، میخي لیک، پونیځي لیک او چیني لیک د انځوري لیک روښانه بېلګې دي. د انځوري لیکونو د ودې په پایله کې د تورو لیک مینځ ته راغی چې هرګړ ته چې د څپې یوه برخه ده یو توری نیول شوی دی. بیا دغه لیک ایټالویانو واخېست او نوره وده یې ورکړه او لاتیني لیک ترې مینځ ته راغی چې نن ورځ یو زیات شمېر هېوادونو په لږ بدلون سره خپل کړی دی. پدې ترتیب هره یوه د غړ ژبه د ټاکلي شمېر ګړونو نه کار اخلي چې د غړ تر ټولو کوچنۍ برخه ده. نو د لیک ژبې لپاره هم همدغه ګړ بنسټ ګرزول شوی دی. د لیک ژبې د ودې په پایله کې د هر ګړ لپاره یو توری نیول شوی او د غړ ژبه د لیک په ژبه اړول شوې ده.

د پښتو پخوانی لیک میخمري و چې د میخي لیک پنامه هم یادیږي. د المان د ګوټېنه د انستیتوت استاد پوهاند ډاکټر ګل جانان ظریف دوه نیم زره کاله پخواني پښتو ډیبونه (کندل شوی لیک) پخپل کتاب کې چې «پښتو میخمیري ډیبونه» نومیږي را په ګوته کړي دي. دی لیکي: «د هغو میخمري ډیبونو الفبا چې په پښتو پورې اړه لري تر اوسه د پېژندل شوو تورو شمېر یې شپږ دیرش ته رسیږي.»[١٦] ډاکټر ظریف زیاتوي چې «هغه ډیبونه چې په پښتو ژبه دي، هغوی یو وخت د لیبیا، حبشې او یونان څخه تر سیند (اباسین) پورې په سیمه کې خواره او نښې او نمونې یې لدې سیمو څخه په لاس راغلې دي. لکه د سویس، دردانیلو، بابل، باګستان [بېستون]، مرغاب او پرزیپولیس.»[١٧]

د اسلام د مخه د اوسني افغانستان او د هغه ورڅېرمو سیمو کې مهم لیک دودونه خروشتي او یوناني وو. انګرېز څېړونکی ویلیم جونز وایي «چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خروشتي لیک ژبه د اریانه ژبه وه او که په پښتو کې پوره څېړنې وشي نو ښایي چې یو وخت د دغې ژبې په مرسته خروشتي کتیبې ولوستل شي.»[۱۸]
د محمد دوست شینواري د څېړنې له مخې د خروشتي لیک الفبأ د دریمې مخزیږدې پېړۍ نه تر پنځمې میلادي پیړۍ پورې په اریانا کې موجود و او بیا د کنښکا او د هغه د ځای ناستو له لوري ګام په ګام له منځه لاړ او یوناني لیک دود یې ځای ونیو. د بغلان کتیبه په یوناني الفبأ لیکل شوېده.
د پښتو اوسنی لیک دود د عربي لیک دود نه منځ ته راغلی دی. د پښتو د لیک دود اوسني توري د عربي تورو په بنسټ جوړ شوي چې اساسي لامل یې د اسلام راتګ او د عربي ژبې اغېز دی. قاضي خیرالله په خیراللغات کې لیکي چې د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ په مهال د هغه د یوه وزیر حسن میمندي په ځانګړې اشاره پښتون عالم قاضي صیف الله خان د پښتو د ځانګړو غږونو دپاره توري جوړ کړل. خو داسې ښکاري چې دا توري به روښان پیر، اخوند درویزه او خوشال خان خټک ته نوي رسېدلي نو هغو هم د پښتو د ځانګړو غږونو دپاره توري په نظر کې نیولي دي.
خو بیا هم پښتانه د پښتو د یوه معیاري لیک دود په منځ ته راوړلو کې لا تر اوسه بریالي شوي نه دي چې لامل یې د ډیورنډ د کرغیړنې کرښې شتون دی. د پښتو ادبي انجمن د پښتو د بشپړ لیک دود بنسټ کېښود چې بیا وروسته د پښتو ټولنې په نوښت په ۱۳۲۱ کال کې د ټول افغانستان لپاره او په ۱۳۲۷ کې د ټولې پښتونخوا لپاره ومنل شو خو د پاکستان واکمنو د پښتو ژبې د پرمختګ د مخنیوي په موخه د ډیورنډ د کرښې هغه لوري پښتانه د دې پریکړې پلي کولو ته پرې نښودل. اجمل خټک وایي چې په کابل کې د یوه لیک دود پریکړه وشوه خو د پښتنو د دغې پریکړې د پاکستان د حکومت او د مسلم لیګ د ذهنیت خاوندانو مخالفت وکړو څرنګه چې د نشراتو ټولې ادارې د دوی په لاس کې وې نو دا هڅه ناکامه شوه. [۱۹]
پدې توګه د سیاسي لاملونو له مخې د پښتو د واحد لیکدود مخه نیول



کیږي او دا ستونزه لا تر اوسه حل شوې نه ده. هیله مند یم چې پښتانه به د دې توان پیدا کړي چې په نږدې راتلونکې کې ټول پښتانه لیکوال یو ټاکلی لیک دود ومني.

## د ژبې دندې:

ژبه درې اساسي دندې لري:
۱- د ژبې لومړۍ دنده دا ده چې د خلکو تر منځ د پوهاوي او راپوهاوي د وسیلې په توګه چوپړ کوي. د ژبې دا دنده اوس ډېره اسانه شوې او د دې شونتیا شته چې د تکنالوژۍ په نور پرمختګ سره به په نږدې راتلونکې کې داسې وسیلې وکاریږي چې د نړۍ د یوه ګوټ نه به بل ګوټ ته خبرې د بلې ژبې نه په مورنۍ ژبه همغه دم وژباړل شي او اورېدونکي به یې په خپله مورنۍ ژبه واوري. د ژبې دا دنده تر ټولو لومړۍ د دې لپاره ده چې د ګړنې ګروپ پخپلو کې د یو او بل په احساس، خیال او فکر پوه شي. د بېلګې په توګه پښتو د ګړنې د یوه ګروپ یاني پښتنو تر منځ د پوهاوي او راپوهاوي د وسیلې په څېر چې یو بل د خپل احساس، خیال او فکر نه خبر کړي چوپړ کوي. څوک چې غواړي د ګړنې د نورو ګروپونو سره پوهاوی او راپوهاوی وکړي یا د دوی د ژوند په بېلو بېلو اړخونو باندې پوه شي نو د خپلې مورنۍ ژبې په څنګ کې نورې ژبې هم زده کوي. که یو څوک هر څومره ژبې زده کړي په همغه اندازه ده ته د مالوماتو کړکۍ پرانېستل کیږي. ځکه د پښتو ژبې نامتو شاعر عبدالعلي مستغني وایي:

ښه ده ښه ده چې په سل ژبو دانا یې
مګر مه کېږه نادان د خپلې ژبې

خو موږ پښتانه چې خپلې ژبې ته ډېر بې توپیره یو او داسې په غوږ کې راکړل شوي دي چې که خپله ژبه مو د لاسه ورکړه پروا نه لري ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه یوازې د پوهاوي او راپوهاوي د وسیلې په توګه چوپړ کوي. موږ پدې نه پوهېږو چې پدې کړو سره نه یوازې د خپلې ژبې د لاسه ورکولو په پایله کې د پنځوسو میلینو پښتنو ورونو د پوهاوي راپوهاوي نه بې برخې کېږو بلکه د دې خلکو د معنوي شتمنۍ نه هم بې برخې کېږو او خپل ملي پېژانند (هویت) هم د لاسه ورکوو.

زموږ په هېواد کې چې پښتو او پارسو رسمي ژبې او پښتو ملي ژبه ده خو په کړو وړو کې پښتو ژبه د رسمي کارونې بې برخې ده. دې کار په رسمي ادارو کې د خلکو لپاره زیاتې ستونزې پیدا کړې دي. غټه ستونزه دا ده چې ګڼ شمېر پښتانه په پارسو نه پوهیږي او همدارنګه ګڼ شمېر پارسیوان په پښتو نه پوهیږي او دا پروسه د هجرت په اوږدو کې لا غښتلې شوه. هغه افغانان چې پښتونخوا ته لاړل د پښتو ژبې په چاپېریال کې ژوند وکړ، ګڼ شمېر پښتنو او د نورو ژبو ویونکو افغانانو په پښتو ژبه راز راز زده کړې وکړې او ټولو پښتو زده کړه. همدارنګه زموږ ګڼ شمېر وطنوال ایران ته مهاجرت وکړ او هلته پارسیوانو پښتو زده نه کړه او پښتنو پارسو زده کړه. کله چې دوی بېرته هېواد ته راستانه شول نو په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د زده کړې پر مهال د ستونزو سره مخامخ شول. دا ستونزې د دې غوښتنه کوي چې د دواړو ژبو د زده کړې لپاره دولت اغېزمن ګامونه پورته کړي. برسېره پردې په اداري سیستم کې د خلکو ستونزې دا غوښتنه کوي چې د دولت ټول مامورین چې د دولت نه معاش اخلي باید په دواړو ژبو وپوهیږي.

۲- د ژبې دوهمه دنده دا ده چې ژبه د فکر د ودې د وسیلې په توګه چوپړ کوي. «فکر د یوې ډلې شیانو د عمومي خاصیتونو انعکاس او د شیانو په مینځ کې د عمومي نښتونونو او اړیکو موندنه ده.»[۲۰] ژبه له یوې خوا د فکر د څرګندولو وسیله ده او د بلې خوا فکر پخپله د ژبې یوه بڼه ده. هر څومره چې د انسان ژبه رسېدلې وي هغومره یې فکر رسېدلی وي. نو ځکه د ژبې د



ودې لپاره پرله پسې کار ته اړتیا ده. د ژبې د ودې ځایونه کورنۍ، ښوونځي او پوهنتونونه دي. لدې امله باید په ښوونځیو او پوهنتونو کې زده کوونکو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې شوونتیاوې برابرې کړای شي. پخپله مورنۍ ژبه زده کړه د فکر په وده کې مهم رول لري. که د چا نه په مورنۍ ژبه کې د زده کړې حق واخېستل شي نو دا کار په اصل کې د دوی د فکري ودې مخنیوی دی او دا یوه ستره بې عدالتي او یو لوی ظلم دی.

زموږ واکمنو د پېړیو په اوږدو کې د فارس د فرهنګي ښکېلاک په پایله کې پښتانه پخپله مورنۍ ژبه د زده کړو نه بې برخې کړي او د دوی د فکري ودې مخه یې ډب کړې ده. دا د پښتنو او نورو قومونو لکه ازبکان، ترکمنان، بلوچان، پشایان، نورستانیان او نور چې ماشومان یې پخپله مورنۍ ژبې د زده کړو نه بې برخې دي یوه لویه بې عدالتي ده. دا کړنه په اوږده راتلونکې کې د ټولو هېوادوالو په زیان هم تمامیږي. ځکه چې افغانستان زموږ د ټولو ورونو قومونو ګډ کور دی او د دوی او په ځانګړې توګه د پښتنو وروسته پاتې والی چې د هېواد د اوسېدونکو ډېرکی جوړوي، افغانستان به نور هم کمزوری کړي.

فکر کوم چې فضل احمد غر شاید لومړی پښتون وي چې پښتانه یې خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته د بې توپیرۍ او نه پاملرنې ناوړه پایلو ته متوجې کړي دي. دی وایي «د ملک [او] قوم ترقي د خپل مذهب او د خپلې ژبې په حفاظت پورې تړلې ده. نن د دې ډېر ضرورت دی چې موږ خپله قومي ژبه د پستۍ نه وباسو او که نه زموږ د غفلت دا حال وي نو یوه ورځ به د فارسي او اردو پوځونه د پښتنو ملک په خپلو مینځو کې تقسیم کړي... »[۲۱] پدې توګه فضل احمد غر ژبه د یوه قوم په ټینګېدو او شړېدو کې یو مهم اصل ګڼي.

فضل احمد غر ژبه د یو قوم د پرمختګ بنسټ بولي چې د ده د شعر په لاندې بیتو کې ښه روښانه ښکاري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو خبرې شرم موږ ته ښکاري
تر دې حده قوميت زموږه مړ دی
خپل وطن او ژبه پرې نږدې افغانه
چې همدا د قومي ترقی جړ دی۲۲

همدارنگه مېجر روز انگرېز شاید لومړی ختیځ پېژندونکی وي چې د پښتنو کلک پام یې دې موضوع ته اړولی دی. دی لیکي: «افغانستان په تعلیمي جهت تر هغې نه کامیاب کیږي چې ... خپلې ژبې ته توجه و نه کړي. افغانستان خپل ځان په ازادو هېوادو کې شماري، مگر د ژبې په لحاظ رښتونی غلام د ایران دی، ځکه چې قوم یو، دفتري نظامي ژبه بله وایي، مگر څو پورې چې افغانستان کې تعلیم پخپله ژبه کې نه شي، علم ډېره گرانه خبره ده، بویه چې عالم شي، مقابله به ملل دیگر وکړي، ضرورت امر دی چې افغانستان خپله ژبه یعنې افغاني یعنې پښتو ژبه د علوم وگرځوي.»۲۳
مېجر روز زیاتوي: «افغانستان له خصوصاً حکومت افغانستان له د شرم مقام هم دی، چې په پردۍ ژبه ویېږي، هېڅ ملک ملت خپله دفتري ژبه بله کړې نه ده، بلکې هر قوم ملت په خپله ژبه کې پوهیږي.... مگر صرف یو افغانستان دی چې د خپلې ژبې بلکل لا پرواه دی، ما یو انگلیس خپل فرض ادا کړل عمل پرې د هر چا خپل کار دی.»۲۴
تجربو ښودلې ده چې نوی زیږېدلی ماشوم د بلې ژبې په پرتله هغې ژبې اورېدو ته میلان لري چې د مور په گېډه کې یې اورېدلې وي. د بېلگې په توگه تجربو ښودلې ده چې «فرانسوي نوي زیږېدلي ماشوم د روسي ژبې په پرتله د فرانسوي ژبې اورېدلو ته ترجیح ورکړه».۲۵
هر انسان چې په یوه ټولنه کې پیدا شي د هغې ټولنې ژبه، دود، دستور او نور کړه وړه خپلوي. هره کورنۍ چې د ټولنې یوه برخه ده د ټولنې سره د



ژبې له لیارې سمون کوي. د ژبې زده کړه ماشوم په هغه کورنۍ کې پېل کوي چې پکې پیدا شوی وي.خو دا زده کړه د ماشوم په اروایي او جسماني ودې ولاړه ده. اروایي او جسماني وده یو د بل سره تړلې او چاپېریال پرې متقابله اغېزه لري. د ژبې اروایي او جسماني پیدایښتي جوړښتونه د چاپېریال تر متقابلې اغېزې لاندې د ژوند په بېلو بېلو پړاوونو کې بشپړ او پخیږي.
پښتانه نسبت نورو ژبو ته په پښتو ژبه پوهنه، هنر، فلسفه، ساینس او تکنالوژي په اسانۍ سره زده کولی شي هغومره چې پښتانه ځوانان او نجونې په پښتو سره خپلو وړتیاوو او استعدادونو ته وده ورکولی شي د نورو ژبو له لارې یې نه شي ورکولی. پدې ترتیب مالوماتو ته لاسرسی چې یوه انساني اړتیا ده په مورنۍ ژبه په اسانۍ سره لاس ته راتلی شي چې د انسان د فکري ودې لپاره ډېر اړین دی.

۳- د ژبې دریمه دنده ځان پېژندنه او د هویت مسله ده. ژبه نه یوازې د پوهوي راپوهوي او د فکر د ودې وسیله ده بلکې د ځان پېژندنې او هویت سرچینه هم ده. «هویت یوه کلتوري پدیده ده او کلتور په ژبه ولاړ دی»۲٦. د یوه قوم هویت د هېواد د ننه د هغه «د تاریخ جوړونې په پروسه کې خپله بڼه ښکاره کوي.»۲۷ ژبه د قوم د پېژاند (هویت) نښه ده. د ژبې په بنسټ قومونه یو د بل نه بېلیږي او توپیر یې کیږي. خو کله چې د یوه قوم ژبه مړه شي نو هغه قوم مري. باچاخان رښتیا وایي «چې کوم قام ته خپله ژبه سپکه شي نو هغه سپک شي او چې خپله ژبه ترې ورکه شي نو ورک شي.»۲۸ دا ځکه چې ژبه د یوه قوم د پېژاند مهمه برخه ده. هر څومره چې یو قوم پرمختللی وي په همغه کچه یې ژبه هم مخته تللې وي. لرغونو رومیانو به ویل، چې په یوه هېواد کې هغه څوک حاکم دی، چې ژبه یې حاکمه وي. د افغانستان زوال د تیمورشاه د واکمنۍ نه پیل او تر ننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام لري  ددې زوال د نورو لاملونو په څنګ کې د پښتو ژبې محکومیت یو مهم لامل دی.

پښتانه که غواړي چې په بشپړه توګه تباه نه شي نو بايد خپل هويت ټینګ وساتي. پوهاند کاکړ لیکي «د پښتنو د هويت عنصرونه پښتو، پښتونوالي او نور غوره ارزښتونه دي. په دغو کې پښتو تر ټولو نه مهمه ده... پښتانه د ژبې له برکته پښتانه دي او که يې پښتو له لاسه ورکړه بيا نو پښتانه نه دي که څه هم احساس به يې د پښتانه وي.»۲۹ دی زیاتوي چې د پښتو ستر اهمیت پدې کې دی چې پښتانه په پښتو سره یو بل پېژني او سره یو کوي يې. په پښتو کې د پښتنو کلتوري ارزښتونه، د دوی تاریخ، د دوی افسانې، د دوی روایتونه یا په نورو ټکو د دوی ټولې معنوي او روحي شتمنۍ پراتې دي چې دوی پښتانه کوي.

قوم په یوه ټاکلې جغرافیایي سیمه کې، د ځانګړې ژبې، ګډ کلتور او ګډ اقتصادي بازار په پایله کې مینځ ته راځي. کله چې قوم پخپله جغرافیایي سیمه کې د حکومت په څېره کې خپل حاکمیت تأمین کړي نو سیاسي یووالی مینځ ته راځي او قوم د خپل هېواد څښتن شي. خو یو قوم چې خپل دولت يې نه وي جوړ کړی رسمي ژبه نه لري خو ملي ژبه لري. دا ملي ژبه ده چې زيات وخت دولتونه زيږوي او بيا دولتونه رسمي ژبه ټاکي. د نمونې په توګه د بنګله دېش په جوړولو کې د بنګالي ژبې رول ټاکونکی و. بنګالیانو په خپل کلتور او ژبې ویاړ کاوه او د پاکستان د جوړېدو سره سم يې د پردۍ ژبې اردو د رسمي کېدو د اعلان سره مخالفت وکړ او په بنګال کې يې د خپلې ژبې د رسمي کولو بیرغ اوچت کړ. دا د دوی د خپلې ژبې او کلتور سره ژوره مینه وه چې دوی يې د خپلواک هېواد څښتنان کړل. د اسرایلو د دولت منځ ته راتګ کې د عبري ژبې د ژوندي کولو کوښښونو مهم رول لوبولی دی. ایلزا بن یهوده دا ارمان درلود چې یهود د خپلواکۍ څښتن شي، ملي هېواد جوړ کړي او عبري يې د هېواد ملي ژبه شي. ده فکر



کاوه چې د ملي شتون لپاره د یوه ولس ژبه ډېر څه کولی شي. د ایلزا بن یهوده نېشنالیزم په ژبې ولاړ و. ده دوه سازمانونه چې یو يې د اسرایل ژوندي کول او بل يې د ژبې ټولنه جوړ کړل  پدې ترتیب د اسرایلو د خپلواک هېواد په جوړېدو کې د ژبې نېشنالیزم رول ډېر لوی و. په رسمي ژبه د حکومت چارې (ترونونه، قوانین، ګډې اعلامیې، سیاسي دریځونو او نور) پرمخ ځي. ملي ژبه هغه ژبه ده چې د یوه ملت ډېرکیان پرې خبرې کوي. رحمت ربي زیرکیار سم وايي چې «هغه دولتونه نېکمرغه دي چې رسمي ژبه يې د ملي ژبې په خدمت او پالنه کې وي. هغه دولتونه نېکمرغه وي چې په رسمي ژبه کې يې د بل دولت لاس نه وي.»۳۰

خو موږ هغه بدبخته قوم یو چې زیاتره دولتونه مو د خپلې ژبې دښمنان، د پردیو ژبو په چوپړ کې وو او د خپلې ژبې د وژلو له لارې يې د خپل قوم د وژلو په لار کې د هېڅ ډول کوښښونو نه ډډه نده کړې. موږ بايد دې ټکي ته کلک پام وکړو چې یو قوم د فزیکي وژنو له لارې نه شي د مینځه وړل کېدای بلکې یو قوم هغه وخت وژل کيږي او د مینځه وړل کېدای شي چې کلتور او په ځانګړې توګه ژبه يې د مینځه یوسې. څنګه چې «ژبه د ګډ بشري تمدن او کلتوري میراثونو د انتقال وسیله ده نو ځکه يې پالنه او ساتنه اړینه ده.»۳۱ د پښتو ژبې د منځه وړلو لپاره زموږ ګاونډي هېوادونه او په ځانګړې توګه ایران ډېرې هڅې کوي. د ایرانیانو موخه دا ده چې د فرهنګي ښکېلاک له لارې دوی د پښتنو تاریخ، کلتور او ملي هویت د منځه یوسي.

پدې ترتیب مې د انسان او ژبې پیدایښت ته لنډه کتنه وکړه او اوس لازمه ګڼم چې د پښتنو او پښتو ژبې په هکله وغږېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## پښتانه

پښتانه د افغانستان اصلي یا ډېر لرغوني اوسېدونکي دي. «څنگه چې افغانستان په اسیا کې د پراخو سیمو په منځ کې پروت دی، لوی فاتحان او لوی ټبرونه له لرغوني مهال نه را پدې خوا پکې ننوتلي، تربنه وتلي او څه پاتې شوي دي. له همدې امله ده، چې نن ورځ په دغه هېواد کې ډېر ټبرونه میشت دي او څه باندې دېرش ژبې او لهجې پکې ویل کیږي، خو پښتو او پارسو یې تر ټولو خورې ژبې دي.» ۳۲

### د پښتنو اصل

د پښتنو د اصل او نسب په هکله راز راز روایتونه او افسانې شته. پښتانه چا یهود، قبطیان، ارمنیان، تاتاران، هپتالیان، ساکا بللي او ځینو نورو بیا په مغولو، راجپوتانو، برهمنانو، جټانو، یونیانانو، ترکانو، عربانو او نورو سره گډ کړي دي.

د پښتنو په هکله ډېر پخوانی او عمومي روایت چې د یوې افسانې پرته بل څه نه دي دا دی چې پښتانه بني اسراییل دي. د پوهاند ډاکټر حبیب الله تږي په وینا تر ټولو پخوانی لیکلی سند چې پښتانه په بني اسراییل پورې تړي د ابو الفضل «ایین اکبري» دی چې وایي: «افغانان ځانونه د اسراییلو اولاده گڼي»۳۳ ابوالفضل دا هم وایي چې پښتانه په دې باور دي چې د دوی ډېر لیرې نیکه «افغان» نومېده، هغه درې زامن درلودل چې هغه



سړبن، غرغښت او بټن وو. دی زیاتوي چې غلځي، لودي او نیازي د یوه دودیز روایت له مخې د یوې بلې پښې دي.

اخوند درویزه هم افغانان د مهتر یعقوب اولاده گڼي او وایي چې د اسراییلو د لوی مشر ـ طالوت د دوو زامنو نه یو افغان نومېده او د همدې افغان اولاده نني افغانان دي چې د اسراییلو د ځپلو په وخت کې غور ته تللي او هلته میشته شوي دي. خو څرنگه چې دوی د سلېمان په غره کې اوسېدل نو په عربستان کې سلیماني بلل کیږي.

بل هغه کتاب چې د پښتنو د نسب په هکله روایت یې په اوږده توگه بیان کړی دی د نعمت الله هیروي «تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني » دی چې لنډیز یې حبیب الله تږی په لاندې ډول بیانوي: «ملک طالوت د اسراییلو پاچا و، خو د مخه له خپل مرگ نه یې د سلطنت امور مهتر داود ته وروسپارل. دی خپله وروسته له اوه څلوېښت کاله سلطنت نه په یوه حگړه کې ووژل شو. ملک طالوت دوه ښځې لرلې او د مرگ په وخت کې یې دواړه امیندوارې وې. وروسته له څه مودې نه د دواړو کره زامن وشول.مهتر داود د یوې د زوی نوم برخیا او د بلې ارمیا کېښود. کله چې د ارمیا کره زوی وشو د هغه نوم یې افغنه کېښود.

وروسته له مهتر داود نه مهتر سلیمان د اسرایلو پاچا شو. ده د ملک د چارو نظم کار اصف او افغنه ته وسپاره. ..وروسته د مهتر سلیمان له مرگ نه د اسرایلو ورځ بده شوه. بخت نصر شام ونیو؛ بیت المقدس یې وران کړ او د اصف او افغنه د اولادې دوه د سر سړي عزیز او دانیال یې له خپلو پیروانو سره بندیان کړل. بخت نصر ـ وروسته د اسراییلو دولس زره مهم خلک ووژل او پاتې یې له اصف او افغنه سره غور، غزني، کابل، فیروز کوه او د کندهار شاوخوا سیمو ته فرار کړل. د افغانه اولاده په دغو سیمو کې میشته شوه.

کله چې خالد بن ولید مسلمان شو نو دغو خلکو ته مکتوب ورولېږه ... او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام منلو ته يې وروبلل. کله چې د افغنه اولادې ته د خالد مکتوب ورسېد، يو شمېر مشران يې مدينې ته روان شول. په دغو مشرانو کې د بني افغان تر ټولو نه ستر مشر- قیص نومېده چې د نسب سلسله يې ملک طالوت او ابراهیم خلیل الله ته رسېده. خالد دغه خلک د پیغمبر حضور ته وروستل.

آنحضرت له هر یوه نه د نامه پوښتنه وکړه. د بني افغان مشر- ورته وويل: «قیص عبراني نوم دی. څرنګه چې موږ عرب یو نو ستا نوم به وروسته له دې عربي او عبدالرشید وي.»

عبدالرشید د خالد سره يو ځای په يو شمېر جګړو کې په مېړانه وجنګېد او خالد حضرت پیغمبر ته د هغه د مېړانې په باره کې معلومات ورکړل. حضرت پیغمبر عبدالرشید ته د بتان لقب ورکړ. بتان چې وروسته پټهان شو، هغه تیر ته وایي چې بېړۍ پرې تکیه وي.حضرت پیغمبر وروسته عبدالرشید خپل حضور ته وباله؛ د خیر دعا يې ورته وکړه او له خپل يوه صحابي او يو شمېر انصارو سره يې بېرته غور ته ولېږه چې په خلکو کې د اسلام تبلیغ وکړي. له قیص عبدالرشید نه چې په کال ۴۰ هجري کې په اوه اتیا کلنۍ مړ شو، درې زامن پاتې شول. يو سړبنی، بل بېټنی او بل غرغشت.

نعمت الله هروي په پای کې وایي، پرته د کرلاڼو نه، د نورو ټولو پښتنو اقوامو د نسب سلسله همدغو درې وو تنو ته رسېږي او ټول د همدوی اولاده جوړوي» ۳۴

بیا افضل خان خټک، حافظ رحمت خان او قاضي اعطاءالله خان پښتانه اسراییل بللي دي.

په بهرنیو لیکوالو کې لومړی پوه سر ویلیم جونز دی چې د پښتنو دودیز روایت ته يې د لوېدیز پام واړاوه او په یوه لنډه لیکنه کې يې داسې وښوده چې کېدای شي چې پښتانه د یهودو د نسب څخه وي. نوموړي لوېدیزوالو ته دا سپارښتنه هم وکړه چې د پښتو ژبې او ادبیاتو څېړنې ته کلک پام



وکړي. برسېره پر دې دغه ستر پوه په یوه لیکنه کې د لاتین او جرمانیکو ژبو خپلوي د سانسکریت سره ثابته کړه.

د جونز د سپارښتنې له مخې ډېرو لوېدیزوالو د پښتو ژبې او ادبیاتو څېړنې ته پوره پام وکړ او ډېرو لوېدیزو پوهانو هڅې وکړې چې دا ثابته کړي چې پښتانه د نسب له مخې یهودان دي. په دغو لیکوالو کې لومړی سړی الکساندر برنس دی چې د افغان-انګلیس د لومړۍ جګړې پر مهال په هغه پاڅون کې ووژل شو چې د کابل خلکو د وزیر محمد اکبر خان په مشرۍ د انګرېزانو پر ضد کړی و. دی پخپل اثر کې چې «د بخارا سفر» نومېږي په کابل کې د افغانانو نه د پوښتنو او ګروېږنو پر بنسټ دې پایلې ته رسېدلی چې پښتانه بني اسراییل دي. برنس په کابل کې د خلکو او ان د امیر دوست محمد خان سره پدې هکله غږېدلی او امیر هم دا ښودلې چې پښتانه د یهودو د نسله دي. په برنس پسې مور ګرافټ د اپریدو په هکله وایي چې دوی ډېرې دنګې ونې لري او څېرې یې کټ مټ د یهودانو دي او چارلیز میسن پخپل سفرلیک کې پښتانه بني اسراییل بللي دي. جورج روز د پښتنو او یهودو د نسب په هکله ځانګړی کتاب چې «افغانان، لس قبیلې او د ختیځ سلطانان» نومېږي ولیکه. دی پخپل کتاب کې وایي چې د یهودو لس ورکې شوې قبیلې افغانستان ته تللې او پښتانه د همدغو لسو قبیلو اولاده ده. دی دا هم وایي چې دوی [پښتانه] د فارس سلطانان وو او په کلونو کلونو یې په هند واکمني کړې ده.۳۵

بل انګرېز چې د پښتنو او یهودو د اصل په هکله یې لیکنې کړېدي والټر بیلو دی چې پښتانه اسراییل ګڼي. خو بیلو برسېره پر دې چې هغه دودیز روایت چې پښتانه له اصله اسراییل ګڼي مني ځینې پښتانه په نورو نسبي ډلو پورې لکه برهمنان، راجپوتان، جټان، یونانیان، هفتالیان، ساکان، مغول، ترکان، عربان، ارمنیان او نورو ورګډوي.

جورج راورټي هم د پخواني روایت له مخې پښتانه لدې امله د یهودو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسبه ګڼي چې خپله پښتانه خپل ځانونه د یهودانو له نسبه بولي او زیاتوي چې د پښتنو د یهودیت مسله د سدوزو قبیلو په تاریخ کې چې «تذکراةالملوک» نومیږي په ډېر ښه ډول بیان شوې ده. په پای کې دې پایلې ته رسېدلی «چې افغانان د یهودانو د لسو قبیلو بقایا دي» ۳۶

د تېرې په وینا د یهودانو په دایراة المعارف کې هم راغلي دي چې پښتانه د خپل دود له مخې ځانونه یهودان ګڼي.

په ځینو اثارو کې بیا پښتانه قبطیان او د فرعونانو له نسل نه ګڼل شوي دي. د تېرې په وینا ابوالفضل په ایین اکبري کې د دې موضوع یادونه کړې خو هغه یې پخپله بې اساسه ګڼلې او یوه خیالي افسانه یې بللې ده.

فرشته بیا دا خبره د یوه بل اثر په حواله پخپل تاریخ کې یاده کړېده:«ما په «مطلع الانوار» کې چې یوه منلي مولف لیکلی او ما ته د دکن د کاندیش په یوه ښارګوټي کې لاس ته راغی، لوستي دي چې افغانان فرعون الاصله قبطیان دي. کله چې موسی پېغمبر هغه کافر (فرعون) ته ماته ورکړه او په سره بحیره کې غرق شو، ډېرو قبطیانو د یهوده دین ومانه. خو نورو یې چې سرتنبه او خودرایه وو، رشتیني دین و نه مانه او له خپل ملکه ولېږدېدل هندوستان ته ولاړل. په نهایت کې د سلیمان په غرونو کې میشته او د افغانانو په نامه یاد شول.»۳۷ ځینو لیکوالو بیا پښتانه د مغولو او ترکو سره ګډ کړي دي. د بېلګې په توګه د محمود کتبي «تاریخ ال مظفر» کې راغلي چې «اوغان او جرما مغولانو د ولایت په شاوخوا کې بغاوت او چور پیل کړی دی.»۳۸ خو عبدالرزاق سمرقندي بیا څو څو ځایه افغان او جرمیان له ترکانو سره ګډ کړیدي. «امیر مبارزالدین مظفر په دې فکر چې ښایي اوغان او جرمایي اتراک به د هغه د مظفرانه بیرغ لاندې راټول شي، د بم په لاره ولاړ او د جیرف په دښته کې یې واړول.» ۳۹ ځینې اروپایان لکه کرونسکي د ارمنیانو په یوه دودیز روایت پسې تللي او افغانان یې د ارمنیانو سره ګډ کړیدي. کرونسکي چې په اصل کې پولنډی دی او د



۱۷۲۰ نه تر ۱۷۲۵ پورې په اصفهان کې اوسېده او هلته یې د پښتنو برې او د شاه محمود هوتکي په لاس د صفوي دولت نسکورېدل پخپلو سترګو لیدلي او هغه یې لیکلي دي. د مخه مو ولیدل چې دا نظریات یوازې د پښتنو په دودیز روایت او په ساده کتنو ولاړ او هېڅ تاریخي او علمي بنسټ نه لري. په دې اړه د نولسمې پېړۍ په پیل کې لوېدیځ پېژندونکو د هندو-اروپایي قومونو د تاریخ او ژبو د علمي څېړنو او په هغه جمله کې د پښتنو او پښتو ژبې د علمي څېړنو په پایله کې پورتني روایات او ساده کتنې رد کړې چې وروسته به پرې وغږېږم. اوس به په لنډ ډول د تاریخ له اړخه، د ژبې د اصل او پرتلنې او د وینې د خپلوی پر بنسټ د یادو نظریاتو بې بنسټ توب په ګوته کړم او دا به ښکاره کړم چې پښتانه د توکم یا نسب له مخې اریایان او پښتو یوه لرغونې اریایي ژبه ده.

## لومړی د تاریخ له اړخه:

د تاریخ له اړخه به اوس وګورو چې پښتانه په اصل کې اریایان او د اوږدې مودې راهیسې په همدغه وطن کې ژوند کوي.

پښتون د لومړی ځل لپاره په ویدي سرودونو کې د پکتهاس (pakthas) په نوم یاد شوی چې د خپل قوم پاچا ښودل شوی او بل پاچا یې توریانا یاد شوی دی. پوهاند کاکړ د ګرفت د لیکنې له مخې چې د پکتاس پاچا یې توروایانا ښوولی وایي چې د ګرفت توروایانا شاید هماغه د ویدي سرودونو یاد شوی توریانا وي.

په اوپستایي دورې کې د یونان نامتو تاریخ پوه هېرودت د نورو اریایي قومونو په لړ کې پکتیس یادوی د کاکړ په وینا نږدې ټول تاریخ پوهان په یوه خوله وایي چې دهېرودتس پکتیان همدغه نني پښتانه دي.

په اریانا کې د ویدي دورې په تېرونو کې پکتیان هم پاتې شول. احمد علي کهزاد وایي چې پکتیان د باختر نه د تېرونو د لېږد په مهال دوې برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول: یوه څانګه یې د نورو قبیلو او کورنیو سره د هندوکش سوویل ته ښکته شوه او د سوویل ختیځو سیمو او غرونو کې میشته شوه چې د پکتیانو د استوګنځي په نوم مشهور شو. بله څانګه یې په باختر کې پاتې شوه چې ویدي او اوېستایي مدنیت یې د نورو تېرونو غونډې هلته تېر کړ. دوی د کیاني افسانوي دورې وروسته د بخدي سلطنت جوړ کړو. د بخدي سلطنت او اوېستا په هکله کاکړ یوه لیکنه کړې چې د لطیف جان بابي څېړنیز اثر ارزونې ته چې «زرتښت او اوېستا» نومیږي، وقف شوې ده

د پوهاند کاکړ په وینا «د کیانی دورې په اخره کې د ویشتاسپه پاچا په عصر کې د بخدی اریانا وای جاه تر ټولو منابعو نه په کراتو زیات مالومات ورکوی. اوېستا بې جوړې ځایی منبع ده او بې جوړې به وی.»۴۰

که څه هم ایرانیانو او ځینو باندینیو زرتښت او اوېستا په ایرانیانو پورې تړی خو تاریخي حقایق دا کار ناسم ګڼی. لوموړی یوه هنري ویلسن دی چې پخپل اثر «لرغونې اریانا» کې یې چې د افغانستان او بلوچستان نه یې د راټولو کړو سکو پر بنسټ لیکلی دی «چې اریانا د هغه هېواد نوم و چې د پارس او هند تر منځ پروت و.»۴۱ د بخدي د سلطنت په هکله د کاکړ د لیکنې لنډیز په لاندې ډول وړاندې کیږي:

د بخدي سلطنت تر ټولو مهم سلطنت و. هلته د اسپه کورنۍ واکمنه کورنۍوه. د بخدی نومیالی واکمنان دلهر اسپه، وشتاسپه، ګرشاسپه، اروت اسپه، په نومونو یاد شوی دی. د وشتاسپه لوی وزیر د جم اسپه او زرتښت پلار د یورو شاسپه په نومونو پېژندل شوي دي. اسپه په اوېستا کې د اس په مانا کلیمه ده. اسپه چې د اس مونث دی او په همدغه بڼه تر اوسه په پښتو کې ژوندی ده. پدې حساب داسپه کورنۍ پښتنه او واکمنان یې پښتانه وو.۴۲

کهزاد زیاتوي چې د هېرودت د لیکنې له مخې د پکتیانو یوه کوچنۍ څانګه د لوېدیځ لور ته مخته تللې او د ارمنستان په لوېدیځ کې میشته



شوې چې هلته پخپله د پکتیس یا پکتوویس په نامه او خپل ټاټوبی یې د پکتیکا پنامه مشهور شو. داسې ښکاري چې د پکتیانو دا کوچنۍ څانګه به په ځایي خلکو کې حل شوې وي. که د پکتیانو د ارمنیانو او ګورجیانو سره د ژبې یا نورو نښو په بنسټ کوم ورته والی وي هغه به د دې له امله وي چې پکتیان د دوی په ګاونډ کې میشته وو او بیا پکې حل شوي دي نه دا چې دوی ګواکې د یوه نسب نه دي.

هېرودت د پکتیک د هېواد پکتیان څلور ډلې خلک په ګوته کوي چې ګنداري، سته ګیدای، اپه ریتای او دادیکا دي چې د پوهانو په نظر په ترتیب سره کندهاري، خټک، اپریدي او دېګان دي. بیلیو، احمد علي کهزاد، غبار او کاکړ د هېرودت دادیکا د پښتنو څانګه ګڼي. کاکړ دا هم وایي چې «دېګان په ټولو لیکنو کې کلیوال یاد شوي... او ځینې یې پښتو ژبې هم وو او په اسلامي دوره کې تاجک شوي»۴۳ دي.

لوموړی لوېدیځ پوه م. الفنسټون دی چې پخپل بې جوړې کتاب «د کابل سلطنت» کې چې په ۱۸۱۴ کال کې یې لیکلی او نامتو تاریخپوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په پښتو ژباړلی دی د پښتنو د اصل او نسب په هکله یې د پښتنو هغه دودیز روایت رد کړ چې خپل ځانونه بني اسراییل ګڼي. دی وایي چې د دې روایت لوموړی ټکی د سپېڅلي کتاب تورات سره بېخي اړخ نه لګوي او دوهم ټکی یې منطق نه منې ځکه یوازې اوه دېرش پښته شپاړس سوه کاله نه کیږي. الفنسټون دا نظریه هم ردوي چې پښتانه په اصل کې قفقازیان دي. دی وایي «زه د دې لپاره هېڅ دلیل نه وینم چې افغانان د غربي قفقازیانو سره وتړم.»۴۴

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په خپل څېړنیز اثر «پښتون، افغان، افغانستان» کې د هنري پرېسټلي په حواله چې «حیات افغاني» یې په انګریزي ژباړلی وایي: «د ساول پښت په غلطه له جودا (یهودا)څخه ښوول شوی دی. په داسې حال کې چې د تورات (Old Testament) له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د بنجامن ټبر ته منسوب و. د تورات په هېڅ ځای کې د دې ذکر نه شته چې افسانوي ارخيا او ارميا به د ساول د زوزات څخه وي.... نه د ارميا او نه د افغان نوم او يا هغه ته ورته بل نوم د حضرت داود د نوميالیو کسانو په ډله کې لیدل کیږي.»۴۵

کاکړ دا روايت، چې ګواکې خالد بن وليد د قيس په مشرۍ د غور افغانان مدينې ته بللي وي، هم بې بنسټه بولي. دی وايي چې خالد بن وليد دغسې تاريخي شخص و چې کړنې يې په ډېرو کتابونو کې ثبت شوې دي. د دغو کتابونو له مخې خالد بن وليد يهود نه و، بلکې د عربو د قريشو د لوی ټبر د مخزوم د څانګې نه و. نوموړی په ۶۲۵ هجري کال د احد په جنګ کې د پېغمبر(ص) پر ضد جګړه کې برخه اخېستې چې د هغې په پايله کې مسلمانان په زياته اندازه د ده په قوماندنې مات شوي وو. خالد بن وليد تر ۶۲۹ هجري کال پورې د پېغمبر(ص) او اسلام مخالف و. په همدې کال ده د عمر بن العاص سره د حضرت محمد(ص) پېغمبري ومنله. بل کال (۶۳۰) مسلمانانو په جنګ سره مکه ونيوله. کاکړ زياتوي چې په دغه حال کې مسلمان خالد ته ممکنه نه وه چې په دومره لنډې مودې کې افغانان مکې ته حاضر کړي. برسېره پردې که خالد او ملګري يې يهودان وای، هغوی به ولې له حضرت محمد(ص) سره د مکې په نيولو کې مرسته کړې وای، ځکه چې د ده په امر سره د مدينې يهودان ځپل شوي وو.

جان ملکم هم د فارس په تاريخ کې د پښتنو د اصل او نسب په هکله د دوی خپل دوديز روايت ردوي او ليکي: «هېڅ داسې کومه کتيبه نه ده پيدا شوې چې دا عقيده تاييد کړي چې پښتانه د يهودانو له نسله څخه دي. او د دوی خپله مبهمه عنعنه په داسې يوه موضوع کې د مسلم حقيقت په حيث نشي منل کېدلی.»۴۶

بل ستر پوه او ختيځ پېژندونکی ب. ډورن دی چې د پښتنو د تاريخ او ژبې په هکله يې کره او ژورې څېړنې کړې دي. نوموړي د پښتنو دوديز روايتونه



ناسم بللي او ليکي: «دا چې فارسي ژبي مورخين پښتانه د يهودو له نسله ګڼي دا پرته له يوې خبرې د کوم بل شي ثبوت نه شي کېدی او هغه دا چې دا ليکوالان روايات، پرته له دې چې ماهيت يې مالوم کړي، د خپل دود په اساس، د مسلمو حقايقو په توګه ثبتوي.»۴۷

دغه راز ډورن وايي «دا چې د افغانانو او يهودانو نومونه سره يو شی دي د دې دليل دا دی چې افغانان مسلمانان دي. د مسلمانانو او يهودانو ډېر نومونه ګډ تاريخي او قومي منبع لري، دا چې د افغانانو څېرې بېخي يهودانو ته ورته دي دا هم د دې دليل نه شي کېدی چې پښتانه د يهودانو له نسله دي. دی د خپلې خبرې د تاييد لپاره د جان ملکم دا عبارات را اخلي چې «که د دوو ولسو د څېرو سره ورته والی د دليل کېدی شي چې هغوی دې د عين نسله وي، هلته نو بيا کېدی شي چې کشميريان هم د خپلو څېرو له امله د يهودانو له نسله وبلل شي ځکه چې يو شمېر غربيان کشميريان هم، کټ مټ يهودانو ته ورته بولي.»۴۸

ويليم جونز وايي چې «پښتانه له کوم بل ملک نه افغانستان ته نه دي تللي بلکې... د لرغوني پاروپاميزاد (ياني مرکزي افغانستان او شاوخوا سيمو) اصلي او ځايي اوسېدونکي دي.»۴۹ ډرون وايي چې «تاريخ دا ثابته کړې ده چې د غزنوي سلطان محمود د واکدارۍ په وخت کې او تر هغه نه ډېر پخوا دوی (افغانان) په هغو کلاوو کې اباد وو چې تر اوسه په کې میشته دي.» ۵۰ ډورن دا روايت هم ردوي چې ارمني اغوانان او پښتانه يو شی دي دوی دوه بېخي سره جلا ولسونه بولي. ډورن د خپلو څېړنو له مخې دې پايلې ته رسي چې پښتانه د هندو-اروپايي د ولسونو د سترې کورنۍ غړي او هم ځانته يو لرغونی ولس دی.

پدې ترتيب تاريخي حقايق دا ثابتوي چې پښتانه په اصل کې اريايان او د لرغونو زمانو نه په همدغه وطن کې اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم د ژبو د اصل او پرتله کولو له اړخه

ژبپوهنه د ژبو خپلوي د غږ (فونیتیک)، لغت او گرامر په ساحه کې ښيي. د پښتو ژبې د اصل او د نورو ژبو سره د پرتله کولو له اړخه د علمي څېړونو پایلې په ډاگه کړې چې پښتو د افغانستان لرغونې ژبه او د ژبو په اریایي کهول پورې اړه لري چې د دې کتاب په دریم څپرکي کې به پوره رڼا وربانديې واچول شي.

## دریم د نسب پوهنې له اړخه

د دې اړخه سیانس پوهان د وینو د نمونو د لابراتواري معاینو له مخې د بېلو بېلو قومونو نسبي نږدېوالی ثابتولی شي. د ښه مرغه د پښتنو پخوانی افسانوي روایت د (D N A) لابراتواري معاینو له مخې هم بې بنسټه وخوت. پدې هکله څېړونکي ښاغلي نثار احمد صمد « پښتانه اصلاً څوک دي؟» تر سرلیک لاندې پخپله څېړنیزه لیکنه کې چې د لر او بر سایټ کې خپره شوې ده پدې هکله مهم مالومات راټول کړي دي چې لنډیز یې لوستونکو ته وړاندې کوم:

برتانوي پوهاند تیودر پرفیټ په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلو کې د یو شمېر پښتنو پر (D N A) یو لړ لابراتواري معاینې تر سره کړې خو دا یې ثابته نه کړه چې پښتانه د بني اسراییلو سره د وینې تړاو لري.

همدارنگه په ۲۰۱۰ کال کې د هندوستان د ارثي علومو ماهرې شهنازعلي د ملیح اباد په سیمه کې چې هلته گڼ شمېر اپریدي اوسېږي د زیاتو پښتنو د وینو نمونې د اسراییلو د ټکنالوجی په انستیتوت کې د کره کتنې او څېړنې لاندې ونیوې چې په پایله کې دا ښکاره شوه چې پښتانه د اسراییلو سره د وینې تړاو نه لري.

په اسراییلو کې د یورشلیم د پوهنتون د بشر ـ پېژندنې د څانگې یوې



څېړونکې مېرمن شیلوا نییل وایي چې که څه هم پښتانه د روایتي او شفاهي تاریخ له مخې ځانونه په ویاړ سره بني اسراییل بولي خو د (D N A) څېړنې د دوی د وینې تړاو د یهودیانو سره نه باوري کوي.

د لکنهو د پوهنتون یو استاد نورس اپریدي هم د پرله پسې زیار سره سره ونه کړای شول چې د وینو د نمونو د څېړنو له مخې د پښتنو تړاو د یهودو سره وښیي.

پدې هکله وروستۍ لابراتواري کتنې د امریکا د حکومت وارثتي شورا له خوا په ۲۰۱۲ کال تر سره شوې. دغه ټیم د افغانستان او پښتونخوا د څو سوو پښتنو د وینې نمونې واخېستې او د یو لړ کره لابراتواري کتنو پایلې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په اتویشتمه اعلان کړې او وویل چې نننی پښتانه د پخواني اسراییلو سره د نسب تړاو نه لري، بلکې اوسني پښتانه د پنځو زرو کلو راهیسې دلته اوسیږي . دا یې هم زیاته کړه چې پښتو ژبه نه سامي ده نه خارجي، بلکې د اریایي څانگې څخه ده چې په هندو-اروپایي کهول پورې اړه لري.

اوس به دا موضوع د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په دغو ټکو پای ته ورسوو: «د دغو واقعیتونو په رڼا کې دغه روایت چې پښتانه په اصل او نسب کې یهود دي، یوازې د ذهن او بد نیت زېږنده کیږي، نه تاریخي واقعیت. اوس که یو څوک سره له دې هم پښتانه د دغه جعلي روایت پر بنسټ بني اسراییل گڼي هغه به په اصل کې د لوستونکو، تاریخ، [ژبپوهنې، نسب پوهنې] او رښتینتوب پروا نه لري.» ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېيم څپرکی

# پښتو ژبه

د مخه تر دې چې د پښتو ژبې په هکله وغږېږم غواړم د پيرمحمدکاروان شعر چې د پښتو ژبې ځينې ځانګړتياوې يې ډېرې ښکلې انځور کړې دي لوستونکو ته وړاندې کړم.

### پښتو

ډکه د جمال او د جلال غرنۍ ژبه ده
وايې وره پښتو د مستانه موسيقۍ ژبه ده

ډول سره چې غبرګه شي ګډا ګډا ګډا شي نو
چوپو ګړنګونو کې يو شور شي او غوغا شي نو
والوزي يو سيل شي د مرغيو په هوا شي نو
ځنې د نښترو ورته ګډې په شغا شي نو
درد لري د مينې د شپونکي د شپېلۍ ژبه ده



خرپ د سپينې تورې چې په برم او په پرتم کې شي
حسن په درخو کې شي سرشاره په ادم کې شي
ناڅاپه نغمه شي د رباب په زير وبم کې شي
چيغه شي ټپه په خوبولي شومادم کې شي
ستوري ورته غږ دي، د اسمان د سپوږمۍ ژبه ده

مسته په څپو څپو او مسته له سيلابه ده
ښکاري راوتلې د سندرو له دريابه ده
ته وا بلبلانو راايستلې له کتابه ده
واه په تغزل کې ښايستوکې تر ګلابه ده
جوړه ترې لنډۍ شي د درنې ملالۍ ژبه ده

سر باندې يې لمر او سپوږمۍ کينې د غره څوکه شي
کله هم د غرونو د باغچې زرکانو کوکه شي
ګورې چې سپېره غليم ته تېره د تورې څوکه شي
زلفې د معشوق انځوروي د قلم نوکه شي
جار د شرنګېدلې دريابي شاعرۍ ژبه ده

هر څو که د غرونو د اوبو غونډې بې رنګه ده
پښې يې په اغزو ايښې دي سرې وينې ګلرنګه ده
پاس د ګل منار ته ورختلې دنګه دنګه ده
ډېره خواږه اروه ده وا پېغله غنمرنګه ده
جار يې شم کاروانه د خوږې ښاپېرۍ ژبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به پښتو ژبې ته، چې يوه لرغونې اريايي ژبه ده، لنډه کتنه وکړم..تاريخ پوهان وايي چې اريايان د نن نه شپږ زره کاله د مخه په يوه ژبه ګړېدل، چې هېڅ څرک يې ندی ليدل شوی، خو وروسته د اريايي ژبو څېړونکو د اريک پنامه ياده کړېده. اريايان چې سره ډلې ډلې او بېل شول، ژبې يې هم ډېرې او بېلې شوې. اريايان چې په اسيا او اروپا کې خورې ځانګې لري او ژبې يې سره ورته او په اصل کې سره يو دي، د هندو-اروپايي پنامه يادې شوې دي.

## د پښتو اصل يا ريښه

د پښتو ژبې د اصل او ريښې په هکله د نظرياتو توپير هم ډېر دی. پښتو چا د ديوانو ژبه بللې ده، ځينو سامي، ځينو اريايي او ځينو بيا د اريايي ژبو په بېلو بيلو څانګو پورې تړلې ده.

د «تذکراة الملوک» ليکوال وايي چې «ځينې روايتونه وايي چې افغانانو خپله ژبه له دېوانو نه زده کړه»۵۲

سر ويليم جونز پښتو له سامي ژبو سره ورته بللې ده هنري راورټي هم وايي: «پښتو زما په خيال د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري» ۵۳

کلا پروټ لومړنی وتلی ختيځ پېژندونکی دی چې دا نظريه يې رد کړه چې پښتو له سامي ژبو سره تړلې ده  دی ليکي چې «د پښتو او سامي ژبو تر منځ نه په کليماتو کې اندکترين شباهت شته او نه په ګرامري جوړښت کې.»۵۴

م. الفنسټون هم په ۱۸۱۴ کې د ويليم جونز دا نظريه چې د پښتو او عبري ژبو تر منځ ورته والي شته رد کړه. نوموړي د پښتو دوه سوه اتلس کليمې د يو شمېر نورو ژبو د انډولو کليمو سره پر تله کړې خو له دغو کليمو نه يوې هم له عبراني او يا کلداني سره ډېر لږ ورته والی نه درلود.۵۵

جان مالکم هم الفنسټون ته ورته نظر لري او وايي «چې د عبري او پښتو يا



د افغانانو د معاصرې ژبې تر منځ د نږدې والي هېڅ څرک نه ليدل کيږي»۵۶.

برنارډ ډورن د خپلو ژورو او علمي څېړونو له مخې دې پايلې ته رسيږي چې پښتو له هېڅ سامي ژبو سره څه اړيکه نه لري.

دې پوهانو نه يوازې دا نظريه چې پښتو ژبه د سامي ژبو د کورنۍ څخه ده په کلکه رد کړه بلکې دا يې هم په ډاګه کړه چې پښتو يوه هندو-اروپايي ژبه ده چې د هندو-اريايي ژبو په ختيځه څانګه پورې اړه لري.

په دغو پوهانو کې بيا هم کلا پروټ لومړی لوېديځ څېړونکی دی چې دې پايلې ته ورسېد چې «پښتو بې شکه د هندو جرمانيک ژبو د سترې ډلې يوه څانګه ده.»۵۷ د ژبنيو څېړنو لوی عالم پاټ هم پښتو په ټينګه د هندو-اروپايي ژبو په ليکه کې ودروله. همدارنګه ډورن پښتو يوه سوچه اريايي ژبه وبلله او وايي چې پښتو د هندو فارسي ژبو په لويه کورنۍ پورې اړه لري.۵۸

خو چې څومره د ژبو پرتليزې څېړنې د علم بڼه نيوله د ژبو څېړنه هم کره کېدله. د پښتو څېړونکي دې ته هم پوره ځير شول چې دا جوته کړي چې پښتو د اريايي ژبو په کومه څانګه پورې اړه لري.

لومړی لوېديځ ليکول رابرټ لېچ دی چې د پښتو او سنسکرت د اوازونو د پرتلنې وروسته په ټينګار دې پايلې ته ورسېد چې پښتو د سنسکرت بڼه لري. بل پوه رودولف هورنل دی چې د خپلې تاريخي-پرتليزې څېړنې په پايله کې پښتو د هندو ايراني ژبو له هندي څانګې اړونده وبلله. هورنل برسېره پر دې له ځينو ګادي ژبو سره د پښتو او نورستاني ژبو سره ځينې ګډې ځانګړنې په ګوته کړې او وې ليکل: «چې مګادي پراکرت او پښتو او کافري ژبې په لرغونې زمانه کې بېخي سره نږدې وې او حتی يوه ژبه يې جوړوله.»۵۹

په پښتو کې د هندي اريايي ژبو ځانګړتياوې دومره جوتې او ښکاره دي چې فرانسوي لوی ختيځ پوه ډارمسټېر په لومړي سر کې هم پښتو د هندوايراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبو په هندي څانګې پورې وتړله. پوهان پدې نظر دي چې پښتو ژبې ته د هندي ژبې زياتې ځانګړتياوې ننوتل د موريا د واکمنۍ اغېز ګڼي چې نږدې سل کاله اوږده شوه. برسېره پردې پښتانه د هندوستان سره د اوږدې مودې راهيسې ګاونډي وو او ګډه پوله يې ورسره لرله. د دوی تر منځ تماسونه هم د دې لامل شول چې د دوی ژبې يو پر بل اغېز وشيندي. دا هم بايد ياده کړو چې زيات شمېر پښتانه هندوستان ته تللي او هلته يې واکمني کړې او دغو پښتنو د روه سره تګ راتګ درلود چې يو د بل پر ژبو يې اغېزې درلودې.

لومړی پوه چې پښتو يې د هندو-ايراني ژبو له ايراني څانګې پورې وتړله شيلي ډيور دی. ده پخپل اثر «د مقايسوي فيلولوژۍ اجمال» کې وايي چې د افغانستان ژبه ياني پښتو د ايراني ژبو په څانګه پورې اړه لری خو ځانته يې په يوه ځانګړې او نوښتي لاره وده ورکړې ده.٦٠

ماکس ميولر بيا پښتو د ايراني ژبو په ختيځې ډلې پورې وتړله او په دې ترتيب يې له «زند» سره ونښلوله

خو ډاکټر ارنست ټرومپ، پوهاند اډلينګ، شيلي ډيور، او نور پښتو د هندي او ايراني ژبو تر منځ يوه خپلواکه او مستقله ژبه بولي.

خو ډارمستټر په تفصيل سره پښتو او زند سره پرتله کړې او دې پايلې ته ورسېد چې پښتو د زند سره دومره نږدې تړاو لري لکه نوې فارسي يې چې د زړې فارسي سره لري.

د اريايي ژبو نامتو ژبپوه مارګن سټېرن د ډارمستټر نظر په بشپړه توګه منې خو په همدغه ان کې دی پښتو په ختيځو ايراني ژبو کې د ساکانو لرغونې ژبې ته دومره نږدې بولي او وايي چې پښتو په اصل کې د ساکا يوه لهجه ده. د مارګن سټېرن په نظر «پښتو بې لدې چې له ساکي ژبې سره وتړله شي بل کېدون نه لری.»٦١ د نوموړي په اند پښتو په اصل کې د اريايي د هغې شمال ختيځې ژبنۍ ډلې يوه برخه ده، چې د پاميري ژبې او د سرخ کوتل د



ډېرينې ليکنې بخدي ژبې د هغه اوسني تمثيل کوونکي دي. د کاکړ په وينا پښتانه چې د ګړنې ډلې په توګه هر وخت له اريايي ټبر نه بېل شوي دي ممکن اول په بخدي کې ځرګند شوی وي. په هر حال، له پاميري غرنيو خلکو او له داديکا سره د دوی په ګاونډيتوب کې پوښتنه او شک نه پيدا کيږي. د مخه مو ويل چې په مخزيږدې پنځمې پېړۍ کې بخدي د هخامنشيانو د واکمنۍ لاندې و خو پښتو د ژبې په توګه تر هغه د مخه هسکه شوې وه چې تاريخي بېلګې يې دا دي: زرينه او تنهی. کاکړ وايي چې «که ساکي ژبه پاتې وای په دې اړه به ځرګند حکم شوی وای خو د نالوستو او پوونده ژبه نه ده راپاتې. راپاتې کليمې يې د ګوتو په شمار دي. دوه کليمې يې زرينه او تنهی هغه دي چې اوس هم په پښتو کې هغسې ويل کيږي، چې دوه نيم زره کاله د مخه په ساکاوو کې ويل کېدې. زرينه د ساکا د کومې څانګې ملکه وه او هغه په خپلو خلکو دومره ګرانه وه چې مړينې وروسته يې وطنوالو د سرو زرو مجسمه ورله جوړه کړه. تنهی د ساکاوو په وخت کې د منځنۍ اسيا د اوسني سردريا نوم و او اوس د افغانستان په پکتيا کې د يوه پښتون ټبر نوم دی.»٦٢ دی دا هم وايي چې د امو نوم هم د ساکا د هاما ورګه لنډه بڼه ده.

پدې ترتيب سره پوهانو د نويو څېړنو له مخې ثابته کړه چې پښتو د سامي او عبراني ژبو سره تړاو نه لري بلکې يوه لرغونې اريايي ژبه ده چې د هندو-اريايي ژبو په ختيځه څانګه.پورې اړه لري.

## پښتو د ژبې په توګه

د ډاکټر کبير ستوري د څېړنې پر بنسټ د هرې ژبې توان د هغې د ګړونو يا تورو د شمېر له مخې او د ژبې وده د لغاتو د پانګې له مخې چې يوه ژبه يې لري ټاکل کيږي. په نورو ټکو هر څومره چې د يوې ژبې د ګړونو يا غړونو ياني د تورو شمېر زيات وي هغومره د دې ژبې توان هم زيات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دغه دا مانا نه لري چې یوه ژبه چې توان یې زیات وي هغـه د هـرو مـرو پرمختللې وي. دا پدې پورې اړه لري چې یوې ژبې ته څومره کار شوی دی.

پښتو د ږغونو له مخې ډېره بډایه ده چې دا یـې د توانمنـدی بنسـټیز لامـل دی. ځکه پښتو یوه توانمنه ژبه ده چې نه یوازې یې د تورو شمېر ان د نـړۍ د ډېرو پرمخ تللو ژبو لکه انګلیسيـ او جرمنـي نـه زیـات دی بلکـې د افـادې غښتلی توان هم لري. خو څرنګـه چـې پښـتو ژبـې تـه کـار نـه دی شـوی نـو وروسته پاتې او د وییو (لغاتو) پانګه یې لږه ده.

پښتو د نورو اریایي ژبو په څېر یوه اوښتونکې ژبه ده یا په نورو ټکو داړولو او اشـتقاق وړتیـا لـري. پـه کلیمـو پـورې مختـاړي(پـریفکس) او وروسـتاړي (سوفیکس) نښلي او راز راز نورې کلیمې ورنه جوړېږي. د بېلګې پـه توګـه:د تون او ځی د وړوستاړو په مرسته:

درملتون، پوهنتون، وړوکتون، لېونتون او نور

کتنځی، پوهنځی، ښوونځی، پخلنځی او نور

پښتو د خپل ګرامري جوړښت له امله ډېـره بډایـه ده. فعـلي سیسـتم یـې د انګلیسي ژبې سره پوره ورته دی، د نوم حالت یې هم پراخ دی

په پښتو ژبه کې دنر او ښځې توپیر د نورو اریـایي ژبـو پـه پرتلـه زیـات دی. دلته به بېځایه نه وي چې د روسي الګزاندر هماګایف مرکې ته چې په ۱۹۹٦ کال کې یې د ډاکټر کبیر ستوري سره پـه جرمنـي کـې کـړې وه او نومـوړی هغه وخت د ازبکستان د راډیو د پښتو څانګې مشر و، پام واړوم. دی وایـي چې:«ما په یوه مجله کې لوستي و چې د پښتون قـام د ژبـې پښـتو د ګرامـر په مرسته د وید د کتاب الفاظ چې په سانسکرت ژبـه لیکـل شـوی دی مانـا کېدای شي. زما له دې ژبې سره مینه پیـدا شـوه چـې دومـره پخـوانۍ ده او ګرامري قاعدو یې پر پخوانیو ژبو اغېزه کړې او اوس اولس پرې غږېـږي. نـو د ژبو په انستیتوت کې مې زده کړه.»٦۳ دی زیاتوي چې په پښتو ژبـه کـې د ښځې او نر توپیر د نورو ژبو پرتله زیات دی .ښځې د ځان لپـاره الفـاظ پـه



بل ډول کاروي. الګزاندر هماګایف په بشپړه توګه سم وایي او لانـدې بېلګـې د ده خبرې تاییدوي.

| مذکر مفرد | مونث مفرد | د ژبې نوم |
| --- | --- | --- |
| راغی | راغله | پښتو |
| امد | امد | پاړسو |
| пришел | пришла | روسي |
| came | came | انګرېزي |

| مذکر جمع | مونث جمع | د ژبې نوم |
| --- | --- | --- |
| راغلل | راغلې | پښتو |
| امدند | امدند | پاړسو |
| пришли | пришли | روسي |
| came | came | انګرېزي |

موږ وینو چې په مطلقه تېره زمانه کـې پـه مفـرد حالـت کـې د ښـځې او نـر توپیر په پښتو اوروسي ژبو کیږي او په پاړسو او انګرېزي کـې د ښـځې او نـر توپیر نه کیږي. د جمعې په حالت کې یوازې په پښتو ژبه کې د ښځې او نـر تـوپیر کیـږي او د پاړسـو، روسي او انګرېـزي کـې د ښـځې او نـر تـوپیر نـه کیږي.

اوس به د صفت حالت وګورو.

| مذکر مفرد | مونث مفرد | د ژبې نوم |
| --- | --- | --- |
| ښکلی | ښکلې | پښتو |
| زیبا | زیبا | پاړسو |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| روسي | красивая | красивый |
| انگرېزي | beutiful | beutiful |

| د ژبې نوم | مونث حمع | مذکر جمع |
|---|---|---|
| پښتو | ښکلې | ښکلي |
| پارسو | زیبا | زیبا |
| روسي | красивые | красивые |
| انگرېزي | beutiful | beutiful |

موږ وینو چې صفت هم په مفرد حالت کې د ښځې او نر توپیر په پښتو اوروسي ژبو کیږي او په پارسو او انگرېزي کې د ښځې او نر توپیر نه کیږي. د جمعې په حالت کې یوازې په پښتو ژبه کې د ښځې او نر توپیر کیږي او د پارسو، روسي او انگرېزي کې د ښځې او نر توپیر نه کیږي.
دا یو څو بېلگې ښیي چې همگایف په بشپړه توگه سم وایي چې په پښتو ژبه کې د ښځې او نر توپیر د نورو ژبو په پرتله زیات دی.
په پښتو ژبه کې د نورو اریایي ژبو پرتله د لغاتو ولې (ریښه) هم ژوره ده. د بېلگې په توگه:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پښتو | ورور | وراره | ورېره | وریندار |
| پارسو | برادر | برادرزاده | برادرزاده | ینگا |
| روسي | брат | аплемяник | племяниц | сноха |
| انگرېزي | brother | neef | nice | sister in low |

پورتنۍ بېلگې ښیي چې په پښتو ژبه کې د نورو ژبو پرتله د لغاتو ریښه ژوره ده.



پښتو د خپل طبعیت له مخې یوه سندریزه ژبه ده چې مسته او د جوش نه ډکه موسیقي لري. موسیقي د انسان د ننني نړۍ د بیانولو اغېزمنه وسیله ده. موسیقي د روح غذا بلل کیږي. د پښتو مسته او د جوش نه ډکه موسیقي د خوند برسېره اورېدونکو ته ځانگړې انرژي او ځواک ورکوي او پخپل ځان یې ډاډه کوي. پښتو موسیقي د مهاجرت پر مهال او په ځانگړې توگه په وروستیو څورلسو کالو کې د قدر وړ وده او پرمختگ کړی دی. افغان شاعران، کمپوزیتوران، سندرغاړي د مهاجرت پر مهال د نړۍ په گوټ گوټ کې د نړۍ د نورو هېوادو د خلکو د موسیقۍ سره اشنا شول؛ د خپلو دودیزو وطني موسیقي الاتو برسېره د نورو هېوادو د موسیقي الاتو سره هم بلد شول؛ دوی د نورو خلکو د موسیقۍ، او موسیقي الاتو او سندرو د طرزونو نه هم گټه پورته کړه؛ خپله موسیقي یې بډای او د سندرو بیل بیل طرزونه یې خپلې ژبې ته راوړل. اوس د پښتو مسته او د جوشه ډکه موسیقي او سندرې نه یوازې په نړۍ کې اورېدونکي لري بلکې بهرني سندرغاړي د پښتو سندرې هم وایي. د موسیقي پوهان وایي چې ښه کمپوز، دښه شعر ټاکل او ښه غږ د ښې سندرې مهم توکي دي خو دا هم باید ووایم چې د افغان ښځینه سندرغاړو د ښکلا پلوشې د پښتو ژبې سندرې لا زیاتې خوندورې کوي او دوی د خپلو ورونو سره اوږه په اوږه د پښتو سندرې د نړۍ گوټ گوټ ته ورسولې. یو بهرني اورېدونکي په انترنېټ کې د خدای بخښلې ایمن اوداس د (زما د مینې نه توبه ده بیا به نه کړم مینه) د سندرې لاندې په انگیسي ژبه لیکلي و: زه د پښتو ژبې په ټکي نه پوهېږم خو د پښتو موسیقي مې خوښیږي او دې سندرغاړې ته د درناوي سر ټیټوم.
پدې توگه پښتو د خپلې توانمندۍ او د خپل بډای گرامري جوړښت، غښتلې افادې او د مستانه موسیقۍ له مخې یوه پیاوړې ژبه ده.
د کاکړ په وینا په لرغونو وختو کې پښتانه د نورو قومونو د لیکوالو له خوا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای بل ځای په نامنظم ډول ثبت شوي او ان د دوی ژبه هم په لرغونو مهالونو کې نه ده څېړل شوې. هغه اثار چې پښتانه او پښتو ژبه په کې په نسبي توګه په منظم ډول بیان شوي دي په اسلامي دورې پورې اړه لري. اوس به د دغو اثارو په رڼا کې پښتنو او پښتو ژبې ته لنډه کتنه وکړم تر څو لوستونکي د پښتنو او پښتو ژبې تاریخ یو لنډ انځور تر لاسه کړي.

د پښتو ژبې اثار د نورو ژبو په څېر د یوې خوا د نیواکګرو د یرغلونو او تاړاکونو په پایله کې د منځه تللي او د بلې خوا د ځینو دښمنو ګاونډیو هېوادو په تیره بیا ایران له خوا زموږ د تاریخ او معنوي شتمنیو د منځه وړلو په نیت تباه شوي دي. برسېره پردې پښتنو علمي اثار په نورو ژبو او په ځانګړې توګه په پاړسو او په وروستیو کې د پاړسو په څنګ کې په اردو هم لیکلي دي چې په دې توګه یې خپله ژبه کمزورې کړې او د هغې په پایله کې خپله نور هم کمزوري شوي دي. خو بیا هم هغه څه چې تر اوسه لاس ته راغلي دي د هغې نه هم ښکاري چې پښتو یوه لرغونې او توانمنه ژبه ده.او شتمن ادبیات او بډای فولکلور لري او په لنډ ډول به ورته کتنه وشي.

د پښتو ژبې فلکلور ډېر بډای دی چې د یوه پښته بل پښت ته سینه په سینه لېږدول کیږي او د پښتنو د ټولنیز ژوند رښتینی انځور وړاندې کوي. لنډۍ، چې یوازې د پښتو ژبې نیکات (میراث) دی او د نړۍ په نورو ژبو کې نشته، پښتو یې یوه بې جوړې ژبه ګرځولې ده. په لنډیو کې د پښتني ټولنې د ژوند بېل بېل اړخونه انځور شوي او د پښتنو د احساساتو، خیالونو، تصورونو او فکرونو هینداره ده. د بېلګې په توګه:

زما به خپل وطن یادېږي
که د جنت په منارو ولاړه یمه

تاسو دغه ساده کلیمو ته وګورئ چې د لنډۍ په بڼه پیيل شوي او د وطن سره د مینې ژور احساس په داسې قوت سره بیانوي چې د جنت په شان



ایډیال ژوند نشي کولی د وطن نه د بیلتون له کبله د پښتنې مېرمنې زړه ورباندې اوبه وچښي او معنوي غوښتنې یې پوره کړي نو ځکه پخپل وطن پسې څوریږي او کړیږي. غواړم لاندې لنډۍ چې ما لیکلې ده ثبت کړم چې ورکه نه شي.

هالنډ په سرو ګلونو پټ دی
زما زړګی په شکي کې بند دی را به شینه

دا لنډۍ ما هغه مهال خپلې کور وداني ته د خپل لیک په سر وکښله چې د هالنډ د مهاجرینو په کمپ کې مې د سیاسي پناه په هکله مثبت ځواب تر لاسه کړ او دا هیله را ته پیدا شوه چې د خپلې کورنۍ سره به یو ځای شم. زه دا وخت د درونتن د ښار نه کمپ ته راغلم او په لاره کې کرل شوې مځکه د رنګا رنګ ګلونو په پټیو پوښلې وه. په هالنډ کې زیات ګلان کرل کیږي او د هېواد د صادراتو یو مهم توکی جوړوي. له دې کبله هالنډ د نړۍ ګلبڼ نومیږي. دا لیک مې خپلې کور ودانۍ ته چې دا مهال د سوویلي وزیریستان د شکي په ښکلې دره کې د خپلو ماشومانو سره اوسېده لیکلی و. دا لنډۍ ما د هغې لنډۍ په بڼه ولیکله چې په کوچنیوالي کې مې ډېره اورېدلې وه:

ارګون په زیړو ګلو پټ دی
زما جانان په کشمیر بند دی را به شینه

د پښتو ژبې متلونه، کیسې او نور شفاهي ادب دومره بډای دي چې د لیکلي ادب په ساحه کې کمی پوره کوي شاید همدغه کمی د پښتو ژبې د خلکو ژبني ادب د بډایتوب لامل هم وي.

د مخه مې یادونه وکړه چې د پښتو لیکلي اثار لږ دي او پښتنو زیات علمي اثار په نورو ژبو او په ځانګړې توګه په پاړسو لیکلي دي. الفنسټون وایي چې: «هغه څه چې په پښتو کې لیکل شوي دي، باید د پښتون ملت د علمي سویې د ښکارندوی په توګه د اعتبار وړ ونه ګڼل شي، ځکه چې دوی تر اوسه هم په دري [فارسي] ژبه لیکنې کوي او نږدې ټول علمي کتابونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغې ژبې لیکل شوي دي.»۶۴

د پښتو ژبې لرغونی کتاب چې څرک یې تر موږ را رسېدلی دی د «ملینده پڼهو» په نوم یادیږي چې اصلي نسخه یې تر اوسه لاس ته نه ده راغلې. پوهاند عبدالحي حبیبي موږ د دغه کتاب نه د خپل کتاب «د ادبیاتو تاریخ» په ذریعه د پوهاند سیلوین د لیکنې په حواله چې د «تخاري او کوچه ژبو» په نامه یادیږي خبروي. د عبدالحي حبیبي په وینا د میلاد په دوهمه پېړۍ کې د باختر یوناني سلطنت پر دوو برخو ووېشل شو چې له هغو څخه مناندر نامتو یوناني سالار د هند ډېرې سیمې ونیولې او د هند په تاریخ کې د مالندا پاچا وبلل شو او بودایي دین یې ومانه. د ملیندا پڼهو په کتاب کې د یونانیانو پاچا ملیندا او د هندي راهب ناګه سینا تر منځ د هغو خبرو اترو جریان لیکل شوی دی چې په ساګاله (ننی سیالکوټ) کې د دوی تر منځ شوې وې. دا کتاب د بودایي دین شرحې او بیانونه لري. اکاډیمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد وایي چې: «دغه مطلب د ملیندا پڼهو د پالي ترجمې په پیل کې داسې راغلی دی:

Milinda namasoraja sagala yam parruttame upaganchi nagasenam ٦٥.»

د ملیندا پڼهو دا متن پوهاند سیتارام پنډت د کشمیر د نامتو تاریخ په کتاب کې چې «راج ترنګیني» نومیږي او کلهڼه په ۵۴۵ هجري قمري کې لیکلی دی په انګرېزي ژباړلی دی. سیتارام انګرېزي ژباړې په لومړۍ ضمیمه ۷۴۵ مخ کې د ملیندا پڼهو کتاب په زړه پښتو بللی دی. د ده خپل عبارت دا دی:

The malinda panho was original written in old pashto of wich no copy is now extand.

ژباړه: د ملیندا پڼهو اصلي متن په زړه پښتو کښلی چې اوس یې اصلي نسخه نه ده پاتې.»٦٦



زلمی هېوادمل وایي چې ارواښاد عبدالحلیم پخپل اثر (افغاني) کې د پېښور محمد یونس خان (د پښتنو تاریخ) په حواله لیکي چې ملیندا پڼهو په پښتو لیکل شوې چې اصلي متن یې په لاس کې نشته خو خطي نسخې یې په برما، سیام او سیلون کې لیدل شوې او یوه پخوانۍ نسخه یې د سوویلي هندوستان په پالي ژبه چې په څلورمه میلادي پېړۍ کې خطاطي شوې ده، د جاپان د یوه بودایي عبادتځای نه په لاس راغلې او اوس د جاپان د میکاډو په کتابتون کې خوندي ده. دا نسخه د پښتو د اصلي کتاب ژباړه ده. شاید د پښتو ژبې نه نورو ژبو ته د ژباړې د تاریخ پیل پاسنۍ ژباړه وي.

همدارنګه د هندوستان د راجستان د ایالت په یوه عبادتځای کې د څو ژبو د شعرونو یوه ټولګه موندل شوې ده چې یو شمېر شعرونه یې په پښتو دي. زلمی هېواد مل وایي چې د دې ټولګې د موندلو نه روښن لال ملهوتره چې د ال انډیا د راډیو د پښتو څانګې مشر دی خبر کړی دی. ملهوتره وایي چې د دې ټولګې هغه شعرونه چې په پښتو دي په دوناګري لیک کښل شویدي.او د لنډیو غوندې جوړښت لري. که څه هم دا شعرونه تر اوسه څېړل شوي نه دي خو هېواد مل وایي چې د لیک ډول یې سړی په دې باوري کوي چې دا شعرونه به د اسلام د مخه لیکل شوي وي.

د عبدالحی حبیبي د څېړنې له مخې لویکان په زابلستان او غزني کې یوه شاهي کورنۍ وه چې د غلجیانو د قبیلې نه وه او ژبه یې پښتو وه چې د لسان خلجي په نوم یاده شوې او لهجه یې د وزیرو، مسیدو او وردګو ته ورته وه. د لویک شاهي کورنۍ د غزنویانو له خوا د واک نه ولوېده.

د دې کتاب او شعرونو چې تېر شو نو دپښتنو او پښتو ژبې د څېړلو لپاره اړ یو چې د هغو اثارو نه چې پښتانه او پښتو ژبه په نسبي توګه په منظم ډول پکې بیان شوي دي ګټه واخلو. د دغو لیکنو له مخې د پښتو ژبې لومړی شاعر امیر کروړ دی چې د شعر نمونه یې تر لاسه شوې او د غوریانو په دورې پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځلورم څپرکی

## غوري پښتانه او پښتو ژبه

د اسلام په لومړیو وختونو کې پښتانه په بادغیس، له هراته د غور تر غرونو او همدارنګه په زابلستان، ګندهارا او د ختیځې پښتونخوا په غرونو کې میشته وو. د دوی ژبه پښتو په دغه وخت کې یوه داسې ادبي ژبه وه چې ښه او پاخه اشعار یې درلودل چې وروسته به پرې وغږېږم.

هغه مهال چې د هندوکش د هغې خوا نه د اریایانو د قبیلو مهاجرت د هندوکش سوویل ته پیل شوی ځینې د دوی نه د سوویل لوېدیځ لوري ته مهاجر او په غور کې استوګن شول. د الفنستون په وینا «ټول منابع پدې موافق دي چې په لرغونو زمانو کې د غور اوسېدونکي پښتانه وو.» دی دا هم وایي چې «دا خبره بېخي یقیني ده چې د غور پاچایان پښتانه او د سوري قبیلې غړي وو.»۶۷ میر غلام محمد غبار هم «شاهان محلي غور افغانستان (منسوب به سلسله سوري های پشتانه)»۶۸ نه یادونه کوي.

د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په وینا د غور یا غر کلیمه پښتو ده چې د وخت په تېرېدو غرج او غرش باندې واووښت او د اسلام په دوره کې په غرجستان، غرچستان او غرشیستان باندې یاد شو. غور په تاریخ او افسانه کې د اریایي قبیلو د مهاجرت له وخت نه چې د هندوکش د هغې خوا نه د هند په لوري کېده مشهور شو. د دغه مهاجرت په یون کې د هغوی نه ځینې اول د لوېدیځ په لور (بامیان او غرجستان) او بیا د سوویل-لوېدیځ په لور یاني په غور کې تیت شول.۶۹

سوریان د غور د پښتنو یو ټبر دی چې لرغوني افسانوي شخصیت ته منسوب دی چې فردوسي ضحاک او پښتنو د «تاریخ سوري» په حواله



سهاک بللی دی. د ضحاک یا سهاک له اولاده دوه وروڼه وو چې مشر یې سور او کشر یې سام نومېده چې لومړی پاچا او دوهم د لښکر مشر و. داسې ښکاري چې د اسلام د مخه د زور قبیلې دین د لمر نمانځنه وه. کاکړ وایي «د سیستان ساکا د عربو د یرغل په وخت کې نه زردشتي او نه بودایي وو. دوی په ځانله محلي خدای زون (Zun) معتقد وو.» ۷۰ د اسلام د مخه د دوی کورنۍ په غور پاچاهي کوله. د دوی یو مشر چې ماهوي سوري نومېده د اسلام په لومړیو کې د مروې مشر و. ماهوي سوري د ساسانیانو اخرنی پاچا دریم یزدګر دخسرو نومي ژندرګري په ذریعه چې د عربي سوبمنو نه تښتېده په مروه کې وواژه. ماهوي سوري د حضرت علي (رض) له خوا په کوفه کې د مروې په پاچاهي ومنل شو.

د عبدالحی حبیبي په وینا د غور د سوریانو کورنۍ هغه وخت چې واکمن یې امیر پولاد د شنسب زوی او د واکمنۍ پلاز یې منډېش و د عباسي کورنۍ په واکمن کېدو کې یې خپلې ټولې لښکرې د ابو مسلم خراساني په ملاتړ ودرولې. امیر پولاد د ابومسلم سره یوځای په هغه مېلمستیا کې ګډون درلود چې ابوالعباس سفاح د بین امیه سره د جګړې کولو په مهال جوړه کړې وه. غوریانو د شنسب له وخته بیا تر سلطان محمود غزنوي او سلطان مسعود تر وختو پورې په غور کې د سوري کورنۍ امارت درلود.

کله چې غزنویانو د لویکانو نه غزني ونیو نو دلته یې د خپلې واکمنۍ بنسټ کېښود. سبکتګین د غزنوي واکمنۍ بنسټ ایښودونکی د زابل د پښتنو د یوه مشر د لور سره واده وکړ او د همدې خپلوی پر بنسټ یې د دغو پښتنو ملاتړ تر لاسه کړ او خپلې واکمنۍ په ټینګتیا کې یې کار ورنه واخېست. د امیر سوري د واکمنۍ په مهال یې په غور برید وکړ خو سوري کورنۍ خپله واکمني وساتله بیا کله چې سلطان محمود غزنوي چې مور یې همدغه پښتنه وه، په غزني کې پاچا شو او د دغو پښتنو په مرسته یې په غور برید وکړ او امیر محمد سوري یې د اهنګران په کلا کې کلابند کړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېساري مقاومت وروسته يې ونيوه. نوموړي بيا په لاره کې زهر وخوړل او د پردو په لاس بنديتوب نه يې مرګ ښه وباله. پدې ترتيب غزنويانو د زابلي پښتنو د خپلوی نه په ګټې اخېستنې سره د غور پښتانه وځپل او د پښتو په زيان يې پاړسو چې د سامانيانو د لنډ مهاله واکمنۍ او وروسته د غزنويانو له خوا د بهر نه د پوځي يرغلونو په پايله کې راغلې ده، ورباندې وتپله او د غور په دربار کې د پښتو په څنګ کې پاړسو هم د دربار ژبه شوه. سلطان محمود غزنوي په ختيځ کې د ملتان د لودي پښتنو واکمني هم وپرزوله او د لوديانو په ځپلو سره يې پښتو ژبه هم وځپله چې وروسته به د لوديانو په څېرکي کې رڼا وربانديې واچوم. په دې ترتيب د سامانيانو او بيا د غزنويانو په واکمنيو کې فارسي ژبې د بهر نه په زابليانو او د پښتنو په نورو سيمو وتپله شوه، وده يې وکړه او د غزنويانو د اغېز په پايله کې د غور د سوريانو په دربار کې د پښتو په څنګ کې پاړسو هم ځای ونيو.

وروسته کله چې علاءلدين حسېن په فيروز کوه کې پر تخت کېناست نو خپلې لښکرې يې راټولې کړې او په غزني باندې د يرغل په موخه په هغه لوري وخوځېد. د غزني پاچا سلطان بهرام شاه هم د غزني او هندوستان د لښکرو سره د علاءلدين مخې ته ورووت. پدې جګړه کې د بهرام شاه لښکرې ماته وکړه او د غور واکمن غزنی ونيو او ويې سوځاوه اوپه تاريخ کې د جهانسوز په نوم ياد شو.

علاءلدين لومړی پښتون سلطان و چې د افغانستان هېواد يې د يوې اداري لاندې راووست او د فيروز کوه په پلازمينه پورې وتاړه. تر هغه وروسته سلطان غياث الدين غوري د غور د لويو باچاهانو نه دی چې بيا يې هېواد ته مرکزيت ورکړ چې منځنۍ اسيا د مروې نه نيولې تر هندوستانه او عراقه پورې سيمه يې د غور د فيروزکوه د بيرغ لاندې راوسته. دغه مهال نوموړی د افغانستان ستر او يواځينی امپراتور ګڼل کېده. د عبدالحی حبيبي په وينا د ده په وخت کې د بغداد د خليفه سفير پيروزکوه ته راغی او د غور سفير



بغداد ته لاړ شو او ډيپلوماتيکې اړيکې د دواړو هېوادو تر منځ ټينګې شوې. سلطان غياث الدين د ٦٣ کالو په منګ د هرات په ښار کې مړ او د هرات په جامع جومات کې، چې پخپله يې جوړ کړی و، خاورو ته وسپارل شو.

د سلطان غياث الدين وروسته سلطان مغزالدين غوري چې په سلطان شهاب الدين باندې مشهور دی، پاچا شو دی يو مدبر شخصيت و او د خپل ورور شاهنشاهي يې وساتله  په دې ترتيب وروسته له دې چې د غور پاچاهان پر غزنوي کورنۍ بری وموند د دوی کورنۍ د سلطان شهاب الدين تر واکمنۍ پورې واکمنه وه د سلطان مغزالدين د مړينې وروسته د غور شاهنشاهي ټوټې ټوټې شوه د هېواد شمالي ولايتونه، غور او هرات خوارزم شاهيانو ونيول، سيستان د سيمه يزو ملکانو لاسته ورغی او د غزني ولايت، کابل او ختيځې سيمې تر سينده پورې د غوريانو د دربار خدمتګار (تاج الدين يلدوز) چې وروسته به د ترکي غلامانو تر سرليک لاندې لنډه کتنه ورته وکړم، ونيولې. په پای کې د مغولو تاړاکونو د غوريانو واکمنې پای ته ورسوله. د هرات جامع جومات، د غور د جام څلی او د دهلي قطب منار د دوی تلپاتې يادګارونه دي.

د سوريانو ژبه پښتو وه او لکه چې اوس هم ځينې سوري خلک په بادغيس کې پښتو وايي. پښتو ژبه د سوريانو په کورنۍ کې وپالل شوه. پښتو د شعر او ادب ژبه وګرځېده. د سوريانو په دربار کې پښتو درباري ژبه وه. د پښتو ژبې لومړی شعر چې تر اوسه تر لاسه شوی دی د امير کروړ غوري شعر دی چې د محمد بستي د «تاريخ سوري» په حواله پټې خزانې خوندي کړی دی. امير کروړ چې يو غښتلی پهلوان و د خپل پلار امير پولاد سوري د مړينې وروسته د غور په منديش کې واکمن شو. دامير کروړ د شعر نمونه:

زه يم زمری په دې نړۍ له ما اتل نشته
په هند و سيند و پر تخار او پر کابل نشته
بل په زابل نشته له ما اتل نشته ٧١

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ اسعد سوري د پښتو ژبې نامتو شاعر چې د غور د امير محمد سوري په وخت کې د ده په دربار کې اوسېده د خپل پاچا امير محمد سوري په مړينه قصيده ويلې ده چې ځينې بيتونه يې دا دي:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر گل چې خاندي په بهار
هر غوټول چې په بيديا غوړېده وکا
رېژوي يې پاڼې کاندي نار په نار
چې يې ملاوې نه کړېږي په غښتليو
دا فلک پرې وکا څه کاري گذار
کله غورځوي واکمن له پلازونو
کله کښېنوي په خاورو کې بادار
په سوريو باندې وير پرېووت له پاسه
محمد واکمن چې ولاړی په بل دار
د محمود د ژوبلورو په لاس کښېووت
چې غزنه ته يې باتلی په تلوار
ننگياليو لره قيد مړينه ده ځکه:
سه يې والوتله هسک ته په دې لار
په دې وير د غور وگړي تورنمري سول
په دې وير، رڼا تياره سوله د ښار
گوره ځاځي رڼې اوښې له دې غرونو
دا کړونگي ساندې لی په شورهار
نه هغه زرغا د غرونو، د بيديا ده
نه د زرکيو په مسا دی کټهار



نه غوټول بي زرغونيږي په لاښونو
نه بامي بيا مسېده کا په کوهسار
نه له غرجه بيا راځي کاروان د مشکو
نه رادرومي غور ته بيا جوپې د شار
د پسرلي اوره تودې اوښې تويوينه
مرغلرې به نيسان نکړي نثار
دا په څه چه «محمد» ولاړ له نړيه
په ويرنه يې سو غور ټول سوگوار
نه ښکاريږي هغه سور د سور په لټو
نه ځليږي هغه لمر پر دې ديار
چه به نجليو په نڅا پکې خندله
چه به پېغلو کا اتڼ قطار قطار
لاس دې مات سه اې فلکه چه دې وکا
محمد غندې زمری د مړينې ښکار
شين زړگی فلکه! ولې لا ولاړ يې؟
اې د غور غرونو په څه نسوئ غبار؟
چه زمری غندې واکمن ځي له جهانه
چې څوک نکړي په نړۍ باندې قرار
سخ په تا اې «محمده» د غور لمر وې
په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار
ته پر ننگه وې ولاړ په ننگ کې مړ سوې
هم پر ننگه دې په ننگه کا ځان جار
که سوري دې په تگ وير کاندي ويرمن سول
هم به وياړي ستا په نوم ستا په ټبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنت کې وه تون زمور واکمنه
هم په تا دې وي ډېر لور د غفار ۷۲

ښکارندوی هم د غوریانو د سلطنتي کورنۍ پیاوړی شاعر او ادیب دی چې د سلطان شهاب الدین غوري په زمانه کې یې ژوند کاوه. ښکارندوی پخپله قصیده کې چې تر موږ رارسېدلې ده په هند کې د سلطان شهاب الدین د تورې ستاینه او د هغه پوځې بریاوې، مېړانه چې د اسلام د خپرېدو په موخه یې کړې وه بیانوي. د ده د شعر بېلګه دا ده:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونه شنې، لمنې شنې شوې
طېلسان زمردي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دي
مرغلرو باندې و ښکلل بڼونه
د غټولو جندې خاندې و رېدې ته
زرغونه بڼو کې ناڅي زلمي، جونه
لکه ناوې چې سور ټیک په تندي وکا
هسې وګاڼل غټولو سره پسولونه۷۳

د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی قصیدې د زلمي هېواد مل په وینا «د پښتو ادب په تاج کې دوه داسې ښکلي غمي دي چې ښکلا او ځلا به یې تر پېړیو پېړیو پورې تته نشي.»۷۴
د سلطان شهاب الدین غوري په لښکرو کې هند ته د پښتنو د ستانې قبیلې یو تن چې د ښکارندوی هم مهاله و او ملکیار غرشین نومېده هم ملګری و چې سلیمان ماکو په خپله تذکره کې ورڅخه یادونه کړې ده. ملکیار د پښتنو



جنګیالیو د جنګي روحې د لوړولو په موخه حماسي اشعار ویل چې د سلیمان ماکو «تذکراة الاولیا» کې یې نمونه خوندي او د شعر نمونه یې دا ده:

څښتن مو مل دی  اوس مو یرغل دی
هېواد د بل دی غازیانو ګورئ
څښتن مو مل دی ۷۵

بل د غوریانو د دورې بل شاعر تمین کاکړ و چې د علاوالدین سام په زمانه کې ژوند کاوه او د ده یوه سندره په پټه خزانه کې خوندي ده:

ګهیځ رڼا د لمر خپره سوه
زما په کور د ویر ناره سوه
د بیلتون ورځ توره تیاره سوه
ږغ شو ناڅاپه چې بیلتون راغی۷۶

قطب الدین بختیار کاکي هم د پښتنو د مبلغینو نه و چې لاندې سندره یې د یادونې وړ ده: دا سندره د سلېمان ماکو تذکراة الاولیا کې خوندي ده.

ویر مې زړه سوری کړ
راته وګوره ملوکې
په بیلتون کې دې وباسم
له خوږمنه زړګي کوکې
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې۷۷

د تمین کاکړ او د قطب الدین بختیار په دغو سندرو کې پښتني سپېڅلې مینه بیان شوې ده.
د غوریانو د ادب غوره ارزښتونه د وطن د ساتنې او پر دښمنانو د بریو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویاړونه، د خپل وطن، قوم او کورنۍ سره مینه او اسلامي ارزښتونه دي، په دې توګه د غوریانو په دوره کې د پښتنو شاعرانو د روزنې او پالنې ځانګو د شاهانو دربارونه وو. د محمد دوست شینواري په وینا په دغو دربارونو کې د پښتو پرته خلک په نورو ژبو نه پوهېدل. شینواری دا هم وایي چې د بارتولد او بهیقي په وینا امیر مسعود د غوریانو سره د ژباړونکي په ذریعه خبرې کولې.

## ترکي غلامان

د مخه مو یادونه وکړه چې د سلطان مغزالدین د مړینې وروسته د غور شاهنشاهي ټوټې ټوټې شوه د هېواد شمالي ولایتونه، غور او هرات خوارزم شاهیانو ونیول، سیستان د سیمه یزو ملکانو لاسته ورغی او د غزني ولایت، کابل او ختیځې سیمې تر سینده پورې د غوریانو د دربار خدمتګار (تاج الدین یلدوز) ونیولې. تاج الدین یلدوز د ترکي غلامانو نه و.

د ترکي غلامانو د اخېستلو او ټاکلو دود د عباسیانو د واکمنۍ په مهال پیل شو. د ابن خلدون په وینا عباسي مشرانو ځکه په ترکانو ډېره ولګوله چې د یوې خوا د خپلې قبیلې ملاتړ ورسره نه و او د بلې خوا په دربار کې د ایرانیانو سیاسي ځواک زیات شو او عرب شنډې ته شول. برسېره پردې د امپراتورۍ پراختیا، د امپراتورۍ په جوړښت کې د بیلو بیلو توکمونو راغونډېدل او ځینې نور لاملونه هم وو. د پورتنیو لاملونو له مخې عباسي واکمن اړ وو چې داسې پوځي ډله چې پوره باور ورباندې وشي د خپل واک د ساتلو لپاره په واک کې ولري. ترکو غلامانو دا غوښتنه پوره کوله او د خلافت د ساتونکو په توګه قدرمن او د عزت خاوندان شول. خو کله چې خلافت مخ په ځوړ شو نو دوی د ګډوډۍ او انارشۍ عاملان شول او دغه شي بدنامه کړل.

دا تجربه د اسلامي نړۍ د نویو او تازه جوړېدونکو واکمنیو مشرانو ته یوه نمونه شوه. هغوی ترک غلامان د شخصي باډیګارډانو په توګه وګمارل او اداري مقامونه یې ورکړل. یعقوب بن لیث صفاري نږدې دوه زره غلامان



لرل، د هغه ورور عمر لیث هم ځوان غلامان رانیول او بیا یې بیلو بیلو مهارتونو او هنرونو د زده کولو وروسته په خپل لښکر کې د قوماندانانو په توګه ټاکل چې ده ته جاسوسي وکړي.

دا دود سامانیانو او غوریانو هم خپل کړ او د خپل ځواک د ټینګولو لپاره یې ور څخه ګټه پورته کړه. ترک غلامان نامتو پوځیان او اداره چیان شول. دوی په وفا او اخلاص کې بې جوړې وو او سوکه سوکه د جنرالانو پوړۍ ته پورته او ځینې د پاچا شخصي خدمتګاران شول. خو د غلامۍ د دغې ټولنیزې موسسې په هکله ډاکټر مبارک علي وایي چې: «د غلامۍ ټولنیزه موسسه د سلطنتي لړیو لپاره ګټوره ثابته شوه. د غلامۍ په برکت پاچایانو لایق او وفادار مریونه لرل چې دوی یې له داخلي او خارجي غلیمانو ساتل. خو دې موسسې منفي نقش هم درلود. کله چې ټول سیاسي قدرت د دې طبقې ګوتو ته ورغی نو قدرت یې د خپلو شخصي مقصدونو لپاره وکاراوه او د سلطنتي کورنۍ یا نظام ګټې یې له پامه وغورځولې. دوی به تر هغه وفادار وو چې پاچا به زورور و. خو کله چې کمزوري پاچایان د واک په ګدۍ کېناستل، نو غلامانو ټول واک په لاس کې واخېست او پاچایان یې مجبور کړل چې د دوی له خوښې سره سم وچلیږي.»[٧٨]

شهاب الدین غوري ترکي غلامان هند ته راوستل او د ده سره یې د هندوستان په نیولو کې مرسته وکړه. خو کله چې دی مړ شو نو دغو ترکي غلامانو په هند کې د غلامانو د سلطنت بنیاد کېښود. التمش د څلوېښتو امیرانو اداره جوړه کړه چې دی د خپلو مخالفانو نه وساتي. دوی ټول التمش ته وفادار وو. خو د ده د مړینې وروسته سرکشه شول. کله چې بلبن په تخت کښېناست نو پدې کار یې سم سر خلاص شوی و. بلبن غوښتل چې د دې بلا نه ځان وژغوري نو دوی یې ان د خپل د تره زوی په شمول چې د دغو څلوېښتو امیرانو نه و ووژل. پدې ترتیب د دغو څلوېښتو امیرانو په وژلو سره په هندوستان کې د ترکو غلامانو واک پای ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پینځم څپرکی

## د سلیمان د غرونو په لمنو او نورو سیمو کې پښتانه او پښتو ژبه

پښتانه د لرغونو زمانو راهیسې تر ننه د کسي غره یا د سلېمان د غرو په لمنو کې ژوند کوي. دوی د دغو غرو په لمنو کې د خپل بډای شفاهي فرهنګ د جوړولو په څنګ کې لیکلي ادبیات جوړې کړې دي چې د سلېمان ماکو «تذکراة اولیا» او پټه خزانه کې یې ځینې نمونې خوندي دي. د دوی اشعار په دریمې او څلورمې هجري پېړۍ پورې اړه لري. شیخ بېټنی د دې سیمې لومړی شاعر دی چې د ده دشعر یوه نمونه د سلېمان ماکو په یادې شوې تذکرې کې خوندي ده.

لویه خدایه لویه خدایه
ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوي کې
ټوله ژوي په زاري کې
دلته دي د غرو لمنې
زموږ کېږدۍ دي پکې پلنې
دا وګړي ډېر کې خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه۷۹



بل شاعر شیخ اسماعیل دی چې د هغه د شعر نمونې د سلېمان ماکو په تذکره او پټه خزانه کې خوندي دي. د ده د شعر نمونه دا ده:

بېلتانه ناره مې وسوه په کور بانديې
نه پوهېږم چې به څه وي پښې په وړاندې
له خپلوانو نه بیلېږم په سرو سترګو
دواړه سترګې مې په وینو دې ژړاندې۸۰

د دې سیمې بل ویناوال خرشبون دی چې نمونه یې پټې خزانې خوندي کړې ده:

که یون دی یون دی
مخ کې بیلتون دی
له کسي غره څخه ځي
خرشبون دی
د خدای د پاره
خرشبون یاره
زړه مې رپیږي
یار مې بېلیږي
بیلتون یې اور دی
ځان په سوځیږي۸۱

د دریمې هجري پېړۍ په جریان کې د بست د سروان د سیمې یو پښتون چې ابو محمد هاشم ابن الزید السرواني نومېده چې لومړنۍ زده کړې یې پخپله سیمه کې او نورې زده کړې یې په عراق کې پای ته ورسولې، خپلې ژبې ته د خپل استاد ابن خلاد یو عربي شعر په پښتو نظم ژباړلی چې په «لرغوني پښتانه» کې راغلی دی او محمد هوتک په پټه خزانه کې خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی. د زلمي هېواد مل په وینا پښتو ژبې ته د نورو ژبو نه د ژباړې تاریخ د دې شعر د ژباړې نه پیل کیږي.

په پټه خزانه کې د ده د یوه لیکلي کتاب نه چې «د سالو وږمه» نومیږي یادونه شوې ده چې د عربي ژبې د اشعارو فصاحت او بلاغت یې بیان کړی و. دا کتاب لا تر اوسه لاس ته نه دی راغلی. که دا کتاب تر لاسه شي نو بیا به دا کتاب د پښتو نثر لومړی نمونه وبلل شي خو دا کتاب لا تر اوسه نه دی موندل شوی نو اوس د نثر لومړۍ نمونه د سلیمان ماکو د تذکراة اولیا کتاب دی چې د اوومې هجري پېړۍ په پیل کې لیکل شوی دی.

.سلیمان ماکو د بارک خان سابزي ماکو زوی دی چې د ۶۰۰ هجري په شاوخوا کې د کندهار په ارغستان کې ژوند کاوه. ده د پښتنو اولیاوو احوال او ویناوې راغونډې کړې دي او بیا یې پخپل کتاب تذکراة اولیا کې خوندي کړې دي. د دې کتاب څو پاڼې خدای بخښلي استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د هلمند په چاپیر کې موندلې دي. په دغو پاڼو کې لکه چې د مخه مې یادونه کړې ده د شیخ بیټني، شیخ اسماعیل، ملکیار غرشین او قطب الدین بختیار کاکي ډېر پخواني شعرونه خوندي شوي دي.

د اوومې پېړۍ په دریمه لسیزه کې یو بل پښتون شخصیت شیخ متي خلیلي و چې د ده احوال په محزن افغاني، مراة الافاغنه، تذکراة الابرار واللشرار، پټه خزانه او نور اثارو کې خوندي دي. ده «د خدای مینه» په نامه کتاب درلود چې د مغولو تر تاړاکونو پورې موجود و او د ده په قبر به پروت و. دغه کتاب د شیخ متي د عرفاني افکارو د بیان هینداره وه چې د مغولي تړاکونو وروسته تری تم شو او څو مناجات یې پټې خزانې خوندي کړي دي.

د ده د شعر نمونه دا ده:

په لویو غرو هم په دښتو کې
په لوی سهار په نیمو شپو کې



په غاړه رغ او په شپېلکو کې
یا د ویرژلو په شپېلو کې
ټول ستا د یاد، ناري سورې دي
دا ستا د مینې نناري دي!۸۲

د هېوادمل په وینا خدای بخښلي ډاکټر عبدالحکیم طبیبي د عرفاني افکارو لومړی ځلاوې د شیخ بیټني په مناجات کې ویني، ځینې یې د شیخ تمین کاکړ د مینې په بدله او استاد رښتین یې د قطب الدین د مینې په سندره کې وینې، خو زلمی هېوادمل وایي چې د شیخ متي په مناجاتو کې عرفاني اند په سیستماتیک ډول په خورا هنرمندي بیان شوی دی.۸۳

د اوومې پېړۍ په دوهمې لسیزې کې د چنګېز وحشیانه او ځپونکي یرغلونه په افغانستان پیل شوي او د دې پېړۍ په اوږدو کې زمونږ د هېواد په بیلو بیلو سیمو واکمن شوي وو. دوی په ډېره بې رحمۍ د بېوزله ولس سرونه ربېل او د تمدن او کلتور نمونې یې په بشپړې بې رحمۍ له منځه وړې. په دغه مهال د دې سیمې خلک په بې ساري توګه د یرغلګرو په وړاندې جنګېدل. دوی خپل زړور خلک د وطن د ساتلو په لار کې سرښندنې ته رابلل. د بابا هوتک سندره یې ښه بېلګه ده:

په سور غر راته نن اور دی
وګړیه جوړ راته پیغور دی
پر کلي کور باندې مغول راغی
هم په غزني هم په کابل راغی۸۴

بل سرې د هوتک بابا زوی شیخ ملکیار هوتک دی چې د مغولو په وړاندې یې جګړې کړې او دی د پښتو ژبې شاعر و چې پټې خزانې یې یوه ښکلې سندره خوندي کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترنک بهیږي
ترنک بهیږي
غاړې تر غاړې
زما زړګی خو
خپل لالی غواړي۸۵

د اتمې هجري پېړۍ د دوهمې نیمايي پر مهال د زمینداور په سیمه کې یو پښتون شاعر اکبر اوسېده چې د شعر دیوان یې درلود چې پوهاند عبدالحی حبیبي د ده د دیوان یو څو پاڼې د هلمند په سیمه کې موندلې دي. د ده د شعر نمونه دا ده:

زه چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم
زه د هجران د بیلتانه د تورو جنګ لره ځم
بیلتون په خوله راکړي ځاپېړي زه لا عار نه لرم
وام د معشوق په سینه پروت زه تور لونګ لره ځم۸۶

د اتمې پېړۍ په پای او د نهمې هجري پېړۍ په دوران کې یو بل پښتون شاعر زرغون خان نورزی دی چې د کندهار په سیمه کې اوسېده او د شعر دیوان یې درلود او یوه ساقي نامه یې پټې خزانې خوندي کړې ده چې نمونه یې دا ده:

ساقي پاڅه پیاله راکړه
مرور یار مې پخلا کړه
اوبه تویې په لمبو کړه
اور مې مړ په دې اوبه کړه
پسرلی سو غنچه ګل کا
زلفې تاوې د سنبل کا



بلبلان شور و فغان کا
کړیدن په ګلستان کا۸۷

زرغونه کاکړه د پښتو ژبې شاعره ده چې په نهمه پېړۍ کې یې شاعري کړې او د کندهار په پنجوايي کې اوسېده. نوموړې په پښتو ژبه بوستان ژباړلی او د هېواد مل په وینا د پارسو نه پښتو ژبې ته د اثارو د ژباړې تاریخ د زرغونې کاکړ د بوستان د ژباړې نه پیل کیږي. نوموړې یوه ښه خطاطه هم وه. د کاکړې د بوستان د ژباړې نمونه:

اوربېدلې مې قصه ده
چې د شاتو هم خواږه ده۸۸

بله شاعره د بابر د زمانې رابعه شاعره ده چې په کندهار کې اوسېده او د شعر دیوان یې درلود او یوه رباعي یې پټې خزانې خوندي کړې ده:

ادم یې زمکې وته را ستون کا
په اور د غم یې سوی لړمون کا۸۹

بله پښتنه شاعره نېکبخته ده چې د اشنغر اوسېدونکې وه. نېکبختې په لسمه هجري پېړۍ کې د «ارشادالفقرا» په نوم کتاب لیکلی و چې درې ټوټې یې په پټه خزانه کې خوندي دي:

په زړه ښاد شې اې مومنه
په ظاهر په باطن سپینه
ظاهر زهد په اخلاص کړه
په زړه ټینګ شه له یقینه
شکر صبر په هر حال کړه
خودنمای مه شه خودبینه۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل سړی چې کیسې یې په نظم لیکلې او «غرغښت نامه» نومیږي دوست محمد کاکړ دی او د ده د کتاب نه یوه کیسه پټې خزانې خوندي کړې ده چې نمونه یې دا ده:

لــــــه نېکانو روایت دی
هسې توګه حکایت دی۹۱

موږ وینو چې پښتنو کله چې د خپل قبیلوي نظام لاندې د سلیمان د غرونو او بیدیاوو کې سوله یز ژوند کاوه یا یې د یرغلګرو نه د وطن ساتنې په لار کې ساتنه کوله د خپل فلکلور په څنګ کې هم یو شمېر اثار ایجاد کړي دي چې د پښتو ژبې په وده کې خپل ځای لري.



## شپېږم څپرکی

# لودي پښتانه او پښتو ژبه

پښتانه په دوهمه هجري پېړۍ کې د کسي غره له لمنې نه د اباسین لوېدیځ لوري ته ورو ورو ننوتل. همدغو پښتنو د خپل جنګي ورتیا او زړورتوب له کبله د واکمنو هندي راجاګانو سره د تفاهم له مخې د څلورمې هجري پېړۍ په دوران کې د هندوستان په یوه څنډه کې لومړی پښتني حکومت د شیخ حمید لودي په مشرۍ جوړ کړ چې د ملتان نه نیولې تر لغمانه پورې سیمې یې تر واک لاندې وې دا واکمنه کورنۍ د ملتان لودیان وو.

کله چې د سبکتګین ځواک په زیاتېدو شو نو د ملتان او سېند د نیولو خیال ورسره پیدا شو. پدې مهال شیخ حمید لودي د ملتان نه تر لغمانه واکمن و. شیخ حمید د سبکتګین سره د سولې تړون وکړ خو وروسته سلطان محمود غزنوي پدې پلمه چې ګواکې د ملتان لودي واکمن د قرمطیانو نظریات تبلیغوي په ملتان یرغل وکړ. دغه وخت د شیخ حمید وراره داود د ملتان باچا و. داود د سلطان محمود د لښکرو په وړاندې ماته وکړه او داود بندي او څه وخت وروسته یې په بندیتون کې ساه ورکړه.

د ملتان د لودي کورنۍ د دوو غړو شیخ رضی لودي او نصر لودي چې لومړی د شیخ حمید وراره او دوهم یې زوی و د شعر نمونې په پټه خزانه کې خوندي دي چې د دوی تر منځ د شعري مناقشې بڼه لري. دا مناقشه د هغې پلمې په هکله ده چې سلطان محمود غزنوي په هند کې د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمني زغملی نه شوه نو یې دا تور لګاوه چې ګواکې لودي واکمن د قرمطیانو پلوي دي. خو دا یوه بهانه وه او د شیخ رضی او نصرـ شعري مناقشه دا تور په کلکه ردوي:

دشیخ رضی شعري پاړکی چې پټې خزانې خوندي کړی دا دی:

د الحـاد پـه لـور د ترپلـل
ګـروه دې زمـوږ وکـوراوه
مـوږ روڼـلي پـه زیارنـه
تـا پـه تـورو تـوراوه
لرغـون ولـې ګروهېـدلې
چـې دې ګوښـي اړاوه
هغـه ګـرو دې اوس اړه کـړ
چـې پلـرو دې رڼـاوه
لودي ستا پـه نامـه سپک سو
کـه هـر څـو مـو درنـاوه
نصرـه! نـه مـو یـې لـه کهالـه
لـودي نـه یـې پـه کـاوه
زمـوږ رغـا ده ستا لـه ګروهـه
دورې ځلـوي پـه رغـاوه۹۲

د نصر لودي ځواب:

د الحـاد پـه نـوم تـورن سـوم
زه لرغـون خـو ملحـد نـه یـم
زمـا دښـنه هسـې تـو راکـړ
کـه ملحـد یـم د دښـنه یـم
لـه اسـلامه نـه ترپلمـه
تورانـو څخـه پـه ترپلـه یـم



ګـره مـې هغـه لرغـونی دی
اوس هم کـروړ پـه لرغونه یـم
د اسـلام پـر هسـک بـه ځلـم
و تورانـو تـه تیـاره یـم
د لـودي زوی سـنتي یـم
د حمیـد لـه لـوړ کهالـه یـم۹۳

د ملتان د لودیانو د راغورځېدو څلور پېړۍ وروسته په هند کې لودي پښتانه د نهمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې بیا دومره ځواکمن شول چې د بهلول لودي په مشرۍ یې په ۸۵۰ هجري کال کې په هند کې حکومت تشکیل کړ. سلطان بهلول لودي د ډیلي د سلطنت پر تخت کښېناست او یوه پراخه امپراتوري یې چې د پنجاب نه د بهار ایالت تر پولې غزېدلې وه جوړه کړه. بهلول د خپلو مېړو د ټینګولو په موخه خپل استازي روه ته ولېږل او د یوه شاهي فرمان په ترځ کې یې د دې سیمې پښتنو قبیلو ته هند ته د راتلو بلنه ورکړه. دی لیکي: «ما ته خدای پاک د هندوستان حکومت راکړی دی. ولې په هندوستان هغه سرې حکومت کولی شي چې هغه د قام او قبیلې خاوند وي. پدې بنا ټولو پښتنو ته په کار دي چې هند ته راشي. فوځي ملازمت اختیار کړي او یو طرف ته جاګیر حاصل کړي او د ارام او هوسایي ژوند تېر کړي او بل طرف ته د خپل قامي حکومت د حفاظت په لړ کې د مظبوطو دښمنانو دپاره یو مظبوط دېوال اوګرزي.» ۹۴ د دې فرمان پر بنسټ لودي، لوهاڼي، نیازي، مروت، بېټني، سربني او کرلاڼي قبیلې هند ته روانې شوې. پدې ترتیب ډېر پښتانه هند ته شیوه شول او هلته بهلول لودي د ده له خوا نیول شوي ایالتونه د دوی تر منځ ووېشل او هر یو مشرـ ته یې د امیر نوم ورکړ.

د بهلول لودي د مړینې وروسته سکندر لودي واک ته ورسېد. سکندر لودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو غښتلی او مقتدر شخصیت او د ډېر تدبیر څښتن و. د ده د سلطنت په مهال په هند کې ښېرازي او پرېماني وه

د سکندر لودي د مړینې وروسته ابراهیم لودي د واک په گدی کېناست. هغه لومړی د خلکو او خپلو امیرانو سره ښه رویه وکړه خو کله یې چې پښې ټینگې شوې نو پخپلو امیرانو پسې یې راواخېسته. د ابراهیم لودي دا ناوړه رویه د دې لامل شوه چې د پاچا او پښتنو امیرانو تر منځ بې باوري زیاته او بې اتفاقي منځ ته راشي. د دغې بې باوری پایله دا شوه چې د پاچا په ژوند کې د بهار ایالت دریا خان لوهاڼي زوی چې د بهار حاکم و پاڅون وکړ او د ډیلي نه بیل شو. د ابراهیم لودي او پښتنو امیرانو مخالفت تر دې پولې ورسېد چې ځینو امیرانو د پاچا د منځه وړلو لپاره ان غدارۍ ته لاس واچاوه. د بېلگې په توگه دولت خان لودي چې د ابراهیم لودي په وخت کې د پنجاب د ولایت والي او یو نومیالی سپاسالار و او ابراهیم لودي د هغه د منځه وړلو پسې متې رانغښتې وې غدارۍ ته لاس واچوه. دولت خان لودي د ابراهیم لودي د تره علاءالدین خان سره چې دا مهال په گجرات کې د ابراهیم لودي د لاسه پناه اخېستې وه اړیکه ټینگه کړه او پنجاب ته یې راوباله. دولت خان لودي د ابراهیم لودي تره کابل ته واستولو تر څو بابر مغول د ابراهیم لودي پرضد وهڅوي چې په هندوستان برید وکړي.

بابر په ۱۵۲٦ کال کې ابراهیم لودي ته د پاني پت په جگړه کې ماتې ورکړه. په دغه جگړه کې ابراهیم لودي د یوه پښتون په لاس ووژل شو. پدې توگه بابر د هند د مغولي واکمنۍ بنسټ کېښود. خو د بابر د مړینې وروسته پښتنو د خپل هوښیار او مدبر مشر فرید خان تر لارښوونې لاندې د بابر زوی همایون ته ماتې ورکړه او د شیرشاه سوري په نوم یاد شو او د نوموړي په مشرۍ په هند کې د پښتون واکمني بیا راژوندی شوه.

لودي واکمنو خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره مینه درلوده او د دوی په دربار



کې یې خپل ځای درلود. د بهلول په پاچاهي کې یو شمېر پښتانه د دربار او درباري دودونو سره بلد شول. په دربار کې د عالمانو او شاعرانو د پالنې دود هم په دوی اغېز شیندلی و. په دغه دوره کې خلیل نیازي چې د دربار شاعر و لاندې رباعي د پاچا په وړاندې ویلې چې په پټه خزانه کې خوندي ده.

خرې اورېځې ژاړي له پاسه
کویله ږغ کا بیلتون له لاسه
په هغه لوني گوهر په خول ستا
دا مرحبا کا ستا زموږ مواسه[۹۵]

د نیازي د شعر په ځواب کې سلطان بهلول لودي چې پخپله شاعر هم و سمدلاسه داسې ځواب ورکوي:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه
گوره اورېځې د داد له پاسه
خول مې د عدل په درو روڼ دی
جهان به زیب مومي زما له لاسه[۹٦]

زلمی هېواد مل دا د پښتو ژبې درباري ادبیاتو لومړنی نمونې بولي. همدرنگه د عیسی مشواڼي او شیخ علي سروري لودي غزلې هم د یادونې وړ دي.

د شیخ بوستان بړېڅ صوفي شاعر بدله هم د یادونې وړ ده. موږ ته د شیخ عیسی په دریو ژبو رساله او د شیخ بوستان بړېڅ بستان الاولیا کتاب تر اوسه لاسته ندي راغلي. پدې دوره کې د نهو تنو پښتو شاعرانو نهه بیل بیل شعرونه لاسته راغلي خو کتابونه یې لا تر اوسه ندي موندل شوي.

د لودي پښتنو واکمني بابر مغولي پاچا د پښتنو په مستقیمه مرسته د پاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



پت په جګړه کې نسکوره کړه.
د بابر د واکمنۍ وروسته یې زوی همایون د هند واکمن شو خو د سوري پښتنو وتلی شخصیت فرید خان له لاسه یې ماته وکړه او فارس ته وتښتېد او په هند کې د فرید خان په مشرۍ پښتانه بیا واکمن شول او فرید خان د شیرشاه سوري لقب غوره کړ. شیرشاه سوري د پراخ نظر خاوند و او پښتنو ته یې د یوه قوم په سترګه کتل او ده به ویل: «ټول پښتون یو قوم دی زما په دربار کې د قبیلو ذکر مه کوئ».۹۷ د لودیانو وروسته د شیرشاه سوري په دربار کې هم پښتو ویل کېده
تاریخ داودي وایي چې «چون جدم شیخ بایزید در مجلس شیرخان درامد چون نظر شیرخان بر شیخ بایزید افتاد، برخاست و چند قدم پیشتر امد جدم خواست که دست بدهد. شیرخان با زبان افغاني فرمود: (شیخه تر غاړې به وځو)»۹۸
**همدا راز په دې تاریخ کې راغلي دي چې شیرخان د افغانانو غوښتل چې په روانه ژبه ځواب ووایي او ویل به یې چې افغاني ژبه پر ما ګرانه ده.**
په هند کې د پښتو پالونکو پاچاهانو نه یو سلطان فیروز شاه دی چې د ده د پښتو پالنې په هکله خورشید جهان داسې وایي «جز وسیله ای پشتو و پشتو ګویۍ در دربار فیروز شاهي احدی را پیش قدمی مقدور نبود و طایفه افاغنه را فیروز شاه از تمام شرفا عزیز تر میداشت... » ۹۹ د دې سره سره زیاتو پښتنو په هند کې خپله مورنۍ ژبه د لاسه ورکړه.



## اووم څپرکی

# روښانیان او پښتو ژبه

په هند کې د لودي او سوري دولتو د نسکورېدو وروسته افغانانو په پښتونخوا کې د هند د مغولي واکمنو، چې د هېواد ختیځه برخه یې لاندې کړې وه، پر وړاندې خپل ملي ازادي بخښوونکی غورځنګ د روښان پیر په مشرۍ پیل کړ چې په تاریخ کې د روښاني نهضت په نوم یادېږي.
بایزید چې وروسته په روښان پیر وپېژندل شو د شیخ عبدالله زوی و. شیخ عبدالله د سوویلي وزیریستان د کاني ګرم اوسېدونکی او اورمړ افغان و. بایزید روښان په یوه علمي کورنۍ کې د پنجاب په جالندر کې زیږېدلی دی. نوموړی لا د اوو کالو ماشوم و چې د لودیانو واکمني د مغولي بابر په لاس نسکوره شوه. دغه مهال د شیخ عبدالله کورنۍ خپل پلرني ټاټوبي کانیګرم ته راستانه شوه.
بایزید لومړنۍ زده کړې چې هغه مهال دود وې د خپل پلار او ملا پاینده نه تر سره کړې او بیا یې څو کاله ریاضت وګالـه تر څو د پیرۍ او د خلکو د روحاني لارښوونې درجې ته ورسېد. د ده د پیرۍ، ښه سرېتوب او خلکو ته د لارښوونې اوازې تر ملکونو خورې شوې.
روښان پیر توران او هندوستان ته سفرونه وکړل او راز راز دینونه یې مطالعه کړل او سوداګري یې هم کوله. په هند کې د شیرشاه سوري سره اشنا او په هند کې یې د شیرشاه سوري د مهال شان او جلال لیدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښان پیر چې په کندهار کې په کندهاریانو د مغولو د انسانیت نه وتلي زور زیاتي راپارولی و، د هند دمغولي واکمنو په ضد د مبارزې بیرغ پورته کړ لکه چې وروسته میرویس خان هوتکي هم په کندهاریانو باندې د گورگین ظلمونو راپارولی و. روښان پیر د وزیریستان په کاني گرم کې د عرفان او تصوف له لارې یو فکري نهضت پیل کړ او خپل مریدان یې راټول کړل. ده د مغولو د ظلم په وړاندې خلکو ته دا تبلیغ کاوه چې مذهب افغانانو ته دا اجازه ورکوي چې د دغو ظالمانو د ظلم نه ځان ازاد او وژغوري لکه چې وروسته میرویس نیکه د گورگین د ظلمونو په وړاندې د مکې معظمې د دیني عالمانو نه فتوه واخېسته چې دغې فتوې د پردیو د ظلم په وړاندې د ازادۍ په لاره کې د افغانانو مبارزه روا وگڼله. روښان پیر د خپلو پلویانو په زیاتېدو سره د یوې خوا خپل مذهبي اغېز ته دوام ورکاوه او د بلې خوا یې سیاسي اغېز غښتلی کېده.

جان لیډن وایي چې د روښان پیر د پلویانو په زیاتېدو سره د مذهبي اړخ تر څنگ سیاسي اړخ هم غښتلی کېده. دی زیاتوي چې «روښاني نهضت چې د خپل بنسټ ایښودونکي د ستر نبوغ او استعدد نه برخورداره په دوو اساسي ستنو یاني ملي او دیني اصولو ولاړ و نږدې یوه پېړۍ د مغلو د امپراتورۍ تر ټولو نه ښېرازه او اباده دوره کې د نفوذ نیلی وزغلاوه او سره لدې چې د اکبر مغل د واکمنۍ د پیل نه د شاه جهان تر وخته پورې یې د ځپلو لپاره هر ډول کوښښونه وکړل روښاني عقیدې خپلې ودې او پرمختگ ته دوام ورکړ.»۱۰۰

روښان پیر د پښتنو د خپلواک دولت د جوړېدو اړتیا ته پام شو. ده نه یوازې دا اړتیا په گوته کړه بلکې د هغه د پلې کولو لپاره یې عملي گامونه واخېستل. ده او د ده کورنۍ پدې لاره کې دومره سترې سرښندنې ورکړې چې د پوهاند ډاکټر کاکړ په وینا « په شپاړسمه پېړۍ کې د میا روښان کورنۍ یاني ده پخپله، زامنو او لمسیانو یې د خپلواکۍ په لار کې دومره



سرښندنې کړې چې شاید په نړۍ کې د خپلواکۍ په لار کې بلې کورنۍ دومره سرښندنه نه وي کړې.»۱۰۱

روښان پیر د دې سترې موخې د تر سره کولو لپاره د افغانانو په منځ کې یو ساده خو د قبیلو د کچې نه لوړ سازمان جوړ کړ او عشر یې د خراج په نامه پخپلو پلویانو وضع کړو او د جگړې د غنیمتونو پنځمه برخه یې هم اخېسته. پدې توگه یې یو بیت المال منځ ته راووړ چې د هغه په مرسته خپل پوځي ټولگي تمویل کړي او هم د بې وزلو او غازیانو سره مرسته وکړې. بایزید روښان همدارنگه د څو زرو سوارو او پلیو اردو جوړ کړ او اعلان یې وکړ چې «هند به فتح کړم هر څوک چې اس لری راځې دې د اکبر پاچاهي زموږ ده.»۱۰۲

روښان پیر د خپلو فکرونو د خپروي په موخه د خپل ټاټوبي نه تیراه ته ولاړ او هلته ډېر اپریدي، اورکزي، بنگش او تیراهي د ده د لارې مله شول. بیا پېښور ته ولاړ او هلته یې ډېر خلک مریدان شول. روښان پیر په جلال اباد باندې د جگړې پر مهال چې پوځي ډلې یې ماته وکړه جل وواهه او مړ شو. خو د روښان پیر د مړینې وروسته د ده په لاس د ایښودل شوي ملي ازادي بخښوونکي غورځنگ بله شوې ډېوه د ده زامنو او لمسیو روښانه وساتله.

د روښان پیر د مړینې وروسته «د ده زامنو چې هر یوه یې ځان پاچا اعلان کړی و د پاڅون بیرغ رپانده وساته. جلال الدین روښان، وروسته له دې چې ټول مشر وروڼه یې په مبارزه کې له لاسه ورکړي وو، په څوارلس کلنۍ کې د پلار په ځای کښېناست. جلال الدین روښان د نړۍ د ډېرو فعالو مشرانو په ډله کې راځي. پیروان یې له کابل نه تر پېښور پورې فعال وو، یواځې یوسفزي ۲۳ ځله د مغولو پر ضد ولاړل شول. روښانیانو په مختلفو وختونو کې پېښور محاصره کړ او له کابل او غزني څخه یې حاکمان وشړل،.خو په پای کې ټول ناکام شول.»۱۰۳

د روښان پیر او د هغه روښاني غورځنگ پر ضد د مغلو پاچاهانو د غښتلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظم پوځ جګړه ییز عملیات، د اخوند درویزه او سید علي ترمیزي په مشرۍ د پیرانو او عالمانو پراخ تبلیغ او هم هغه کسان چې خپل مالونه یې د لاسه ورکړي او د روښاني غورځنګ د نه ملاتړ له امله د مغولو سره همکاري کوله مبارزه کوله چې په پای کې د روښاني غورځنګ د ماتې لاملونه شول.

روښان پیر خپل اثار لکه صراط التوحید، مقصود المومنین، فخر الطالبین، حالنامه، خیرالبیان، تذکرة، فرحت المجتبی او نور په پښتو، پاړسو، هندي او نورو ژبو ولیکل. ده او د ده مریدانو پښتو ژبې ته هم خدمتونه وکړل. د هندوستان نه مودود ترین او ارزاني خیشکي راغلل او د روښان پیر مریدان شول. خلیفه مودود ترین «مقصودالطالبین» او ارزاني خیشکي «مراته المحقیقین» ولیکل. ارزاني په پښتو ژبه د شعر دیوان هم لري. موږ ته نه یوازې د ارزاني د شعر دیوان بلکې د هغه کلیات هم را رسېدلي دي چې خطي نسخې یې په کابل، پېښور، برېتانیا او هندوستان کې خوندي دي. د هېوادمل په وینا د هند د پښتنو په پښتو شاعري کې قصیده د لومړي ځل لپاره د ارزاني په شاعري کې د یوه شعري ژانر په توګه ځان ښرګندوي. دا رنګه دی لومړی سړی دی چې الفنامه یې ویلې ده. برسېره پردې په هند کې دی لومړی سړی دی چې د پښتو نثر یې لیکلی دی. «پښتو وایئ، پښتو لولئ، پښتو لیکئ» ۱۰۴ د تحریک لومړنی محرک ارزاني خیشکي دی.

هغه روښانیان چې وروسته هندوستان ته لاړل هلته یې د پښتو ژبې اثار ولیکل. د هغوی له جملې نه لوی شاعر میرزا روښاني، ابابکر کندهاری، د ابابکر زوی علي محمد مخلص، دولت لواڼي، خواجه محمد، قادر داد او نور دي.

میرزا لومړی شاعر دی چې د پښتو په شعر کې یې په هند کې د مخمس ژانر جوړ کړی دی.

ابابکر کندهاری د پښتو ژبې شاعر دی چې د «مرات المعرفین» په نوم د



شعر دیوان لري چې د هېوادمل په وینا ډېرې بې نظیره قصیدې او څلوریزې پکې ویل شوې دي.

د مخلص د شعر دیوان په برېټش موزیم کې خوندي دی ۱۱۹ غزلې او ۱۱۷ څلوریزې لري. مخلص د شعر د دیوان برسېره په پښتو یوه رساله په نثر کښلې ده چې نسخه یې هېواد مل د کلکتې بنګال ایشیا ټک سوسایټي کې موندلې ده. مخلص د روښان پیر حالنامه هم په هند کې بشپړه کړې ده.

د دولت لوانړی دپښتو دیوان خطي نسخې په هندوستان، برېتانیا او کابل کې شته. د کلام نمونه یې دا ده:

شیرین یار چې ما د زړه په سترګو تل کوت
هر ساعت به مې د مینې د ده ګل کوت
د دیدن شراب یې راکړه هسې مست شوم
چې هر جز مې د معنی په قوت کل کوت۱۰۵

کریم داد هم د روښان پیر پلوي شاعر دی چې لاندې بیت یې د شعر نمونې په توګه وړاندې کوم.

د لالــــــــه پیاله د سرو شرابو پر شوه
نرګس سترګې کړې ور پورته له خماره۱۰٦

پدې ترتیب په هند کې جوړ شوي روښاني اثار د لسمې هجري پېړۍ د دوهمې نیمایي د ورستیو لسیزو نه د روښاني ارزاني له خوا پیل کېږي او د دولسمې پېړۍ تر د لومړی نیمایي د دوهمې لسیزو پورې اوږدېږي.

خو د روښان پیر تر څنګه د روښان پیر مخالفین چې د مغولي پاچاهانو په دستور یې د روښاني غورځنګ پر ضد مبارزه کوله تر څو مغولو نیواک ټینګ کړي هم په پښتو لیکنې کړې دي. مغولو د روښاني نهضت پر ضد ترمذي او د ده مریدان چې تر ټولو نامتو یې اخوند درویزه وه وهڅول چې د دین تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردې لاندې روښاني نهضت وټکوي. خدای بخښلی حبیبی وایي چې پیر بابا د هند مغولي کورنۍ سره د وینې او نسب پیوند درلود. ترمذي خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د دولت زیو د یوه مشر چې د یوسف زو په څانګه پورې اړه لري د لور سره واده وکړ.[۱۰۷] ظفر کاکاخیل وایي چې «ملک دولت خان ملیزي خپله خور مریم بي بي هغه له په نکاح ورکړه.»[۱۰۸]

دوی هم په پښتو ژبه د روښانیانو پر ضد لیکنې وکړې چې که د یوې خوا یې د روښاني نهضت د ټکولو لپاره وکارولې خو د بلې خوا یې د پښتو ژبې په وده کې ګټور رول ولوباوه چې د روښاني اثارو په څنګ کې د دوی یادونه هم اړینه ده.

د اخوند درویزه پښتو اثار او په ځانګړې توګه «مخزن اسلام»، د هغه د زوی کریمداد پښتو اثار او په هند کې د دوی د پلویانو نه عبدالله قصوري خیشکي، محمدخان څمند، عبدالغني کاسي او نورو اثار یادولی شو. عبدالله قصوري خیشکي د کریمداد په الفنامې جامع عرفاني شرح وکښله او په «مخارج الولایت» کې یې د اخند درویزه او کریمداد دواړو احوالوته ځای ورکړ. څمند هم د پښتو ژبې لیکوال دی چې «انوارالکتاب» یې په پښتو کښلی دی. د دې کتاب څلور قلمي نسخې لیدل شوې چې یوه یې د کابل په ملي ارشیف کې خوندي ده. عبدالغني کاسي د اخوند درویزه د مخزن او نورو ځینې لیکوالو قلمي نسخې خطي کړې او خوندي کړې دي. د دې خدمت برسېره د پښتو ناظم هم و.

د روښان پیر او د هغه د پلویانو او د اخوند درویزه او د هغه د پلویانو تر منځ مشاجرو او بحثونو پایله دا شوه چې «د اسلام د چوکاټ د ننه نوي نظریات منځ ته راغلل او دغه مشاجرې چې په پښتو ژبه کېدې د هغې د ودې سبب شوې.»[۱۰۹]



# اتم څپرکی

## اولسمه مخزېږدې پېړۍ او پښتو ژبه

اولسمه میلادي پېړۍ د پښتو ژبې په وده کې داسې دور دی چې ساری یې تر اوسه نه دی لیدل شوی. پدې پېړۍ کې د پښتو ژبې ستر شاعران لکه خوشال بابا، رحمان بابا، حمید بابا، عبدالقادر خان خټک، اشرف خان خټک، علي خان خټک، کاظم خان شیدا او نور منځ ته راغلل چې د پښتو ژبه یې د نورو سیمه یزو ژبو سیاله کړه چې په لنډه توګه به ورته کتنه وکړم.

### ۱-خوشال بابا او پښتو ژبه

په ۱۵۸۶ کال کې د اکبر مغولي پاچا له لوري د خټکو د قبیلې ملک اکوړي ته د اټک او پېښور تر منځ د لارې د ساتنې دنده ور په غاړه شوه لکه چې ملک سدو ابدالي ته د شاه عباس اعظم له خوا د هرات او کندهار د سړک د یوې برخې د ساتنې ذمه واري ورسپارل شوې وه.

د اکوړي د ټبر د شهباز خان په کور کې یو ماشوم نړۍ ته سترګې وغړولې او خوشال خان یې ونوموه. ده هغه علوم چې هغه وخت دود وو ولوستل. ده د علومو د زده کړې تر څنګ د ښکار سره هم مینه درلوده د شهبازخان د مړینې وروسته د خپل پلار پر ځای د خټکو د قبیلې خان وټاکل شو.

ده خپله دنده په امانت داری سره تر سره کوله خو خوشال خان د کابل صوبه دار له خوا د یوې دسیسې په ترځ کې ونیول شو لومړی په ډیلي کې بندي و او د هغه ځایه د رنتبهور بندیتون ته یوووړل شو او دوه نیم کاله د رنتبهور په بندیتون کې ډېر کړاوونه وګالل. دی بیا د رنتبهور د بندیتون نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایستل شو او اګرې ته یوورل شو او هلته له بنده ایله شو او په ډیلي کې نظر بند وساتل شو او وروسته پښتونخوا ته راستون شو او د مغلي واکمنۍ پر ضد یې مبارزه پیل کړه لکه چې وایي:

پس له بنده دی دا عزم
د خوشال د خاطر جزم
یا نیولی مخ مکې ته
یا مغولو سره رزم

خوشال بابا د مغولو پر ضد د خلکو د پارولو، د لښکرو د ټولولو لپاره د پښتنو بېلو سیمو ته ډېرې دورې وکړې او ټول پښتانه یې د ملت په توګه د مغولو پر ضد مبارزې ته رابلل.

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشال خټک یم

اکاډمیسین کاندید نومیالی پخپل څېړنیز اثر «د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي» کې سم وایي چې باید « خوشال د پښتني ناسیونالیزم پلار وبلل سي»۱۱۰

پدې ترتیب د بابر او بابري واکمنو پر ضد د مبارزې په اوږدو کې د پښتونخوا د پښتنو د مقاومت وروستۍ مرحله د ستر شاعر او مبارز خوشال خان خټک په مشرۍ پیل شوه. د ده سره په دغه مبارزه کې ایمل خان مومند او دریا خان اپریدی ملګري وو.

خوشال بابا نه یوازې د مغلو پر ضد د وسلې کار واخېست بلکې د قلم څواک یې په مېړانه سره پدې لړ کې وکاروه. خوشال پښتو ژبه پخپلو لیکنو دومره غني کړه چې د ستر احمدشاه بر دراني د دې جوګه شول چې په اوسني پښتونخوا ایالت کې نور اوسېدونکي قومونه هم پښتو زده او بیا یې



خپله کړي.

ده په هند کې د بندیتوب په مهال فراقنامه ولیکله چې خطي نسخه یې د پېښور په موزیم کې خوندي ده. په دغه اثر کې ګڼ شمېر موضوعات انځور شوي دي. بل یې د رامپور په بندیتون کې ترکیب بند ذوالقافیتین لیکلی دی. دا د پښتو شعر یو نوی ژانر دی.

ده په هند کې دستار نامه هم لیکلې ده. دا کتاب په نثر کښل شوی دی. دا کتاب ډېر ارزښت لري. د هېواد مل په وینا پدې کتاب کې «د خوشال د جهانداری نظریه او د ښوونې او روزنې اصول او نور ډېر مهم اجتماعي، فلسفي ارزښت لرونکي مسایل په کې بیان شوي دي.»۱۱۱

دا کتاب چې په پښتو خوشال انشأ کړ
پخوا ندی انشأ کړی پښتانه

د خوشال خان مهم اثر د ده کلیات دي چې د ده په وینا شمېر یې تر څلوېښتو زرو بیتو اوړي. د ده په کلیاتو کې دا شعري ژانرونه لکه قصیدې، غزلې، رباعي، قطعې، مخمس، مسدس، معشرۍ ترکیب بند، ترجیع بند، مثنوي، ترکیب بند ذوالقافتین او نور مونډلی شو. د ده نور اثار بازنامه، فالنامه، فضل نامه، طب نامه، بیاض، ځنځیري، سواتنامه، اخلاق نامه او نور دي.

خوشال بابا پخپلو اثارو کې دا ښودلې چې دی یو ستر شاعر، د وطن د ازادۍ د لارې یو نامتو جنګیالی او پښتنو د ملي ازادي بخښونکي نهضت ملي او سیاسي لارښود و. ده پخپلو اثارو کې پښتنو ته د پوهنې اړتیا په ګوته کړه او د ښځو پوهنې ته یې زیاته پاملرنه واړوله. ده دا مهم نظر هم وړاندې کړو چې د ماشومانو د زده کړې لپاره د دوی تشویق کولو ته اړتیا ده یا په نورو ټکو د ماشومانو په روزنه کې مکافات له مجازاتو نه زیات اغېز لري. ده پخپلو اثارو کې بیل بیل موضوعات رانغړلي دي لکه د روغتیا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جغرافیه، ښوونه او روزنه، ټولنیز او کلتوري سمون او نور.
خوشال خان خټک پښتو ژبې ته د شعر او نثر په برخه ډېر څه ورکړل. مورگرن سترن خوشال د پښتو ژبې پلار بولي. زه چې د مسکو په دولتي پوهنتون کې زده کړیال وم نو یوه ورځ د روسي ادبیاتو د تاریخ په لکچر کې استاد شاعر پوشکین د اوسنۍ روسي ژبې بنسټ ایښودونکی وباله. ما سره دا فکر پیدا شو چې د ده د مخه هم د روسي ژبې شاعران او لیکوالان وو نو ولې پوشکین د اوسنۍ روسي ژبې بنسټ ایښودونکی بولي. خو وروسته راته ښکاره شوه هغه څه چې پوشکین روسي ژبه ته ورکړي دي نورو نه دي ورکړي. بیا ماته هغه وخت دا فکر پیدا شو چې پښتانه باید خوشال بابا د اوسنۍ (معاصرې) پښتو ژبې بنسټ ایښودونکی وبولي. زه اوس دا زړه کوم چې ووایم خوشال بابا هغه څه چې پښتو ژبې ته ورکړي دي د دې وړ دی چې د اوسنۍ پښتو ژبې بنسټ ایښودونکی وبلل شي.
خوشال پېژندنه نن نړیواله شوې او د هغه د هر اړخیز شخصیت په بیلو بیلو اړخونو څېړنې شوې او کیږي. هیله منـد یم چې پښتانه به د ده په لوړو افکارو ځان پوه او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره به پوره گټه ورڅخه پورته کړي. اوس به د ده د غزل څو بیتونه چې د شلمې پېړۍ په اوایلو کلو کې د پېښور د راډیو څوانې سندر غاړې ناویتا په ځانگړي او زړه وړونکي غږ کې ویل شوي دي لوستونکو ته وړاندې کړم:

چې مې اولیدې دا تورې سترگې ستا
زه به نه کړم نورې هېرې سترگې ستا
لکه پټ پورې د جنگ نېزه پر غاړه
دا اوږده باڼه پرې پورې که د ستا
زه به نکړم نورې هېرې سترگې ستا
چې مې اولیدې دا تورې سترگې ستا
لکه نور په میو مست شي هسې مست شم



زه چې وویـنم مـی خـورې سـترگې سـتا
زه به نه کړم نورې هیرې سترگې ستا
چې مې اولیدې دا تورې سترگې ستا
چې د وکوه دیدن دی ورته گوره
څه خوشاله نه دي تورې سترگې ستا
زه به نه کړم نورې هېرې سترگې ستا
چې مې اولیدې دا تورې سترگې ستا

د خوشال خان خټک په کورنۍ کې (عبدالقادر خان، هجري، شیدا او نور) او هم نور ډېر پښتانه شاعران پیدا شول چې د ده سبک او لاره یې ونیوله او پښتو ژبې ته یې ستر خدمتونه وکړل.
د دکن قلندر، اشرف خان هجري، سکندرخان خټک او نور په هند کې د خوشال د سبک پیروان وو.
موږ دوه قلندره لرو چې یو یې د سوات اکوزي یوسفزی دی چې د شعر دیوان لري او په کابل کې پښتو ټولنې چاپ کړی دی. دوهم قلندر مومند دی چې په دکن کې اوسېده چې په قوم مومند دی او دیوان یې تر اوسه نه دی موندل شوی خو بېلې بیلې غزلې یې شته چې یوه یې د هجري په دیوان کې خوندي ده او څو بیتو ته یې دا دي:

چې نیولی یې د مینې په تاوان یم
ټینگ تړلی یې د زلفو په رېسمان یم
نوی طرز مې په پښتو ژبه کې وکړ
د افغان په شاعرانو کې سلطان یم
په پښتو کې چې څوک دم وهي د شعر
خوشه چین مې دي د څېرمې زه دهقان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



و پښتو ژبې مې اب ورکه په شعر
د فارسي شعر چې نه وایم افغان یم
ما د عجز سبق هسې دی ضبط کړی
چې انځور د مهوشانو د کمان یم
تر خپل خوی پورې ناچار یم قلندر یم
عاشقي توره بلا زه یې خواهان یم۱۱۲

پدې ترتیب دا قلندر مومند شاید لومړی پښتون وي چې د پاړسو او پښتو ژبې سیالۍ ته یې پام شو. د پښتو او پاړسو ژبې موضوع یوه سیاسي مسله ده او د پاړسو ژبې نفوذ چې په اصل کې د پارس نه افغانستان ته راغلې د ایران دفرهنګي نفوذ د پراختیا لپاره چوپړ کوي نو ځکه دی په شعوري توګه وایي:

و پښتو ژبې مې اب ورکړ په شعر
د فارسي شعر چې نه وایم افغان یم

دا قلندر مومند دی چې پښتنو ته څرګند پیغام ورکوي چې پخپله مورنۍ ژبه لیکنې وکړي خپله ژبه بډای کړي او د پردیو د فرهنګي ښکېلاک مخه ډب کړي.

بل شاعر اشرف خلیل دی چې تر اوسه یې دیوان په لاس ندی راغلی خو د ښه مرغه د ده دیوان منتخبات په «چمن بې نظیر»، «چمن بې عدیل و ګلشن بې تمثیل»، د ملا شایسته خان جونګ او نورو لیکنو کې راغلي دي.

تر هر چا د مخه د ده دوې غزلې پادري هیوز انګرېز په «کلید افغاني» کې چاپ کړې دي. د ده د غزلو او رباعیاتو سربېره یو خوندوره الفنامه هم خوندي ده.

په هندوستان کې د خوشال او د ده د سبک د پیروانو اثار د اولسمې



مخزېږدي پېړۍ د دوهمې نیمایي نه پیل او تر اتلسمې هجري پېړۍ پورې دوام کوي. د دې پړاو په جوړو شوو اثارو کې په ځانګړې توګه د خوشال بابا او هجري په اثارو کې تنقید وجود لري. دوی دواړه پښتو قصیدې جوړوي چې د هېواد مل په وینا دغوري دورې د قصیدو سره پرتله کېدای شي. په دې دور کې د نثر په لور هڅې لېدل کیږي. چې د خوشال دستارنامه یې نمونه ده.

## ۲-رحمان بابا او پښتو ژبه

د مخه مې یادونه وکړه چې په اولسمه پېړۍ کې پښتو ژبې د خوشال او د هغه د کورنۍ او نورو پیروانو د لیکنو له امله ډېر پرمختګ وکړ. په دغه پېړۍ کې د پښتو ژبې ستر شاعران منځ ته راغلل چې په خپلو اثارو یې پښتو ژبه او ادب د دې جوګه کړل چې د سیمو پرمخ تللو ژبو سره سیالي وکړي. د دغې پېړۍ د نامتو شاعرانو د ډلې نه یو عبدالرحمن مومند دی چې پښتانه ورته رحمان بابا وایي. روهي وایي چې د رحمان بابا د پیغام «اصلي جوهر مینه او محبت دی.»۱۱۳ رحمان بابا دشعر دیوان لري چې ګرد پښتانه یې ډېر درناوی کوي او زیات یې لولي او فالونه وربانديې ګوري خکه د ده دیوان ډېر زیات چاپ شوی دی. د رحمان بابا شعر روان او خلکو ته د پوهاوي وړ دی. د ده شعر ډېر ښکلی او ژور انساني مفاهیم لري او د ښکلا هنري ښېګڼو له مخې ډېر لوړ دی.

د رحمان بابا تصوف د خدای او د خدای د مخلوق سره د ناپایې مینې بیان دی. رحمان بابا په بهرنیو ادبي کړیو کې هم شهرت لري ځکه چې د ده په شعر کې زموږ د خلکو سپېڅلې مینه انځور شوې ده. د رحمان بابا د شعر نمونه:

زړه مې هسې رنګ بیمار دی ستا له درده
چې د مرګ په انتظار دی ستا له درده

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلبلانو د گل حسن بهانه کړ
په چمن کې یې چغار دی ستا له درده
دا سرود چې نرم نرم ویل کاندي
فریادي ځنې هر تار دی ستا له درده
دا مجلس (چې) د سرود په اواز مست شه
اوربېدلی یې گفتار دی ستا له درده
زه چې آه کړم شین لوگی مې له خولې خیږي
په گوگل کې مې انگار دی ستا له درده
د رحمان نارې به څوک اوري دلبره
هعه څوک دی چې وزگار دی ستا له درده۱۱۴

د ده د سبک نه وروستیو ډېرو پښتنو شاعرانو پیروي وکړه چې یو یې یونس خیبري دی. د زلمي هېواد مل په وینا «د ده شعر د هنر او ښکلا په ټولو ښېگڼو سنبال دی.»۱۱۵. یونس د پښتو شعر ښکلی دیوان لري چې زیاتې یې غزلې دي.

په پښتو شعر یې هسې نامه یوړه
چې خبر یې په اشعار ایران، توران شه
پر لذته شعر به څوک کاندي یونسه
چې په مرگ باندې خاموش عبدالرحمان شه۱۱۶

بل شاعر چې د رحمان بابا د شعر په پله گام ایښی دی مهین خلیل دی. دی د شعر دیوان لري چې تر اوسه چاپ نه دی. د مهین د دیوان خطي نسخې په هندوستان کې شته. ده یو بل کتاب «تذکرة الابرار» نومیږي چې د ختیځ فرهنگ ځینې کیسې او حکایتونه لکه د رابعې بلخې د مینې



داستان په نظم کړی دی چې تر اوسه چاپ نه دی او خطي نسخې یې په کابل، پېښور او هند کې موندل کیږي. ده دوې الفنامې هم ویلې دي چې یوه یې د قصیدې په بڼه او بله یې د څلوریزې په بڼه ده.

د هېوادمل په وینا «د مهین په اشعارو کې غزل، قصیده، مثنوي، رباعي او نور لیدل کیږي. د ده په اثارو کې په حکایتو برسېره عشقي دیني او اجتماعي مسایل ځان ښکاروي او عرفان هم د ده په شعر خپل وزر غوړولي دي».۱۱۷.

د رحمان بابا بل پیرو شاعر معزالله خان مومند دی چې په پښتو ژبه د اشعارو دیوان لري.

که د شعر کرامت له چانه غواړې
مغزالله د رحمان شعر کرامت دی۱۱۸

په هند کې د رحمن بابا د شعر پیروان عبدالرسول، ملا لتاړ شلماني، تنها، رحمت داوي قاسم علي خان اپریدي، منصور، گلمیر، ظاهرالدین او نور دي.

## ۳-حمید ماشو خېل او پښتو ژبه

د حمید ماشو خېل او د ده د لارې ملگرو د شعر نمونې راښيي چې په هند کې پښتو شاعرانو د هندي سبک ځانگړتیاوې خپلې کړې. حمید ماشوخېل، کاظم خان شیدا، بیاض گډون، میر عبدالله، امام، نورمحمد افغان او نور د هندي سبک شاعرۍ ته لومړی د عبدالحمید مومند پام شو. حمید د شعر لوړه وړتیا، جوړوونکی فکر او د نوي مضمون د موندلو توان درلود. د ده شعر ډېر ښکلی او په بدیعي ښکلاوو سنبال و چې د موشگاف په نوم یاد شو. ده پښتو ژبه د هنري ښکلا په گاڼه دومره ښکلې کړه چې دا په ځای دعوا یې وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارسیوانو د حیرت گوتې په غاښ کړې
چې حمید سخن سازي کا په پښتو کې

کله چې انگرېزانو د هند په نیمه وچه کې د دې سیمې ژبې، ادبیات، تاریخ او دودونه څېړل نو جورج راورټي د حمید پاسنی بیت د خپل کتاب «د پښتو گرامر» په لومړي پاڼه چاپ کړ. د دې مانا دا وه چې د پښتو شعر په لوړ مقام او د حمید په نظر یې د تایید ټاپه ولگوله. راورټي د خپل کتاب «د پښتو قاموس» په اوله پاڼه د عبدالقاذرخان خټک لاندې شعر چاپ کړ:

تا خواږه کړه تر فارسي عبدالقادره
که هر څو وه ترخه ژبه د پښتو

عبدالحمید د شعر یو رنگین دیوان لري چې زیاته برخه یې غزلې دي. د ده د شعر هنریت او ښکلا ډېر لوړ دي چې لاندې دوه بیتونه یې ښه نمونه کېدای شي

دا زما د غمه شین زړه په کې خیال د یار د شونډو
هسې رنگ زیب و زینت کا لکه می په شنه پیاله کې

یا

هسې سحر و جادو کا په نظر د شهلا سترگو
نه یې سیال په هند کې شته دی نه ثاني په بنگاله کې

حمید مومند د مولانا غنیمت کنجاهي نیرنگ عشق په خواږه او روانه پښتو مثنوي ژباړلی چې خورا غښتلی ادبي قوت لري. د ده د ژباړې نمونه:

هر اندام د گل اندام په ناڅېده
لکه موم د اور له تاوه څاڅېده



کښېناستو یې کښېنول سل افتونه
پاڅېدو یې پاڅول سل قیامتونه[۱۱۹]

حمید مومند د هلالي چغتایي د شاه و گدا کیسه هم په خواږه او روانه پښتو مثنوي ژباړلې ده چې په پېښور او ډېلي کې چاپ شوې ده.

حمید بابا ډېر پیروان لري چې یو یې کاظم خان شیدا دی چې هندي سبک یې په پښتو کې پخپلو اشعارو سره لوړې څوکې ته ورساوه. د کاظم خان شیدا د شعر نمونه:

په کې نه شته سیاه مست د هغو سترگو
گرزېدلی په درست هند په بنگاله یم[۱۲۰]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم څپرکی

# په هند کې د پښتو اثار

په هندوستان کې د ديني ښوونې او روزنې او ځينو نورو دوديزو زده کړو په موخه ځينې اثار جوړ يا وژباړل شول. د دې اثارو نه يو يې د غلام محمد گيگياني معراجنامه ده چې د ۱۱۱۵ ه کال کې يې د پارسو نه په پښتو ژباړلې ده او ۷۹۴ بيتونه لري چې زموږ د پيغمبر د معراج پيښه پکې بيان شوې ده. د ده نور اثار «جنگنامه حسنين»، «سيف الملوک بدری جماله»، «تفسير والضحی» او د عزراييل کيسه ښودل شوي دي. تر ده وروسته ميا فقيرالله جلال ابادي خپل اثار، «فوايد فقيرالله»، «اسمأ الحسنی» او «کيميايی سعادت» په پښتو ليکلي دي. د ده اثر په نظم ليکل شوي خو څو منثورې ټوټې هم لري چې هېواد مل يې په هندوستان کې د پښتو نثر پنځم اثر گڼي.

د دې لړی بل سړی عبدالرحمن دی، چې په ابن الفقيه په نوم شهرت لري، د ښوونې او روزنې په موخه يې په پښتو د ترتيل رساله کښلې چې د قران شريف د لوست د ادابو د ښوونې لپاره ليکل شوې ده. همدارنگه د اميرشاه شمايلنامه او د ميا عبدالحليم کاکاخېل خټک د چهل حديث پښتو منظومه ترجمه دي.

رحمت داوي د احمد شاه بابا په وخت کې کشمير ته تللی او هلته يې شاعري کړې ده. د ده د شعر نمونه:

چې پر داد د مظلومـــــانو نه رسيږي
د تيمور بادشاه عجبه سلطاني ده۱۲۱



بل ځای وايي:

د احمـــد فرزنـــدان څـــه دي
ډېـــر عـــالم يـــې کـــړ طوفـــان
رب د عـــدل انصـــاف ورکـــړه
دا دعـــا کـــړم هـــر زمـــان
پـــه راســـتي سره گويـــا دی
د رحمـــــت داوي زبـــــان۱۲۲

## په هند کې د پښتنو رياستونه او پښتو ژبه

د اتلسمې مخزيږدې پېړۍ په دوران کې د هندوستان په بېلو بېلو سيمو کې د ځينو پښتنو له خوا سيمه يز رياستونه جوړې شوې دي. د دغو رياستونو له مشرانو نه ځينې يې د قلم خاوندان هم وو چې په خپله مورنۍ ژبه پښتو يې اثار منځ ته راوړي او يا يې د نورو ژبو نه په پښتو ژبه اثار ژباړلي دي. برسېره پر دې دوی د پښتو اثارو د خطي نسخو په ټولولو، زياتولو او ليکلو کې د ستاينې او مننې وړ کارونه تر سره کړي دي. په دې کسانو کې د روهيلکنډ نواب علي محمد خان شاعر و چې د هېوادمل د څېړنې پر بنسټ په ۱۱۱۹ هجري کال کې زيږېدلی دی، د ده يوه اوږده منظومه د عبدالقادر خان خټک د يوې خطي نسخې په پای کې راغلې ده. په نوموړي نسخه کې د روهيلکنډ نورو پښتنو شاعرانو: محمودخان دشعر دوه پارکې، د مسکين د شعر يو پارکی شته. د روهيلکنډ د نواب سعدالله خان نواب ستايونکی شاعر سيد عبدالصمد پيرزاده دی چې يو مخمس پارکی لاسته راغلی دی.

بل نواب حافظ الملک رحمت خان شاعر دی چې د نواب سعدالله خان د مړينې وروسته د روهيلکنډ نواب شو. د ده نه ځينې پښتو منظومې تر موږ را رسېدلې دي. برسېره پردې د ده يو مخمس او يو بل پارکی د عبدالقادر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان د دیوان د یوې خطي نسخې په پای کې د نورو پښتنو شاعرانو د شعرونو سره یو ځای خوندي دي.
بل نواب محبت خان د نواب رحمت خان زوی دی چې پښتو ژبې او ادب ته یې خدمتونه کړي دي. د ده ادبي او ژبني اثار دادي:
پښتو دیوان چې د برېتانیا د بودلیان نومي کتابتون کې خوندي دی.
د شعر نمونه یې دا ده:

نه پوهېږم چې له عقله بېرون چا کړم
چې مې هوش له سره یوور مجنون چا کړم
په غمزو په کرشمو په مکیزونو
په خپل ځان باندې شیدا و مفتون چا کړم
هم په دا حیرت مې شپه و ورځ تېرېږي
چې ازاد وم بندیوان په افسون چا کړم
په ازار د محبت (محبت خانه)
خبر نه یم چې خسته او زبون چا کړم۱۲۳

د ده بل اثر «اسرار محبت» نومېږي چې ده د «سیسۍ او پنون» کیسه نظم کړې ده چې خطي نسخه یې د رامپور په رضا کتابتون کې خوندي ده.
بل اثر یې «ریاض المحبت» نومېږي چې د دې کتاب خطي نسخې په هندوستان، برېتانیا او پتروگراد کې لیدل شوې دي چې په لومړی برخه کې پښتو گرامر په پارسو او دوهمه برخه یې پښتو لغتونه په پارسو مانا شوي دي.
بل سړی نواب الله یارخان هم د نواب حیات خان زوی دی چې د «عجایب اللغات» کتاب یې لیکلی چې په پیلامه کې یې د خپلې کورنۍ احوال راغلی د پښتو لنډ گرامري اصول، خاص غږونه او نورو باندې خبرې کیږي او بیا قاموس پیل کیږي. د دې کتاب دوې خطي نسخې په برېتش موزیم اویوه



یې د رامپور په رضا کتابتون کې خوندي دي.
د حافظ رحمت خان کورنۍ نه یوازې پخپله په پښتو ژبه اثار لیکلي دي بلکې نور عالمان، شاعران او لیکوال یې نازولي، پاللي او ستایلي دي او د دوی په غوښتنه یې پښتو اثار لیکلي دي. د «تواریخ افاغنه» لنډون مسوده چې د رحمت خان په امر شیخ میرداد خیل سر ته رسولې ده. بله مسوده د رحمت خان په غوښتنه پیر معظم شاه برابره کړې ده. بل اثر مفخر افغان دی چې گلستان رحمت ژباړلی دی.
بله پښتنه کورنۍ چې په هند کې یې پښتو ژبې ته خدمت کړی د نواب نجیب الدوله عمرخېل کورنۍ ده چې پخپل نوم یې د نجیب اباد ښارگوټی ودان کړ. په دغه ښار کې د احمدشاه دراني په نامه سکه وهل شوې ده. احمدشاه بابا نوموړی دډېلي امیر الامرأ وټاکه او کله چې وفات شو په نجیب اباد کې خاورو ته وسپارل شو. ده د دارانگر مدرسه جوړه کړې او پدې کورنۍ کې پښتو ژبه پالل شوې ده. د ارتضا خان عمرخېل «فرهنگ ارتضایي» اثر دی چې ۱٦٦ فصله، یوه سریزه او یو پایلیک لري د یادولو وړ دی. د دې فرهنگ په لومړیو درویشتو فصلونو کې پښتو لغات د نومونو په ترتیب سره راوړل شوي دي. پدې فرهنگ کې لومړی پښتو لغات راغلي دي بیا یې پارسو او هندي ماناوې کړې دي. بل د «پدماوت کیسې» ژباړه هم یادوي چې ابراهیم نومي په پښتو ژباړلې ده. افضل خان عمرخېل قران شریف په پښتو ژباړلی دی.

چې تفسیر یې په پښتو کړ له پارسي نه
محبت د افضل خان په قام افغان یم

یا

پښتانه ته چې و سخت پارسي زبان
هم په دا تفسیر پښتو کړ افضل خان۱۲۴

بل کتاب «نسب افاغنه» نومېږي چې د قاضي محمد عبدالسلام عمرخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تألیف دی. د ده په عقیده د پښتو ژبې د تشکل دوره له اسلام نه د مخه په غور کې شوې ده.

په رامپور کې «امدنامه افغاني»، چې یوه خطي نسخه یې په لندن کې د انډیا افس کتابتون کې خوندي ده لیکلې ده. د همدې نسخې په پای کې د ګلمیر او منصور پښتو غزلې خوندي دي. دا کتاب د پښتو لغت او ګرامر یو اثر دی چې په هند کې لیکل شوی دی.

په رامپور کې اشرف خټک هم اوسېده چې یو غزل بول شاعر و، د کلام نمونه:

موده وشوه چې سلام د یار رانغی
خبر نه یم چې په څه ریبار رانغی
اې فلکه غم شادي ستا په وار وار ده
چېرې ما باندې د وصل وار رانغی
څو به زه د بېلتانه ستایم ناسازې
په بوستان مې د خاطر بهار رانغی
ما ونه لیده هېڅوک داسې په عشق کې
چې په ده د بېلتانه ګوذار رانغی
په شادې پسې غمونه وي اشرفه
کوم یو ګل دی ورسره چې خار رانغی۱۲۵

په بهو پال کې د اورکزیو پښتنو نوابي وه چې بنسټ یې دوست محمد خان سردار ایښی و. دلته هم د قران پاک یوه پښتو ژباړه شته چې د پښتو ژباړې لاندې د اردو ژباړه کښل شوې ده. د ژباړې برسېره یې فواید په پښتو او حاشیې په پاړسو لیکل شوې دي.

په ټونک کې هم د پښتنو ریاست بنسټ ایښودونکی نواب امیر خان سالارزی دی. د ټونک پښتنو پښتو کتابونه را ټول کړي، ځینې پښتو اثار یې



خطاطي کړي او ساتلي دي. د دوی په راټولو کړو پښتو کتابونو کې ځینې داسې نایابې نسخې شته چې تر اوسه بل ځای نه دي لیدل سوې لکه د حبیب الله دیوان، د صدیق دیوان، د میهن دیوان او ځینې نور

د ټونک د پښتنو د ځینو کسانو نومونه دا دي: مولوي دوست محمد خان د ملا امیر کابلي زوی د «ضابطة افغاني» لیکوال او هم د پښتو د ښکلي تعلیمي نثر لیکونکی دی. ده آمدنامه هم د هغو اردو ژبو لپاره لیکلې ده چې پښتو ژبه یي زده کوله. همدارنګه سید اضغر علي آبرو هم یوه رساله لیکلې چې هفت زبان نومیږي چې یو بحث یې لغات زبان پښتو نومیږي. چې پښتو لغات په اردو ژباړل شویدي.

د میسور ریاست د پښتانه حیدر علي او د هغه د نامتو زوی ټیپو سلطان د نومونو سره نه شلېدونکې اړیکه لري. د میسور د شرقي علومو انسټیټوټ کې یو خطي پښتو کتاب شته چې «ثبات العاجزین» نومیږي چې لیکوال یې مالوم نه دی . د دې کتاب بله نسخه بل ځای نده لیدل شوې نو شاید دلته په میسور کې لیکل شوی وي.

د کشمیر سره د پخوا نه د پښتنو اړیکې وې خو هغه مهال چې ستر احمدشاه بابا په واکمنۍ کې کشمیر د افغان امپراتورۍ برخه شوه دغو اړیکو ډېره پراختیا ومونده. همدې سیمې ته د پښتنو تګ زیات او یو شمېر شاعران هلته لاړل او په پښتو یې اثر جوړ کړل. په کشمیر کې «نصاب شش لغات» رساله د یسفي له خوا لیکل شوی چې اوس د علي ګړ ملم پوهنتون د مولانا ابوالکلام په کتابتون کې خوندي ده چې د د شپږو ژبو د یوې مانا لرونکې لغات پکې راټول کړي دي. د دې برسېره د پښتو ډېرې مذهبي او مصورې نسخې په کشمیر کې خطاطي شوې او د تذهیب او طلاکارۍ چارې یې همدې سیمه کې سر ته رسېدلې دي. د نمونې په توګه د مسعود ب عبدالله ادم خان درخانۍ ده چې د عبدالعزیز له خوا د جان محمد یوسفزي لپاره لیکل شوې ده ۱۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

## هوتکیان او پښتو ژبه

د مخه تر دې چې د هوتکیانو او د هوتکیانو د واکمنۍ پر مهال د پښتو ژبې په هکله وغږېږم اړینه ګڼم چې د ټکي ته د لوستونکو پام واړوم چې د مغل چنګېزخان تاړاکونو زموږ هېواد د ستر ناورین سره مخامخ کړ چې نه یوازې یې د وطن نړدې ټوله مادي او معنوي شتمني د خاورو سره برابره کړه، بلکې د سر سخت زیان یې ورورساوه. پدې ترتیب له دیارلسمې پېړۍ نه تر اتلسمې پېړۍ پورې د افغانستان تاریخ د پردیو تاریخ شو. د دې پنځو پېړیو په وروستیو دوه نیمې پېړۍ کې د هېواد لوېدیځه برخه تر کندهار پورې د صفوي واکمنو، ختیځه برخه له اباسینه تر کابله او کلاته پورې د مغلو واکمنو او شمالي برخه یې د شیباني خانانو تر لاس لاندې وې.

د مغلو او صفویانو د واکمنۍ په مهال په کندهار کې د ابدالیانو ټول خېلونه، د غلزیانو څه خېلونه، د دوی په څنګ کې تاجکان، ملتانیان او نور او د ښار د باندې پارسیان پراته وو.

په عمومي توګه د غلزیو خېلونه له کلاته تر کابله پورې د مغولو د کابل د واکمن او ابدالیان د کندهار د صفوي واکمن تر لاس لاندې وو. «خو دواړه قومونه پخپلو کورنیو چارو کې خپلواک وو او چارې یې خپلو مشرانو ور تنظیمولې. دغه مشران په اصل کې وروسته له هغه د زیات واک څښتنان شول چې ولسونه یې میشته شول او کلي او ښارونه یې ودان کړل.»۱۲۷ د



دغو مشرانو له نومیالیو نه یو د سدو خان، چې د سدوزو قبیله ورته منسوبه ده، لمسی او د حضرخان زوی سلطان خودکي (پوپلزی) او بل سلطان ملخې (توخي) وو او دوی په ۱۶۲۴ کال کې سره جوړه وکړه چې د هغې له مخې ګرم اب د دوی تر منځ ټاک (پوله) وټاکل شو. د دې ټاک لوېدیځه خوا به د ابدالیانو او ختیځه خوا به د غلزیانو وي. پدې ډول د دغو دوو قومونو تر منځ د شخړو مخه ونیول شوه. د سلطان خودکي سروالي د صفوي حکومت اود سلطان توخي سروالي د هند مغولي حکومت منلې وه.

د پوهاند ډاکټر کاکړ په وینا ددواړو قومونو مشران نه یوازې په ولسي چارو کې بلکې په نړیوال سیاست کې او په ځانګړې توګه د کندهار په سر د دواړو امپراتوریو په سیالیو او جنګونو کې د تجربې خاوندان شول.

د ګورګین د راتګ وروسته په کندهار کې سترې پېښې یو پر بل پسې وشوې. دغه مهال د صفوي واکمنو رسمي سیاست دا و چې شیعه ګان وهڅوي او سنیان وځپي. د دغه سیاست پر بنسټ ګورګین د کندهار سنیان تر فشار لاندې ونیول او د یاغیانو په څېر یې چلند ورسره کاوه. دوی غوښتل چې د ابدالیانو او غلزیانو دودیزې خپلواکۍ ته د پای ټکی کېږدي. برسېره پردې یې غوښتل چې د مغولو په وړاندې ټینګ مورچل جوړ کړي چې کندهار د دوی لاس ته ونه لوېږي.

ګورګین د دې پلان د پلي کولو لپاره لومړی د ابدالي مشرانو پر ضد دسیسې وکړې. لومړی یې د دولت خان د سدوزو څواکمن مشر- دمنځه وړلو په پلان کې بریالی نه شو بیا یې د پښتنو د هغه کمزوري ټکي نه ګټه پورته کړه چې هغه د دوی ځان غوښتنه ده. د ګورګین لښکر یوه شپه د عزت خان سدوزي او اتل خان سدوزي په مرسته او لارښوونه په ښار صفا کې ناڅاپه د دولت خان ابدالي په کلا برید وکړ او دولت خان یې د خپل زوی نظرمحمد او فقیر نومي نوکر سره ووژل. د دولت خان د مړینې وروسته د ده زوی رستم خان د قوم مشر شو. بیا یې رستم خان بندي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواړه. او د ده د مړینې وروسته یې د ده غښتلې ډله وځپله او بیا یې د هغه مخالفه ډله د عزت خان سدوزي او اتل سدوزي په مشرۍ اړه کړه چې ارغستان پرېږدي او د کندهار په ختیځه خوا کې میشته شي. لږ مهال وروسته یې ناڅاپه پرې ودانګل، ډېر یې ترېنه ووژل، ډېر لویان یې کرمان ته ورڅخه وشړل او پاتې ابدالیان د شوراوک چاپېر دشتو او غرو ته وکوچېدل.

د ابدالیانو د ځپلو وروسته په کندهار کې غلجیان د یوه ستر قوم په توګه پاتې شول چې مشر یې میروېس خان هوتک و. میروېس خان د شالم خان هوتک زوی او د خپلې مور نازو انا له خوا د سلطان ملخي توخي لمسی او د خپلې ماندینې له لوري د سدوزو زوم و. د ده مېرمن خانزاده د جعفرخان سدوزي لور وه چې د سدوزو د کامران خېلو په څانګه یې اړه درلوده. کامران خان د سدو زوی و چې د خپلو ورونو په منځ کې یو پوه او عالم سړی و او د «کلید کامراني» په نوم د اثر لیکوال دی چې په پښتو ژبه یې لیکلی دی.

## میروېس نیکه

د ابدالیانو د ځپلو وروسته ګورګین د هوتکو د ځپلو نیت وکړ. پدې منظور ګورګین د هوتکو مشر میروېس خان هوتک ته مراجعه وکړه چې د دوستی په پلمه د ده قوم هم وځپي. خو میروېس د تېرو پېښو نه عبرت اخېستی و او دې ته یې پوره پام و چې ګورګین یې تېر نه باسي. ده د خپلواکۍ غورځنګ د همکارۍ په جامه کې په پټه پیل کړ او د کندهار د ښار د کلانترۍ منصب یې ومانه.

خو کله چې ګورګین د میروېس خان د نفوذ د زیاتېدو نه په وېره کې شو نو هغه یې اصفهان ته وشړه. میروېس خان د خپلې پوهې او ځیرکۍ له کبله د دربار څواکمن کسان د ځان پلویان کړل او د حج د ادا کولو نه وروسته یې چې د عربستان د عالمانو نه یې د خپلې خوښې سره سم اخېستې فتوا



ورسره وه د صدراعظم اعتماد دوله له لارې اجازه تر لاسه کړه چې په کندهار کې د ګورګین د مشاور په توګه کار وکړي. د دوسرسو فرانسوي په وینا میروېس خان د پارس د دربار «د ټولو وزیرانو نه په یوازې توګه ډېر هوښیار و.»[۱۲۸]

میروېس خان د پخوا غونډې د ګورګین سره همکارۍ پیل کړه خو ګورګین پرې ډاډه نه و نو ده د خپل زوی لپاره د میروېس خان لور په نکاح وغوښتله. میروېس خان د دې موضوع لپاره د کوکران جرګه راوغوښته. جرګې پرېکړه وکړه چې د ګورګین د غافلولو لپاره د میروېس خپله وینځه د لور په نامه په نکاح ورکړي او همداسې وشول. لکن د میروېس په وړاندې اصلي مسله د خپلواکۍ وه. خو د کاکړ په وینا د دې موخې د سر ته رسولو لپاره نه تنظیم و، نه وسله او نه پوځ او نه د وسله والې مقابلې توان. خو ګورګین نه یوازې شل زریز پوځ درلود بلکې شا ته یې یوه لویه امپراتوري ولاړه وه.

میروېس خان د خپل پلان د عملي کولو لپاره د مانجې تاریخي جرګه راوغوښته چې قومي مشران او روحانیون پکې شامل وو. د دې جرګې د غړو یادونه د پښتو ژبې په لومړۍ شاهنامه (محمودنامه) کې ریدي خان مومند کړې ده او دغه کسان پکې شامل وو: سیدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادرخان اندړ، ملا پیرمحمد میاجي، عزیزخان نورزي، یوسف خان هوتک، ګل خان بابړ، نورخان برېڅ، نورخان الکوزی، یحی خان هوتک، حاجي نور محمد هوتک، چې په حاجي انګو مشهور دی، یونس کاکړ او نور. ده د دې جرګې له لارې وکړای شول چې د کندهار ولسونه د ګډ عمل لپاره چمتو کړي.

جرګې د میروېس خان پلان تایید کړ او پرېکړه یې وکړه چې د بلوڅو، کاکړو او ترینو خانان به خپل ولسونه و هڅوي چې د مالیې د ورکولو نه سر وغړوي تر څو ګورګین اړ شي چې د خپلو پوځونو یوه برخه هلته واستوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورګین چې خبر شو نو د کاکړ په وینا ده شپږ نیم زره سرتېري د میرزا سندل په قوماندنۍ او پخپله د زرو تنو جنګیالیو سره ور روان شو. ده د میرویس نه هم وغوښتل چې د خپلو ایله جاریو سره د ارغسان په ده شیخ کې ور سره یو ځای شي. پدې توګه د میرویس د پلان لومړۍ برخه پلې شوه هغه دا چې د ګورګین پوځ په څو برخو وویشي. په ده شیخ کې اوه سوه ناصرو او هوتکو د میرویس په قوماندنۍ د ګورګین په زر کسیز پوځ د شپې په تروږمې کې ناڅاپه برید وکړ او له منځه یې یووړ. پدې ګام سره د میرویس د پلان دوهمه برخه پلې شوه هغه دا چې د یوې برخې نه وسله واخلي او د نورو برخو د ځپلو لپاره یې وکاروي. میرویس خان د مخه درې نیم زره قومي ځوانان په وړو ټولیو کې منظم کړي او دنده ورکړ شوې وه چې د ښار اړیکه د بهر سره وځاري تر څو پارسیان د پېښې نه خبر نه شي. پخپله میرویس او د هغه ملګري چې د ګورګین او د هغه د پوځیانو جامې یې اغوستې وې او د هغوی په وسلې یې ځانونه سمبال کړي وو د شپې په تیاره کې ښار ته ننوتل او په بې ساري چټکۍ سره یې پارسیان تباه کړل. وروسته یې د هغو دوه نیم زره پوځیانو نه چې د بلوچستان نه کندهار ته راستانه شول څه یې له منځه یووړل او نور یې په منډه د تباهۍ خبر اصفهان ته ورسوه.

میرویس خان د ایران د دولت د غافلولو لپاره یو لیک د پارس د پاچا په نامه اصفهان ته ولېږه او بل لیک یې د هند مغولي پاچا ته ولېږه. په وروستي لیک کې ویل شوي و چې د کندهار خلکو د صفوي دولت پر ضد بریالی پاڅون کړی او خپلواکي یې ګټلې ده. که چېرې د پارس پاچا د کندهار د خلکو پر ضد پوځ راواستوي او موږ اړ شو چې له تاسو مرسته وغواړو نو تاسو به مرسته وکړی که نه؟ د هند پاچا په ظاهري توګه د کندهار خپلواکي په رسمیت وپېژانده خو په پټه یې صفوي دولت ته پیغام ولېږه چې د دې پېښې مخه زر ونیسي تر څو د دې پاڅون لمبې د هند لمنې ته پراخې نه



شي چې بیا د پښتنو تېر برم یاني د غوریانو، غلجیانو، سوریانو او لودیانو خاطرې را ژوندۍ نه شي.

میرویس خان دا اټکل هم وکړ چې پارسیان به د دې پېښې د غچ اخېستلو لپاره اړین ګامونه پورته کړي نو سمدلاسه یې د کورنیو سمونونو په څنګ کې په دفاعي تدبیرونو لاس پورې کړ. میرویس خان په لنډ وخت کې پوځ منظم او د پارسیانو نه یې په نیولو وسلو سمبال کړ او یو منظم توپچي قوه یې هم جوړه کړه. ده د کورنیو سمونونو په څنګ کې د نوي هېواد بهرني سیاست ته پوره پام وکړ.

صفویانو لومړی محمد جامي نومي سړی د تهدید لپاره راولېږه چې د میرویس په امر بندي شو. بیا یې د هرات حاکم محمدخان چې د حج په سفر کې د میرویس ملګری و، راواستوه چې د میرویس په امر د یوه درانه مېلمه په توګه په کندهار کې وساتل شو. کله چې صفوي واکمنان خبر شول نو په کندهار باندې یې د پوځي یرغل ترتیبات ونیول. صفوي دولت په هرات کې میشته پوځ ته امر وکړ چې په کندهار یرغل وکړي. میرویس هم د پنځه زریز ازادي غوښتونکي پوځ سره رووت او سخته ماته یې ورکړه.

بیا د پارسیانو منظم پوځ د اتلسو میاشتو په جریان کې څلور ځله یرغلونه وکړل او ماتې یې وکړه. د دې وروسته صفوي واکمنو د خسرو خان په قوماندانۍ یودېرش زره پوځ کندهار ته واستوه چې دې پوځ کندهار څو میاشتو محاصره کړ خو وروسته د میرویس خان د زړورو جنګیالیو له خوا محاصره ماته او د خسرو پوځ د خسرو خان په شمول تباه شول. دوه کاله وروسته د رستم خان په مشرۍ پارسیانو پر کندهار یو بل یرغل وکړ چې هغه هم ناکام شو.

میرویس خان چې له دې تهدیدونو نه هېواد وژغوره نو د خپلو نورو پلانونو د پلي کولو ته یې خپل پام واړاوه. خو د بده مرغه هغه څه چې دښمن د جګړې له لارې ونشو کړای چې میرویس خان د خپلې لارې ایسته کړي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار یې بیا زموږ افغانانو د هغې کمزورۍ له لارې تر سره کړ چې هغه د پښتنو ځان غوښتنه ده. د دې کار د پلي کولو لپاره یې د میرویس ورور عبدالعزیز ولمساوه چې پخپله پاچا او پاچاهي یې په کورنۍ کې نیکاتي شي. عبدالعزیز خپل مدبر، هوښیار او ځیرک ورور ملي مشر میرویس خان ته د پارس د دربار په لمسون زهر ورکړل او د ۴۱ کالو په منګ د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې اروا دې ښاده وي. د عبدالعزیز له خوا میرویس خان ته د زهرو ورکولو پېښه د محمد معصوم هوتک په وینا عبدالغفار هوتک پخپل تاریخ کې چې هوتکنامه نومېږي او لطیف جان بابي په سپارښت او لګښت حبیب الله رفیع چاپ کړې دی بیان شوی دی. د دې پېښې تفصیل د هوتکنامې د ۱۳۶ بیت نه تر ۲۲۸ بیت پورې راغلی دی. عبدالغفار هوتک وايي:

په زهرو یې شهید حاجي میر خان که
حکومت یې برادر بیا عزیز خان که[۱۲۹]

د ده د مړینې وروسته د میرویس ورور عبدالعزیز د جرګې له خوا د میرویس پرځای وټاکل شو.

عبدالعزیز چې د ولس په مشورې د میرویس نیکه پر ځای وټاکل شو د خپل ورور په شان نه تورزن، نه پوه، نه مدبر او نه د درایت خاوند و. ده په لومړي سر کې د قوم مشران راوبلل او دوی ته یې د پارس د دولت پیاوړتیا او ځواکمنتوب او د ځان د ناتوانۍ په هکله خبرې وکړې خو د ولس د مشرانو د سخت غبرګون سره مخامخ شو او ده ته یې ګواښ وکړ چې دا خبرې باید ګرد سره په خوله رانه وړې که نه بل چا ته به ځای پرېږدي. خو میر عبدالعزیز چې خپل ورور یې د پارسیانو سره د پټ جوړ جاړي په پایله کې په زهرو وژلی و د قوم مشرانو د مشورې پرته خپل وړاندیزونه د پارس حکومت ته وړاندې کړل. دا وړاندیزونه دادي:



«له افغانانو دې باج نه اخېستل کېږي؛
کندهار ته صفوي عسکر نه راځي؛
د افغانانو پاچاهي دې د عبدالعزیز په کورنۍ کې میراثي ومنل سي.»[۱۳۰]

د عبدالعزیز دغه دریځ ته د ولس مشرانو په کرکه وکتل او د ولس په مشوره عبدالعزیز د میرویس د مشر زوی محمود له خوا ووژل شو او ټول پدې سلا شول او په یوه خوله او یوه اواز یې د شاه محمود هوتکي پاچاهي ومنله

## د شاه محمود هوتک واکمني

شاه محمود هوتک په خلکو ګران او یو زړه ور او مېړنی جنرال و خو څنګه چې یو تنکی ځوان و دومره سیاسي پوهه او تجربه یې نه درلوده چې د سیاست په ډګر کې یو بریالی مشر وي. نوموړی د مخه تر دې چې د خپل هېواد یووالی را منځ ته کړي د پارس د نیولو په فکر کې شو. د هغه وخت د تاریخ لیکوالان دا وايي چې د اصفهان نیول یې د پلار وصیت و. دا سمه ده چې پلار یې د ځنکدن په مهال د اصفهان د نیولو خبره کړې ده خو پلار یې ولې د خپلو اتو کالو په واکمنۍ کې دې کار ته اقدام نه کاوه؟ فکر کوم چې دې کار د پلي کېدو لپاره شرایط چمتو نه و. هغه دا چې دې کار لپاره تر ټولو د مخه د پښتنو هېواد د امو نه تر اباسینه پورې باید یو موټی شوی وی او د دې لپاره د ټولو پښتنو قبیلو او په تېره بیا د غلزیانو او ابدالیانو د قبیلو یوالی اړین و.

په هر صورت شاه محمود هوتک د اصفهان د نیولو نه د مخه د کرمان د خلکو په غوښتنه هغې خواته روان شو. د شاه محمود هوتک لښکر ته د سیستان په ریګستان کې د خوارکي موادو، غلې او وښو د نشتوالي له امله د سر او مال زیات زیان ورسېد. خو د دې سره سره هغه کرمان ته ورسېد او د کرمان خلک په خپله خوښه ده ته تسلیم شول. خو په دغه مهال په کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې بیجن سلطان لکزي د ملک جعفر خان په ملتیا چې بندي و، د کندهار د نورو پارسیانو په مرسته پاځون وکړ تر څو کندهار بیا د پردیو تر ولکې لاندې راولي. شاه محمود د کندهار د اړدوړ د ځیلو لپاره کندهار ته راستون شو. خو د ده تر رسېدو د مخه اړدوړ کوونکي د ده د کشر ورور میر حسین هوتک له خوا ځپل شوي او زندۍ شوي وو.
خو په هر حال وروسته زلمي مشر د یوه باکفایته جنرال په توګه د ګلناباد د تاریخي جګړې په پایله کې اصفهان ونیو او د پښتنو په وړاندې د ظلمونو غچ یې د پارسیانو نه واخیست. خو د سیاسي مشر په توګه د دې هېواد د اداري په سمبالولو کې پاتې راغی. د دې دورې څېړونکي نږدې ټول یوه خوله دي چې ځینې پېښې د دې سبب شوې چې د ده دماغي توازن منځه ولاړ شي او په پایله کې ووژل شو. خو ماته دا فکر هم پیدا شو چې دې پېښو د منفي اغېز تر څنګ شاید د داسې زهرو په ذریعه دی مسموم شوی وي چې سوکه سوکه اغېز شیندي. دا ګومان ما ته له دې نه پیدا شو چې یو د ده او د ده د صدراعظم امان الله مېرمنې سره خوینديې او د شاه حسېن صفوي لوڼه وې او د دوی تر منځ د نفاق تخم هم د دغو خونديو فعالیت محصول دی او دغې موضوع ته اعظم سیستاني د کرونسکي د لیکنې په حواله داسې اشاره کوي. امان الله د شاه محمود هوتک نه د خفه کېدو نه وروسته په ظاهر کې «د خپلو قواوو سره د اصفهان نه د کندهار په نیت ووتو. امان الله هم د سلطان حسین د یوې لور سره واده کړی و او لدې اړخه هم د شاه محمود د ډېرو نږدې کسانو نه شمېرل کېده. کرونسکي د امان الله دا ګام د شاهزدګۍ، د امان الله د مېرمنې د لمسون پر بنسټ بولي چې د خپل مېړه او شاه محمود تر منځ د مخالفت نه خبره وه.»۱۳۱ برسېره پردې دا چې ده به کله خپل ځان ته خوله اچوله دا هم شاید د زهرو اغېز وي. دا چې پارسیانو د دې توان درلود چې میرویس خان پخپل کور کې د خپل ورور په ذریعه په زهرو د منځه یوسي نو په اصفهان کې به دا کار



دومره ګران نه و چې د شاه حسین لوڼه یې د پلار غچ وانخلي. په هر صورت شامحمود د اشرف له خوا ووژل شو او د ده د مړینې وروسته د میرویس وراره او د عبدالعزیز زوی اشرف د شاه محمود په ځای په اصفهان کې پاچا شو.

## د شاه اشرف هوتک واکمني

د معصوم هوتک په وینا شاه اشرف د عبدالعزیز زوی چې د یوې خوا د محمود نه د خپل پلار د وژلو له امله ماښجن و او د بلې خوا د خپل پلار د ملي ضد دریځ پلوي نه و څه خوابدی و. لدې امله د هوتکو مشران د اشرف په کور کې سره راټول شول چې د شاهي کورنۍ خپل منځي خوابدي لیرې کړي. دواړو خواو جرګې ته واک ورکړ چې دا ستونزه د پښتني دود سره سم هواره کړي. جرګې د دوی تر منځ زړه بدګی پای ته ورساوه او اشرف یې د پوځ د یوې برخې قوماندان وټاکه. اشرف چې د یوې خوا زړه ور قوماندان و او د بلې خوا د خپل تره میرویس بابا پوهه، ځیرکي او دیپلوماسي هم پکې راټوله شوې وه، د کورنیو تربورۍ او ان د پښتنو د قبیلوي تفکر نه یې د فکر کچه ډېره لوړه وه. ده د شاه محمود سره یو ځای د اصفهان په نیولو کې تورې ووهلې.
شاه اشرف د شاه محمود د وژلو وروسته د ۱۷۲۷ کال د اپرېل د میاشتې په ۲۶ نېټه د شپږویشتو کالو په منګ د اصفهان پر تخت کښېناست. شاه اشرف تر پاچا کېدو وروسته ډېر زیار وکېښ چې د شاه محمود د وروستیو وختو د کړو وړو نه ځورېدلي خلک دلاسا او پخلا کړي او پدې برخه کې پوره بریالی شو. خو دی د یوې خوا د روسانو او ترکانو د سیخ یرغل او د بلې خوا د پارس د کورنیو مخالفینو لکه شاه زوی طهماسب میرزا او نادر افشار سره مخامخ شو. برسېره پردې د شاه محمود وژل په کندهار کې د شاه حسین هوتک له خوا د عبدالعزیز د غچ اخېستلو په بڼه وګڼل شو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار نه هم ورسره مرسته ونه شوه. پدغو شرایطو کې هم ده وکولی شول چې د خپل جنګي مهارت او پخې ډیپلوماسۍ له مخې د پارس د خاورې د ساتنې په منظور روسیه او ترکیه دواړه پخپل ځای کښېنوي. افغانانو ترکانو ته د ماتې ورکولو په پایله کې د ۱۷۲۷ کال په همدان کې د دواړو لورو ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شو د دعه تړون له مخې ترکانو اشرف هوتک د پارس قانوني پاچا په توګه وپېژندلو او شاه اشرف په پارس کې د ترکانو سوبې په رسمیت وپېژندلې او عثماني سلطان یې د خلیفه واقعي ځای ناستی او د مسلمانو د مشر په توګه ومانه. همدارنګه شاه اشرف روسانو ته هم ماتې ورکړه چې د هغې په پایله کې روسان اړ شول چې د دواړو لورو تر منځ د سولې تړون لاسلیک کړي. دلته لازمه ګڼم چې د شاه اشرف د پخې ډیپلوماسۍ د روښانولو لپاره د روسیې د حکومت او د پښتون شاه اشرف د نماینده ګانو تر منځ د سولې تړون چې د ګیلان د رشت په ښار کې د ۱۷۲۸ کال د فبروري د میاشتې په دیارلسمه نېټه لاسلیک شو لوستونکو ته وړاندې کړم چې متن یې د لینینګراد د ارشیف د روسي متن نه محمد ولي ځلمي تهیه کړی دی.

«د لوی او بخښونکي خدای په نامه دا لاندې موافقتنامه اعلانېږي:-

د اعلیحضرت دوهم پېتر چې د ټولې روسیې امپراتور او د خزر د سمندر په غاړه ایالاتو مالک دی له خپل مقابل لوري اعلیحضرت شاه اشرف چې د ایران [پارس] پاچا او د ډېرو مځکو خاوند دی د سولې دا تړون کېږي. څنګه چې مونږ ګاونډیان یو او غواړو چې د نظامي شخړو د حل د پاره د وسلې پر ځای له خبرو څخه کار واخلو. د خبرو د اعلیحضرت دوهم پېتر د ټولې روسیې له خوا علي جناب ستر جنرال واسیلي لیواچوف د سنټ الګزاندر د نښان درلودونکی او د خزر سمندر ساحلي ولایاتو لکه ګیلان، مازندران او استر اباد د ټولو روسي قواوو قوماندان او د اعلیحضرت شاه اشرف د ایران [پارس] ستر پاچا او د ډېرو مځکو خاوند له خوا د افغاني اردو ستر سپاسالار



او ډېر محترم سیدال خان بیګلر بیګي او ډېر درانه عالی جنابان مستوفي عالي خاصه میرزا محمد، اسمعیل عمر سلطان او حاجي محمد ابراهیم وټاکل سول، چې د دې سترو دولتو او د هغو د اتباعو له خوا یې په اتفاق سره سوله د دواړه خواوو تر منځ ګټوره بللې ده او دایمي او حقیقي یووالی لازم بولي، د دوستۍ دایمي تړون یې منلی دی.

۱-ټولې هغه مځکې او ښارونه له ټولو متعلقاتو سره یې چې په ایران [پارس] کې له طرفینو سره ضمیمه دي ، هغه ځایونه چې پخوا یې سرحد ټاکل شوی، څه هغه ځایونه چې اوس یې سرحد ټاکل شوی، د دریمې مادې سره سم تر ابده پورې له طرفینو سره تړلي دي.

۲-اعلیحضرت د ټولې روسیې امپراتورد خپل دولت له خوا اراده کړې ده چې د استر اباد، ګیلان او مازندران ولایتونه چې ساحلي ولایتونه دي، د هغې زړې دوستۍ له کبله چې امپراتور یې له ایران [پارس] سره لري، ایران [پارس] ته ورپرېږدي پدې شرط چې دا ولایات به په هېڅ ډول بل دولت ته نه پرېښودل کېږي. او که له دې شرط سره بې اعتنایي وشوه نو یاد شوي ولایتونه به سره له ټولو متعلقاتو یې د دوهم ځل له پاره روسیه تصرف کوي، او تر ابده پورې به د روسیې نه بېلېدونکې برخې وګرځي او دا تړون به لغوه کېږي.

۳-د دواړو خواو سرحدونه به پدې ډول وي (چې په تفصیل ذکر سوي او مورځنې تېرېږو.).

۴-له معمول سره سم سفیران او مختار وزیران او هغه کسان چې د طرفینو له خوا لېږل کېږي تر هر څه د مخه به نظامي قوماندانانو ته خبر ورکول کېږي چې له معموله تشریفاتو سره د دوی درناوی او ساتنه وکړي او د ورسپارل سوو وظیفو تر پایه به یې حفاظت کوي.

۵-په هغو دوستانه لیکنو کې چې طرفین معظمین یې یو بل ته لېږي دغه موجود القاب او عناوین معتبر دي، که دا ملکین معظمین له دواړو خواوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه په خپلو القابو کې د څه زیاتوالي اراده وکړي، باید باوري اساس ولري هېڅ یو اړخ حق نه لري، هغه مځکې چې وېش یې سوی دی په خپلو القابو کې راولي او یا نوې سکه ووهي.

٦-هغه دعوې او شخړې چې د سرحدي علاقو او د سرحدي اوسېدونکو تر منځ پېښېږي باید سرحدي قوماندانان یې په ښه توګه حل او فصل کړي، زموږ سوی اتحاد له هر ډول اختلافونو څخه خوندي پاتې سي، پدې کار کې طرفین بشپړ واک لري.

٧-که د طرفینو له سیمو څخه له یوې خوا څخه بلې ته وروتښتي تښتېدلی سړی باید د خپلې دارایې سره بېر ته خپلې خوا ته وسپارل سي، هېڅ خوا حق نه لري چې تښتېدلي خلک تر خپلې حمایې لاندې ونیسي.

٨-د دواړو خواوو د سوداګرو د ګټې په غرض هر ډول مالونه په ازاده توګه یو د بل علاقو ته په وچه او څه په سمندر وړل او راوړل کیږي او له پخواني معمول سره سم به محصول ځنې اخېستل کیږي د دواړو هېوادو اتباع حق لري یو د بل وطن کې د خپلو مالونو د خوندي کولو له پاره کاروان سرایونه جوړ کړي، یو د بل ملک کې چې وغواړي ازاد سفر وکړي او هم یو د بل له ملکه په ازاده توګه دریم هېواد ته مالونه تېر کړي، او هم یو د بل رعایه، یو د بل ملکو کې استوګنه غوره کړي.

٩-که چېرې د طرفینو په هېوادو کې د یو بل سوداګر مړ سي، مال او دارایي یې پاته سي باید مال او دارایي یې خوندي وساتل سي، تر څو چې قانوني وارث یې یا دربار ور معرفي کړي یا یو د بل مملکت قانوني سند ورکړي، بیا یې دې قانوني وارث ته بې زیانه وسپاري.

١٠-دا غوره ترون چې خدای تعالی په هغه خوښ دی او ښه اتحاد یې راوستی دی، د دې د پاره چې تر ابده خوندي پاته سي، د دواړو خواوو په مهرونو ښکلی کړای سي او دوې نسخې به په یو ډول کښلې کیږي او یو و بل ته سپارل کیږي، د دې ټاکلو واکمنو استاځو له خوا چې بشپړ اختیارات



لري مهر او لاس لیک تصدیق کیږي او یو بل ته سپارل کیږي.

ګیلان-درشت ښار ۱۸۲۷ د فبروري ۱۳»۱۳۲

محمد ولي ځلمی پخپل کتاب کې چې «د افغانستان او روسیې د سیاسي روابطو تاریخچه نومیږي» دغه ترون د افغانستان او روسیې تر منځ د ډیپلوماتیکو اړیکو پیل ګڼي.

شاه اشرف د روسیې او ترکیې سره په جګړو کې زیات افغانان د لاسه ورکړل او په پوځ کې پردي خلک زیات وو نو په پای کې یې ماتې وخوړه او دابراهیم بلوچ له خوا د دېرشو کالو په منګ ووژل شو او په پارس کې د پښتنو واک پای ته ورسېد.

## د شاه حسین هوتک واکمني

شاه محمود هوتک کله چې په ۱۱۳۸ کې د پارس د نیولو په موخه د کندهار نه روان شو نو د کندهار تخت یې خپل کشر-ورور شاه حسین هوتک ته وسپاره. دغه مېړني، پوهنپال، او ادبپال پاچا له غزني نه تر سیستان او هراته د ژوب، ګومل او دېره جاتو پورې په عدل او انصاف واک وچلوه. د ده مېړنتوب د نادر د نیواک ګرو پوځونو سره د کندهار په ساتنه کې چې د یوه کال نه یې زیات وخت ونیو په ډاګه شو او تلپاتې نوم یې وګاټه. دی چې د ملا یارمحمد نه زده کړې کړې وې د پوهنې، شعر او ادب سره یې ډېره مینه درلوده. ده د خپلې پاچاهۍ په دوران کې د نارنج په ماڼۍ کې د پوهانو، شاعرانو او ادیبانو غونډې رابللې او یو کتابتون جوړ کړی و. د کندهار د نسکورېدو سره شاه حسین هوتک چې د یوه کال مقاومت نه وروسته نادر افشار ته تسلیم شو.د نادر افشار له خوا دی او د هوتکیانو نور نامتو کسان پارس ته ولېږل شول او هلته د نادر افشار په امر په زهرو ووژل شو. روح د ښاد وي. پدې توګه د هوتکیانو دېرش کلنه وکمني پای ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هوتکیانو په دوره کې پښتو ژبه

اوس به وګورو چې هوتکیانو د خپلې دېرش کلنې واکمنۍ پر مهال پښتو ژبې ته څه کړي دي.

د روښان پیر او خوشال بابا وسله والو او فرهنګي مبارزو د هوتکیانو په وسله والې او فرهنګي مبارزې خپل ژور اغېز اچولی و. د هوتکو په دوران کې د خوشال او د ده د کورنۍ او پیروانو اثار، د پښتونخوا په ګوټ ګوټ کې د رحمان بابا د شاعرۍ انګازې او د حمید بابا او د هغه پیراوانو او په ځانګړې توګه کاظم خان شیدا چې په خپله شاعرۍ کې هندي سبک ته پراختیا ورکوله ارزښتمن اثار موجود وو. هوتکیانو هم فرهنګې چارو او په ځانګړې توګه پښتو ژبې او ادب ته د قدر وړ خدمتونه وکړل.

د مخه مو د هوتک بابا او د هغه زوی ملکیار د شعرونو یادونه وکړه. د هوتکو په ټبر کې د پښتو ژبې نامتو شاعره او پوهه ښځه د میرویس خان مور د سلطان ملخي توخي لور نازو انا وه. میرویس خان د دې پوهې او زړورې ښځې زوی و. د پلار د مړینې وروسته، د دې مېرمنې پر غاړه د خپلې کورنۍ د چارو اداره او خپل ولس مشرتوب ولوېد. نازو انا یو د شعر دیوان درلود چې دوه زره بیتونه لري او لاندې رباعي یې په پټه خزانه کې خوندي ده:

سحرګه وه، د نرګس لیمه لانده
څاڅکي څاڅکي یې له سترګو څڅېده
ما ویل څه دي، کښلی ګله ولې ژاړې
ده ویل ژوند مې دئ یوه خوله خندېده۱۳۳

میرویس نیکه، شاه محمود هوتک، شاه حسین هوتک او شاه اشرف هوتک د پښتو ژبې او پښتو ادب ودې ته پام اړولی وو. د دې دورې لوړو شخصیتونو لکه لوی جنرال سیدال ناصر، بابوجان بابي، ملا زغفران، بهادرخان، ملا



پیرمحمد میاجي، داودخان هوتک، مېرمن زینبه او نورو په پښتو ژبه لیکنې او شاعري کوله.

د مخه مو یادونه وکړه چې هوتکیانو د نورو پښتنو سره په ګډه د صفوي یرغلونو په وړاندې د خپل وطن د ساتنې تر څنګه فرهنګي چارو ته پاملرنه وکړه. شاه محمود هوتک د اصفهان د بري وروسته په ۱۷۲۲ کال کې یو فرمان په شپړو مادو کې خپور کړ چې په دریمه ماده کې راغلي دي:«شیعه ګان دې شیعه وي او سنیان دې سنیان وي. موږ نه پوهېږو چې خدای (ج) به د چا راضي وي»۱۳۴ د فرمان دا ماده ښیي چې ده څومره پراخ نظر درلود. د هوتکیانو په دوره کې په لسګونو پښتانه پوهان، شاعران او مولفین منځ ته راغلل چې اوس به په لنډ ډول د دې دورې لیکوال د پټې خزانې، د عبدالروف بېنوا د کتاب «هوتکیان»، د معصوم هوتک د کتاب «سل پګړۍ او یو پړونی» او نورو نه دګتې اخېستنې له مخې دروپېژنم

پوهه پالونکی پاچا شاه حسین هوتک، چې پخپله یو عالم او ادیب شخص و، د کندهار نارنج شاهي ماڼۍ کې په اونۍ کې یو ځل ادبي غونډې رابللې. د ده په لارښونه د پټې خزانې ارزښتناک کتاب او نور اثار ولیکل شول.د ده په امر پېښور ته کاتبان ولېږل شول چې د رحمان بابا له دیوان نه څو نسخې تیارې او کندهار ته یې راوړي. دی پخپله شاعر و او یو مرتب او بشپړ دیوان یې درلود. چې د شعر نمونه یې دا ده:

بېلتانه دې د غمو په چپاو چور کړم
په تیارو کې د هجران یې له تا دور کړم
بېلتانه دې هسې اوښکې راخپرې کړې
ستا د فکر په ګرداب کې تل عبور کړم
د فراق پرې مې کښېوت و مرۍ ته
په جهان کې یې رسوا لکه منصور کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وصال دې هم ناښاد یمه دلبرې!
د ښلتون فکر په زړه کې ناصبور کړم
د باڼو غشی مې وخوړ په ځګر کې
غمازانو په غمزو غمزو مهجور کړم
خلق یاد زما، د عشق په لېونو کې
زه «حسین» محبت هسې مشهور کړم۱۳۵

محمد هوتک د شاه حسین د دربار ادبي لیکوال و چې د شاه حسین په امر او لارښوونه یې د پټې خزانې نامتو کتاب ولیکه. نوموړي د پټې خزانې برسېره درې کتابونه (خلاصته فصاحت)، (خلاصته الطب) او د شعر دیوان لیکلي دي.د ده د شعر بېلګه دا ده:

ساقي پاڅه د سرو ملو ډک یو جام را
ستا له غمه نا‌ارام یم ارام را
بېله میو د بهار ننداري څه کړم؟
پسرلی سو د خوښی ښه پیغام را
نه نشاط سته، نه مستي سته،نه رندي سته
«محمد» ته د اور ډک یو هسې جام را ۱۳٦

ریدي خان مومند د هوتکو د دورې له لویو ادیبانو او پوهانو نه و. دی د میروېس خان نږدې ملګری و. ده په پښتو ژبه کې لومړی شاهنامه (محمودنامه) ولیکله چې څلور زره بیتونه یې درلودل چې شاه حسین یو زر طلاوې د انعام په توګه ورکړې او بیا ورکه شوه. خو د هغې ځینې برخې په پټه خزانه کې خوندي دي. ریدي خان مومند د محمودنامې برسېره د غزلو، مثنوي او رباعیاتو یو بشپړ دیوان هم درلود. د شعر بېلګه یې دا ده:



چې میرخان تلل اصفهان ته و نه
مخ یې مکې د پاک سبحان ته و نه
پاچا تې عرض کړ ټول اقوال د پښتون
د ګورګین ظلم بد احوال د پښتون۱۳۷

با بو جان بابي نه یوازې د تورې سړی و بلکې د پښتو ژبې شاعر هم و. ده په ۱۱۲۹ کال کې د (شها او ګلان) نامتو کیسه د «قصص العاشقین» په نامه په پښتو نظم کړه د ده د شعر بېلګه:

عشق یو هسې توریالی دی
چې پر هر ځای یې بری دی
د عشق اور هسې سوزان دی
چې سوځلی یې جهان دی
زړه بې عشقه کله زړه دی
چه بې عشقه زړه د مړه دی۱۳۸

پیرمحمد میاجي د هوتکي دورې نامتو پوه او روحاني شخصیت و او د میروېس خان له خوا د لومړی جوړې شوې ملي جرګې غړی هم و او د میروېس خان په ټولو هڅو کې ګډ و. دی په اصفهان کې د شاه محمود هوتک او بیا د شاه اشرف هوتک مرشد او مشاور و. دی شاعر او لیکوال هم و چې د (افضل الطریق) او (الفرایض فی رد الروافض) کتابونه په پښتو کښلي او بل کتاب یې نظم دی. د شعر بېلګه یې دا ده:

شیخ متي چې خلیلي و
دی له آره لوی والي و۱۳۹

بي بي زینب د میروېس خان پوهه او ادیبه لور وه. نوموړې له خپل کورني ښوونکي ملا نورمحمد نه زده کړې وکړې او بیا یې پخپله د کورنۍ د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوونکې دنده په غاړه واخېسته. دې د خپل پلار د مړینې وروسته د هېواد په چارو کې د خپلو وروڼو سره په ګډه لویه ونډه واخېسته. دې به د خپل پوهې خوښوونکي او ادبپال ورور شاه حسین سره تل د هېواد د ستونزو په هوارولو کې خپل رایه ورکوله. د نادر افشار له خوا د کندهار د محاصرې په مهال د خپل ورور سره اوږه پر اوږه د ښار ساتنه کوله. د کندهار د محاصرې د پای ته رسېدو وروسته مېرمن زینب د یو شمېر مشرانو سره یو ځای د د نادرافشار سره د سولې په خبرو اترو کې برخه واخېسته. برسېره پردې د پښتو ژبې شاعره هم وه. د شعر بېلګه یې دا ده:

ږغ سو چې ورور تېر له دنیا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا
زړه مې په ویر کې مبتلا سونا
چې شاه محمود له ما جلا سونا
دا روڼ جهان راته تورتم دی نا
زړه د بیلتون په تیغ کړم دی نا
هوتک غمجن په ډېر ماتم دی نا
د پاچاهۍ تاج مو برهم دی نا
چې شاه محمود تېر له دنیا سو نا
کندهار واړه په ژاړه سو نا[۱۴۰]

ملا زعفران تره کي د هوتکیانو د دورې یو ستر پوه و چې د شاه حسین د دربار سیاسي مشاور او هم د شاه حسین د زوی محمد استاد و. نوموړي په طب او حکمت کې یې د (ګلدسته زعفران) په نوم کتاب لیکلی دی. دی د شاه حسین د سفیر په توګه نادرافشار ته لېږل شوی و چې د دواړو خواوو بندیان سره تبادله کړي. بدې ترتیب ملا زعفران یو سیاسي شخصیت هم و. دی برسېره پردې د پښتو ژبې شاعر هم و چې بېلګه یې دا ده:



د حسین بادشاه د بخت ننداره ګورئ
چې یې فتح په لښکرو ژوب او شال کا
چې دا زیری یې راوړی دی حضور ته
نو زعفران انعام پر سر زعفراني شال کا[۱۴۱]

د هوتکیانو د دورې نامتو سپاسالار سیدال خان ناصر و چې د هوتکو د دورې د ازادۍ بخوښونکي نهضت د پیل نه د هوتکیانو د شاهنشاهۍ او واکمنۍ تر نسکورېدو پورې یې د تېرې کوونکو سره په زړورتیا جګړې کړې دي. ده د کندهار د کلابندی په مهال د شاه حسین د زوی محمد سره یو ځای د کلات د کلا د ساتلو دنده په غاړه درلوده چې په پای کې د نادر افشار له خوا دواړه ونیول شول او سیدال خان ناصر یې د دواړو سترګو د لیدو د خواږو نه بې برخې کړ. په دې ترتیب د سترګو د ړندولو دود د پارس نه موږ ته راغی لکه چې د مخه د مغولو نه راغلی و. دی برسېره پردې د پښتو ژبې شاعر هم و. د شعر بېلګه یې دا ده:

یار ما له هسې ګران سو
را تېر تر ټول جهان سو
نور نه وینم په سترګو
جهان ټول راته جانان سو[۱۴۲]

محمد صدیق پوپلزی د هوتکو د دورې د ځوانو شاعرانو نه و چې د مینې شاعري یې کړې او د شعر بېلګه یې دا ده:

لکه بلبل چې بې له ګله بل ارمان نه لري
هسې بې یاره بله هیله عاشقان نه لري[۱۴۳]

بهادرخان د شاه حسین هوتک د ځواکونو سالار و چې د شال او ژوب بری د ده د نوم سره تړاو لري او د میروېس خان له خوا د جوړې شوې ملي جرګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړی و. ده د پوهانو او ادیبانو سره مینه درلوده او پخپله شاعر و. د شعر بېلګه يې دا ده:

بيلتون دې زور دی تر ليمو مې سهار نم څاڅي
لکه شبنم څاڅي

دا سره ياقوت مې په لمن کې ستا په غم څاڅي
په غم الم څاڅي

ګوره ليلی باران د اوښو ستا په چم څاڅي
څنګه پر چم څاڅي۱۴۴

داود خان هوتک د محمد هوتک پلار او د ميروېس نيکه د جنګي سالارانو نه و. دی د پښتو ژبې شاعر هم و. د شعر بېلګه يې دا ده:

چې د چا په زړه کې اور د مينې بل سي
په اوربل يې لمبې ګډې حال يې بل سي
اور د مينې که مري د زړه له مينې
د اوربل مينه که تل د زړه په تل سي۱۴۵

الله يار اپريدی د هوتکيانو د دورې يو شاعر دی چې د شعر ديوان يې درلود او د شعر بېلګه يې دا ده:

چې ستا په غم کې بنديوان يم را بهر به نه شم
د بيلتون اوښې تويومه بې پرهر به نه شم۱۴۶

باز توخي د نامتو محمد هوتک ملګری او د دې دورې د پوهانو او شاعرانو نه دی چې د شعر بېلګه يې دا ده:



راسه پر څنګ، راسه ليلی ولې له ما کړې بيلتون
دا ستا له غمه مې زړګی دی په سرو وينو ګلګون۱۴۷

مخمد اياز هم د هوتکيانو د دورې شاعر و چې د شعر ديوان يې درلود او د شعر بېلګه يې دا ده:

زړه هغه دی چې لري د عرفان برخه
دغه ښه ده په دنيا د انسان برخه
هغه زړه چې نه يې مهر، نه عرفان وي
ورې په ژوند کې د ناڅيزه انسان برخه۱۴۸

نصرالله خان اندړ د هوتکو د دورې د شاعرانو نه و. ده د شعر ديوان درلود او د نصر په تخلص يې خپل شعرونه ويل.

د مينانو وصال عين لوی اختر دی نا
يو خو خوار «نصر» له خپل بخته مرور دی نا
د بيلتون اور دی چه په سوی درست ځيګر دی نا
هېڅ نه جوړېږي د بيلتون کاري پرهر دی نا۱۴۹

د پښتو ژبې دوهمه شاهنامه چې «جګړه د محمود افغان، نيول د اصفهان» په نامه يادېږي محمد امين سرپرېکړي چې هغه وخت د شپږ دېرشو کالو و، په پښتو نثر ليکلې چې د پېښې بيان په پښتو ږغونو او نارو بدرګه کيږي. محمد امين په ۱۱۳۵ کال کې د شاه محمود هوتک سره د اصفهان د نيولو په جګړه کې مل و. دی د حبيب الله رفيع د څېړنې له مخې مرانې او په ناصرو کې ميشت و او د ارسلاخان ناصر تر بيرغ لاندې اصفهان ته تللی و. د ده د کتاب په هکله د ده زوی حافظ نورمحمد ليکلي دي: «ده مبارک چې حال د دې جګړې پخپله ليدلی و، نو وړوکی کتاب په ژبه خواږه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو کې په حال د دې جگړې لیکلی و او نوم د دې کتاب (جگړه د محمود افغان، نیول د اصفهان) دی. حق دا دی چې ډېر رښتینی بیان دی او دا کتاب په زړیو د پښتنو له جهته د بدلو د قومو قیمتي دی او نر و ښځې او کم او لوی یې خواهشتي دي»۱۵۰. د هېواد مل په وینا د محمدامین سرپرېکړي شعرونه استاد رشاد پیدا کړي دي.

برسېره پردې محمد حافظ واعظ بارکزی د هوتکو د دورې د پوهانو او واعظانو نه و. ده په پښتو ژبه شعر وایه او یو کتاب یې د (تحفه واعظ) په نامه په پښتو ژبه لیکلی دی.

همدارنگه عبدالطیف اڅکزی د شاه حسین د مهال وتلی پوه او شاعر و چې د «سوی او اوښ» کیسه یې په شعر لیکلې او په پټې خزانې کې خوندي ده. نورمحمد توخي د ملا یار محمد خان زوی هم د هوتکیانو د دورې نامتو پوهانو او ښوونکو نه و. پنځه کاله په هوتکي شاهي کورنۍ کې خصوصي ښوونکی و. د شاهي کورنۍ ښځو، زامنو او نجونو ته سبق وایه. یو کتاب یې د (نافع المسلمین) په نامه لیکلی او د پښتو ژبې شاعر هم و. محمد طاهر جمریانی هم د هوتکو د دورې پښتون شاعر و. همدارنگه محمد عادل برېڅ د هوتکو د دورې د پوهانو نه و چې د (محاسن الصلوات) په نوم یې کتاب لیکلی و. دی برسېره پردې شاعر هم و. بل سړی محمد فاضل برېڅ د هوتکیانو د دورې له پوهانو څخه و چې د «روضه رباني» په نامه کتاب لري. محمد نور برېڅ هم د هوتکو د دورې له پوهانو څخه و او محمد هوتک وایي چې د پښتو ژبې شاعر هم و. همدارنگه محمدیونس توخي د کندهار د جامع جومات ملا امام او د (جامع الفرایض) په نامه کتاب لري چې په پښتو ژبه یې لیکلی دی. یارمحمد هوتک د هوتکیانو د دورې له پوهانو او ښوونکو نه و. د شاه حسین هوتک استاد و شاه حسین هوتک به ده ته خپل شعرونه ورکول چې نیمگړتیاوې یې په گوته او سمې کړي.بل کتاب چې د هوتکیانو په دوران پورې اړه لري د حافظ نورمحمد



عشقي کیسه ده چې (قصه د برېښنا یا خدۍ) نومیږي، چې د خپل پلار په پله رهي شوی، په ۱۲۰۴ ه ق کې لیکلې ده.چې خطي نسخه یې حبیب الله رفیع سره خوندي ده. پدې توگه د هوتکو واکمنو په پښتو ویناوې او لیکنې کولې او د هوتکو دولت د پښتو ودې او پراختیا ته د قدر وړ چوپړ کړی دی. پښتو د هوتکو په دوره کې د رسمي او دفتري ژبې حثیت درلود او د دربار ژبه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوولسم څپرکی

# سدوزیان او پښتو ژبه

## احمدشاه بابا

درانیانو هغه مهال، چې په کندهار کې د میرویس خان هوتک په مشرۍ د لومړي افغان دولت بنسټ کېښودل شو، په هرات کې ابدالي دولت جوړ کړو چې وروسته دواړه دولتونه د نادر افشار له خوا ړنګ شول او ټول افغانستان یې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوست. خو کله چې نادر افشار د پارس په خبوشان کې ووژل شو نو احمد خان، چې د نادر افشار د ګارد افسر او د هغه د کورنۍ د ساتنې دنده ور په غاړه وه او د نادر افشار د باور وړ او د افغانانو د پوځي ټولګي د قوماندان مرستیال و د نادر افشار د کورنۍ عزت یې د پارسیانو د تېري نه وژغوره. د نادر افشار مېرمنې د احمد خان د دې کارنامې د قدردانۍ په خاطر د «کوه نور» په نامه د نړۍ تر ټولو نامتو الماس ده ته ورکړ. محمد اعظم سیستاني د انجنر کهکدای د لیکنې پر بنسټ وایي چې دغه د کوه نور الماس مغولي بابر د ابراهیم لودي د مېرمنې او مور نه په زور اخېستی و.۱۵۱ او بیا نادر افشار د مغول واکمن محمدشاه ګورګاني نه واخېست. او لکه چې د مخه مې یادونه وکړه د نادر افشار مېرمنې احمد خان ابدالي ته وبخښه چې وروسته د شاه شجاع نه رنجیت سنګ او د رنجیت سنګ نه انګرېزانو لاسته راوړ چې اوس د انګلستان ملکې تاج پرې ښکلی شوی دی.

د نادرشاه افشار د وژلو وروسته احمدخان بېرته د خپلو ملګرو سره کندهار



ته راوګرزېد. دلته پښتنو مشرانو چې د نادر افشار په واکمنۍ کې یې پوره سیاسي تجربه تر لاسه کړې وه پرېکړه وکړه چې خپل هېواد خپلواک کړي. دوی په ۱۷۴۷ کال کې د کندهار په شیر سرخ کې سره جرګه شول او د نهو ورځو نه وروسته د صابر شا پیر په وړاندیز احمد خان د افغانستان د پاچا په توګه وټاکل شو. پدې ترتیب د نوي افغانستان بنسټ کېښودل شو.

د احمد شاه لومړی موخه دا وه چې د امو نه تر اباسینه خپلواک افغانستان جوړ کړي. د دې موخې د لاسته راوړلو لپاره غښتلي پوځ جوړولو ته اړتیا وه چې زیات لګښت پرته یې د جوړېدو شونتیا نه وه. هغه مهال د بې وزلې پښتنو نه دومره پیسې نه وې چې دا د اړتیا وړ مالیه ور څخه راټوله کړي. خو د ښه مرغه هغه خزانه چې د هند نه پارس ته روانه وه احمدشاه خپله کړه او ده ته یې د دې توان ورکړ چې یو غښتلی پوځ تنظیم کړي. احمد شاه د دغه پوځ په مرسته په لنډه موده کې وکړای شول چې د امو او اباسین تر منځ د هېواد خاوره د پارس د صفویانو، د هند د مغلو او ازبکانو له منګلو خلاصه او خپلواک افغانستان جوړ کړي. بیا یې د خپلو نورو لښکرکشیو په پایله کې په کشمیر، پنجاب، سند، بلوچستان او پارسي خراسان یا پخوانۍ پارتیه کې د واک په خپرولو سره امپراتوري تاسیس کړه.

احمد شاه دراني د ننه په هېواد کې خپلواک دولت تنظیم چې په سر کې یې دی پخپله د پاچا په توګه ودرېد. ایالتي اداره یې ولسي خانانو او مشرانو ته پرېښوده او دوی په کورنیو چارو کې ازاد وو. ځکه د ده د واکمنۍ په مهال د افغانستان په هېڅ سیمه کې د ده په وړاندې خلک پورته نه شول خو بیا هم ځینو جنرالانو غوښتل چې د ده په نشتوالي کې ګډوډۍ رامنځ ته کړي چې ځینې یې وځپل شول او ځینې پخلا کړای شول. د نور محمد خان علیزي، کدوخان او محبت خان پوپلزي دسیسه، د عبدالغني خان چې د احمدشاه بابا ماما و او د هغه د ملګرو دسیسه، په کندهار کې د سلطنت نایب لقمان خان د احمدشاه بابا وراره دسیسه، د هرات د والي درویش خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هزاره دسیسه او د نصیر خان بلوچ سرغړونه یې نمونې دي.
پدې ترتیب دی د پورته یادو شوو سترو کارونو په پایله کې د خپلو خلکو لـه خوا د بابا په نوم یادیږي او تلپاتې درناوی یې وګاټه.
خو لکه څنګه چې هره پدیده مثبت او منفي اړخونـه لـري نـو د ده د سـترو میراثونو په څنګ کې چـې مـوږ تـه یـې پـرې ایښـي دي ځینـې تېروتنـې هـم وکړې چې د ده له خوا جوړې شوې امپراتـورۍ او هـم پخپلـه افغانسـتان تـه یې ناوړه پایلې هم درلودې.
زما په فکر لومړۍ تېروتنه دا وه چې ده د پارس نه سیاسي ازادي وګټله خـو کلتـوري ازادي یـې ونـه ګټلـه. ده پـاړسي دفـتري ژبـه کـړه او پاړسـیوان یـې دفتري مامورین کړل. کله چې په ۱۱٦۷ کې احمدشاه بابا مشـهد تـه ننـووت د محمد تقی شیرازي نه غوښتي و چې د مـیرزا مهـدي اسـترابادي غونـدې یو تکړه تاریخ لیکونکی او د غونډې ګذارش لیکونکی ورته ومـومي. نومـوړي احمدشاه بابا ته محمود حسیني جامي ور وپېژاند. محمـود حسـیني جـامي چې د لوېدیځ خراسان د جام نه دی د نادر افشار په دودمـان کـې د منشـی توب دنده درلوده او د شاه رخ میرزا نـږدې کسـانو نـه و. همدارنګـه مـیرزا هادي خان قزلباش یې د دارالانشا مشر میرزا علي خـان رضـاخان قزلبـاش د اعلی دیوان مستوفي او د ټولې خزانې مشر۔یـې هنـدو التفـات خـان وټاکـل. پدې توګه پاړسو په افغانستان کې د دربار او هم د اقتصـاد د ژبـې پـه توګـه پاتې شوه .
بله تېروتنه یې دا وه چې ده منظم پوځ د غیرپښـتنو او پـه ځـانګړې توګـه د پارس د قزلباشانو نه جوړ کړ چې زما په اند د پارس پلوه شاه زوی تیمـور پـه واک راوسـتلو کـې یـې شـاید ټـاکونکی رول لوبـولی وي. قزلبـاش د ایـران د فرهنګي ښکېلاک یوه اغېزمنه وسیله شوه چې تر ننه دوام لري.
احمدشاه بابا لکه چې د مخه مې یادونه وکړه خپل ساتونکی ګارډ چې غـلام خانه نومېده د نادر افشار په دود چې خپل ساتونکی ګـارډ یـې د غیرپـارسي



قبیلو لکه افغانانو، بلوچو، ترکمنو او ازبکـانو نـه جـوړ و، د غـیر پښـتنو او پـه ځانګړې توګه د ایران د قزلباشـانو چـې د افغانسـتان پـه مهمـو ښـارو کـې د نادر افشار له خوا ځای په ځای شوي وو، جوړ کـړ. د پوهانـد ډاکټـر محمـد حسن کاکړ په وینا احمدشاه بابا «د حکومـت چـارې غـیر درانـي قومونـو تـه وسپارلې. منظم پوځ یې له غیر دراني قومونو یاني قزلباشانو نـه جـوړ و، دري یې د دفتر ژبه کړه او دري ویونکي افغانان یې دفـتري مـاموران شـول.»۱۵۲ همدارنګه محمداعظم سیستاني لیکي چې «همچنانکه پادشاه افشار بـرای دسته جات ګارد محافظ خود از قبایل غیر ایراني مثل افغان، بلـوچ، و ازبـک استفاده مېکرد. احمدشاه بابا نیز دسته غلامخانـه را از عنصر۔غـیر پشـتون تشکیل داد و سپاهیان تعلیم یافته و جنګ دیده قزلبـاش را کـه نـادر افشـار در کابل و پنجاب ګذاشته بـود، در ان داخـل نمـود.» ۱۵۳ کـه نـادر افشـار خپل ساتونکی ګارډ د غیر پارسي قبایلو نه جوړ و نو لامل یـې دا و چـې نـادر افشار ترکمن و او ترکمنو په پارس کې د خلکو لړه کی جوړولو او د پارسـیانو د وېـرې نـه یـې دا کـار کـړی و. خـو احمـد شـاه بابـا پښـتون او پښـتانه پـه افغانستان کې د خلکو ډېره کی جوړولو او خپل ساتونکی ګـارډ یـې بایـد پـه زیاته اندازه د پښتنو او نورو افغانانو نه جوړ کړی وای.

## احمدشاه بابا او پښتو ژبه

احمد شاه بابا داسې مهال واک ته ورسېد چې عمر یې پنځه ویشـت کالـه و. ده په پنځویشت کلنه واکمني کې لکه چې د مخه مې یادونـه وکـړه داسـې ستر کارونه وکړل چې نه یوازې افغانان بلکې نړیوال هم ورته ګوتـه پـه غـاښ دي. دغو سترو کارونو وخت غوښـته. احمـد شـاه بابـا د هېـواد ابـادۍ او د کلتوري پخو بنسټونو جوړولو ته پوره وخت ونه موند پدې ترتیب احمدشـاه بابا که څه هم پاړسو رسمي ژبه کړه خو بیا هم خپلـې مـورنۍ ژبـې پښـتو تـه بې توپیره نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي شاعر و او د خپل نیکه کامران خان غونډي چې کلید کامراني کتاب یې په پښتو لیکلی و خپل شعر په پښتو ژبه وواېه او نن یې خپلو پښتنو ته د شعر دیوان په نیکات پرې ایښی دی. د شعر نمونه یې دا ده:

د پېــزوان لــه پټــه تابــه یــم بــې هــوش
د سرو شــونډو لــه شرابــه یــم بــې هــوش
چې په خوب کې د خپـل یـار صـورت ووینـم
چـې راویښ شـم بیـا لـه خوابـه یـم بـې هـوش
چــې دې بــوی د کاکــل راغــی تــر دماغــه
ځکــه هســې مســت خرابــه یــم بــې هــوش
ستا د حسن په ګلزار کې مخمـور ناسـت یـم
زه بلبـــل د دې ګلابـــه یـــم بـــې هـــوش
چــې نســیم پــه ســهار بــوی د زلفــو راوړي
عنــدلیب غونــډې بــې تابــه یــم بــې هــوش
د بــورا پــه څېــر پــر بــوی د ګلــو راغلــم
د خــزان لــه پــېچ و تابــه یــم بــې هــوش
«احمدشاه» چې مې ځان ولیده حیران سوم
په خپل ځان کې له دې بابه یم بې هوش۱۵۴

بل د شیر سرخ د جرګې د پرېکړې له مخې چې د قضایي چارو د تنظیم په منظور دې شرعي قانون جوړ شي د کتاب په بڼه چې «فتوای احمدشاهي» نـومیږي پـه پښـتو ژبـه ولیکـل شـو او اوس هـم شـته. همدارنګـه قـاضي محمدغوث، چې د خان علوم لقب ورکړل شوی و، په پښتو ژبـه پـر تصـوف رسالې وکښلې.
برسېره پردې احمد شاه بابا د پښتو ژبې شـاعران پـه ځـان راټـول او د شـعر ویلو مجلسونه به جوړېدل او په دربار کې پښتو ژبه ویل کېده. ده هند ته د



خپلو لښکر کشیو په مهال د پښتو ژبې شاعر حـافظ ګـل محمـد مرغـزي تـه دنده سپارلې وه چې د پښتو ژبې دریمه شاهنامه یاني احمد شاهي شاهنامه ولیکي.

چــې فرمـــان د شـــهریار وه
چــې زیبــا ښــکلی ګفتــار وه
چــې حــافظ د شــاهنامه کــړه
پــه جهــان دې دا نامــه کــړه
د بادشـاه مـې حـال بیـان کـه
دا چـې سیر یـې د جهـان کـه
بهـــادر دی شـــیر افګـــن
تیغ یـې تېـر شـه تـر دکـن۱۵۵

حـافظ ګـل محمـد مرغـزی چـې د احمدشـاه بابـا پـه لښـکرو کـې شـامل و، احمدشاهي شاهنامه ولیکله چې یو ځل په جنګ کې د منځـه لاړه او بیـا یـې د سره ولیکله چې یوازینۍ مالومه خطي نسخه یې اوس پـه بـرېټش مـوزیم کې خوندي ده.

پـــــــه زبـــــــان دراني
شـــه بیـــان دی افغـــاني
د احمدشـــــــــاه در دران
یکــې حــال مــې کــړه بیــان
چــې کتــاب مــې شــه تیــار
پــــه تحریــــر زمــــا نګــــار
پـــه لښـــکر کـــې د سردار
پـــه تـــاراج شـــه د کفـــار
پــه څــو ورځــو وم خــاموش
بیا مـې شـعر راغـی پـه جـوش

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثنــې مــې شــاهنامه شــوه
بیا تازه مې دا خامـه شـوه۱۵٦

بـل سـړی چـې پـه دې مهـال یـې اثـار ایجـاد کـړي دي میـا شرف الکـوزی ننګرهاری دی. میـا شرف د پـاني پـټ پـه جګـړه کـې حـاضر و. د ده دیـوان ورک دی یوازې یې یوه قصیده او څو غزلې لاسته راغلې دي. برسېره پـردې د ده یو بل منظوم اثر د «برده قصیدې» پښتو منظومـه ژبـاړه شـته. دی یـو بـل منثـور کتـاب لـري چـې «پښـتو عـروض» نـومېږي او خطـي نسخه یـې ارواښاد مولانا ابوالوفا صاحب افغاني له حیدر اباد دکن نه پښتو ټـولنې تـه را استولې دی. د کلام نمونه یې دا ده:

سور ګل چې سحر وخت په جمال ستا کړ نسیم خور
ښایست د دې ګل بل کړ د بلبل په لـــــــمن اور۱۵۷

بل سړی علي اکبر اورکـزی دی چـې د دیـوان یـوازینۍ خطـي نسـخه یـې د ارمنستان د پلازمېنې ایریوان پـه ماتینـا داران کـې خونـدي ده چـې معتمـد شینواري او عبدالله بختاني هلته موندلې ده.
احمد شاه بابا ملا پیرمحمد کاکړ پخپله د پاچاهي کـورنۍ د غـړو د ښـوونې او روزنې په دنده ګمارلی و. ملا پیرمحمـد کـاکړ د پښـتو ژبـې د زده کـړې (درسي) لـومړنی کتـاب چـې «معرفتـه الافغـاني» نـومېږي لیکلـی دی. مـلا پیرمحمـد کـاکړ دا کتـاب خپـل شـاګرد شـهزاده سلېمان تـه د لنـډې دوه میاشتنۍ واکمنۍ (۱۱۸٦) په دوره کې وړاندې کړی و.
د اکاډمیسین کاندید محمد صدیق روهي په وینـا «د دې لپـاره دا کتـاب د پاچا حضور ته وړاندې شوی دی، چې د یوه داسې کتاب په توګه یې پر هغـو حاکمانو، مامورانو او درباریانو ولولي چې پښتو یې مـورنۍ ژبـه نـه ده ، .. او مجبور دي چې د ورځینیو اړتیاوو درفع کولـو لپـاره پښـتو زده کـړي.» ۱۵۸



ښاغلی حبیب الله رفیع هم وایي چې «دا اثر د دې لپاره لیکـل شـوی و، چـې درباریان، منشیان او میرزایان د پښتو جملو جوړول او لیکل زده کـړي او بیـا د همدې اثر په مرسته د دفتر او دربـار ټـولې چـارې پـه پښـتو راواړوي څـو پښتو د دفتر او دیوان ژبه شي او لکه د نورو ژبو غوندې د دربار په ملاتـړ او حمایت پراختیا او پرمختګ وکړي.»۱۵۹
پوهاند عبدالحی حبیبي وایي چې پدې عصر کې دا فکر پیدا شو چې د بېلـو بېلو علومو نه دې کتابونه په پښتو وژباړل شي.۱٦۰

## تیمور شاه او پښتو ژبه

تیمور په ۱۷۴۷ کال د جنوري په میاشت کې د خراسان د مازنـداران ولایـت کـې زیږېـدلی دی. تیمـور د سـتر احمدشـاه دوهـم زوی دی او مـور یـې د سامانیانو نه ده الفنستون وایي چې «دوی [سامانیان].لـړ تـر لـړه لـه هغـه وخـت نـه وروسـته هلتـه [پـه افغانسـتان کـې] اسـتوګن شـوي وي، چـې د سـامانیانو یـوې عـربي کـورنۍ پـه بخـارا بانـدې حکمـراني کولـه.»۱٦۱ د الفېنستون په وینا «د سامانیانو شمېر پـه افغانسـتان کـې کېـدای شي دوه زره کورنۍوي چې ځینو یې د کابل د بالاحصار د چاونۍ یوه برخه تشکیلوله او پـاتې یـې د کابـل او پېښـور تـر مـنځ پـه جـلال ابـاد کـې اوسېدل. دغـه وروستۍ یې ځانلـه د یـوه بېـل مشرـ تـر اداري لانـدې ده او دوی دومـره د عزت خاوند دي، چې د ده تېـرو پلرونـو لـور د احمدشـاه ښـځه د تیمورشـاه مور ده.»۱٦۲
د الفنسـتون پـورتنۍ تېروتنـه چـې سـامانیان یـې عـرب بللـي پوهانـد ډاکټـر محمد حسن کاکړ سمه کړې او سامانیان عرب نه بلکې اریایان دي.
احمدشـاه بابـا اتـه زامـن درلـودل چـې د بیلـو بیلـو مینـدو نـه وو. مشرـ یـې سلیمان او دوهم زوی یې تیمور نومېده او نـور یـې سـکندر، پروېـز، شـهاب، سنجر او داراب.تاریخ.ثبت کړي دي. تیمور چې مور یې د سامانیانو د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانفوذه کورنۍ نه وه خپل زوی یې د احمدشاه بابا د پاچاهۍ ځای ناستی ګاڼه او دې مېرمنې په خپل مېړه باندې هم زیات نفوذ درلود او هغه هم دې ټکي ته تیار و چې د دې زوی د خپل ځای ناستي په توګه ومني. د دې تر شا شاید نورو غښتلو لاسونو هم کار کاوه. داسې ښکاري چې د تیمور مور یوه غښتلې مېرمن وه چې دعزیزالدین وکیلي پوپلزي په وینا «والده تیمورشاه شهر هرات را مجدداً مرکز بزرګ نظامي و سیاسي افغانستان قرار داد و پسر یکنیم ساله خود تیمورشاه را بادشاه ان مملکت موروث اعلان نمود. و خود زمام امور سلطنت و حکومت را در دست ګرفت... مسکوکات نقره يي علیشاه افشار را از نو ګداخته بنام پسر- خود تیمورشاه مسکوک نمود.»۱٦۳

په هر صورت تاریخ پوهان پدې باور دي چې احمد شاه بابا تیمور خپل ځای ناستي په توګه ټاکلی و. خو په دربار کې د احمد شاه بابا د مشر- زوی سلیمان په پلوی ډېر کسان د صدراعظم شاه ولي خان په مشرۍ، چې د سلیمان خسر هم و، ولاړ وو. شاه ولي خان د ستراحمدشاه ښی لاس و چې په ۱۷۴۹ کې د ده په قوماندنۍ دشمال ټول ولایتونه بې له جګړې احمدشاهي مرکز ته تابع شول او خرقه شریفه یې هم د ځان سره راوړه.

د ابراهیم عطایي په وینا تیمور عیاش، سرزوری او بې پروا سړی و خو په زیاترو چارو کې تدبر او زړورتیا ښودله. که څه هم د استحقاق له مخې دا مقام د سلیمان حق و خو احمدشاه بابا د تیمور لیاقت ته ترجیح ورکړه او په ۱۷۷۳ م کې یې د دولت د لویو مشرانو په غونډه کې خپل ځای ناستی وټاکه.

په ۱۷۷۲ کال کې تیمور وروستی ځل د احمدشاه سره وکتل او بیا هرات ته ستون شو. عزیز الدین وکیلي وایي چې په دغه مهال احمدشاه وصیت لیک وکیښ او په هغه کې یې د تیمور د وراثت حق ښکاره کړ. خو وکیلي دغه سند چې په وینا یې د برخوردارخان اڅکزي د اولادې سره شته پخپله لیکنه



کې نه دی وړاندې کړی.

داسې ښکاري چې احمدشاه بابا د خپلو نورو زامنو د پوهنې او روزنې چارې په شعوري توګه پیرمحمد کاکړ ته سپارلې وې. سلیمان د خپل استاد له خوا دې ته چمتو شوی و چې ملي ژبه پښتو په درباریانو زده او بیا د هېواد رسمي ژبه شي. لکه چې د مخه مې یادونه وکړه په دربار کې پټه جګړه د واکنۍ پر سر روانه وه. پدې مبارزه کې یوه لوري ته د احمدشاه بابا صدراعظم شاه ولي خان چې په اخېري وخت کې احمدشاه بابا هم ورسره سر وخوځاوه او د هغه ملګري ولاړ و او د بلې خوا د هغه مخالفین لکه عبدالله خان پوپلزی (دیوان بیګي) او د پارس دولت د فرهنګي ښکېلاک پلویان چې د تیمورشاه د باچا کېدو په وجود کې یې د پارس اوږدمهاله ګټې ساتلی شوې، ولاړ وو. چې د بده مرغه د شاه ولي خان پلویانو ماته وکړه او تیمورشاه واک ته ورسېد او د پارس فرهنګي ښکېلاک یقیني شو چې تر ننه دوام لري او د پښتنو سیاسي خپلواکي یې هم ټکنۍ کړېده. نو د افضل خان لالا دا خبره، چې ما پخپله څو ځله ور څخه اورېدلې ده، سمه ده چې وایي چې پښتنو د پاړسیانو نه د افغانستان سیاسي خپلواکي وګټله خو کلتوري او فرهنګي ازادي یې تر لاسه نه کړه او یو وړوکی لړه کې د ډېره کې په نامه په پښتنو واک چلوي.

داسې ښکاري چې په پای کې احمد شاه بابا د خپل مدبر وزیر شاه ولي خان دا خبره ومنله چې د تیمور د باچا کولو سره مخالفت وکړي. دا مخالفت هغه مهال ښکاره شو چې تیمور د هرات نه د خپل رنځور پلار لیدو ته را روان و او احمدشاه بابا لیک ورواستاوه چې بېرته هرات ته وګرځي. محمد اعظم سیستاني لیکي چې تیمور«هنوز والي هرات بود که بیماري احمد شاه شدت ګرفت و به کوه های توبه که هوای سردتر داشت،رفت. تیمورشاه باری به عزم دیدار پدر تا حوالي هلمند رسید، مګر بفرمان احمدشاه دوباره مجبور شد بدون عیادت و دیدار پدر به هرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



برگردد.»۱٦۴

سید جمالدین افغان د تیمور خپلې خبرې داسې بیانوي: «پلار زه پخپل ژوند کې د ځان ولیعهد ټاکلی وم مگر وزیر یې د ځنکدن پر وخت دی واړاوه سلیمان یې زما پر ځای په ده ولیعهد وټاکه، لکه چې اوس د پاچهی ډول په کندهار کې د ده په نامه وهل کیږي ځان یې مروج کړی دی په تاسو کې څوک سته چې زما سره مرسته وکي څو له هغه معتصبه څخه خپل حق واخلم.»۱٦۵

د احمدشاه بابا د مړینې وروسته لوی وزیر شاولیخان د احمد شاه بابا د وروستۍ هوکړې سره سم سلیمان پاچا اعلان کړ. په دې کار د دربار مشران دوې ډلې شول. په دغه جریان کې عبدالله خان دیوان بیگي د تیمور په پلوي ودرېد. د ابراهیم عطایي په وینا عبدالله خان دیوان بیگي شاولي خان او د هغه زامن ونیول او لاس تړلي یې تیمور ته واستول او د فراه په یوه سیمه کې یې ووژل.۱٦٦ داسې ښکاري چې عبدالله خان دیوان بیگي د احمدشاه بابا د گارډ په مرسته چې د پارس د قزلباشانو نه جوړ و کودتا وکړه. دا هغه توره ورځ ده چې د احمد شاه بابا د امپراتورۍ، د اصلي افغانستان او په ځانگړې توگه د پښتنو د زوال د پیل ټکی شو چې تر ننه دوام لري.

د تیمور د بري یو لامل دا دی چې احمد شاه بابا د خپلې واکمنۍ د ساتلو تکیه په قزلباشانو کړې وه. دوهم داچې احمد شاه بابا هم د امیر شیرعلي خان غوندې دومره د تیمورشاه د مور تر اغېز لاندې و چې تر زیاته وخته یې تیمور ته برتري ورکوله دریم د تیمور تر شا شاید نورو غښتلو لاسو کار کاوه. تیمورشاه د دراني مشرانو د وېرې د کندهار نه مرکز کابل ته انتقال کړ او لوړ دولتي پوستونه یې غیر دراني کسانو ته ورکړل او په ښاري لړه کیو یې ډېره ولگوله.

پدې توگه تیمورشاه د درانیو مشران چې زیاته سیاسي تجربه ترلاسه کړې



وه د منځه یوړل او ان د احمدشاه بابا د جنگ وزیر جهان خان چې یو لوی شخصیت و هم د نظره وچاوه. د پښتنو بانفوذه کسان یې د واک نه لیرې وساتل او تیمورشاه شیخ عبدالطیف جامي هروي خپل وزیر وټاکه. د خزانو چارې یې الطاف خان هندي ته وسپارلې او په دربار کې یې هم د پښتو پرځای فارسي رواج کړه. پدې ترتیب د پارس فرهنگي ښکېلاک یقیني شو او تر ننه دوام لري. لکه چې مې د مخه هم یادونه وکړه لرغونو رومیانو به ویل، چې په یوه هېواد کې هغه څوک حاکم دی، چې ژبه یې حاکمه وي پدې توگه په عمل کې پارسیان چې ژبه یې واکمنه پاتې شوه واکمن پاتې شول.

تیمورشاه دولس زره عسکر (غلام خانه) د محمد خان بیات تر قوماندنۍ لاندې ورکړل چې د ده امنیت وساتي. ده قاضي فیض الله خان دولت شاهي خپل مشاور وټاکه ولې پوره باور یې پرې نه کاوه.

د تیمورشاه دغه گامونه د دې لامل شو چې درانیو او نورو پښتنو د ده پر ضد پاڅونونه وکړل چې مهم یې دا دي:

## د عبدالخالق خان پاڅون

د تیمور شاه پرضد د احمد شاه د تره عبدالخالق خان پاڅون د درانیو او نورو پښتنو لومړی غبرگون دی. د عبدالخالق خان د سنگر ملگرو سردار پاینده خان او سردار دلاور خان اسحق زي د جگړې د پیل نه د مخه د ده نه جلا او د تیمور په پلوي ودرېدل دغو سردرانو شاید د تیمورشاه له خوا نه د زیاتو امتیازاتو په منلو سره خپل دریځ بدل کړی وي سردار پاینده خان یوه مېرمن قزالباشه او د امیر دوست محمد خان مور وه. د دې شونتیا شته چې تیمور شاه پاینده خان د خپل اخشي جوانشیر په مرسته تطمیع کړی وي لکه چې وروسته سردار پاینده خان د شاه زمان پر ضد کودتا کې د خپل اخشي جوانشیر سره یو ځای گډون درلود. خو څنگه چې سردار پاینده خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تیمور شاه په بریالیتوب کې ټاکونکی رول ولوباوه نو «تیمور شاه سردار پاینده خان د «سرفراز خان» او سردار دلاور خان یې د «مدد خان» په لقبونو ونازول.»۱۶۷

## د پېښور پاڅون

فیض الله خان په ۱۷۷۶ کال په ژمي کې چې تیمورشاه په پېښور کې و د ده د رانسکورېدو او پر ځای یې د احمد شاه بابا زوی سکندر، چې د پېښور والي و، واک ته رسولو په موخه د صاحب زاده څمکني په سلا او ارسلا خان مومند په همکاری یو پلان جوړ کړ. پدې وخت کې سیکانو سرغړونه پیل کړی وه. فیض الله خان د پاچا نه د سیکانو دټکولو لپاره د لښکر د جوړولو اجازه واخېسته. هغه مهال چې لښکر جوړ شو فیض الله پدې پلمه لښکر د پېښور د ارگ په لور روان کړو چې تیمور شاه یې وگوري. فیض الله د ارگ ساتونکی گارډ د منځه یووړ او په ارگ یې برید وکړ او نږدې و چې د تیمور کار پای ته ورسوي پدغه وخت کې تیمور په بیړه د ماڼۍ لوړ پوړ ته ځان ورساوه او خپلو ساتونکو ته یې د مقاومت امر وکړ. د تیمور ساتونکو چې د قزالباشانو د منظم پوځ نه جوړ و، په جگړې لاس پورې کړ او د فیض الله نامنظم لښکر ته یې زیات د سر زیان واړولو او ماتې وکړه. فیض الله خان او زوی یې ووژل او وروسته یې ارسلا خان مومند هم زندی کړ.

تیمورشاه په پای کې دا پاڅونونه د بهرنیو تیریو په شمول وځپل. خو د افغانستان امپراتوري چې د زوال تیره یې پخپل لاس ایښې وه د ده د زامنو په وخت کې تجزیه او د نولسمې پېړۍ په پیل کې واکمني محمد زو کورنۍ ته واوښته.

دا باید ووایم چې «تیمورشاه په فارسي کې د شعر یو کتاب خپور کړی دی، ستاینه یې ډېره کیږي، خو ویل کیږي چې د هغه د دربار یو نامتو شاعر فروغي هغه سم او اصلاح کړی دی».۱۶۸. د ده دوې شعري ټوټې، چې په



پښتو یې ویلې دي، غوث خیبري په لاندې ډول ثبت کړې دي:

نن مې بیا له تورو سترگو سره جنگ دی
پر لبانو مې د زړه د وینو رنگ دی
عشق دې مشک پټول نه شي تیمور شاهه
چې پخپله ځان رسوا کا هغه رنگ دی

یا:

هې هې د یار صورت لکه گلونه
چې وهلي یې پر مخ دي شنه خالونه
توکل دې پر خپل خدای کړه تیمورشاهه
چې په کار دي د فاني دنیا کارونه۱۶۹

د مخه تر دې چې د محمدزیو په واکمني کې پښتنو اوپښتو ژبې ته کتنه وکړم اړینه ده هغو بهرنیانو ته چې د خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یې پښتو ژبه زده کړې او د پښتنو د ژبې، تاریخ، کلتور او نورو برخو کې کار کړی دی او موږ د دوی علمي څېړنو ته په درنه سترگه گورو او قدر یې کوو چې په لنډ ډول به یې لوستونکو ته ور وپېژنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسم څپرکی

# بهرنی څېړونکي او پښتو ژبه

برېتانيې او تزاري روسيې د اتلسمې پېړۍ په ورستيو کې دواړو خپله پاملرنه پښتو ژبې ته اړولې وه. دوی د خپلو نيواک گرو گټو د ساتلو په موخه په سيالۍ بوخت وو او د منځني ختيځ، هند او منځنۍ اسيا د هېوادو د نيولو لپاره يې د دې هېوادو د ژبو د زده کړې او د هغوی د دودونو او کلتور څېړېنې ته اړتيا درلوده. بيلو وايي چې «په افغاني سيمو کې د برتانوي واکمنۍ ټينگتيا او اغېزناکۍ لپاره د پښتو زده کړه حتمي ده.» ۱۷۰

زموږ د هېواد حساس جيو ستراتيژيک موقعيت د سترې برېتانيې او تزاري روسيې تر منځ نږدې دوه پېړۍ د مخه د سترې لوبې ډگر وگرځېد چې دا لوبه د لوبغاړو په بدلون سره تر اوسه په بله بڼه دوام لري. د لوبې لومړي لوبغاړي د سترې برېتانيې او تزاري روسيې دواړو د خپلې سيالۍ له امله د پښتو ژبې ځانگړي اهميت ته پام وکړ. د اروپا پوهانو نه يوازې پښتو ژبې ته بلکې د پښتنو ادب، کلتور، دودونو، تاريخ او نورو څېړنو ته يې هم پام وکړ.
په ۱۷۹۱ کال کې په پېترز بورگ کې د گيولډن شتيت الماني يو کوچنی پښتو-الماني سيند خپور شو. دا سيند دوهم ځل د پوهاند عبدالشکور رشاد په زيار په ۱۳۵۶ کال د کابل پوهنتون له خوا چاپ شو. بيا کلا پروت په الماني ژبه (د افغان يا افغانانو ژبه) په نوم کتاب وليکه چې په ۱۸۱۰ کال په پېترزبورگ کې خپور شو او بيا په ۱۸۲۱ کال د ايورسمين سفرنامه (له



اورنبورگ نه تر بخارې پورې) تر سرليک لاندې خپره شوه چې په هغې کې هم د پښتو ژبې په هکله خبرې او هم د دې ژبې د لغاتو يو لست راغلې دی.

تر دې وروسته پوهاند برنارډ ډورن چې د خارکوف پوهنتون د ختيځو ژبو د څانگې رييس و د پښتو ژبې گرامر، لغات، ادبياتو او د پښتنو د تاريخ په هکله په الماني او انگرېزي ژبو مهم کارونه وکړل چې ښه نوم يې وگاټه. ده په ۱۸۴۲ کې (د پښتو گرامر د ياداښتونو متمم) خپور کړ. په ۱۸۴۷ کې يې پښتو منتخبات چاپ کړل. ډورن د ورستيو هغو روسي څېړونکو لپاره د پښتو د زده کړې بنسټ کېښود چې د پښتو ژبې زده کړې لپاره يې ملا تړلې وه.

په نولسمې پېړۍ کې مرکزي اسيا ته د روسانو د نيواک پراختيا سره جوخت په تاشکند کې د ختيځ پېژندنې پلټنې پيل شوې چې پښتو هم پکې ځای درلود. يفيموف د پښتو ترجمان ترتيب چې پښتو لغاتونه او محاورې لري او په ۱۹۰۷ کال په تاشکند کې خپور شو. دغه راز ترمانوويچ همدغه مهال د پښتو لنډ گرامر په روسي ژبه ليکلی چې د لغاتو يوه برخه هم لري او په ۱۹۰۸ کې په تاشکند کې چاپ شوی دی.

د شوروي واکمنۍ په دوران کې په ټولو شوروي جمهوريتونو کې ختيځ پوهنې ته پاملرنه زياته شوه. په مسکو، لنينگراد، تاشکند او نورو کې د پښتو ژبې، ادبياتو، تاريخ او نورې څېړنې پراخې شوې او تر ننه پورې کله گړندی او کله سوکه جريان لري.

د ۱۹۳۹ نه وروسته د مسکو د ختيځ پېژندنې په انستيتوت او يو شمېر نورو لوړو زده کړو په پوهنځيو کې د پښتو تدريس په منظم ډول پيل شو. استاد اسلانوف (د پښتو لغات ليکنه)، (د پښتو فلکلور او په شوروي کې د هغه زده کړه)، (پښتو د افغانستان ملي ژبه)، (پښتو روسي قاموس) چې نږدې پنځوس زره لغات لري او نور چاپ کړل. استاد داسې شاگردان وروزل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د شوروي په لوړو علمي موسسو کې نامتو استادان شول. د دې جملې نه پوهاند لیبیدیف، پوهاند دوریانکوف، کالېنینه، ګیراسیمووه او نور یادولی شو.

پوهاند لیبیدیف په ۱۹۴۵ کې د پښتو بشپړ ګرامر خپور کړ. نوموړي وروسته د پښتو بل ګرامري کتاب خپور کړ. بیا یې پښتو-روسي قاموس چې نږدې دوه دېرش زره لغات یې درلودل خپور کړ. لیبیدیف د نورمحمد تره کي (د بنګ مسافری) په روسي ژباړلی او په ۱۹٦۹ کې یې د دې کتاب په سپړنې باندې یوه رساله لیکلې چې په ۱۳۵۵ کال په لومړیو کې ما لیکوال په پښتو وژباړله او ژباړه مې نور محمد تره کي ته وسپارله. نوموړي د افغانستان د بېلو بېلو موضوعاتو په هکله زیاتې رسالې هم کښلې دي.

دوریانکوف د پښتو ژبې فعلي سیستم ډېر ښه څېړلی دی او د (پښتو ژبه) نومي اثر کې خپلو شوروي وطنوالو ته پښتو ښه پېژندلې او په پښتو کې نورې ګټورې څېړنې هم کړې دي. برسېره پردې ده د مسکو د لوړو زده کړو په موسسو کې د پښتو تدریس کې لویه ونډه اخېستې او د یو شمېر کسانو د ډاکترۍ تېزسونو د لیکلو لارښود و. ډاکتر ګل محمد نورزي د خوشال خان، ډاکتر صادق فطرت ناشناس د رحمان بابا، ډاکتر زیورالدین زېور د حمید مومند، ډاکتر صولت شاه تاجک د پښتو متلونو، د ډاکترې زرغونې د پښتو ګرامر او نورو د ډوکتورۍ تیزسونه د ده په لارښونه ولیکل.

ګیرس د افغانستان او د پښتونستان د ادبیاتو په څېړلو او شوروي لوستونکو ته دهغو په پېژندلو کې د قدر وړ کار تر سره کړی دی. د ده یو کتاب چې د «نه تسلیمېدونکو خلکو ادبیات» نومېږي او د کوزې پښتونخوا ادبیات یې څېړلي او نړیوالو ته وروپېژندلي دي. د ده دا کتاب ښاغلي معتمد شینواري «د مېړني ولس ادبیات» پنامه ژباړلی دی.

برسېره پردې ګیراسموه، لاریسه رېسنر،، ګانکوفسکي او نورو د پښتنو د دودونو تاریخ او نورو برخو کې څېړنې کړې دي. لاریسه رېسنر چې د ۱۹۲۳



کال د ازادۍ په جشن کې یې د پښتنو قبایلو ملي اتڼ لیدلی او هغه یې ډېر ښکلی انځور کړی دی:

«د همدې کال ۱۹۲۳ په مني کې قبایلي خلکو په کابل کې یوه هنري ننداره ترتیب کړې وه دوی به وبلل شول، چې پخپله د امیر د تریبیون (لوژ) په مخکې خپله ننداره او ملي اتڼ اجرا کړي. دوی نږدې سل تنه وو او تر ټولو قوي او ښایسته ځوانان وو د دغو ټولو په منځ کې یواځې یو تن د جسم له حیثه ضعیف معلومېده دی ډولچي و. هوا ځرنګه ډولچي ته به وایې د ده د خوار مګر قوی الاعصاب وجود په هر رګ او سلول کې د موزیک رب النوع پټه پرته ده خبره د ده په ډول کې نه ده، چې اتڼ چیان په جوش او وجد راولي، خبره په دې کې ده، چې په څه عجیب کیف سره په نیم پټو سترګو د اتڼ چیانو قطارونه د بڼو لاندې څاري، کله د نڅا ګرو یوه قطار ته ګوري او کله بل ته او د ډول په تال سره یې کنټرولوي.

نڅا د قوم روح دی نڅا په ډېرو قدمونو سره کیږي لکه ښکاري، چې د ښکار په وحت کې ډډې، ډډ قدمونه اخلي. نڅاګر په یوه ځنګ او بل ځنګ اوړي او راوړي او تورې اوږدې ځنې اچوي جادو کوي او مستیږي او داسې تاویږي لکه په ټټر یې، چې ګولی خوړلې وي او داسې ځانګونه اچوي لکه شاهین په لوړو غرونو ګرځي راګرځي.»۱۷۱

د شوروي یرغل نه وروسته هم تر ننه شوروي څېړونکو د پښتنو د ژوند په ټولو اړخونو څېړنې کړې دي او اوس هم ډېر روسي ځوانان د پښتو ژبې او ادبیاتو، د پښتنو دودونو، تاریخ او د ټولنیز ژوند په نورو اړخونو څېړنې کوي. د شوروي یرغل نه وروسته د افغانستان په بیلو بیلو اړخونو او په ځانګړې توګه د جګړې په هکله پراخې څېړنې وکړې او ډېر کتابونه ولیکل شول چې یو شمېر یې په پښتو او پارسو ژباړل شوي دي. خو افغانان باید دا لیکنې راټولې او په ژوره توګه یې وسپړي.

د اتلسمې پېړۍ په پای کې انګرېزي نیواک هم پښتو ته پوره پام وکړ. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه هم روسانو لومړی د پښتو ژبې لغاتو، گرامر او تاریخ ته خپل پام واړاوه خو انگرېزانو پښتو ته خپل کار د زړو دیني کتابونو لکه تورات او انجیل په ژباړې سره پیل کړ. د نمونې په توگه ویلیم کیري او د هغه ملگرو په ۱۸۷۰ کال کې په کلکته کې تورات، او وروسته جان لیدن انجیل په پښتو وژباړه. همدارنگه «سیر سالکین» کتاب چې د یوه عیسوي د خوب کیسه بیانوي په پښتو وژباړل شو.

بیا انگرېزانو د پښتو گرامر او لغاتو ته پام واړاوه. چې مېجر لېچ، کپتان واگن، راورټي، بیلیو، ډ.ل. لاریمر او نورو پښتو گرامر کتابونه ولیکل. ورپسې مېجر هنري راورټي د پښتو ادب، تاریخ، لغات، گرامر، جغرافیې او نورو برخو کې د قدر وړ کارونه تر سره کړل. تر ده وروسته د لوېدیځې اروپا ختیځ پوهانو د پښتو خوا ته پام وکړ او په لسگونو ختیځ پېژندونکو په الماني، انگرېزي، فرانسوي، ایټالوي او نورو ژبو د پښتو ژبې، ادب، تاریخ، او کلتور په هکله لیکنې کړې دي. خو د شوروي اتحاد د یرغل نه وروسته د پښتو ژبې ادب، لغاتو، فرهنگ، تاریخ او نورو برخو ته بې ساري توجه شوې ده. د نړۍ په ډله ایزې میډیا کې په پښتو ژبه راډیویي او ټلویزیوني خپرونې پراخې شوې او د ۲۰۰۱ کال ورسته د پښتو ژبې ته د نړیوالو دومره پام شوی چې پخوا ورته هېڅ کله نه و شوی. د شوروي یرغل په پایله کې د افغانانو په تېره بیا د پښتنو مهاجرت بې جوړې وو. دغه مهاجرت پښتانه د پېړیو پېړیو گوښه والي نه راویستل او د نړۍ گوټ گوټ د خلکو د دودونو، علمي، کلتوري، ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او تکنالوژیکي پرمختگونو سره اشنا او بلد شول او پرمختللې ژبې یې زده کړې. د دغو ژبو په مرسته یې د ټولنیز ژوند په بېلو بېلو برخو کې په مورنۍ ژبه پښتو علمي ادبي اثار ولیکل یا یې د نورو ژبو نه وژباړل او د خپلې ژبې په شتمنولو کې یې د قدر وړ کارونه تر سره کړل.

اوس به په لنډ ډول لوستونکو ته د ختیځ پېژندونکو ځینې ستوري د حبیب



الله تړي او هېواد مل د لیکنو نه په گټه اخېستلو پر بنسټ لوستونکو ته وړاندې کړم.

## جان لیډن

جان لیډن د میا روښان په هکله یو درونډ مضمون په ۱۸۱۲ کال په لندن کې خپور کړ. دی وایي «چې د روښان پیر د پلویانو په زیاتېدو سره د مذهبي اړخ تر څنگ سیاسي اړخ هم غښتلی کېده. دی زیاتوي چې روښاني نهضت چې د خپل بنسټ ایښودونکي د ستر نبوغ او استعدد نه برخورداره په دوو اساسي ستنو یاني ملي او دیني اصولو ولاړ و نړدې یوه پېړۍ د مغلو د امپراتورۍ تر ټولو نه شېرازه او اباده دوره کې د نفوذ نیلۍ وزغلاوه او سره لدې چې د اکبر مغل د واکمنۍ د پیل نه د شاه جهان تر وخته پورې یې د ځپلو لپاره هر ډول کوښښونه وکړل روښاني عقیدې خپلې ودې او پرمختگ ته دوام ورکړ.»۱۷۲

## الفنسټون

الفنسټون سکاټلنډی دی چې د کابل سلطنت بیان په نامه یې داسې کتاب ولیکه چې د حبیب الله تړي په وینا په دا تېرو دوو پېړیو کې یې نه په لوېدیځ او نه په ختیځ کې ساری لیکل شوی دی چې زموږ د هېواد او خلکو په هکله یې د انگرېزانو د ټول ورپسې سیاست بنسټ وگرځېد. دالفنسټون دغه کتاب پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په پښتو ژباړلی او د خپلې ژبې د شتمنولو برسېره یې د پښتنو د تاریخ د پوهاوي د پاره لوی چوپړ تر سره کړ. دا هم باید ووایم چې د دې کتاب سریزه د نصرالله سوبمن له خوا ژباړل شوې ده.

دا مهال داسې پېښې وشوې چې انگرېزان په اندېښنه کې شول چې ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپلیون د روسانو په همکاري د ایران او افغانستان له لارې په هند یرغل وکړي. دې اندېښنې د انګرېزانو لپاره د افغانستان اهمیت نور هم جګ کړ او د افغانانو سره د یوه داسې تړون لاسلیک ته اړتیا ولیدله چې د هغه پر بنسټ افغانان هېڅ بهرنی ځواک پرې نه ږدي چې د افغانستان له لارې په هند برید وکړي. چې الفنستون د شاه شجاع سره داسې تړون په پېښور کې لاسلیک کړ.

الفنستون لومړی سړی دی چې هغه زوړ دودیز روایت یې رد کړ چې پښتانه بني اسراییل بولي.

الفنستون دا هم وایي چې د بارکزو مشر پاینده محمدخان چې هم د قبیله یي سیاست په چل ډېر ښه پوهېده غوښتل چې اوبه خړې کړي او ماهیان ونیسي. ده پدې لړ کې تر هر څه نه د مخه دې ته چل ول جوړ کړ چې د سدوزي شاه زمان پر ځای د هغه ورور شاه محمود واک ته ورسوي. خو محمود هرات ته وتښتېد او پاینده خان ووژل شو. وروسته د پاینده خان مشر زوی فتح خان د محمود ملا وتړله. محمود بریالی شو او شاه زمان یې په سترګو ړوند کړ او خپله واکمن شو خو په ساعت تېری او عیاشۍ کې ډوب شو. قومي مشران یې پر ضد شول او شاه شجاع کابل ته ننوت او واکمن شو.

## الکزاندر برنز

بل انګرېز چې د پښتنو په هکله یې لیکنې کړې دي الکزاندر برنز دی. د ده لومړی کتاب «د بخارا سفر» دی چې دوهم چاپ یې په ۱۸۳۹ کې په درې ټوکو کې خپور شو. برنز خپلې څېړنې په پایله کې پدې پوه شوی و چې تزاري روسیه د ایران د حکومت له لارې د افغانانو پر ضد کار کوي او د ده دا فکر هغه مهال په واقعیت بدل شو چې د روس استاذی ویکتوروویچ کابل ته راورسېد. پدې وخت کې امیر دوست محمد خان دې فکر ته رسېدلی و



چې انګرېزانو ته ور نږدې کېدل، مالي او پوځي مرسته ترې اخېستل د افغانستان په ګټه دي. دا ځکه چې امیر پوهېده چې له یوې خوا روسان افغانستان ته سترګې نیولې دي او د بلې خوا ایرانیانو د افغانستان د ځینو سیمو د لاندې کولو ته ملا تړلې لکه چې محمد شاه په هرات باندې برید ته ځان چمتو کړی و. برسېره پردې امیر دوست محمد خان غوښتل چې د افغانستان هغه برخې چې د اباسین را دې غاړې ځمکې چې رنجیت سنګ نیولې وې بېرته تر لاسه کړي. برنز د امیر دوست محمد خان د دې غوښتنو کلک پلوي و. خو لارډ اکلنډ دا غوښتنې ونه منلې او د امیر دوست محمد خان چې د برنز په وینا یو ډېر تکړه او مدبر شخصیت او د افغانستان د پاچايي وړ یې باله پر ځای د افغانستان مخلوع پاچا شاه شجاع دپوځ په زور واک ته ورسوي. خو کله چې انګرېزانو دا تېروتنه وکړه نو هغه د لوی پوځ په تباهۍ ورته تمامه شوه او خپل نړیوال اعتبار یې بایلود. برنز هم په دغه تباهۍ کې هم خپل سر د لاسه ورکړ.

د امیر دوست محمد خان دغه وخت پدې فکر و چې هرات چې فارسیانو یرغل پرې کړی و او پېښور چې سیکانو لاندې کړی و د خپل هېواد برخه وګرزوي.. برنز نه یوازې د دغو دواړو وراندیزونو پلوي و بلکې د هغو یې کلک ملاتړ کاوه.

## هنري جورج راورټي

ده په هند کې د خپل پوځي خدمت په څنګ کې هندي، فارسي، ګجراتي او مرهټي ژبې زده کړې. وروسته کله چې په ۱۸۴۹ کې کوزې پښتونخوا ته تبدیل شو خپله ټوله پاملرنه یې د پښتو ژبې، ادبیاتو او قوم پېژندنې ته واړوله. لومړی یې د پېښور د ښار او ولایت په هکله یوه اوږده لیکنه وکړه چې د بمبیې د جغرافیایي خېرونه کې په ۱۸۵۱ کې چاپ شوه. بل ډېر ستر کار یې د پښتو ژبې د یوه لوی ګرامر لیکل و.چې په ۱۸۵۵ کې چاپ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم ځل په ۱۸٦۸ کې خپور شو. راورټي ورپسې دوه نور اثار چې یو یې پښتو انګرېزي سیند او بل یې د «ګلشن روه» په نوم د پښتو نثر او نظم ټولګه وه په ۱۸٦۰ کال کې خپاره کړل. د دې تالیف موخه د پښتو ژبې تدریس او د پښتو ژبې د اثارو خوندي کول و. په ۱۸۷۱ کې یې د ایسپ کیسې په پښتو وژباړلې او نشر یې کړې. په ۱۸۸۸ کې یې د پښتو درسي کتاب د پښتو متون په نوم چاپ کړ. ده نورې لیکنې هم وکړې چې په بېلو بېلو خپرونو کې چاپ شوې دي.

د راورټي عمده ادبي اثار «ګلشن روه» او بل یې «د افغانانو د شعرونو منتخبات» دي. راورټي وایي چې د پښتو ژبې د شعرونو ښکلا ډېر زیات اغېز راباندې وکړ او دې ته یې راوستم چې یو زیات شمېر یې په انګرېزي وژباړم او د اروپا لوستونکو ته یې وړاندې کړم. دی دا هم وایي چې پښتنو شاعرانو خپل شعرونه د نام ایستلو لپاره نه وو لیکلي او «دا خیال یې هم نه کاوه چې د دوی د مړینې وروسته به یې شعرونه نه یوازې د خپلو وطنوالو بلکې په اروپایانو کې هم لاس په لاس ګرځي او یوه پېرنګي به ژباړلي وي. راورټي دا هم وایي چې د دغو پښتنو شاعرانو اشعارو کې چې ویونکي یې د یوه ښکلي هېواد د پرتمینو غرو په تکو شنو درو کې لوی شوي دي د وطن پالنې قوي احساس، د ازادی رښتینې روحیه او د هېواد مینه ځپې وهي.»۱۷۳

راورټي دا هم وایي چې «پښتانه هغه خلک دي چې هند یې څو وارې نیولی او په هند باندې د نورو یرغلګرو په پوځ کې هم بهترین عسکر هم دوی وو. نو کله که دوی د لوېدیځو سرتېرو غوندې یې روزنه او تنظیم وشي او د اروپا غوندې انډول افسران یې لارښوونه وکړي هلته بیا د هېڅ اسیایي ولس سرتېري هم نه شي ورپسې رسېدلی.نو ځکه موږ باید موقع د لاسه ورنه کړو او پښتانه پخپل پوځ کې شامل کړو.»۱۷۴

دی د پښتنو سره د پوهاوي تر ټولو ښه لار پښتو بولي نو ځکه وایي چې د



هر انګرېز افسر لپاره چې د اباسین نه پورې د لوېدیځ خوا ته مقررېږي د پښتو ژبې زده کړه یو حتمي او واجبي امر دی.

پدې موخه یې د پښتو لوی ګرامر، د پښتو انګرېزي سیند او د پښتو درسي کتاب ولیکلو. د مخه مو یادونه وکړه چې لیکوال د سیند په هغه مخ چې د کتاب بشپړ سرلیک پرې لیکل شوی د عبدالقادر خان دا بیت کښلی دی.

تا خواړه کړه تر فارسي عبدالقادره
که هر څــــــــو وه ترخه ژبه د پښتو

راورټي د پښتو ګرامر په همدې مخ کې بیا د حمید ماشوخېل دا بیت ثبت کړی دی:

فارسیوانو د حیرت ګوتې په غاښ کړې
چې حمید سخن سازي کړه په پښتو کې

حبیب الله تږی وایي چې د دغو بیتو انتخاب نه یوازې په پښتو شعر او ادب کې د راورټي د پخې مطالعې او ښه ذوق نماینده ګي کوي، بلکې د پښتو ژبې په باره کې د ده د احساس ښکارندوی هم دی.

راورټي د پښتنو سره د ناستې ولاړې په وخت کې د هغوی خویونو، ژبې او ادبیاتو ډېر زیات جذب کړی و. دی زیاتوي چې یو شمېر غمجنې پېښې موږ ته را زده کوي چې په راتلونکې کې د پښتنو په غرنیو قبایلو باور وکړو او ډېر زیات یې پخپل پوځ کې داخل کړو. ځکه دی وایي نه یوازې دا چې پښتانه، د اعتماد وړ دي، بلکه ډېر وتلي جنګیالي دي. دی زیاتوي چې له پښتنو سره د ګوزارې ښه لار دا ده چې سړی په نرمۍ ورسره وچلېږي. او له نېږدې نه ور سره محشور شي. ده د وخت په تېرېدو سره د پښتو ژبې او ادب سره پوره مینه پیدا شوې او په ډېره درنه سترګه یې ورته کتلي دي. دی پښتو د ادبیاتو په لحاظ یوه غني ژبه بولي. او د لومړي ځل لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو د لیکلي او شفاهي ادب یو زیات شمېر پـارچې پـه انګرېـزي ژبـاړلې او لوېدیځې نړۍ ته یې ور پېژندلې دي.

## هنري ولټر بیلیو

د ډاکټر بیلیو دوه کتابونه ډېر مشهور دي چـې یـو یـې ګرامـر او بـل سـیند (ډکشـنري) ده. بیلیـو خپـل ګرامـر د هغـو انګرېـزي افسرـانو لپـاره چـې پـه پښتونخوا کې یې دندې درلودې د پښتو ژبې د زده کولو په موخه لیکلـی و. په ۱۸٦۳ کې حکومت ومنله چې هر افسر چـې د شـفاهي پښـتو پـه امتحـان کې بریالی شي نو پنځه زره کلدارې ورکول کیږي.
د بیلیو لومړی کتاب پـه ۱۸۵۷ کـال کـې د یـوه سـیاسي ماموریـت دور، بـل کتاب یې د یوسفزو په هکله عمومي رپـوټ نـومیږي چـې پـه ۱۸٦۴ کـې پـه لندن کې چاپ شـوی دی. دریـم او څلـورم یـې د پښـتو ګرامـر او انګرېـزي پښتو سیند دی. بل اثر یې «زموږ د پنجاب سرحد» نومیږي. شپږم اثـر یـې «د اباسین نه تر دجلې پورې» نـومیږي.چـې پـه ۱۸۷۴ کـې خپورشـوی دی. اووم کتاب یې «افغانستان او افغانان» نومیږي، اتم کتاب یـې «دافغانسـتان قومونه» نومیږي چې په ۱۸۸۷ کې په کلکته کې خپور شـوی دی. وروسـتی کتاب یې د افغانستان د قوم پېژندنې څېړنه نـومیږي چـې پـه ۱۸۹۱ کـې پـه لندن کې خپور شوی دی. بیلیو د وزیرو په باره کې وایـي چـې دا یـوه سـتره قبیله ده چې شل زره ملاتړي جنګي مېړونه لري. دی د پښتنو په هکله وایي چې دوی له یوې خوا تکړه زړه ور او مغـرور خلـک دي او د بلـې خـوا غـدار دي. دی دا هم وایي چـې پښـتانه لـه یـوې خـوا ډېـر کلـک وطـن پـالونکي او پخپل قوم غره خلک دي مګر د بلې خوا د پیسو د پاره خپل تر ټولو سپېڅلي ارزښتونه او تر ټولو نه نږدې ټولنیزې اړیکې په لغتـه وهـي. دی پښـتانه او د هغـوی غرونـه او درې د هنـد د امنیـت د پـاره حیـاتي اهمیـت درلـودونکې بولي. د دغې سیمې پښتانه چې په یوه شپږ سوه میله اوږده ساحه کې پراته



دي لږ تر لږه درې اتیا زره مېړونه لري چې په ټوله اسیا کـې سـاری نـه لـري او بهترین ګوریلایي سرتېـري دي. بیلیـو دا وایـي چـې افغانـان تـر روسـانو د انګرېزانو سره نږدې اړیکې غوره بولي.
ځینې انګرېزان پدې نظر وو چې پښتونخوا د روسانو په مخ کـې یـو پـولادي دېوال دی او انګرېزان کولی شي د پښـتنو پـه ملګرتیـا د روسـانو د هـر ډول تېري مخه ونیسي. نورو یې د روسانو د مخنیـوي لپـاره پـه پښـتونخوا کـې د نېغې لاس وهنې پلویان وو.
بیلیو د خپلو جغرافیایي څېړنو له مخې وایي چـې د افغانسـتان ختیځـه پولـه اباسین دی چې د ګلګـت نـه د عربـو تـر سـمندرګي پـورې امتـداد لـري، د سـوویل پولـه یـې د عربـو سـمندرګی دی، د لوېـدیځ پولـه یـې د فـارس د خراسانه او کرمانه پورې امتداد لري او د شـمال پولـه یـې تـر خواجـه صالح پورې د امو سیند جوړوي.
بیلیو وایي چې امیر دوست محمد خان د خپل وخت یـو بریـالی او محبـوب پاچا و. خلکو یې د زړورتیا، مېړانې او بریـالیو جګـړو لـه املـه سـتاینه کولـه. پداسې حال کې چې امیر دوست محمد خان د خپـل سـاده ژونـد، د مېلمـه پالنې، عدالت او پخپل دربار کې د هـر ډول خلکـو د منلـو لـه املـه پـه ټـول ولس کې محبوب و، د خپلې اوږدې واکدارۍ پـه مـوده کـې یـې د خلکـو د ژوندانه د بهترولو لپاره هېڅ ونه کـړل. بیلیـو وایـي چـې امـیر شـېرعلي خـان وروسته له یو لړ کورنیو جګړو په کابل کې خپلې پښې ټینګې کـړې نـو پـدې هڅه کې شو چې د انګرېزانو سره اړیکې ښې کـړي. همـدا و چـې پـه ۱۸٦۹ کـال کـې پـه امبلـه کـې د انګرېزانـو د ویسرـا لارډ میـو سره لیدنـه وکـړه. د دوستی د تړون له سرته رسېدو وروسته خوشاله افغانستان تـه راوګرځېـد او انګرېزانو زیاتې پیسې او وسلې د سـوغات پـه توګـه ورکـړې. برسـېره پـردې امیر شیرعلي ډېرې زیاتې د سمونو طرحې هم له ځان سره وطن تـه یـوورې. خو بیلیو دا هم وایي چې د انګرېزانو نه د امیر شیرعلي خان د بېـزارۍ سـتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لامل سیستان په برخه کې د ایران او افغانستان د پولې ټاکل و. دې مسلې د انګرېزانو او کابل اړیکې دومره خرابې کړې چې بیا هېڅ کله ښې نه شوې. انګرېزانو وروسته لدې چې امیر ته د هر شي خواست وکړ هغه رد کړ.

## تور برن

توربرن په لوېدیځو پوهانو کې لومړی سړی دی چې تر ټولو د مخه یې پښتو شفاهي ادب او فولکلور ته پاملرنه وکړه. ده یو شمېر پښتو متلونه، کیسې، کیسۍ او ان د ولسي شاعرانو د اشعارو یو څو نمونې یې راټولې کړې او بیا یې پخپل اثر چې بنو نومیږي خپارې کړې دي.

نوموړی د بنو ښکلا داسې بیانوي «په پسرلي کې داسې ښکاري لکه تک شین بخمل پکې غوړېدلی وي او په ژمي کې یې رنګین فصلونه داسې ښکاري لکه د ښکلا الهه چې پکې رالوېدلې وي او د ښکلا هارونه یې هره خوا خواره واره غورځولي وي، د شیشم ډول ډول ونې چې څانګې یې د مجنون بېد په شان رازنګیږي، دلته او یوازې دلته پیدا کیږي. د ویالو او لښتیو په غاړه یې د توت ونې چې ګورې څانګې یې یو خوا بل خوا خپرې شوې وي، داسې مزه دار شین سیوری لري چې شیخان تسبیح په لاس ترې لاندې ویده وي. د وادي په پورته برخه کې سره ګلاب هم چې په غیاب کې یې د انګرېزانو په نظر هېڅ ښکلا نه تکمیلیږي، په پسرلي کې موج وهي، د کابل د اکثره مېوو ونې، دلته خدایي شنې کیږي او که پېوند شي نو بیا یې د مېوو په خوند څوک نه مړیږي. لیمو، توت او خټکي یې هم سخت مزه دار او خواږه دي، لنډه دا چې بنو ته خدای داسې ښکلا او هستي ور په برخه کړې چې سړي ته جنت ښکاري.»۱۷۵

ده د خپل کتاب دوهمه برخه پښتو متلونو ته وقف کړې ده.



## ډارمستېټر

ډارمستېټر فرانسوي ختیځ پوه په لوېدیځو پوهانو کې هغه سړی دی چې د پښتو د شفاهي ادب په برخه کې تر ټولو ختیځ پوهانو زیات کار کړی دی. ده لومړنی اثر چې یوه وړه رساله ده «په افغاني سندرو کې افغاني مینه» نومیږي په انګلیسي ژبه لیکلی دی او پخپله دی یې د خپلو لیکنو یوه غوره نمونه ګڼي. پدې اثر کې یو شمېر لږ موندونکې او ان نه موندونکې تر شلو ولسي سندرې او یو شمېر لنډۍ په انګرېزي ژباړه کښل شوې دي. د ترې په وینا ده دا ژباړه په داسې ځواک سره کړې ده چې د شعري ښکلا له نظره تر اصل نه وروسته نه پاتې کیږي. ده نه یوازې پښتو ژبه خپله کړې بلکې راټولې کړې سندرې یې د پښتنو د ثقافت او کلتور ډېره ښه هینداره بللې ده.

بل مهم اثر یې «د افغانانو ولسي سندرې» نومیږي چې نږدې یو سل شل سندرې پکې ځای شوې دي چې په کوزه پښتونخوا کې راټولې کړې وې. ده دغه سندرې «د پښتونخوا د هار و بهار» تر سرلیک لاندې په پښتو رسم الخط له فرانسوي ژباړې سره کښلې دي. یوه نمونه یې چې ده پخپله شهکار بللې ده دا ده:

بېګا مې دی ســـیل کړی په بازار د تورو زلفو
اوس ګډ لکه بورا شوم په ګلزار د تورو زلفو۱۷٦

ده دا هم ویلي چې پښتو د هندو-اریایي ژبو د کورنۍ په لوېدیزه یاني اریایي څانګه پورې اړه لري او یوه بېخي لرغونې ژبه ده.

دی چې پخپله یهود و د یوه لوی پلټونکي په توګه دې پایلې ته ورسېد چې پښتانه بني اسرائل نه دي، بلکې د هغو لرغونو اریایانو اولاده ده چې تر ټولو لرغونو زمانو نه رادې خوا نه په ننني پښتونخوا کې میشته دي.

دی د پښتو سندرې د پښتنو د رښتینو احساساتو ښکارندوی او له ژونده ډکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولي. دا سندرې کله کله له ښکلا او قوت نه بېخي ډکې دي او دا پدې دليل چې قومي جذبات او احساسات په ساده او رښتينې بڼه بيانوي.

## جان گورډون لاريمر

جان گورډون لاريمر د وزيرو ژبه او عادات څېړلي دي. ده «د وزيري پښتو [لهجې] گرامر او لغات» پنامه کتاب وليکلو. بل کتاب يې د پېښور په سيمه کې تعاملي قوانين نوميږي.

## ډ. ل. لاريمر

د ده کتاب چې د عاميانه پښتو نحوه نوميږي چې د حبيب الله تږي په وينا دا «داسې يو معتبر د پښتو گرامر دی چې ساری يې تر اوسه نه دی ليکل شوی.»۱۷۷دی زياتوي چې «ما ته د ۱۹۵۰ د لسيزې په لومړيو کلونو کې دا خبره ډېره په اطمينان شوې وه چې دغه کتاب په کابل کې د مطبوعاتو د وزارت په هدايت ترجمه او پښتو ټولنې ته د استفادې او د چاپ د پاره ور وسپارل شو. خو متاسفانه، چې چاپ نه شوه، بلکې په نهايت کې بېخي ورکه شوه او پدې ترتيب د پښتو د فرهنگ سره د خواخوږۍ په جامه کې يوه بله جفا هم وشوه.»۱۷۸

## روس کېپل

روس کېپل په برتانوي هند کې د ډېر لوړ دولتي مقام د لرلو په مهال د پښتو ژبې سره کلکه مينه ښودلې، پښتو يې ډېره ښه زده کړې، له پښتنو سره ژر بلد شوی او ډېره ښه گوزاره يې ورسره کړې ده. ده يو ډېر معتبر پښتو درسي کتاب ليکلی دی. دی د سرحد صوبې د ابادۍ په فکر کې و او د دې سيمې پوهنه ته يې ډېر پام و. روس کېپل د پېښور تر ټولو نه ستره



تعليمي موسسه ياني اسلاميه کالج د همدې هڅو په لړ کې جوړه کړه چې وروسته يې د پېښور د پوهتون زړی جوړاوه.

## هاول

بل سړی هاول انگرېز دی چې د شمال-غربي سرحد د پولې ولسيـ سندرې پنامه يې ليکنه کړې ده چې پنځه اوږدې ولسيـ سندرې او لس لنډۍ په لاتين رسم الخط کښلې دي. د ولسي اوږدو سندرو نه يې دوه په واڼه کې له انگرېزانو سره د پښتنو د جگړو په باره کې دي

همدارنگه د ختيځې اروپا لکه، چک، پولنډ او ختيځ المان کې ختيځ پوهنې په علمي او د څېړنو مرکزونو کې هم پښتو ځای پيدا کړ او څو تنه پښتانه پېژندونکي پيدا شول:

په چکوسلواکيا کې باچکا، په جرمني کې گيگر، په ناروې کې مارگن ستېرن، په امريکا کې پېنزل او نور يادولی شو چې د پښتو ژبې په هکله څېړنې کړې دي. ډاکټر پېنزل په امريکا کې په ۱۹۵۵ کال کې (د پښتو گرامر د کندهاري لهجې تشريحي څېړنه) نومي کتاب خپور او بيا يې په ۱۹۶۲-۱۹۶۵ کې د مشيگن د پوهنتون په مطبعه د پښتو سيند او پښتو لوست چاپ کړل.

دا کار تر اوسه دوام لري او د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د پېښو نه وروسته پښتو ژبې ته زياته پاملرنه شوې او د پښتنو ادب، کلتور، دودونو، تاريخ او نورو څېړنو ته هم پام زيات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم څپرکی

# محمدزي او پښتو ژبه

### امیر دوست محمد خان

امیر دوست محمد خان په ۱۸۱۸ کې د سدوزو د واکمنۍ د پرزېدو وروسته د یوې اوږدې مودې د کورنۍ جګړې پـه یـون کـې د محمـدزو د واکمنـۍ بنسټ کېښود. امیر دوست محمد خان د خپل سکه ورور امیر مجمد پرتـه د سردار پاینده خان د یوویشتو زامنو نه کشر او مشر یې وزیر فتح خان وو. وزیر فتح خان یو زړور او مدبر سړی و او د وزیر په توګه یې خپل ټول وروڼـه په لوړو ځوکیو وګمارل. کله چې پـه وحشـیانه توګـه ووژل شـو نـو د هغـه د مړینې وروسته د پاینده خان زامنو لومړی د واکمن کېدو لپـاره مبـارزه پیـل کړه تر څو په پای کې پدې بریالي شول چې واک د سـدوزو نـه محمـدزو تـه ولېږدوي. خو د واک د لېږد وروسته د دوی تر منځ د کورنۍ جګړې اور بل شو. امـیر دوسـت محمـد خـان چـې د خپلـو وروڼـو پـه مـنځ کـې ځـیرک او هوښیار و په ۱۸۲۶ کې د قزلباشانو پـه مرسـته د کابـل د والي پـه توګـه واک راټول کړو او په پای کې واکمن شو. د افغـان-انګلـیس د لـومړۍ جګـړې پـه بهیر کې انګرېزانو ته تسلیم شو او دوی هندوستان ته پرار کړو. خو بیـا کلـه چې په دغه جنګ کې د انګرېزانو ۱۶۵۰۰ پوځ، چې د هغه نـه د شـپږو نـه تـر شپږ نیم زره انګریزي منظم پوځ و، نـور یـې هنـدي مسـتخدمان یـا عملـه او فعلـه وه، تبـاه شـو نـو دوی پـه ۱۸۴۳ کـې امـیر دوسـت محمـد خـان بېرتـه



راستون کړ او یـو خپلـواک امـیر شـو او د ۱۸۶۳ کـال پـورې یـې ټـوټې شـوی افغانستان د پښښور پرته یو موټی کړ او په هرات کې مړ شـو. د محمـدزایانو واکمني چې د امیر دوست محمد خان یې بنسټ کېښود د داود د رژیم پـه نسکورېدو سره پای ته ورسېده چې په لنډ ډول بـه وڅېـړل شي او هـم بـه دا جوته کړم چې د محمدزو په واکمني کې د پښتو ژبې حالت څنګه و.

### امیر شیرعلي خان

امیر دوست محمد خان د شپاړسو ښځو نه اوه ویشت زامن او پنځه ویشـت لوڼه درلودې چـې د ده د مړینـې وروسـته یـې د واک پـر سر لـوی غوبـل او شخړې جوړې کړې چې د هېواد راتلونکې یـې کلکـه زیانمنـه کـړه. محمـود طرزی لیکي: «امیر د مړینې په ورځ (۱۸۶۳) چې سردران او لویان هم ورسره وو، په شیرعلي خـان بانـدې غـږ وکـړ چـې خواتـه یـې ورشي. پـه لړزېـدونکو لاسونو یې خپله توره د شیرعلي خان تر ملا وتړله او په خپل نري اواز یې پاچا اعلام کړ، ښه یې ونازاوه او د بریالیتوب لپاره یې ورته دعا وکړې، خـو همـدا چې د جنازې او فاتحې مراسم پای ته ورسـېدل، هـر زوی یـې لـه خپـل پـوځ سره د خپل ولایت په لور روان شو او د حیرانـۍ ځـای دی، چـې هـر یـوه یـې ځان امیر باله.» ۱۷۹

د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ لومړۍ دوره د خپلو وروڼـو او ترونـو سره پـه شخړو کې تېره شوه او د لنډې مودې لپاره د واک نـه ولوېـد. دغـه جګـړې چې څلور کاله اوږدې شوې په پـای کـې امـیر شـیرعلي خـان بریـالی شـو او دوهم ځل واکمن شو.

په دغه وخت کې چې د امیر دوست محمد خان زامـن او لمسیان پـه خپـل منځي شخړو بوخت وو روسیې په منځنۍ اسیا کې ډېـر پرمختـګ وکـړ او د ترکمنو د ځینو سیمو پرته د افغانستان پـولې تـه راورسـېدل. امـیر شـیرعلي خان ته دا پرځای وېره پیدا شـوه چـې د روسـیې د بـل بریـد موخـه بـه د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد وي. نوموړي امیر د دغه خطر د مخنیوي لپاره وپتېيله چې لـه يـوې خوا د کور د ننه خپل دولت ټینګ او غښتلی کـړي او د بلې خـوا د هنـد د برتانوي حکومت ملاتړ تر لاسه کړي. لدې امله په ۱۸۶۹ کال په لومړیـو کـې امیر شیرعلي خان په رسمي توګه برتانوي هند ته سفر وکړ او پـه امبلـه کـې يې د ویسرا لارډ مایو سره وکتل چـې تـود هرکلـی يـې وشـو خـو لارډ مـایو د روسیې له لوري د امیر پر ځای وېره سـمه ونـه بللـه. لارډ مـایو امـیر تـه ډاډ ورکړ چې افغانستان ته د روسیې له لوري خطر نه شته. هغه امیر تـه وسلې ورکړې او د پوځ د روزنې لپاره يې يو شمېر ماهېرين هم ورکړل.

امیر چې بېرته وطن ته راستون شو د لارډ مایو د دغه ډاډ له امله پـه پراخـو سـمونونو لاس پـورې کـړ چـې د مشـورتي شـورا جـوړول، د غښـتلي پـوځ تنظیمول، د رسمي اداري پراخول، د ښوونځيو پرانېستل، د شـمس النهـار د جریدې خپرول او نور یادولی شو. د کاکړ په وینا دغو سمونونو په څنګ کې ډېر مهم يې دا و چې پښتو يې د لومړي ځل لپاره د هېواد ملي او رسمي ژبـه اعلان کړه چې وروسته به پرې وغږېږم.

امیر شیرعلي خـان نیـت درلـود چـې سیسـتان چـې پارسیانو نیـولی و بیـا د افغانستان سره یوځای کړي او هغه هېواد ته يـې د جګـړې ګـواښ وکـړ. خـو انګرېزانو د جګړې د مخنیوي لپاره د سیستان د موضوع د حل پـه موخـه د دواړو هېوادو تر منځ د منځګړیتوب وړاندیز وکړ چې د دواړو لـورو لـه خـوا ومنـل شـو. د انګلیسـتان هیئـت د بریـد جـنرال ګولـډ سـمیت پـه مشرۍ سیستان ته راغی. د ایران له لوري میرزا معصوم خان او د افغانستان له خـوا سید نور محمد شاه نماینده ګـان ټاکـل شـوي وو. کـه څـه هـم سیسـتان لـه جغرافیـوي او تـاریخي نظـره د افغانسـتان خـاوره وه او سـاکا هـم د لرغـوني افغانستان خلک وو، خو د سیستان په خاوره د پارسیانو ادعا د ژبې لـه نظـره وه او د هغه تاریخي ویاړونه يې د ځان بلل. انګرېزانو د افغـاني سیسـتان يـوه برخه د ګولډ سمیت د غیرعادلانه منځګړیتوب په اساس ایران ته ورکړه.



امیر شیرعلي خان پدې پرېکړه له انګرېزانو نه بېزاره شـو او د انګرېزانـو سره يې اړیکې ډېرې خرابه شوې چې بیا هېڅکله ښې نه شـوې. د بیلیـو پـه وینـا انګرېزانو وروسته له دې امیر شیرعلي خان ته د هرشي خواست وکړ هغه رد کړ په پای کې خبره دې ځای ته ورسېده چې په ۱۸۷۸ کال کې د افغانستان او انګلیس دوهمه جګړه پیل شوه.

لارډ لیټن چې د «پرمختګ د پالیسی» (Forword policy) يو کلک پلـوي و د ۱۸۷۸ کال د نومبر په یووشتمه نېټه پدې پلمه چې امـیر شـیرعلي خـان د دوی هیئت نه دی منلی انګرېـزي پوځونـو تـه امـر وکـړ چـې پـه افغانسـتان بانـدې د خیـبر، کـورمې او بـولان لـه لارې یرغـل وکـړي. انګرېـزي پـوځ همدغسې وکړل او د کندهار، جلال اباد او کابل ښارونه يې ونیـول. امـیر شیرعلي د جګړې نه ډډه وکړه، خپل زوی یعقوب خان يـې د زنـدان نـه ایلـه کړ او خپل ځای ناستی يې وټاکه، پخپلـه د روسـیې نـه د پـوځي مرسـتې پـه هیله مزار ته لاړ او هلته د ورپېښو ناروغیو نه مړ شـو. امـیر یعقـوب خـان د خپل پلار د مړینې وروسته د انګرېزانو سره د ګندمک تـړون لاسـلیک کـړ او کیوناري په عمل کې د کابل واکمن شو خو افغـان پـوځ د خلکـو پـه ملاتـړ د خپل پاڅون په پایله کې د کابل په بالاحصار کې د انګلستان سیاسي اسـتازی کیوناري د ورسره ملګرو سره يو ځای د منځه يـووړل. انګرېزانـو د یرغـل پـه دوهمه مرحله کې امیر محمد یعقوب خان استعفا کولو ته اړ کړ او برتـانوي هند ته يې پرار کړ. بل ګام يې د غچ اخېستلو په موخه بالاحصار وسـوزاوه او د پاڅون ګډون کوونکو زندۍ کولو ته يې ملا وتړله.

انګرېزانو د هغو افغانانو نه چې سفارت په سوځولو کې يې ونـډه اخېسـتې وه د غچ په موخه هر هغه چا ته د پنځوسو نه تر پنځوسو زره جایزه ومنلـه چـې هغوی ورته وښیي.«د ښار پـه قزلباشـو کـې ډېـرو دغسـې جـایزې تـر لاسـه کړې.» ۱۸۰ محمود طرزي پخپلو خاطراتو کې لیکي چـې د جـنرال رابـرټس لومړی کار پـه کابـل کـې دا شـو:«چـې د کوګنـاري د سـو ځـېدلي کـور پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنډوالو باندې داورنه وځروي، چې په دغې پېښې کې ګډون کوونکي غرغره کړي. په اصل کې خلک هلته د ننداره کولو او چور کولو لپاره غونډ شوي وو. بې وجدانو مخالفانو چې زړونه يې له کرکې نه ډک وو او د چندول شيعه ګانو چې هغوی د جاسوسی په بدل کې انعام غوښته، له دغې موقع نه ګټه وکړه او بې ګناه خلک يې په ګير کې ورکړل. نورو هم حتی د يو څه ګټې لپاره همدغسې وکړل.» ۱۸۱.محمود طرزی زياتوي چې «د نورو په کورونو کې مېلماستياوې وې، دا هغه خلک وو چې د پېرنګيانو راتګ ته يې هرکلی ويلی و او د هغو په خپلو خبرو « د دوی غمه خوړله شوې وه» دوی زياتره شيعه او قزلباش وو، چې د ښار په منځ کې په چندولو کې اوسېدل، چې شاوخوا يې ټينګ ديوال او خندق وو. دوی په خپل فرقه يي تعصب سره نامسلمانان د مسلمانانو نه غوره ګڼل.» ۱۸۲

همدارنګه جنرال پريمروز چې د کندهار «ښار تر پوره کنټرول لاندې ونيو او د هغه ۱۸۰۰۰ پښتانه اوسېدونکي يې له سوداګرو او پارسيوانانو پرته ټول له ښاره وايستل.» ۱۸۳

په پای کې د افغانستان بهرنی سياست د انګرېزانو لاسته ورغی او همدارنګه تر ډېرې اندازې افغانان د عصري مدنيت، عصري ساينس، عصري پوهنې او عصري تخنيک نه ليرې پاتې شول.

## امير شيرعلي خان او پښتو ژبه

د امير شيرعلي خان په دوهمه پاچايي کې لکه چې د مخه مې يادونه وکړه پښتو د لومړي ځل لپاره د هېواد ملي او رسمي ژبه اعلان شوه او په دغه حيث حکومت ته ننوتله. د پښتو ژبې لپاره دا يو انقلابي حرکت و. پوهاند ډاکټر محمدحسن کاکړ د دې بدلون اصلي لامل دا بولي چې «په لومړي سر کې هغه محمدزايي سرداران يا په جنګونو کې ووژل شول، يا پرار کړای شول او يا له حکومتي چارو څخه وايستل شول چې د امير شيرعلي خان د



رقيبانو سره يې مرسته کړې وه.»۱۸۴ امير شيرعلي خان د دود پرخلاف لوړ منصبونه غير خانداني کسانو ته ورکړل. امير شيرعلي خان سيد نور محمد شاه کندهاری (سيد نور محمد شاه د فوشنج و او فوشنج هغه وخت د کندهار سيمه وه) د لوی مختار ياني صدراعظم، حبيب الله وردګ د ماليې وزير ، عصمت الله جبارخېل د کورنيو چارو وزير، ارسلاخان جبارخېل د بهرنيو چارو وزير، په توګه وټاکل او نورمحمد فوشنجي، ملا شاه محمد کتب خېل، او قاضي عبدالقادر يوسفزی يې هم د کابينې غړي وو.

برسېره پردې امير شېرعلي خان يو منظم او دايمي اردو جوړ کړ چې شمېر يې شپږ پنځوس زرو ته رسېده چې د محمدزايي سردارانو ځای پښتو ويوونکو غير محمدزايي پښتنو ونيو. پدې توګه د ملکي او نظامي چارو د اغېزمن چلند لپاره پښتو ته اړتيا پيدا شوه. پوهاند کاکړ ګرد سره سم وايي چې امير شيرعلي خان د نورو سمونونو په څنګ کې د پښتو د رسمي کولو لپاره کوښښ دا څرګندوي چې د ده ملي شعور ډېر غښتلی او قوي و. پښتو ته د دغې اړتيا او پخپله د امير د نوي ملي شعور د دې لامل و چې غوښتل يې پښتو د يوې رښتينې ملي ژبې په توګه وده او پرمختګ وکړي او د فارسي ځای ونيسي. د دغه مقصد لپاره د پښتو کتابونو ليکل او ژباړل پيل شول، د پښتو سيند (قاموس) د لارښود په توګه حتمي شو، عسکري تعليم نامې په پښتو ژبه برابرې شوې، واړه او لوی ماموران په القابو ووياړل شول او په پای کې د پښتو بولۍ (قوماندې) د افغان جنګياليو د ګڼو صنفونو لپاره جوړې شوې. ليتوګرافي مطبعه په کابل کې په کار ولوېده او د شمس النهار اخبار په همدغې مطبعې کې چاپ شو. د قاضي عبدالقادر له خوا «قواعد پلټنې پياده» په پښتو وژباړل شو چې تشريحات يې په پارسو و. علم قواعد لشکر د دريا خان نيازي له خوا، قواعد عسکري د محمد ابراهيم له خوا وليکل شول. «دغه مشکور واکمن ځان ژر پداسې حال کې وموند چې ادعا وکړي چې پښتو د هغه د هېواد والو ملي ژبه شوې وه. د دغه امير په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارسي امانتي بښکې وې.» [۱۸۵] د غوث خیبري په اند د امیر شیرعلي خان له خوا د پښتو ژبې د رسمي کولو اصلي موخه د ایران د فرهنګي ښکېلاک د ماتولو په لور یو اغېزمن ګام و. [۱۸۶]

د کاکړ په وینا هغه سړی چې د امیر شیرعلي خان سره یې د سمونونو په تېره د پښتو د رسمي کولو په هکله اساسي مرسته وکړه هغه قاضي عبدالقادر یوسفزی و چې یو عالم، شاعر، لیکوال او ژباړونکی و. کهګدای لیکي چې قاضي عبدالقادر داسې کتابونه تألیف کړل چې د درې ګونو پوځي ټولګیو یاني سپرو، پیاده او توپچي لپاره بولۍ ګانې وضع شوې او پوځي قوماندې د انګرېزي نه په پښتو وژباړل شوې او په پاړسو کې تشریح شوې وې. د ده یوه ژباړه قواعد عسکري لسان افغاني نومېږي او ۳۸۲ مخه لري.[۱۸۷] د کاکړ په وینا دا چې ځینې کسان وایي چې امیر شیرعلي خان سمونونه د هغه پلان له مخې عملي کړل چې سید جمال الدین افغان ورته تهیه کړی و، رښتیا نه دي. رښتیا دا دي چې امیر شیرعلي خان د مخه تر دې چې د سمونونو په پلي کېدو پیل وکړي سید جمال الدین د ۱۸۶۸ کال د سپتمبر په دولسمه نېټه د کندهار د چمن له لارې هندوستان ته شړلی و. شیرعلي خان لا هغه وخت د خپل پلار سره ملګری و چې پلار یې په برتانوي هند کې پراري و او هغه وخت یې د انګرېزانو پرمختګ پخپلو سترګو لیدلی و او هلته د خپل هېواد د پر مختګ او عصري کولو فکر ورسره پیدا شوی و. امیر شیرعلي خان امبالې ته د لارډ مایو د کتنې نه د راستنېدو پر مهال نه یوازې د برتانوي هند نه د سمونو زیاتې طرحې وطن ته راوړې. بلکې د ځان سره یو شمېر کارپوهان هم راوستل. بیلیو چې پدې کتنه کې ژباړونکی و، وایي چې «امیر شیرعلي ډېرې زیاتې د سمونو طرحې هم له ځان سره وطن ته یووړې.»[۱۸۸]



## امیر عبدالرحمن او پښتو ژبه

لکه چې مې د مخه یادونه وکړه امیر شیرعلي خان د افغان-انګلیس د دوهمې جګړې په پیل سره د هېواد شمال ته پدې نیت چې روسیه به ورسره مرسته وکړي لاړ شو او روسان د دې پرځای چې مرسته ورسره وکړي دی یې وهڅاوه چې د انګرېزانو سره جوړه وکړي. امیر د هغې ناروغۍ له امله چې ورته پیدا شوې وه په مزار کې مړ او هلته خاورو ته وسپارل شو. په کابل کې امیر محمد یعقوب خان واکمن شو او په ګندمک کې یې د انګرېزانو سره تړون لاسلیک او د هېواد یو شمېر سیمې یې انګرېزانو ته ورکړې.

په کابل کې د انګرېزانو پر ضد افغان پوځ د خلکو په ملاتړ پاڅون وکړ او د کابل په بالاحصار کې یې د انګلیسانو سیاسي استازی کیوناري، د هغه درې انګلیسي ملګري او ۷۵ تنه هندي ساتونکي ووژل. د دې پېښې وروسته لارډ لیټن انګرېزانو د غچ اخېستلو په موخه ځینې ګامونه پورته کړل او برسېره پردې ده د افغانستان د ټوټې کولو پلان تر لاس لاندې ونیو چې د برېټانیې، روسیې او ایران تر منځ ووېشل شي او دغه پلان یې د نوي نظم په نوم یاد کړ.

د ښه مرغه د اپریل په میاشت کې په انګلیستان کې د لیبرال ګوند د ویلیم ګلاډستون په مشرۍ ټاکنې وګټلې لارډ لیټن د برتانوي هند د واکمنۍ نه لیرې شو او پرځای یې لارډ ریپن وټاکل شو. دوی خپل سیاست ته بدلون ورکړ او لارډ ریپن کابل ته یو تجربه کار ډیپلومات لېپل ګریفن ولېږلو هغه د شمالي افغانستان لپاره د یوه واکمن په لټه کې شو. امیر عبدالرحمن چې بخارا ته تښتېدلی و او دوولس کاله یې هلته تېر کړي و او د روسانو په مواجبو یې ژوند کړی و د هېواد شمال ته راغی او هلته یې فعالیت پیل کړ او د واک خاوند شو. لېپل ګریفن د خپلو موخو لپاره د عبدالرحمن سره اړیکې ټینګې او لیکونه یو او بل لوري ته ولېږل شول. په پای کې امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحمن د انګرېزانو سره دا ومنله چې د شمالي افغانستان واکمن شي. دغه مهال د مېوند په جګړه کې افغانانو د سردار محمد ایوب خان په مشرۍ انګري پوځ ته کلکه ماتې ورکړه انګرېزان د نوي نظم د پالیسۍ نه تېر شول او امیر عبدالرحمن یې وهڅاوه چې کندهار پخپل زور د ایوب خان نه ونیسي او پخپله واکمني کې یې شامل کړي.

د امیر عبدالرحمن سره د موافقې وروسته دغه جګړه پای ته رانږدې شوه او د میوند جګړې د لېټن د تجزیې پلان ناکامه کړو او امیر عبدالرحمن د انګرېزانو په مرسته محمد ایوب خان مات او افغانستان د عبدالرحمن تر واکمنۍ لاندې یو موټی شو خو دا د افغانستان د خاورې د یوې برخې په بایلودلو او د هېواد د بهرني سیاست د لاسه ورکولو په بیه تمام شو.

د افغان-انګلیس د دوهمې جګړې وروسته د انګرېزانو د رسمي چارواکو په سیاست کې دوې نظریې په ښکاره توګه څرګندې شوې چې یوه یې د «بیلتون سیمه» او بله یې د «علمي کرښې» په نومو یادې شوې چې د دواړو موخه د روسیې د تیرې په وړاندې د برتانوي هند ساتنه وه. خو کله چې په ۱۸۸۰ کال کې روسانو په پامیر کې د افغانستان ځینې ځمکې ونیولې نو انګرېزانو د روسانو سره د افغانستان د ټولې شمالې پولې د په نښه کولو موافقې ته ورسېدل او بیا دا کار ترسره شو.

د علمي پولې د په نښه کولو لپاره په امیر باندې د ډېورنډ توافق لیک وتپل شو چې افغانانو هغه رد کړ. د ډېورنډ کرښې دولت کمزورۍ کړ، افغانستان هغه پراخې سیمې د لاسه ورکړې چې داسې پښتانه پکې اوسېدل چې د هېواد په جوړېدو او ساتلو کې یې مهم رول درلود.

لدې وروسته امیر د هېواد کورنیو چارو ته پاملرنه وکړه. ده پدې ډېر زور واچاوه چې یو غښتلی مرکزي دولت جوړ کړي. پدې موخه نوموړي امیر د غښتلي پوځ، پراخې اداري او د جاسوسۍ پراخه شبکې، د مالیې د راټولولو سیستم جوړولو او د بهرني سوداګرۍ د انحصارولو ته مخه کړه.



د دغه امیر د واکمنۍ په جریان کې د یوه سیاسي، اقتصادي، حقوقي او پولي سیستم په غښتلي کولو سره د واحدې ټولنې د منځ ته راتلو لپاره شرایط برابر شول چې په هغې کې یو مرکزي واکمن ملي دولت جوړ شو. امیر روحانیون، د ځمکې غټ مالکان او د قبیلو د مشرانو په ځپلو سره نه یوازې د غښتلي سیکولر حکومت لپاره بلکې په راتلونکو لسیزو کې یې د هېواد د عصري کولو او صنعتي کولو لپاره لار هواره کړه. خو امیر د ټولنیز او زده کړې د سیستم د جوړولو هڅې ونکړې. ده د اساسي قانون د جوړولو نوښت ونکړ چې د خلکو مسؤلیتونه او حقوق پکې ټاکل شوي وای. دی یو مستبد واکمن شو او د ټولنې افراد اړ شول چې نوښتګر، خوځوونکي او جوړونکي او په ځانګړې توګه متفکر و نه اوسي.

که د امیر شیرعلي خان سیاسي مرکزیت چې د دودیزې فردي ازادۍ سره ملګری و د خپلې واکمنۍ په پای کې هېواد په داسې لارې روان کړی و چې افغانستان په ملي دولت بدل شي خو امیر عبدالرحمن د دودیزې فردي ازادي پرته سیاسي مرکزیت منځ ته راووړ. ده د امیر شیرعلي خان پرعکس هغه محمدزیان په سر کې ودرول. چې د انګلیس د تیري په وخت کې د انګرېزانو پلویان وو.

په افغانستان باندې د انګرېزانو په دوهم پوځي یرغل سره نوي دولت د امیر شیرعلي خان د پښتو سمون ترک کړ. د پښتو ملکي القاب ترک شول، فارسي د دفتر یوازینۍ ژبه شوه، خو د امیر شیرعلي خان د وخت پوځي القاب تر زیاتې اندازې پر ځای پاتې شول. برسېره پردې چې پدې وخت کې یو شمېر تألیفات په پښتو وشول، د ختیځو پښتنو سره د امیر مراودې او هغو ته د ده فرمانونه اولیکنې په پښتو وې. د دربار په دارالانشأ کې د پښتو ځانګړې څانګه پرانېستل شوه چې مشر-یې ملا محمدخان افغاني نویس د عبدالله خان افغان نویس پلار و.

پوهاند کاکړ وایي چې: «د ملي مصلحت تقاضا دا وه چې د امیر شیرعلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان اخلافو په تېره امیر عبدالرحمن د هغه اصلاحات او په خاص ډول د پښتو حرکت د سره نیولی، اصلاح کړی او لا هم عمومي کړای وای، خو نه امیر عبدالرحمن او نه د هغه پاچا زوی حبیب الله خان دغسې وکړل. دوی شاید لدې کبله داسې نه وي کړي چې د امیر شیرعلي خان د تربورې کورنۍ غړي وو، یا یې نه غوښتل، د هغه نوښتي او اصلاحي پروګرامونه د سره ونیسي.... په پښتنو په تېره د سر په پښتنو کې څه وخت چې کومه کشاله مخصوصا هغه چې د واک پر سر را منځ ته شوې، هغه د تربورۍ په چوکاټ کې اچول شوې او بیا تربورۍ په دښمنۍ بدله شوې ده.» ۱۸۹

د ارانتیا ځای دی چې امیر عبدالرحمن د یوې خوا د امیر شیرعلي خان په پر تله ځان ځکه د واکمنۍ مستحق ګڼې چې د امیر شیرعلي خان مور پښتانه وه او د ده نیا ایرانۍ او د شاه طهماسب د تومنې نه وه او د بلې خوا خپل ځان په دې هم مستحق ګڼې چې د امیر شیرعلي خان پلار امیر دوست محمد خان مور قزلباشه وه. دی لیکي: «مادر پدرم یکي از خواتین شاهی و از نژاد طهماسب بوده و مادر شیرعلي خان یکی از طایفه سلیم زایي که شعبه ای از پوپل زای است بوده، هیچ یک از اجداد او سلطنت نه کرده اند. از طرف دیگر مادر امیر دوست محمد خان غزلباش بود و این طایفه ای است که هیچ ربطې به افغانستان ندارد، ولې با این همه امارت به او رسید.»۱۹۰

که د ده په وینا قزالباشان په افغانستان پورې اړه نه لري نو شاه طهماسب بیا په افغانستان پورې څه اړه لري چې پرې وویاړي.

## امیر حبیب الله خان او پښتو ژبه

د امیر عبدالرحمن د مړینې وروسته د امیر مشرـ زوی حبیب الله خان د پلار د وصیت سره سم د واک په ګدی کېناست. امیر عبدالرحمن د خپلې یوویشت کلنې استبدادي واکمنۍ په یون کې د سر سړي وژلي او یا یې د



هېواد نه شړلي و تر څو د ده ځای ناستي ته ستونزې جوړې نه کړي.

امیر حبیب الله خان د خپل پلار غوندې سخت زړی نه بلکې د نرم دریځ خاوند و. امیر حبیب الله خان د یوې خوا د لوېدیځې پوهې په لرلو سره د مدنیت، پوهنې او پرمختګ پلوي و او د بلې خوا د ښځو د حقوقو د ورکولو کلک مخالف و.

د امیر حبیب الله خان په وخت کې د حبیبیې او حربیې ښوونځي جوړ شول او د سراج الاخبار جریده چې لومړی ځل یې یوازې یوه ګڼه د چاپه راووته د مولوي عبدالروف کندهاري له خوا د ۱۹۰٦ کال د جنوري په یوولسمه نېټه خپره شوه او بیا په ۱۹۱۱ کې د سراج الاخبار افغانیه په نامه د محمود طرزي په مشرۍ په خپرونو پیل وکړ. پدې کار کې هغو پراریانو چې د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ په مهال د هېواد نه شړل شوي وو، ستره ونډه واخېسته چې په بهر کې یې نوې پوهنه تر لاسه کړې وه چې ډېر مهم یې محمود طرزی، غلام محی الدین افغان او نور دي. په بهرني سیاست کې د پلار په ګام روان و او د انګرېزانو سره یې د پلار له خوا تړون د سره لاسلیک کړ.

د امیر حبیب الله خان په وخت کې هم پاړسو د هېواد یوازنۍ رسمي ژبه وه او پښتو ژبه یوازې په ښوونځیو او مدرسو کې د پوهنې په نصاب کې شامله شوه خو د غبار په وینا د حبیبیې په لیسه کې انګلیسي ژبه یې د پښتو په وړاندې کېښوده چې زده کوونکي د دواړو ژبو نه په خپله خوښه یوه ټاکلی شي. نور ټول مضامین په پاړسو ژبه وو. که څه هم په دولتي کچه پښتو ژبې ته پاملرنه نه ده شوې خو په ولسي کچه بیا هم لږ لږ کار کېده.

روښانفکرانو د پاچا د واک د محدودولو، د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو او د اساسي قانون د جوړولو لپاره مبارزې پیل کړې د سراج الاخبار جریدې خپرولو د پښتو ژبې ودې ته ورو ورو لاره پرانېسته او د پښتو شعرونو او مقالو خپرولو ته پام وشو. لومړی پښتو شعر چې پدې جریده کې خپور شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مولوي صالح محمد کندهاري شعر دی:

دا څه عجیب دوران دی
چې راغلی پر افغان دی
رنگا رنگه ترقي ده
څه عجب محبوب عنوان دی
دا له کومه سو په موږ کې
چې ظاهر او نمایان دی
دا خو عصر د سراج دی
چې ظاهر او نمایان دی
ته سراج الاخبار ته گوره
چې د ملک په تن کې ځان دی
اوس بیا نور علی نور سو
په پښتو چې دی گویان دی[۱۹۱]

په دغه مهال کې د پښتو ژبې او د هغې ادب سرلاري: مولوي صالح محمد کندهاری، غلام محی الدین افغان، مولوي عبداواسع کندهاری، عبدالعلي مستغني او عبدالهادي داوي وو. د دې اخبار نور همکاران چې په پښتو یې شعرونه ویلي دا دي: سید محسن کندهاری، عبدالسلام کامه یي، ملا عبدالباقي کندهاری، میرزا عبدالرحیم رحیمي او ملا محمد خان عرض بیگي (افغان نویس).

صالح محمد هوتک د حبیبیې ښوونځي نه فارغ شوی او بیا په هماغه ښوونځي کې د پښتو ژبې د ښوونکي په توگه وټاکل شو او د پښتو د درسي کتابو په لیکلو یې پیل وکړ. ده «خود اموز پښتو» چې په ۱۳۱۳ کل کې د کندهار په مطبعه کې چاپ شو، «لومړی کتاب د پښتو»، په ۱۳۳۵ کال کې د لاهور د دین محمدي په مطبعه کې خپور شوی دی، «پښتو ژبه



لومړی ټوک»، چې په ۱۳۱٦ کال کې پښتو ټولنې چاپ کړو، «پښتو ژبه دوهم ټوک»، په ۱۳۱۷ کال کې پښتو ټولنې چاپ کړو، د پښتو لپاره تدریسي کتاب، «پښتو صرف او نحوه» چې د اردو نه ژباړل شوی دی، د عزیزي تفسیر د پښتو ژباړه، «اطاعت اولوالامر» په پښتو ژبه، «پښتو مثنوي»، په ۱۳۵۰ کال کې د پښتو د انکشاف او تقویې ریاست له خوا چاپ شول، «تذکراته الشعرأ» د مولوي صالح محمد او سراج الدین گډ تألیف دی.

پدې توگه صالح محمد کندهاري د پښتو ژبې لپاره نه سترې کېدونکي خدمتونه کړي دي.

غلام محی الدین افغان چې د پراری په وخت کې یې په هند کې نوې پوهنه زده کړې وه د امیر حبیب الله خان په وخت کې د دارالمعلمین مدیر ټاکل شوی و د پښتو ژبې د سوچه کولو سره مینه درلوده او د ده د شعر څو بیتونه دا دي:

زړه زما ډک دی له مینې د وطن
خپل وطن ما ته عزیز دی تر خپل تن
هر یو گل مې د وطن پر ما ډېر گران دی
تر کشمیره، تر پاریس و تر لندن
شیرین ځان مې په شیرین وطن فدا دی
زه خو دا رنگه فرهاد یمه کوهکن
چا په زړه کې چې جنون د وطن نه وي
د هغه زړه خدای همېش لري غمجن
که څه ډېر دي په جهان کې خدمتونه
ډېر عزت دی په خدمت کې د وطن[۱۹۲]

عبدالعلي مستغني هم د دې ډلې نامتو شاعر دی. ده ډېر شعرونه په پارسو ویلي خو ځینې شعرونه یې په پښتو هم ویلي دي ده د خپلې مورنۍ ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو سره مینه درلوده او د پښتنو پام یې دې ټکي ته اړولو چې کـه د نـورو ژبو زده کړه ډېر ښه کار دی خو باید دومـره ناپوهـه نـه شـو چـې خپلـه ژبـه پرېږدو. ځکه دی پښتنو ته په زغرده وایي چې:

ښه ده ښه ده که په سل ژبو دانا یې
مگر ما کېږه نادان د خـــــپلې ژبې

د ده دشعر یو څو بیتونه:

بـې لـه علمـه بـه څـه غـواړې پـه دنیـا څـوک
که عاقل وي که هوښیار وي کـه دانـا څـوک
تـر دې ښـه متـاع پـه دې دوکـان کـې نشـته
سـود بـه وکـا کـه کـوي دغـه سـودا څـوک
درسـت جهـان قربـان د علـم تـر گـوهر شـه
دغـه وایـم کـه مـې ویوښـتي رښـتیا څـوک
چـــې د علـــم د طبیـــب دارو ونـــه خـــوري
لــه مــرض د جهــل نــه مــومي شــفا څــوک
د هغـــه ملـــت بـــه څرنگـــه ښـــادي وي
چـې پـه ده کـې بـه عـالم نـه وي اصلا څـوک
پـه جهـان کـې غالـب پـه هـر دښـمن شي
کــه د علــم تــوره وتــړي تــر مــلا څــوک
پـه حکمـت سره د خپـل ملـت غمخـور شـه
بــاري نــه لــري د بــل ملــت پــروا څــوک
لـه پښـتو بـه پښـتون څـه چشـم پـوشي کـا
دا بـه نـه کـا کـه لـري شرم و حیـا څـوک۱۹۳



عبدالهادي داوي د دې مهال یو نامتو سیاسي شخصیت و. ده پـه پښـتو او پارسو یو شمېر علمي او ادبي لیکنې کړې دي. ده یوه رساله چې «زمـا پـاک رسول» نومیږي په پښتو ژباړلې او په لاهور کـې د (افغانسـتان) د جریـدې د ادارې له خوا خپاره شوې ده. بل د «غیاصه» په نامه د پښتو منظوم کتـاب دی چې د روهي په وینا د پښتو ځینـې نـادر لغتونـه یـې پـه کـې شرح کـړي دي.

د ده د شعر بېلگه:

## چارگل

نـاوې! څـه بړدې پـه اوربـل بانـدې قطـار گـل
انسان کلـه سي کېـدای پـه ډېـر سینگار گـل
(خـاموشي) او (اطاعـت) د خپـل مېـړه کـړه
(تربیــت د اولاد) ښــه دی تــر خــروار گــل
(سرشــته د کــور) هــر گــوره لــوی هــنر دی
اکتفـا کـړه ښایســتې پـه دغـه چارگـل۱۹۴

## مولوي عبداواسع کندهاری

مولـوي عبداواسع کـاکړ د مولـوي عبـدالروف خـان چـې د سراج الاخبـار د جریدې د لومړۍ گڼې خپرونکی و زوی دی. نوموړی د پښتو مرکې رییس، د قضایي قوانینو او دولتي نظامنامو او رسالو لیکـونکی او شـاعر هـم و د ده د شعر بېلگه:

اوس معلوم سو (با) وجـــدانه قانـــون دان دی
بې قانون چې هر سړی دی بې وجدان دی۱۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا عبدالباقي کاکړ په کندهار کې زیږېدلی دی. نوموړي یو کتاب په پښتو ژبه لیکلی چې ٦۰۰۰ بیته لري چې د امیر عبدالرحمن په وخت کې پیل کړی او د امیر حبیب الله خان په وخت کې پای ته رسولی دی. دی وایي:

د ضیأ په نور روښان سوم مقتبس سوم له سراجه
را اخېستی مې قلم دی بیلوم دین لـه رواجه۱۹٦

## امیر امان الله خان او پښتو ژبه

امان الله خان د خپل پلار امیر حبیب الله خان د وژل کېدو وروسته واکمـن شو. دغه ځوان او ترقي غوښتونکي پاچا تـر هـر څـه د مخـه د افغانسـتان د خپلواکۍ ګټلو لپاره ملا وتړله او د افغان-انګلیس د دریمې جګـړې پـه پایلـه کې افغانستان د اسیا په زړه کې د یوه خپلـواک هېـواد پـه توګـه سر راپورتـه کړ چې ځوان پاچا یې د هېواد د چټک او ګړندي پرمختګ لپـاره ټینـګ هـوډ درلود.

امیر امان الله خان د خپلواکۍ د ګټلو وروسته د افغاني ټولنې مـدني کولـو او نوي کولو لپاره د بنسټیزو او پراخو سمونونو په پلي کولو پیـل وکـړ. امـان الله خان د خپلو استازو او بیا پخپله د اروپـا، اسیا او افریقـا ځینـو هېـوادو تـه د اوږده سفر په ترڅ کې افغانستان نړیوالـو تـه وروپېژانـده او د ډېـرو هېـوادو سره یې ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې او یو شمېر تړونونه لاسلیک کړل. اساسي قانون جوړ شو چې د هغه له مخې د هېـواد ټولـو وګـړو تـه د جـنس، قـوم او مذهب د توپیرونو پرته یو هومره حقونه ورکړل او غلامي یې لغوه کړه. ملـت ته یې د لویو جرګو د رابللو له لارې د دولت پـه چـارو کـې ونـډه ورکـړه، پـه وړیا توګه یې د پوهنې عصري کولو او پراخولو ته ړټ پام وکـړ او د قـانون لـه مخې یې په هېواد کې لومړنۍ زده کړې هرو مرو (حتمي) کړې. د هېـواد د صنعتي کولو، د سـوداګرۍ او د ډلـه ایـزو خپرونـو د پراختیـا لپـاره ګامونـه پورته شول.



امان الله خان د ملایانو، پیرانو، سیدانو، ملکانو مواجب چې د مغلو لـه وختـه دود وو او هم د محمدزیو مواجب چې امیر عبدالرحمن نر او ښځو ته مـنلي وو «د دغه اصل له مخې چې عایدونه بایـد وګټـل شي ودرول یـا لـږ کـړل» ۱۹۷ چې په پایله کې د دې ټـولنیزو قشرـونو د خوابـدۍ سبب شـول. پـدې ترتیب ساتنپالو د عبدالقدوس خان پـه مشرـۍ، متنفـذو روحـانیونو چـې پـه سر کې یې د مجددي کورنۍ ولاړه وه او د جمهوریت غوښتونکو کـړۍ چـې د محمد والي خان دروازي په سروالۍ یـې چـې پخـوا د دربـار د غـلام بچـه ګانو مشر و، د امان الله خان پر ضد د دسیسو په جوړولو لګیا وو چې د امـان الله خان د واکمنۍ په راپرزولو کې ټاکونکی رول ولوباوه.

د کاکړ په وینا د امیر امان الله خـان پـه وخـت کـې دپښـتو د رسـمي کېـدو دوهم حرکت د لومړي حرکـت نـه چـې امـیر شـیرعلي خـان پخپلـه دوهمـه واکمني کې پیل کړی و نږدې نیمه پېړۍ وروسته په کنـدهار کـې پیـل شـو ده په کندهار کې د هغه ځای اړوندو چـارواکو تـه لارښـوونه وکـړه چـې «د کندهار زده کوونکو ته دې په پښتو کې د زده کـړې کتابونـه برابـر او د زده کوونکو شمېر د زیات شي.» ۱۹۸

امان الله خان په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د رسمي کېـدو او تعمـیم تـه ځای ور نه کړ که څه هم د جرګې زیات غـړي پښـتانه وو خـو دوی د امـیر په شمول د امیر شیرعلي خان غوندې قوي ملي شعور نه درلود چې د خپلـې ژبې د رسمي کېدو او تعمیم په اهمیت وپوهېږي. خو امان الله د پښتو ژبـې د ودې په موخه د «مرکه پښتو» اداره جوړ کړه.

د غفار خان په وینا په لومړي سر کې امان الله خان په پښتو خبرې نـه شـوې کولی. غفار خان امان الله ته په کابل کې د خپلې لیدنې پر مهال وویـل چـې: «تا له ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي، خو خپلـه ژبـه نـه درځي. زما خبرې په هغه باندې ډېر اثر وکړو او وعده یـې راسره وکـړه چـې زده کوم به یې.»۱۹۹ غفار خـان زیـاتوي چـې: «کلـه چـې [امـان الله خـان] د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان نه وایستل شو، زه بمبیي ته د ده لیدو ته ورغلم نو هلته یې زما سره په پښتو کې خبرې وکړې.» ۲۰۰ پدې ترتیب امان الله خان پښتو ژبه زده کړه او د محمد اعظم سیستاني په وینا هغه «د ۱۹۲۵ کال د فبروري په میاشت کې د افریدو او مومندو په جرګه کې، چې په جلال اباد کې جوړه شوې وه، په پښتو ژبه وینا وکړه.»۲۰۱ نوموړی زیاتوي چې «سره له دې چې د پخوانیو واکمنو او د حکومت اوسنیو شخصیتونو زیاته برخه په ملي افغاني ژبه (پښتو) نه پوهېدل، امیر په خپلې ژبې باندې خبرې کولو ته ترجیح ورکوي، بلکې په هغې خبرې کوي، هغه کسان چې د ملي ژبې نه اهمال کوي خطا کار یې بولي.»۲۰۲

د غفار خان له خوا د «پښتون» مجلې خپرولو په افغانستان زیات اغېز وشینده. عبدالهادي داوي په کابل کې په پښتو ژبه د «پښتون» مجله راوایسته او په امیر امان الله خان یې دومره اغېز واچاوه چې اعلان یې وکړ چې خلک باید پښتو ژبه زده کړي، درې کاله وروسته به پدې هېواد کې پښتو تعلیمي او رسمي ژبه وي. خو د بده مرغه د افغانانو کورنیو او بهرنیو دښمنانو ځوان، په وطن مین او مترقي پاچا د خپل پلرني ټاټوبي نه وایستلو او دا پلان یې د نورو مترقي پلانونو په شان پاتې شو.

## د نادرشاه او ظاهرشاه په دوره کې پښتو ژبه

نادر خان د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر د میاشتې په لسمه نېټه وروسته له دې، چې د سقاو زوی یې رانسکور کړ، واک ته ورسېد. نادر شاه د پاچا امان لله خان د مهال د تجربې پر بنسټ د هغه سمونونه د سره او ګام په ګام پیل کړل. لومړی یې د امنیت ټینګولو ته پام وکړ، اساسي قانون یې جوړ کړ چې د امان الله خان د اساسي قانون سره یې لږ توپیر درلود او تر ۱۳۴۳ کال پورې نافذ و. نادر خان د هېواد اقتصادي ودې، د پوهنې پراختیا او فرهنګي چارو ته پاملرنه وکړه. د شلمې پېړۍ په دیرشمو کلونو کې پنځلس لوی



شرکتونه جوړ شول، په ۱۹۳۲ کال کې (بانک ملي افغان) په کار پیل وکړ، یو شمېر د نفوذ خاوندان، روحاني شخصیتونه، لوی مځکه وال او د سوداګرو نمایندګان یې د ملي شورا او اعیانو مجلس ته جذب کړل. اعتدال خوښونکي روښنفکران یې په فرهنګي موسسو کې وټاکل. په کابل، کندهار او هرات کې ادبي انجمنونه جوړ شول.

د پښتو د علمي کېدو او غني کېدو لپاره لومړنۍ اساسي ګام د پاچا محمد نادر خان په وخت کې د «ادبي انجمن» په تاسیس سره واخېستل شو په کندهار کې د ادبي انجمن بنسټ په ۱۹۳۲ کال کې د محمد نادر خان په اجازه د کندهار تنظیمه رییس محمد ګل خان مومند کېښود او د هغه ولایت دفترونه یې په پښتو واړول. دغه انجمن وروسته په کابل کې له ادبي انجمن سره یوځای شو او بیا په ۱۹۳۷ کې پښتو ټولنه شوه. د «کابل» په نامه د انجمن مجله لومړی په پارسو او پښتو او وروسته یوازې په پښتو خپرېده. پدې ډول د پښتو دغه حرکت د باچا نادرخان او ورپسې د پاچا محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په لومړیو وختو کې په قوت روان شو او د هغه لپاره په رسمي او علمي برخو کې کار کېده.

پښتو ټولنې او وروسته د ادبیاتو پوهنځي تر لسو نه په ډېرو ځانګو په تېره د پښتو ادبیاتو، تاریخ او ګرامر په باب کتابونه خپاره کړل او د کلاسیکو شاعرانو کلیات او دیوانونه یې په کراتو چاپ کړل. دوی همدارنګه د ښوونځیو لپاره کتابونه هم برابر کړل. دغې ټولنې او تاریخ ټولنې دا کارونه د عبدالحی حبیبي، عبدالرؤف بېنوا، صدیق الله رښتین او ګل پاچا الفت په مشرۍ او همدا راز د قیام الدین خادم، ډاکټر محمد حسن کاکړ او نورو لیکوالو او پوهانو په مرسته تر سره کړل. دغو پوهانو، شاعرانو، مورخانو او لیکوالو په عین حال کې د اخبارونو او مجلو او کلتوري او تاریخي ټولنو په چلولو سره د پښتو حرکت پیاوړی کړ. پښتو یې غني کړه او د هغې په باب یې سیاسي اجتماعي شعور ویښ کړ. د دغه حرکت په رامنځ ته کولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ګل خان مومند مهم رول لوبولی دی. ده برسېره پردې چې په کندهار کې يې د پښتو انجمن تاسيس کړ په پښتو کې يو شمېر اثار هم کښلي چې په هغو کې يې په دوه ټوکه کې د پښتو سيند په نوم په ۷٦٥ مخونو کې د پښتو ډکشنري ده.

په ۱۹۳۷ کال کې د سردار محمد هاشم خان د صدارت په وخت کې کله چې محمد نعيم د پوهنې وزير و د اصلاح په ورځپاڼه کې يو پاچايي فرمان خپور شو چې ويل يې چې پښتو دې د فارسي په څنګ کې په دولتي دفترونو کې جاري شي او د هغه لپاره د درې کلونو په موده کې پښتو دومره زده کړي چې پرې خبرې او هم ليک ولوست وکړای شي او د ولس او حکومت تر منځ مفاهمه حقيقي شي او ملي پېوستون ټينګ شي. د دغه مقصد لپاره د تدريساتو د لوی مديريت له خوا مامورينو د دوی پخپلو دفترونو کې د پښتو د زده کړې کورسونه پرانېستل شول. په اول سر کې حکومتي مامورينو د پښتو زده کړه جدي ونيوله، خو کورسونه که څه هم چلان وو، ورو ورو بې اغېزې شول. د دغو کورسونو د ناکامی يو لامل دا دی چې د پښتو د تدريس لپاره له دارالمعلمينو او ادبياتو د پوهنځي نه فارغ شوي مسلکي ښوونکي نه استخدامېدل، بلکې فقط باسواده ، نيمه باسواده، نيمچه ملايان او په هر حال غيرمسلکي کسان استخدامېدل. د پښتو د تدريساتو د مديريت مشران همدغسې مسلکي او د صلاحيت خاوندان نه وو چې دغسې مهم مسلکي ماموريت سر ته ورسولی شي. د ناکامی بنسټيز علت دا و چې فارسي په دولتي مامورينو او تردې لا مهم په حکمراني کورنۍ او نورو متنفذو کورنيو کې په قوت سره ننوتلې وه، داسې چې د واکمنې کورنۍ د نوي نسل نږدې ټولو غړو پښتو نه شوه ويلای او فارسي ژبي شوي وو او پښتو ورته د بېګانۍ ژبې حيثيت غوره کړی و. «دوی ټولو د پښتو سره داسې سلوک کاوه لکه ميرې زوی چې اوسي ځينو به ملنډې ورپورې وهلې. د همدغو سلوکونو پر سبب هغه حرکت چې څه



باندې شل کاله وروسته د قانوني پاچايي په لسيزه کې د ډاکټر عبدالظاهر د صدارت په دوره کې په ولسي جرګه کې د ملت د زياترو استاذو له خوا د مامورينو د استخدام د لايحې د قانوني کولو په وخت کې پيل شو، هم ناکام شو»[۲۰۳] چې وروسته به ورته راوګرځم. دا هم بايد وويل شي چې دهغو کړيو له خوا لکه قزلباش، پاړسيان او ځينې ستمي ډوله افغانانو د ورانکارو کړو وړو چې محمد صديق فرهنګ يې منفي مقاومت بولي هم اغېز درلود.

فارسي د پښتنو او نورو لږکيو په بانفوذه کورنيو کې لدې امله ننوتلې وه چې هغې په دولتي ماموريت کې د يوه هوسا، سوکاله او خوشاله ژوند لپاره شوونتياوې برابرولې او يا په نورو ټکو په دولتي ماموريت کې عزت، شتمني، نوم، تنخواه، بډې او رشوت موجود وو. دا خبره ناڅاپي نه ده چې وايي: «مړه ګېډه پاړسو وايي».

د دولت په څنګ کې د ولس په کچه هم د پښتو ژبې لپاره کار کېده. د پښتو ژبې نږدې ټول نامتو ليکوال او شاعران د هغه مهال د ويښو ځلميانو د سياسي نهضت غړي وو، چې د اقتصادي، ټولنيزو، سياسي سمونونو، د ښځو دموکراتيکو حقونو او د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادي غوښتونکي نهضت لپاره يې مبارزه کوله، د ويښو ځلميانو په مرامنامه کې د پښتو ژبې ته ترقي ورکولو ماده هم شامله وه. دغو نامتو ليکوالو د هېواد د تاريخ، هنري ادبياتو، پښتو ژبپوهنې او پښتو شعر د پرمختګ لپاره د قدر وړ کارونه ترسره کړل. محمد ګل خان مومند، عبدالحی حبيبي، صديق الله رښتين، ګل پاچا الفت، عبدالروف بېنوا، نورمحمد تره کي، قيام الدين خادم، عبدالشکور رشاد، محمد حسن کاکړ، سليمان لايق، حبيب الله تږی، محمد صديق روهي، بختياني خدمتګار او نورو د پښتو ژبې لپاره د قدر وړ چوپړ وکړ. د دوی احساسات د قيام الدين خادم د شعر په لاندې بيت کې ښه بيان شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت د خپلې ژبې، قام، وطن زما مسلک دی
په دې مینه به پایم که وم وم که نه وم نه وم

خو دولتي واکمنو د اعتدال خوښونکو روښنفکرانو د شته نظام په چوکاټ کې د سمونو فعالیت نه شو زغملی. په دې ترتیب د دولتي واکمنو دریځ یو شمېر روښنفکران په دې فکر کړل چې د بې وزلۍ، بېسوادۍ او ټولنیز فساد د مخنیوي او د اقتصادي، ټولنیز او سیاسي پرمختګ لپاره اساسي بدلون ته اړتیا ده.
دا یادونه هم اړینه بولم هغه وخت چې ډاکټر صمد حامد د کابل پوهنتون رییس و د هغه په نوښت د کابل پوهنتون د پښتو ژبې زده کړیالو لپاره درسي کتابونه د دري نه په پښتو وژباړل شول تر څو پښتانه زده کړیالان لږ تر لږه خپل درسي کتابونه په خپله مورنۍ ژبه په لاس کې ولري.
د مخه مو یادونه وکړه هغه حرکت چې د قانوني پاچایي په لسیزه کې د ډاکټر عبدالظاهر د صدارت په دوره کې د ولسي جرګې د زیاتره استازو له خوا د مامورینو د استخدام د لایحې د قانوني کولو په وخت کې پیل شو، هم ناکام شو. دا موضوع عبدالغفار فراهي، چې دا وخت د ولسي جرګې غړی و، پخپل کتاب کې چې «د دیموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې» نومېږي ښه روښانه کړې ده. په ۱۹۷۱ کال کې د دولت د ملکي مامورینو قانون د ولسي جرګې د تفتیش کمیسیون کې تصویب شو او د ولسي جرګې عمومي غونډې ته وړاندې شو. د ولسي جرګې په عمومي غونډه کې ځینو وکیلانو د استخدام پر شرایطو دا شرط ور زیات کړ چې په دولت کې باید هغه څوک استخدام شي چې په پښتو او پاړسو ژبو وپوهېږي. عبد الغفار فراهي چې دا وخت پخپله د ولسي جرګې یو فعال غړی و وایي چې دا وړاندیز د وازې خوا وکیل بیان الحق له خوا د حکومت د یوه مهم غړي په لارښوونه وړاندې شو. د حکومت دغه غړي دوه هدفونه درلودل یو دا چې



پدې خبره به پښتانه وکیلان خوشاله کړي او د بلې خوا دی پوهېده چې پاړسیوان وکیلان به یې مخالفت وکړي. په پای کې به د محمدظاهر حکومت کمزوری او نسکور شي او دی به زر صدراعظم شي.
دغه وړاندیز د ملي شورى د ډېرکي له خوا ومنل شو او سمدلاسه تر څېړنې لاندې ونیول شو. پښتنو وکیلانو ویل چې دا وړاندیز عادلانه دی ځکه چې د یوې خوا پښتانه مکلف کېږي چې دري زده کړي او د بلې خوا دري ژبې باید هم پښتو زده کړي چې د خلکو ستونزې حل شي. ولې دري ژبو وکیلانو به ویل چې دري ژبه د ډېر پخوا د افغانستان د دولت مروجه ژبه ده او ډېرې پښتنو همدغه ژبه زده کړې ده، ولې پښتو ژبه په هېواد کې نه ده تعمیم شوې او اوس په افغانستان کې ډېرې خلکو پښتو نده زده. د دې وړاندیز په سملاسي عملي کولو سره د افغانستان ډېر خلک د دولت له ماموریت نه بې برخې کېږي چې دا یو تبعیضي کار دی او باید د دغه وړاندیز د سملاسي پلي کولو مخه ونیول شي. پښتنو وکیلانو پاړسو ژبو وکیلانو ته وړاندیز وکړ چې دا فقره د لس کاله وروسته د پلي کولو وړ شي. پدې لسو کالو کې به دولت د اساسي قانون د ۳۵ مادې د حکم پر بنسټ د پښتو ژبې د ودې او غښتلتیا لپاره اړین ګامونه پورته کړي او پدې موده کې به پښتو ژبه تعمیم شوې وي. خو دا وړاندیز د پاړسي ژبو وکیلانو له خوا ونه منل شو. بیا د پښتنو وکیلانو نماینده ګانو عبدالرؤف بېنوا، عزیزالله واصفي، محمداسحق عثمان، عبدالحمید زهري، یارمحمد دلیلي، عبدالکریم عمرخېل، عبدالغفار فراهي او نورو پرېکړه وکړه چې ټول پښتانه وکیلان د ولسي جرګې غونډې ته حاضر او په یو اړخېز ډول دې دا موضوع تصویب کړي.
فراهي وایي چې موږ هڅه کوله چې ۱۴۴ وکیلان حاضر کړو خو دولت او حکومت پښتانه وکیلان دې ته نه پرېښودل چې خپل نصاب پوره کړي. په ولسي جرګه کې هغه وکیلان چې د دولت مشاورین وو دوی به همیشه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالار کې د وکیلانو شمېر ته پام وو. دوی د نصاب پوره کېدو د مخنیوي لپاره راز راز تاکتیکو نه کار اخېسته. دوی به پدې حساس وخت کې ځینې وکیلان پدې پلمه د تالار نه د باندې ایستل چې تیلیفون ته دې غواړي، د باندې د یوه سړي په کار یې او نورو چلونو څخه کار اخېسته.

د شورۍ وکیلانو یو لس کسیز هیئت د مارشال شاه ولي خان کور ته هم د دې لپاره لېږلی و چې د ده نه د دې ستونزې په حل کې مرسته وغواړي. خو ده او د ده زوی سردار عبدالوالي هېڅ ونکړل.

حکومت د پښتنو وکیلانو لیکنه چې د وکیلانو د قانوني دریځ تر نامه په افغان جریده کې خپره شوه هم په مطبعه کې د اساسي قانون د ۳۱ مادې د حکم پر خلاف بنده کړه او پردې کار وکیلان خوابدي شول او ټول صدارت ته ورغلل. په سر کې صدراعظم عبدالظاهر د ځینو وکیلانو سره چې په تېره دوره کې ده پېژندل ټوکې پیل کړې چې د دوی حساسیت لږ کړي خو بېنوا وویل:« هلته د پښتو جنازه اخېسته کیږي او تاسو دلته خاندی»۲۰۴ چې د بېنوا د دغه اعتراض وروسته وکیلان ډېر جدي شول او ۹۲ وکیلانو صدراعظم ته وویل چې دوی پرېکړه کړې چې د تاسو د حکومت نه خپله د باور رایه بېرته واخلي. همغه دم د ولسي جرگې ټولو وکیلانو د بې باورۍ لاسونه پورته کړل او بېرته ولسي ـ جرگې تالار ته لاړل. وروسته د ظاهر حکومت استعفا وکړه او موسی شفیق صدراعظم شو.

موسی شفیق اراده کړېوه چې د هلمند اوبو معاهده د ایران سره لاسلیک کړي. دولت او حکومت هڅه کوله چې د هلمند د اوبو مسله په اجنډا کې شامله او د ژبو مسله د اجنډا نه وایستل شي خو پښتنو وکیلانو نه ومنله. پښتنو وکیلانو هوډ درلود چې د پاچا فشار ته سر ټیټ نه کړي. بیا پاچا او صدراعظم د دواړو ژبو د وړاندیز مخالفو وکیلانو ته سپارښتنه وکړه چې د ولسي جرگې عمومي غونډې ته حاضر شي. دوی تر شپږو میاشتو اعتصاب وروسته عمومي غونډې ته حاضر شول او د غونډې منشي ـ سید مبین شاه



امیري د ژبې وړاندیز د دوهم وار لپاره ولوست او دغه وړاندیز په یوه خوله (د رایو په اتفاق) ومنل شو.. فراهي وایي چې داسې ښکاري چې د ژبو د وړاندیز مخالفو وکیلانو رهبري د افغانستان د دولت په لاس کې وه. پدې ترتیب د ملکي مامورینو قانون ولسي ـ جرگې او مشرانو جرگې تصویب او پاچا توشیح کړ. خو موږ وینو چې دا قانون د همغه دولت له خوا د کاغذ پرمخ پاتې شو او بیده پښتانه نن هم ورنه نه خبر او نه د هغه په پلي کولو پسې وگرځېدل.

پوهاند ډاکټر کاکړ په بشپړه توگه سم وایي چې: «حکمرانې کورنۍ د پښتو په هکله د امیر شیرعلي خان په اندازه ملي شعور او اراده نه لرله، که څه هم پښتو د دري په څېر رسمي ژبه او په عین حال کې په اساسي قانون کې پښتو د ملي ژبې په حیث منل شوې وه. دا ځکه چې پښتو د افغانانو د ډېره کي ژبه وه... پښتانه د نسب له مخې د ٪٦٣ نه زیات او د گړېدو له مخې ٪۵۵ دي. ... د شلمې پېړۍ دا حرکتونه د حکمرانې کورنۍ د نه پاملرنې په سبب ناکام شول.»۲۰۵

د محمد داود د ۱۳۵۲ کال چنگاښ د ۲٦ مې نېټې د کودتا وروسته یوه استبدادي واکمني ټینگه شوه چې د واکمنۍ په پای کې یې اساسي قانون تصویب کړ او د ظاهرشاه د وخت د اساسي قانون پرخلاف چې په هغه کې پښتو ژبه د افغانستان ملي ژبه اعلان شوې وه هم د اساسي قانون نه لیرې شوه.

د پولیتخنیک د انستیتوت د روسي ژبې د څانگې مشر چې د شوروي اتحاد اوسېدونکی و ما ته دنده وسپارله چې د پښتنو زده کړیالو د ستونزو د لیرې کولو په موخه هغه روسي سیند په پښتو وژباړم چې د پولیتخنیک د انستیتوت د روسي ژبې د تدریس د درسي اړتیا په موخه جوړ شوې او په پاړسو ژباړل شوې و. ده وویل چې دا سیند باید په پاړسو او پښتو گډ چاپ شي او هم به دا کار د تاسو د نوبتي علمي رتبې لپاره هم اړین دی. دا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت و چې داودخان ولسمشر او فقیرمحمد یعقوبي د پولیتخنیک رییس و. ما دا روسي سیند په پښتو وژباړه او اړینې څانګې ته مې وسپاره. دا ژباړه نه یوازې چاپ نه شوه بلکې له منځه هم لاړه. ما هغه وخت د ایراني ژبني فاشیزم درووند بار پخپلو اوږو احساس کړ چې د افغان واکمنو له خوا یې پلی کاوه.. بیا زه دې پایلې ته ورسېدم چې د امیر شیرعلي خان پرته د تیمورشاه نه نیولې تر داود خانه پورې زیاتره افغان واکمن د ایران د فرهنګي ښکېلاک اصلي عاملین دي او لومړی باید د دوی چاره وشي تر څو د پښتو ژبې د ودې په وړاندې دا اساسي خنډ لیرې شي. د داود خان د رژیم په رانسکورېدو سره د محمدزاییانو واکمنۍ پای ته ورسېده.



## څورلسم څپرکی

# د خلقیانو واکمني او پښتو ژبه

د خلک ډموکراتیک ګوند د خپل تاسیس له وخته د هېواد د ژبو د موضوع حل ته په خپل مرام کې ځای ورکړی و. د افغانستان دخلک ډموکراتیک ګوند مرام، چې د «خلق» د جریدې په لومړۍ او دوهمه ګڼه کې خپور شو، د پښتو ژبې توان او د افادې غښتلتیا یې د نویو افکارو په بیان کې څرګند کړل. د خلک ډموکراتیک ګوند هغه نشریات چې په پښتو ژبه د هېواد په جرایدو او ځینې په پټه کېدل د پښتو ژبې په وده او پرمخ تګ کې مهم رول درلود. همدارنګه د نویو نظریاتو د بیلو بیلو څانګو په هکله ځینې کتابونه په پښتو وژباړل شول او ځینې ولیکل شول چې د پښتو ژبې د علمي پانګې او بډایتوب لپاره اغېزمن رول ولوباوه.

د افغانستان د خلک ډموکراتیک ګوند د ثور د پاڅون نه د مخه او بیا د ثور د پاڅون وروسته چې د محمد داود له خوا د افغانستان د خلک په ډموکراټیک ګوند وتپل شو د ژبې موضوع د بلې زاویې نه وکتل شوه. هغه ژبنی سیاست چې یوه ژبه دې د دولت په ملاتړ وده وکړي او نورې ژبې دې له منځه یووړل شي د بېخه بدل شو. د خلقیانو د واکمنۍ په مهال نه یوازې د هېواد د دوو سترو ژبو تر منځ انډول وساتل شو بلکې د هېواد د نورو ژبو د ودې لپاره په راډیو، ټلویزیون، اخبارونو او جریدو کې خپرونې پیل شوې او د ستر احمدشاه بابا د مړینې وروسته دا لومړی ځل و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ژبې دربار ته لاره ومونډله او د دولت مشر نورمحمد تره کي لومړی دولتي واکمن و چې خپلې ويناوې يې د هېواد په رسمي او ملي ژبه پښتو کولې. پدې وخت کې د کتابتو نه نيولې تر جريدو، ورځپاڼو، راډيو، ټلويزيون او نورو نشرياتي وسيلو له لارې پښتو ژبې ته د قدر وړ کارونه تر سره شول او پښتو دفتر ته ننوته. دا چې خلقيانو د خپلې واکمنۍ د دوهم کال په دوهمه نيمايي کې د اساسي قانون مسوده ترتيب کړې او د تصويب په منظور يې لويه جرگه رابلله خو د شوروي اتحاد له خوا په افغانستان يرغل وشو او اساسي قانون تصويب پاتې شو. پدې خاطر د خلقيانو د ژبې سياست قانوني بڼه ونه مونده. خو دا چې خلقيانو د هېواد ټولو ژبو او په ځانګړې توګه پښتو ته څومره کار کړی دی هغه قضاوت به د افغانستان خلکو ته پرېږدم.

## د پرچميانو واکمني او پښتو ژبه

د شوروي يرغل وروسته کارمليانو د پښتنو او پښتو ژبې د ځپلو لپاره ټينګه ملا وتړله. د شوروي اتحاد د يرغل اصلي موخه دا وه چې خپل اېجنټ ببرک کارمل واک ته ورسوي او بيا د کارمليانو په وجود کې خپله موخه، چې افغانستان د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوريت بدل کړي، پلې کړي. کارمل د دې وضعې نه د پښتنو د ټکولو لپاره زياته ګټه پورته کړه.

شوروي اتحاد، د دوی لاسپوڅي ببرک کارمل او د هغه ستمي ډوله ملګري د ملي يووالي د کمزورتيا په هيله د پښتنو ژبې او کلتور ته کلک ګوذار ورکړ. په راډيو او ټلويزيون کې د پښتو ژبې خپرونې په نشت حساب وې. د پښتو ژبې پر ضد تعصب لوړې کچې ته ورسېد او پښتو ژبه او پښتانه په جوته سپکېدل. پښتنو به زيات وخت زړه نه کاوه چې پخپله مورنۍ ژبه ويناوې وکړي.

د کې جي بي مزدور باندې په پښتونخوا کې د جوړو شوو پښتو فلمونو ننداره



بنده کړه او د هغه ځای د سندرغاړو د پښتو سندرو په خپرېدو بنديز ولګېد..خو ايراني فلمونو او د ايراني سندرغاړو سندرو ټلويزيون اجاره کړې وو.

د ثور د انقلاب ورځپاڼه په دري ژبه خپرېده او د وېشل کېدو وروسته په پښتو ژباړل کېده، بيا به په ګودامونو کې پراته وه او يا به هټيوالو (دوکاندارانو) د خرڅلاو پاکټونه ورنه جوړ کړي وو.

د پوهاند ډاکټر خيرمحمد ماموند په وينا د پوليتخنيک استاد محمد غوث حکيمي د عضوي کيميا کتاب د روسي ژبې نه په پښتو ژبې ژباړلی و او د پوليتخنيک د انستيتوت اړوندې ادارې ته د چاپېدو لپاره ورکړ. نبات پرچمي د کابل د پوليتخنيک د انستيتوت علمي معاون او رباني پرچمي د کابل د پوليتخنيک د انستيتوت د ګوندي سازمان منشي حکيمي ته ويلي و چې: «اين چيست که کتاب تان به لسان مرغها نوشته کرده ايد. اگر کتاب را به لسان درست نوشته کنيد چاپ خواهد شد.» ژباړه: «دا څه دي چې کتاب د ې د مرغانو په ژبه [پښتو] ليکلی دی که په سمه ژبه [دري] وليکې نو چاپ به شي.» پر دې موضوع يو لوی جنجال جوړ شو او خبره ان د شوروي سفارت پورې ورسېده.

همدارنګه پوهاند ډاکټر خير محمد ماموند پخپل کتاب کې «افغانستان د يرغلونو په لار کې» چې په ۲۰۱۲ کال د هالنډ په اتريخت کې خپور شو داسې ليکي: «د شوروي اتحاد د لوړو زده کړو وزارت د کتابونو د ژباړنې د کار د کميسيون يوه غړي، د کابل د پوهنتون د طبيعي علومو د پوهنځي استاد ظهيروف (شوروي تاجک) يو د عمومي او غير عضوي کيميا او بل د فزيکي کيميا کتابونه د ژباړنې لپاره ما ته راکړل او ټينګار يې وکړ چې دغه کتابونه دې ډېر ژر په دري وژباړل شي. د عمومي او غير عضوي کيميا په نوم کتاب مې د عبدالله مستمندي په ملتيا وژباړه. د فزيکي کيميا د کتاب په هکله مې ظهيروف ته وويل چې دا کتاب به په پښتو وژباړم، دليل يې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې په فزیکي کیمیا کې یو کال د مخه ما یو کتاب تألیف کړی دی او ته هم د طبیعي علومو په پوهنځي کې د همدغه کتاب څخه درس ورکوې. ..دا د تاسې کتاب که تاسې یې ضرور گڼی، زه به یې په پښتو ژباړم....ده راته وویل چې دا د څو سوه عنوانه د کتابونو د ژباړنې قرارداد له روسي ژبې نه په دري ژبه شوی دی. که ته دا کتاب په پښتو وژباړې، نو د ژباړنې حق الزحمه نه درکول کیږي. ظهیروف ته مې وویل خیر دی که دا یونیم لک افغانۍ حق الزحمه مې وانخیسته، خو که تاسو یې لازم گڼی ژباړم یې. ظهیروف راته وویل ، زموږ لپاره مهمه دا ده چې په دري ژبه علمي کتابونه وژباړل شي، پښتو ژباړه زموږ لپاره څه گټه لري؟... د ۱۳۵۸ هجري کال د جدي د شپږمې نېټې د مخه د افغانستان د لوړو زده کړو په موسسو کې علمي ترفیعاتو ته کاندید علمي مقالې او درسي کتابونه په پښتو او دري دواړو ژبې لیکل کېدل، ولې د افغانستان په تاریخ کې د دغې تورې ورځې (د ۱۳۵۸ هجري کال د جدي د میاشتې شپږم) وروسته په پښتو لیکل شوي علمي درسي کتابونه د علمي ترفیعاتو لپاره عملاً نه منل کېدل. ما (لیکوال) د پوهنوالۍ علمي رتبې ته د ترفیع لپاره د فزیکي کیمیا په نوم کتاب په پښتو لیکلی و. کله مې چې دا کتاب د چاپ لپاره د نشراتو کمیټې ته ورکړ، د پرچمیانو له خوا یې چاپول په دې دلیل رد شول چې ټول محصلین په دري ژبه پوهیږي، خو په پښتو ټول شاگردان نه پوهیږي بیا د دې کتاب چاپولو ته څه ضرورت دی. زه مجبور شوم دغه کتاب بېرته په دري ولیکم تر څو چاپ شي او د علمي ترفیع لپاره یې د علمي ترفیعاتو کمیټې ته وړاندې کړم. له دې وروسته مې د فزیکي کیمیا په نوم بل کتاب ولیکه او د چاپ لپاره مې د نشراتو کمیټې ته وړاندې کړ. دا کتاب هم د نشراتو کمیټې په دې دلیل چې په پښتو لیکل شوی دی رد کړ. دا کتاب مې هم بېرته په دري ژبه ولیکه او د نشراتو کمیټې ته مې د چاپ لپاره ورکړ، خو کله چې دا کتاب د نشراتو د کمیټې څخه تېر شو، ټایپسټ ته مې هغه د



پښتو متن ورکړ. ټایپسټ ته مې د حق الزحمې په نوم یو څه پیسې ومنلې او هیله مې ترې وکړه چې شاگردان دې کتاب ته عاجل ضرورت لري ژر یې ټایپ کړئ. ټایپسټ کتاب ډېر ژر ټایپ کړ. کتاب مې پخپل لاس د چاپ ماشین ته یووړ او په څو ساعتو کې یې چاپ کړ. د چاپېدو سره سم مې خپل شاگردان د کتاب د پاڼو د تنظیم لپاره د چاپ خونې ته وروستل. کتاب تنظیم او یوه ورځ وروسته پوښ او تیار شو. کتاب د نشراتو د مدیریت نه پخپله تسلیم شوم او شاگردانو ته مې وویشو. تر څو چې پرچمیان خبرېدل د فزیکي کیمیا کتاب .. زما د شاگردانو سره و.»۲۰۶

د دې سره سره د علومو په اکاډمي کې پښتنو لیکوالو په پښتو ژبې مهم اثار ولیکل او خپاره یې کړل چې ډېر د قدر وړ دي. پښتنو لیکوالو د هېواد نه بهر هم په پښتو ژبه مهم اثار جوړ او هم یې ډېر علمي، تاریخي او هنري اثار په پښتو وژباړل.

## د حامد کرزي په واکمنۍ کې پښتو ژبه

د سید امین مجاهد په وینا د اساسي قانون په لویه جرگه کې د نوي اساسي قانون د مهمو موادو: لکه د نوي نظام ډول، د افغان او افغانستاني کلیمو باندې گړبړ، په اساسي قانون کې د مقاومت او جهاد د کلیمو درج کول، مجاهدینو ته د فوق العاده مادي او معنوي امتیازاتو ورکول او نورو په څنگ کې د ملي سرود ژبه، د افغانستان د نورو مروجو ژبو رسمیت، د پښتو ژبې ملي توب، د خبرو اترو موضوع جوړوله. خلکو څکه د ریاستي نظام په گټه رای وکاروله چې ولسمشر به قانون ماتوونکي او جگړه ماران پخپل ځای کښېنوي خو جمهور رییس د خپل قانوني واک او صلاحیت نه کار وانخیست او د خلکو هیلو ته یې ونه کتل. همدارنگه له یوې خوا بهرنیو ځواکمنو هېوادو د افغانستان د گاونډیو او نورو په گډون هڅه کوله چې په نوي اساسي قانون کې خپلې گټې چې متضادې وې ووینې او د بلې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورني تضادونه د دې سبب شول چې د افغانستان خلک د زیاتو ناخوالو سره مخامخ کړي.

د اساسي قانون په متن کې دا منل شوې وه چې ملي سرود دې په پښتو وي، خو یو شمېر استازو دا خبره نه منله. د اساسي قانون د مسودې د جوړولو په کمیسیون کې هم لفظي مشاجره شوې وه او دواړه لوري دې ته چمتو نه وو چې جوړ جاړي ته ورسیږي. له دې کبله دا موضوع د دولت ریاست ته ولېږل شوه او دولت د امنیت شورې ته ولېږله چې پدې هکله پرېکړه وکړي. ښاغلی مجاهد وایي چې د مخه تر دې چې د امنیت شورې پرېکړه وکړي د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون د یو شمېر غړو له خوا د یوه وړاندیز طرح راورسېده چې پکې لیکل شوي و:

«موږ د دې موضوع په هکله چې ملي سرود د په دري ژبه نه وي اختلاف نه لرو. موږ دا منو خو څنګه چې موږ افغانان یو، هر افغان دهېواد په دواړو رسمي ژبو پښتو او دري په لیکلو او خبرې کولو مکلف دي او بایډ ازموینه ورکړي. هر څوک چې د دې دوو ژبو ازموینه ورکړي نه شي هېڅکله مقررېدای نه شي. بل دا چې هغه کسان چې په رسمي توګه مقرر شوي دي د لسو کالو په اوږدو کې هرو مرو یې دواړه ژبې زده او ازموینه تېره کړي. هغه څوک چې د لسو کالو وروسته ونه شي کړی چې په دې ازموینه کې بریالی شي د دولتي دندې نه چې په هر دریځ کې وي باید لیرې کړای شي.

هغه مهال چې د امنیت شورې دا وړاندیز وڅېړه، څنګه چې پخپله دوی د دې ازموینې نه بریالي نه شول راوتلی نو اړ شول چې ملي سرود په پښتو ومني. لدې کبله د مسودې په طرح کې ملي سرود په پښتو ژبه منل شوی و چې وروسته د تصویب په وخت کې ورباندې مشاجرې وشوې.»۲۰۷

څنګه چې پرېکړه شوې وه چې د هرې مادې د بدلون د وړاندیز لپاره اړینه وه هغه کسان چې د بدلون غوښتوونکي وي باید ۱۵۰ لاسلیکونه راټول کړي



چې دا لاسلیکونو په لاسته راوړو کې بریالي نه شول.

مجاهد وایي چې د دارالانشأ د خیمو نه په یوه خیمه کې درې ځوانو نجونو هڅه کوله چې د امریکا د متحده ایالاتو د سفیر او د جورج ډبلیو بوش ځانګړي استاذي خلیلزاد سره کتنه وکړي چې دا موقع په لاس ورغله. د دوی نه د یوې لوړ اواز چې په سخته لهجه یې خبرې کولې د خیمې نه د باندې راته ویل یې: «ښاغلی خلیلزاد نور بس دی نور د پښتو د اورېدو زغم نه لرو. ښاغلی خلیلزاد له تاسو نه غواړو چې ملګري ملتونه او امریکا وپوهوی چې موږ نور زغم نه شو کولی.»۲۰۸

مجاهد دا هم زیاتوي چې یو څو کسان چې د حامد کرزي سره ناست وو عبدالله عبدالله وویل چې «پښتانه اوس غواړي چې د پښتو نه «ملي» ژبه جوړه کړي چې هېڅکله به دا مسله ونه منل شي.»۲۰۹

د حامد کرزي د واکمنۍ په دوره کې د پښتو ژبې ودې دوام وکړ. د جمهوري ریاست رسمي اسناد په دواړو ژبو خپرېدل. په دربار کې هم د پښتنو سره کرزي په پښتو خبرې کولې او د پارسو په څنګ پښتو هم درباري ژبه وه. د کرزي او ځینې نورو لوړپوړو چارواکو په ویناوو کې پښتو ځای درلود په راډیوګانو او ټلویزیونو کې هم پښتو ځای درلود. د پوهنې وزارت ویاند اصف ننګ د بي بي سي راډیو سره په مرکه کې وویل چې د منځنیو او لوړو زده کړو لپاره د ۲۰۱۴ کال تر پایه به پنځلس سوه عنوانه پښتو کتابونه چاپ شي. یوازې په ننګرهار کې د شاعر ازمون د خولې چې په یوه ټلویزیوني مرکه کې یې په ۲۰۱۲ کال کې وویل چې د ۲۰۰۱ کال را پدې خوا ننګرهار په ولایت کې ۷۰۰ اوه سوه عنوانه پښتو اثار چاپ شوي دي. د افغانستان په نورو ښارونو کې هم پښتو اثار چاپیږي په پېښور او کوېټه کې د پښتو کتابونو چاپ ګړندی روان دی. د پېښور بک ایجنسۍ د دانش مطبعه د پښتو کتابونو چاپ کې د ځانګړې یادونې وړ دي. د هېواد نه د باندې هم پښتانه روڼ اندي په پښتو علمي اثار لیکي او د نورو ژبو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو اثار ژباړي چې د پښتو ژبې په بډای کولو کې خپله ونډه اخلي خو دولت اساسي قانون په پلي کولو کې ناغېړي کوي. پښتانه تر اوسه بریالي شوي نه دي چې په کابل، هرات، د هېواد په شمالي ولایتونو کې پښتنو ماشومانو ته پخپله مورنۍ ژبه په ښوونځیو کې د زده کړې شرایط برابر کړي. پښتانه لوړپوړي چارواکي پخپلو ویناوو او مرکو کې تر پښتو پارسو ډېره وایي خو پارسو ژبې پښتو زیات وخت بیخي نه وایي یا یې ډېره لږ وایي.
د لوړو زده کړو په برخه کې پښتنو ته خپل حق نه دی ورکړل شوی. د کابل د لوړو زده کړو په موسسو کې پښتانه پخپله ژبه د زده کړې نه بې برخې دي او دې بې عدالتۍ ته باید د پای ټکی کېښودل شي او پښتنو زده کړیالو ته د پخپله مورنۍ ژبه پښتو د لوړو زده کړو زمینه برابره شي. که څه هم په هغو ولایتونو کې چې پښتانه اکثریت دي په پوهنتونو کې زده کړیالانو ته په پښتو زده کړه ورکول کېږي.
په رسمیاتو کې د پښتو ژبې ونډه ډېره لږ ده او دې ته باید پښتانه دولتي مامورین کلکه پاملرنه وکړي چې خپله ژبه په دفتر کې وکاروي.
اشرف غني وایي چې په کار ده چې د یوې ژبې د مطلق تسلط نه تېر شو او د ټولو ژبو د ژوندي ساتلو او ودې لپاره اساسي زمینه برابره کړو. په مورنۍ ژبه زده کړه د هر چا حق دی او مالوماتو ته لاسرسی چې یوه انساني اړتیا ده په مورنۍ ژبه تر نورو ژبو په اسانۍ سره لاسته راتلی شي.
نوموړی وایي چې پښتو، دري او ازبکي زموږ د هېواد درې عمده ژبې دي او د ملت جوړولو د پروسې عملي کېدل دا غواړي چې په دغو دریو ژبو اساسي پانګونه وشي. د واحد افغان ملي هویت په دې پېړۍ کې دا مانا نه لري چې د دې هېواد واړه قومیتونه له منځه ځي، بلکې د دې برعکس زموږ کلتوري شتمنۍ زموږ د ملي یووالي بنسټ جوړوي، ځکه چې د دې شتمنیو په پیاوړتیا کې به هر افغان هم پر خپل افغاني هویت ویاړ کوي او هم به په دې باور وي، چې د ده مورنۍ ژبه ساتل شوې او د درناوي وړ ده.۲۱۰ اشرف



غني زیاتوي چې زموږ نورستاني، بلوڅ او پشه اي وروڼه او خویندې هم غواړي چې ژبې ته یې په دولتي کچه پاملرنه وشي او خپله ژبه د لاسه ورنکړي. نوموړی دا خوځښتونه د کلتوري انډول نښه بولي. دی زیاتوي چې که ولس دا توان ومومي چې خپلې ټولې ژبې په ژوندیو ژبې بدلې کړي نو دا به یوه ستره سیاسي، اقتصادي او کلتوري پانګه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځلسم څپرکی

## د ډېورنډ د کرښې هغې خوا ته پښتانه او پښتو ژبه

د مخه مو یادونه وکړه چې په ۱۸۹۳ کال انګلیسانو په امیر عبدالرحمن باندې د ډېورنډ کرغیړنه کرښه وتپله چې د افغانستان په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري ودې یې ناوړه اغېز وکړ. د دغې کرښې په تېرېدو سره د پښتنو د بېلو بېلو سیمو تر منځ سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري اړیکې ګډې وډې او ویجاړې شوې چې په پایله کې یې د کرښې په دواړو غاړو کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ودې لارې سره بیلې او د هغه ځواک نه پرېوتې چې په یوه لاره یې پرمختګ کاوه.

د ډېورنډ د کرښې هغې خوا افغانانو د سترو ستونزو سره سره د خپلې مورنۍ ژبې پښتو او ادبیاتو ودې ته دوام ورکړ. د مخه مو یادونه وکړه چې په دې سیمه کې روښانیانو چې د مغولو او د هغو د لاسپوڅو پر ضد یې د پښتنو ملي ازادي بخښونکې مبارزه پر مخ بیوله د پښتو ژبې او ادب د پر مخ بیولو لپاره د قدر وړ ګامونه پورته کړل. ورپسې په اولسمه او اتلسمه پېړیو کې خوشال خټک، رحمان بابا، حمید ماشوخېل، کاظم خان شیدا او نورو په مټ پښتو د نورو ژبو سیاله شوه.

انګرېزانو د اتلسمې پېړۍ په پای کې د خپلو نیواکګرو ګټو په خاطر د پښتنو ژبې، ادبیاتو، تاریخ، دودونو او کلتور څېړنو ته زیات پام واړاوه چې د



مخه مې پوره رڼا ورباندې اچولې ده.

انګرېزانو نه یوازې پخپله دې کار ته ټینګه ملا تړلې وه بلکې یو شمېر افغانان یې هم ورته ګومارلي وو. د انګرېزانو په غوښتنه امیر محمد انصاري ګلستان په پښتو وژباړه، هندي لیکوال موهن لال د رحمان بابا شعرونه په انګریزي وژباړل، ډیپټي محمد حیات خان «حیات افغاني» ولیکه او خالق باري د پښتو یو نصابي کتاب دی چې ضیاءلدین خسرو لیکلی او منشي کریم بخش نظم کړی دی. برسېره پردې انګرېزانو په هند کې د پښتو زده کړې لپاره منشیان وټاکل چې انګرېزانو ته پښتو ورزده کړي. مولوي محمد اسماعیل، منشي عبدالغني، میرزا سید احمد، عجب خان، فیروزالدین، یوسف خان، منشي احمد جان، قاضي طلامحمد او نور یې یادولی شو.

د ډېورنډ د کرښې هغې خوا د اوسنۍ پښتو ژبې دشعر او ادبیاتو په وده کې د پښتو کیسو تود بازار قصه خوانۍ ستر رول لوبولی دی.چې د شعر او ادب ټاټوبی ګڼل کیږي. د فیاض «بهرام او ګل اندامې»، د طالب رشید د «ګل او صنوبر»، د حمید بابا د «شاه او ګدا» او د عبدالقادر خان خټک د «یوسف او زلېخا» په پښتو اړولې منظومو کیسو په دوام د قصه خوانۍ کیسې د پښتو ژبې او ادب په وده کې د قدر وړ رول لوبولی دی. دقصه خوانۍ د کیسو په لیکلو کې ملا نعمت الله او د بهرنیو کیسو په ژباړلو کې د نعمت الله شاګرد مولوي احمد زیات رول لوبولی دی. د ملا نعمت الله کیسې لکه د «فتح خان کندهاري»، د «موسی خان او ګل مکۍ» او د «جلاد خان او شمایلې» چې د پښتنو د ملي روایاتو نه راوتلې دي د ده د شعر ځانګړتیاوې بیانوي. د ګرس په وینا نعمت الله د افسانوي او عشقي موضوعاتو سره ډېره مینه درلوده او د عاشق او معشوق راز او نیاز ته د ده ډېر پام و. مولوي احمد ډېرې کیسې په پښتو نظم ژباړلې دي چې «غل او قاضي»، «ادم خان او درخانۍ»، «بادشاه او جمجمه»، «شهزاده بهرام» او نورې یې یادولی شو. د ده یو کتاب چې «ګنج پښتو» نومیږي او نهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلوېښت کیسې لري په ۱۸۷۳ کال کې په لاهور کې چاپ شو. پدې ترتیب د قصه خوانۍ اثارو د اوسنۍ پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره زمینه برابره کړه.

پدغه وخت کې د پښتو اثار په پېښور او لاهور کې ډېر چاپېدل. د لاهور کتاب چاپوونکو نه یوازې هنري ادبیات او مذهبي کتابونه په پښتو چاپول بلکې د ښوونځیو لپاره یې درسي پښتو کتابونه تهیه کول. د پنجاب پوهنتون په ختیځه پوهنځۍ کې پښتو ژبه لوستل کېده او دې ژبې ته پاملرنه کېده. د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په پیل کې ځینو پښتنو لیکوالو چې لومړنۍ زده کړې یې پخپله خاوره کې تر سره کړې وې په لاهور کې نورې زده کړې وکړې. د دوی نه ځینو په همغه مدرسو او کالجونو کې استادان شول. د دغو استادانو نه ملا ګل احمد د یادونې وړ دی. نوموړي هلته ګټور پښتو اثار ولیکل چې د پښتو درسي کتابونه یې په ډېلي او لاهور کې څو ځله چاپ شول. برسېره پر دې دی شاعر هم و. ده هغه وخت چې کابل ته راغلی و خپله د شعرونو ټولګه یې د امیر عبدالرحمن حضور ته وړاندې کړه او امیر ډېر ونازاوه او دغه ادبي تحفه یې ډېره درنه وبلله. ګرس لیکي: «ملا ګل احمد لومړی پښتون لیکوال دی چې په خپلو لیکنو کې یې د پښتنو ژوند ته مراجعه کړې ده.»۲۱۱

د دغو زده کونکو د ډلې نه بل میر احمد شاه رضواني د یادولو وړ دی. نوموړی د خپلو زده کړو د بشپړولو وروسته د پنجاب په پوهنتون کې د استاد په توګه ومنل شو چې د پوهاند درجې ته ورسېد او د شمس العلما لقب ورکړ شو. ده د پنجاب په پوهنتون کې محصلینو ته د پښتو ژبې ادبیات او ژبپوهنې لکچرونه ورکول. په ۱۸۹۰ کال کې یې «د پښتو ګرامر» په راولپنډۍ کې چاپ شو، په ۱۸۹۸ کال کې یې د «بهارستان افغاني» ټولګه په لاهور کې چاپ شوه چې د پښتنو د کلاسیکو ادبیاتو نمونې پکې را غونډې شوې وې، په ۱۹۰۵ کال کې یې بله ټولګه «شکرستان افغاني» په



لاهور کې چاپ شوه چې د کلاسیکو شاعرانو شعرونه پکې راټول شوي وو او هم د پښتو ګرامر او د پښتو اصطلاحاتو سیند ور سره مله وو. د ګرس په وینا رضواني دېرش اثار لري چې مهم یې «خبرې په پښتو نظم»، «تحقیق الا لسنه»، «تاریخ کافرستان» او نور دي.

بل سړی چې پښتو ژبې ته یې د قدر وړ خدمت کړی دی منشي احمد جان دی. ده په پېښور کې د انګرېزانو لوړ پوړو افسرانو او مامورینو ته د پښتو درس ورکاوه. د نوموړي په شاګردانو کې یو هم د هند د ویسرا مرستیال (ایوا یویلډ) لارډ اوبل یې د ناروي نامتو ختیځ پوه ج. مورګن سټرن د یادونې وړ دي چې منشي احمد جان دوی ته پښتو ژبه ورزده کوله. دی برسېره پر دې چې ښوونکی و یو ښه لیکوال هم و. په ۱۹۱۰ کال کې د ده انګرېزي قاموس د لومړي ځل لپاره د ملا احمد «د غزنویانو د حکومت دوره» د لیکنې سره مل او وروسته د مولوي احمد د کتاب «ګنج پښتو» سره مل و چاپ شو. بیا نوموړي د توماس مور کتاب «اوتوپیا» او د انګرېز تاریخ پوه ملیسون کتاب «د افغانستان تاریخ» په پښتو وژباړل.

منشي احمد جان د شلمې پېړۍ په پیل کې ادبي اثارو لیکلو ته ملا وتړله ده وړې کیسې په نثر ولیکلې. همدارنګه یې «ادم خان او درخانۍ»، «فرهاد او شیرینۍ»، «لیلا او مجنون» او د «جلات خان او مومندې» فلکلوري کیسې هم په نثر لیکلې دي. د ده ادبي کیسې په دوو کتابو کې چې یو یې «هغه دغه» او بل یې «د قصه خوانۍ ګپ» نومېږي چاپ شوي دي.د ګیرس په وینا «ادم خان او درخانۍ» او «توره بلا» د منشي احمدجان واقعي ادبي شهکارونه دي.

د پښتو په ادبیاتو کې یو بل ادبي شخصیت راحت زاخېلي دی چې د پښتو ژبې نامتو شاعر او نثر لیکونکی دی. نوموړي په لومړی سر کې کیسې لکه د «سیف الملوک» کیسه په نظم لیکلې او برسېره پردې دی شاعر هم و.

په ۱۹۱۱ کال کې په پېښور کې په پښتو ژبه د (افغان) اخبار خپرونې پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې چې په لومړيو وختو کې راحت زاخېلي ور سره همکاري کوله او وروسته د هغې مدير وټاکل شو. راحت زاخېلي پدې مرحله کې نثر ته پاملرنه وکړه او په ۱۹۱۷ کال کې يې د افغان په اخبار کې خپله نامتو کيسه «کونډه نجلۍ» چاپ کړه. ده په دغه کيسه کې د ښځو موضوع راپورته کړه.

د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره دانګليسانو پر ضد د پښتنو ملي ازادي بخښونکی غورځنګ چې د خان عبدالغفار خان له خوا يې لارښوونه کېده ډېر رول درلود. غفار خان فکر کاوه چې «په دنيا کې هېڅ قوم بغير د خپلې ژبې نه ترقي کولی نه شي»۲۱۲. غفار خان دې ټکي ته پام شو چې مورنۍ ژبه د يوه قوم د کلتور يو مهم توکی جوړوي چې د هغې پرته د يوه قوم ملي هويت نه شي تشخيص کېدای.

غفارخان کوښښ وکړو چې د پښتنو پاملرنه دې ټکي ته واړوي چې پخپله مورنۍ ژبه د زده کړې اړتيا درک کړي ده لدې کبله په ۱۹۲۸ کال کې د «پښتون» د مياشتنی مجلې بنسټ کېښود چې په پښتو ژبه يې خپرونې پيل کړې.

په دغه وخت کې باچاخان د اتمانزو ازاد ښوونځی جوړ او د هغه په څنګ کې د «انجمن اصلاح الافاغنه» بنسټ کېښود چې په ۱۹۲۷ کال کې د خدای خدمتګاری په ګوند بدل شو. ده ټينګ باور درلود «چې هېڅ يو قام په دنيا کې بغير د يوه قومي تحريک او حزب نه قوم او ملت کېدای نه شي.»۲۱۳ ده دا خبره په خپله وينا کې، چې د پښتونستان د ورځې د نمانځنې په ورځ يې په کابل کې خلکو ته واوروله، وکړه.

د باچاخان په مشرۍ د خدايي خدمتګاری غورځنګ پښتو ژبې ته ستر خدمت وکړ. د پښتون مجلې پښتانه ليکوال او شاعران وهڅول چې د انګليسي نيواک په وړاندې د قلم له لارې خپله مبارزه پرمخ بوزي. په دغه وخت کې داسې ستر ليکوال او شاعران را وړاندې شول لکه فضل محمود



مخفي، عبدالاکبر خان اکبر، محمد اکبر خادم، سمندر خان سمندر، عبدالخالق خليق، امير حمزه شينواری، فضل حق شيدا، سيدرسول رسا، غني خان، اجمل خټک او نور.

د پښتون مجلې د خپرونو له لارې پښتانه روڼ اندي د خپلې ژبې پالنې او اهميت ته متوجه شول او د پښتونخوا په بيلو بيلو سيمو کې يې ادبي ټولنې جوړې کړې چې ادبي غونډې به يې جوړولې او پدې غونډو کې به نامتو ليکوالو او شاعرانو برخه اخيسته. باچا خان خپل ژوند ليک کښلی چې «زما ژوند او جدو جهد» نوميږي.

په سوويل کې د خان عبدالصمد خان په مشرۍ د پښتنو ملي ازادي بخښونکی غورځنګ د انګريزانو پر ضد خپله مبارزه پرمخ بيوله. صمد خان د باچاخان غونډې پدې پوه شو چې د پښتنو د وروسته پاتې والي يو لامل دا دی چې دوی پخپله مورنۍ ژبه د زده کړې نه بې برخې دي. ده د «انجمن وطن» ټولنه جوړه کړه. دغې ټولنې د پښتنو پام پوهنې ته اړولو او دا يې اړينه بلله چې پښتنو ته د هم په مورنۍ ژبه د زده کړې زمينه برابره شي. ده د «استقلال» مجله په پښتو ژبه خپروله.

صمد خان قران شريف په پښتو وژباړه تر څو پښتانه د خپل سپېڅلي دين نه په سمه توګه خبر شي. ده د امام غزالي «کيميای سعادت»، د شبلي نعماني «سيرته النبي ص» او د سعدي ګلستان په پښتو وژباړل.

صمد خان د پښتو د ليکدود په هکله خپل نظر درلود او يو لنډ اثر يې په دې هکله ليکی چې «پښتو ژبه او ليکدود» نوميږي نوموړي «صمداللغات» په نوم پښتو سيند ليکلی او هم يې خپل ژوند ليک «زما ژوند او ژوندون» په درې ټوکو کې ليکلی دی. پدې توګه صمد خان نه يوازې سياسي شخصيت بلکې يو ليکوال او ژباړونکی هم و چې د دې لارې يې خپلې ژبې ته د قدر وړ چوپړ کړی دی.

پدې توګه د خدايي خدمتګاری ګوند د باچا خان په مشرۍ او د وطن ګوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صمد خان په مشرۍ د پښتو ژبې په وده کې ډېر رول ولوباوه.
د پاکستان د جوړېدو د مخه کله چې «ډاکټر خان ... په صوبه سرحد کې وزير اعلی و نو هغوی پښتو ژبه په مکتبونو کې رواج کړه تر څلورم صنف پورې پښتو ژبه زده کول لازمي و او تر اتم پورې به هلکانو پخپله خوښه ویل. د پښتو ژبې د پاره د نصاب کتابونه خليق صاحب د سيد رسول رسا، د نورو عالمانو او ليکوالو په مرسته تيار کړي وو. ۲۱۴خو چې پاکستان جوړ شو نو د پښتنو نه يې دا حق واخېست.
په ۱۹۴۷ کال کې چې د هند نيمه وچه په دوو برخو ووېشله شوه او هند او پاکستان جوړ شول نو د پنجاب او مهاجرو واکمنې کړيو دبنګال، پښتنو، بلوچو او سيند خلکو په حقوقو خېټه واچوله. په دغه وخت کې هڅه کېده چې پښتو ژبه بيخي د منځه لاړه شي په پښتنو دومره فشار وو چې پخپله ژبه خپل ملګري ته د ليک استول ګناه ګڼل کېدو. ما د خيبر د ټلويزيون د کويټې د څانګې د ادبي پروګرام د چلوونکي نه دا خبره واورېده چې ويل يې: يوه پښتون خپل ملګري ته په پښتو ژبه ليک استولی و او سرکار د ليک استوونکی او د هغه ملګری چې ليک وراستول شوی وو دواړه پدې ګناه بنديان کړل چې ليک په پښتو ليکل شوی و. اجمل خټک ليکي: «د پاکستان مسلم ليګي حکومت داسې توره شپه جوړه کړې وه چې په پښتو ژبه کې کور يا ورور يا دوست ته خط ليکل غټ جرم ګڼلی شو»۲۱۵.دا ناڅاپي نه ده چې د پښتو ژبې نامتو شاعر رحمت شاه سايل خپل شعر «ما ته خطونه په پښتو کې ليکه»، چې د پښتو ژبې ځوان سندر غاړي عرفان خان په خواږه غږ کې د راډيو ګانو، ټلويزيونو او هم د انټرنېټ په مټ د يو ټيوب په څپو کې انګازې کوي د دې حالت ځرګندونه کوي.
اجمل وايي چې د يحی خان د مارشالا په وخت کې ټاکنې وشوې او په صوبه سرحد د نېشنل پارټۍ او جمعيت العلمأ حکومت جوړ شو. دلته دا غوښتنه را ولاړه شوه چې اوس په صوبه کې د پښتنو حکومت جوړ شو نو د پښتو ژبه



دې رسمي ژبه شي. خو دغه حکومت د پښتو ژبې د رسمي کولو پرېکړه ونکړه.
د دغو فشارو سره سره پښتنو ليکوالو او څېړونکو د خپلې ژبې د پاللو لپاره خپلو ادبي فعاليتو ته دوام ورکړ او د ادبي جوړونو برسېره د پښتنو د تاريخ، پوهنې، کلتور او نورو برخو کې اثار وليکل او د باندينيو ژبو نه يې مهم اثار وژباړل او خپله ژبه يې بډايه کړه.
پدې ترتيب د يوې خوا د انګرېزي ادبياتو سره د اشنا کېدو له امله د نوي ادب ژانرونه پښتو ادب ته لاره ومونده او د ادب بديعي اړخ پرمختګ وکړ او د بلې خوا دا چې پښتو ژبه هلته رسمي نه وه او د پښتو خپرونو مخنيوی به دولتي واکمنانو کاوه دا د پښتو ژبې د پرمختګ مخه نيسي. د ژبې سياسي اقتصاد بل لامل دی چې پښتانه د ژبې پرېښودو ته اړ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپاړسم څپرکی

# پښتانه باید د خپلې ژبې لپاره په راتلونکې کې څه وکړي؟

د پوهاند ډاکټر کاکړ په وینا پښتو د پښتنو ژبه ده خو هر پښتون پـه پښـتو ګړېدلی نه شي. د واک فونډېشن په موندنې سره په سلو کې اتـو پښـتنو پـه افغانستان کې خپله مورنۍ ژبه پرې ایښې ده. لـه افغانسـتان نـه د بانـدې د پښـتو نـه لاس پـر سرکېـدل تـر دې هـم ګړنـدي دي. پـه هندوسـتان کـې یوسفزي، لودیان، سوریان او نیـازي، پـه ایـراني خراسـان کـې هوتکیـان قـوم بست بې پښتو شوي دي. په پاکستان او هندوستان کې هغه کسـان چـې د خپلو نومونو په پای کې خان راوړي په اصل کې پښتانه دي خـو پښـتو ویلـی نه شي. پدې ډول پښتو مخ په پرېښدو ده او پښتانه د هویـت د بحـران سره مخامخ دي. د هویت دغه بحـران بـه د پښـتنو ټـولنیز او سیاسي ژونـد هـم اغېزمن کـړی. د دې حـال اغېـز لا د مخـه جـوت شـوی او پښـتانه اوس پـه دفاعي حالت کې دي. دغه بحران په اصل کې په ۱۸۹۳ کال کې د ډېورنډ د



کرښې په تپل کېدو سره پیل او په افغانستان کې د شلمې پېړۍ په پیـل سره محسوس او مخ په ځواک شو. د دغې پېړۍ پـه پیـل سره دربـار او واکمنـې کورنۍ پښتو ورو ورو پرېښوه او دولت ورته په دفترونو کې ځـای ورنـه کـړ. پښتو په عمـل کـې رسـمي نـه شـوه. واک فونډېشـن دې پـایلې تـه رسـېدلی چې«د افغانسـتان امپراتـوري او دولـت جـوړونکی پښـتون قـوم پـه کلتـوري لحاظ په تاریخ کـې یـو ډېـر زیـات مسخ کېـدونکی او ورک کېـدونکی قـوم دی.»۲۱٦

دلته به دومره ووایم چې پـه وچـې چـاپېر افغانسـتان پـدغې پېـړۍ کـې هـم وروسته پـاتې شـوی او تېـرو درو لسیزو جګـړو نـور هـم وروسـته پـاتې کـړ، پداسې حال کې چې د سیمې هېوادونه په تېره ایران او پاکسـتان پـرمخ تللـي دي. طبیعي ده چې د افغانستان او دغو هېوادونو تر منځ دغه توپیرونـه پـر پوهنې او کلتور باندې بـه هـم اغېـز واچـوي او پښـتو بـه نـوره هـم اغېزمنـه کړي. «په پورته دوو یادو شوو هېوادونو کې دغه نظر څرګند دی چې څنګه چې پښتنو د افغانستان په جوړولو، ساتلو او تنظیمولو کې اساسي رول لرلـی دی، پرعکس د پښتنو کمزوري کېدل به افغانستان هم کمزوری کـړي چـې پدې حال کې به دوی په اسانی سره وکولی شي هغـه تـر خپـل نفـوذ لانـدې راولي.»۲۱۷ د دوی ټول کوښښونه دې ټکي تـه متوجـه دي چـې افغانسـتان دې د دوی په مشرۍ سره یو خپلـواک هېـواد نـه وي. ټـول هغـه مصـیبتونه چې افغانستان ته اول د شوروي په یرغل سره او وروسته د همـدغو ګاونـډیو هېوادونو له خوا پېښ شوي دي د همدغه نظر په اساس دي.

کـاکړ دا هـم وایـي چـې پـدغو هېوادونـو او پـه خـاص ډول ایـران کـې دغـه کوښښونه روان دي چې د هغو په موجب پښتو یا کمزورې یا ورکه شي چـې څو پښتانه خپل هویت له لاسه ورکـړي او افغانسـتان هغسـې هېـواد نـه وي لکه چې و، یا ان چې دی. «د ایران په افراطي او حتی ځینو رسمي خلکو کې د پښتو ضد تمایل یـو څرګنـد حقیقـت دی. د ډېـرو منـابعو لـه مخـې دغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



افراطیون د پښتو اثار تر لاسه کوي او له منځه یې وړي. سربېره پردې چې د پښتو پر ضد تبلیغات کوي او ستمي ډوله افغانان د همدغه مقصد لپاره استخداموي او تمویلوي. د همدغو کوښښونو [له امله] د علومو په اکاډمي کې د پښتو اثار له منځه یووړل شول. پښتو ته بل خطر تردې لا بېخکی دا دی چې پښتانه د نورو کلتورونو سره په تماس سره خپله ژبه د نورو ژبو په ګټه هېروي. داسې چې کله دوی د ډېر شمېر په منځ کې یو کس دري ویونکی هم وي، دوی پښتو پرېږدي، په دري ګړیږي او یا لکه چې د دري ویونکو نه ښځه په نکاح کړي، هې ته موقع ورکوي چې اولادونه یې دري ویونکي کړي.»۲۱۸ که کومه پښتانه یو دري ویونکی په نکاح کړي، دغه ښځه د دې توان نه لري چې خپل اولاد ته مورنۍ ژبه ور زده کړي.

دا لا څه کوې ما ته داسې کورنۍ مالومې دي چې مور او پلار یې دواړه پښتانه خو د اولادونو سره دري وایي چې اولادونه یې پښتو زده نه کړي.

خو د کاکړ په وینا خبره د یو څو ورځو او ورځطایي نه ده. څنګه چې پښتو د افغانستان د ډېرو خلکو ژبه ده، دوی د دې توان لري چې هغه له ورکېدو وژغوري، خو چې لیکوالان او د فکر خاوندان دوی د خپلې ژبې حال ته متوجه کړي بې له دې چې د وطن د نورو ژبو نه توجه واړول شي یا هغوی ته د میرې زوی په سترګه وکتل شي. د افغانستان د ټولو ژبو ویونکي افغانان او د وطن په ګټه او تاوان کې سره شریک دي. لدې امله د هغوی ژبې همغسې وړ دي، لکه پخپله چې دي. د هېڅ ولس ژبه نه سپېڅلې او نه د سپکاوي وړ ده. دا پخپله ویونکي دي چې ژبې جوړوي او وده او انکشاف ورکوي، نو د هر ولس قوت د هغه د ژبې قوت دی او پرعکس پدې ډول پښتانه خپله پښتو هغه وخت په ښه ډول ساتلی او غني کولی شي چې «پخپله قوي اوسي. یاني قوي اقتصاد ولري، د علم، پوهې او تکنالوژۍ لوړې سطحې ته رسېدلي او په مجموع کې غوړېدونکی او تولیدونکی کلتور ولري.»۲۱۹ دلته غواړم د پښتنو پاملرنه درو مهمو ټکو ته واړوم.



## ۱-ځان پېژندنه

پښتانه اړ دي چې د خپل ځان پېژندنې لپاره خپل تېر تاریخ په کره توګه ولولي او د خپل وروسته پاتې والي لاملونه پیدا کړي. خو ځان پېژندنه یوازې او یوازې د پوهنې له لارې شونې ده. پښتانه باید تر هر څه د مخه پوهنې تر لاسه کولو ته مخه کړي تر څو د هغې په مرسته خپل ځان وپېژني. د ځان پېژندلو په پایله کې کولی شي نور هم وپېژني او د دې وړتیا ومومي چې خپلې ملي ګټې او هم د نورو مشروعې ګټې وپېژني او بیا د خپلو او نورو ګټو د کره انډول له مخې سم کورنی او بهرنی سیاست وټاکي او پرله پسې پلي کولو ته یې ملا وتړي.

## ۲-د ټولنې نیمایي وجود یاني ښځو ته ځانګړې پاملرنه

د پښتنو ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او کلتوري پرمختګ دا غوښتنه کوي چې د ژوند په ټولو اړخونو کې ښځو ته کارنده ونډه ورکړل شي. د دې لپاره چې ښځې د خپلې ټولنې په ودې کې خپل ټول ځواک وکاروي نو پښتانه باید ښځو ته د پوهنې دروازې د ښوونځیو نه نیولې تر مسلکي او لوړو زده کړو پورې پرانیزي. ښځې هغه مهال د ټولنې په پرمختګ کې فعال رول لوبولی شي چې د پوهنې په ګاڼو باندې ښکلې شوې وي. ویل کیږي چې اپلاتون په یونان کې لومړی ښوونځی جوړ کړو نو یونیانانو ورنه پوښتنه وکړه چې ښوونځي ته هلکان در ولېږو که نجونې؟ نو اپلاتون ځواب ورکړو چې که هلکان ښوونځي ته راولېږی نو په هر کور کې به یو پوه پیدا شي او که نجونې راولېږی نو ټول یونان به عالم شي. د ښځو زده کړه تر نارینه څکه مهمه ده چې میندې د پلرونو په پرتله د خپلو ماشومانو سره ډېر تماس لري او د هغوی په روزنه کې ټاکونکی رول لوبوي.

پدې توګه موږ باید پخپلو لوڼو خویندو زده کړه وکړو تر څو دوی د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوګه شي چې د خپلو ورونو سره اوږه په اوږه د ټولنيز، اقتصادي، سياسي او کلتوري ژوند په ټولو برخو کې ونډه واخلي تر څو چې د هېواد وروسته پاتې والي ته د پای ټکی کېږدو او د دې جوګه شو چې د خپل وطن نه ساتنه وکړو. ښځې ته په اردو، څارندوی، امنيت، د زده کړو په موسسو، اداره، بدني روزنې (سپورت) او په ټولو لوړو دولتي پوستو کې د وړتيا د اصل له مخې پوره ونډه ورکړل شي.

## ۳-پښتانه بايد منظم شي

پښتانه که لازمه پوهه هم تر لاسه کړي بيا هم تر هغه د خپلې ټولنې د پرمختګ لپاره هېڅ اغېزمن کار تر سره کولی نه شي تر څو منظم نه شي. د دې لپاره چې منظم شي او د خپلې ټولنې د پرمختګ په موخه اغېزمن کار تر سره کړي نو يوه پراخ بنسټه ملي ګوند چې د هېواد ملي ګټو ته ژمن وي او د نورو ټولنيزو سازمانونو جوړولو ته اړتيا ده. تر څو د دې لارې د هېواد ټول مادي او معنوي ځواک يو موټی کړي.
کاکړ وايي چې پښتانه د انحطاط په حال کې هم کولی شي د خپلې ژبې غم وخوري او ليکوالان او د فکر خاوندان يې پدې هکله نظريات وړاندې کړي. په تاريخ کې د انحطط په حال کې د ولسونو د افرادو نه پاخه نظريات وتلي دي، خو د دې لپاره چې داسې وشي قوي شعور او پخه اراده په کار ده. له ښه مرغه زموږ ډېرو ليکوالو دغسې شعور ښودلی دی. دغسې قوي شعور ته موږ ځکه اړه لرو چې لومړی پخپله د ژبې په اهميت پوه شو ژبه په اصل کې د فرد په انکشاف او په يوې سياسي جامعې کې د هغې په ټينګېدو يا شړېدو کې رول لوبوي. فرد خپل احساس، فکر او عقل يوازې په ژبې سره څرګندوي. د ژبې پرته به د فرد ذاتي ملکات ياني د تفکر، تعقل، کشف کولو، جوړولو استعدادونه به پر ځای پاتې وي او وبه نه غوړېږي. پدې ډول د فرد تفکر او تعقل په ژبې پورې اړه لري او هغه کشفيات ممکن کوي.



سپير وايي:«ژبه د مادي کلتور تر ډېرو ابتدايي انکشافاتو نه د مخه موجوده وه او دغه انکشافات په واقعيت کې تر هغو ممکن نه وو چې ژبې د مهمې افادې د وسيلې په توګه شکل او صورت نه و غوره کړی.»۲۲۰ پدې حساب څومره چې يو فرد پر ژبې باندې حاکم وي ياني په هغې کې د افادې او بيان توان بې خنډه او زيات وي، دی هم په هغه اندازه کولی شي، د خپل ذهن يا مغز محصولات په الفاظو کې بيان کړي او نور پرې خبر کړي. فرد دغه څه يوازې په هغې ژبې کې په ښه او دقيق ډول کولی شي چې له وړوکتوب ياني د خپل شخصيت د تشکل او تکامل په دوره کې يې وي او د شخصيت جزء يې ګرځېدلی وي. همدغه سبب دی چې د هغه لومړنۍ ژبه د هغه د مورنۍ ژبې په نامه يادېږي. بله ژبه يا دويمه ژبه د هغه د مورنۍ ژبې ځای نيولی نه شي. يو څوک هغومره چې پخپلې مورنۍ ژبې کې ځان ازاد حس کوي په بلې ژبې کې يې نه حس کوي. دی يوازې د خپلې مورنۍ ژبې کليمات، اصطلاحات اوافادې د ځان ياني خپلو احساساتو او افکارو د بيان د پاره په اسانۍ او دقيق ډول استخدامولی او پدې ډول خپلو ذاتي ملکاتو ته انکشاف ورکولی شي.
پښتانه چې د نورو وطنوالو نه ډېر دې پخپل وطن کې پخپله ژبه کې لوړې زده کړې کولی نه شي او نه يې ژبه دفتري شوې ده. دا يوه غټه بې عدالتي ده. د دغې بې عدالتۍ په سبب د افغانستان اکثره خلک نه شي کولی خپلو استعدادونو ته انکشاف ورکړي. دا انکشاف هغه وخت ورکولی شي چې وکولی شي چې لوړې زده کړې پخپله ژبه کې تر سره کړي او په رسمي او دولتي چارو کې پخپله مورنۍ ژبه وګړېږي او ليکنې پرې وکړي. دغه بې عدالتي په اوږده مهال کې د ټولو وطنوالو په تاوان ده. د همدغې ملاحظې له امله چې زموږ مصلحانو دغه بې عدالتي يا ظلم درک کړی و او د علاج لپاره يې په ګډه يو فارمول ايستلی او هغه دا چې «د افغانستان د ژبو نه پښتو او دري رسمي ژبې دي سربېره پردې څنګه چې پښتو د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثرو خلکو ژبه ده د افغانستان د ملي ژبې په حیث منل شوې ده.»۲۲۱
پدې هکله ډاکټر انوارالحق احدي «د ملي ټولنې د جوړېدو اساسات» په نامه یوه په زړه پورې علمي څېړنه کړې چې ځینې مهم ټکي یې لوستونکو ته وړاندې کوم:

انوارالحق احدي وايي چې «ملي ټولنه هغې جامعې ته وايي چې اوسېدونکي يې د قومي، ژبني او مذهبي توپيرونو سره سره د هغې ټولنې (ټاټوبي) غړي بولي، هغې ته نهايي وفاداري ولري، او له بلې هرې ټولنې نه زيات له هغې سره کلک اجتماعي، سياسي او رواني تړون احساس کړي.»۲۲۲

افغانستان د ډېرو قومونو نه چې بيلې بيلې ژبې، کلتور او دودونه لري جوړ شوی دی. په داسې ټولنو کې چې متجانسې نه وي هلته د ملت جوړولو پروسه گرانه او د ستونزو نه ډکه وي لدې کبله د ملت جوړونې هڅې روڼ فکر، غښتلې اراده او پرله پسې هڅې غواړي. په لوېديځو هېوادو کې سياسي وده د ځانگړو پوړيو نه تېره شوې ده: «اول دولت جوړ او ټينگ شو؛ بيا ملي ټولنه جوړه شوه او ملي وحدت منځ ته راغی؛ بيا د اقتصاد ودې ته توجه وشوه؛ بيا په سياست کې عامو خلکو ته برخه ورکړ شوه او ډيموکراسي تعميل شوه؛ او کله چې اقتصاد ښه وده وکړه بيا د ملي عايداتو عادلانه وېش مطرح شو. ۲۲۳

خو د دريمې نړۍ په هېوادونو کې د ملتونو د سياسي ودې يون بل ډول دی. د دريمې نړۍ په هېوادو کې لومړی دولت جوړېږي او د دولت د جوړېدو سره سم د ملت جوړولو، اقتصادي ودې، ډيموکراسۍ او د ملي عايداتو د عادلانه وېش موضوعاتو باندې پرېکړې کيږي. خو دا پروسې يو د بل سره په ټکر کې راځي او سياسي ناکراري پيدا کوي، دلته بايد دې موضوع ته ځانگړې پاملرنه وشي چې په هغو ټولنو کې چې بيل بيل قومونه ژوند کوي که هلته د ملت جوړولو جوړښت غښتلی نه وي کېدای شي چې له ډيموکراسۍ نه د قومي اختلافونو د زياتېدو لپاره گټه واخيستل شي.



دغه سياسي ناکراري پخپل وار اقتصادي ودې، د ډيموکراسۍ ودې او ملي يووالي ته کلک زيان رسوي.

په هغو ټولنو کې چې بيل بيل قومونه ژوند کوي د ملت جوړولو لپاره بنسټيز ټکی د ټولنې په هويت باندې موافقه ده.د ملي ټولنې په هويت کې اکثريت قوم اساسي رول لري. په دې اړه د ژبې موضوع ډېره مهمه ده. ملي ټولنه ملي ژبې ته اړتيا لري چې په هغې باندې د ټولنې ټول قومونه يو د بل سره پوهاوی راپوهاوی وکړي. له سوېس او کوم بل هېواد پرته په نورو ټولو هېوادونو کې ملي ژبه د ملي ټولنې په جوړېدو کې مهم رول لري. دا د دولت دنده ده چې ملي ژبه گام په گام تعميم کړي چې زموږ گاونډيان ايران، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان يې ښې نمونې دي.

د ملي ټولنې د جوړلو دوهم بنسټيز لامل د هېواد وگړو تر منځ قانوني مساوات دي. ان په هغو ټولنو کې چې د قومي او مذهبي لحاظه متجانسې هم وي خو تر څو پورې چې د دغې ټولنې ټولو وگړو ته برابر حقوق ورنه کړل شي، هلته ملي ټولنه نه شي جوړېدلی. لکه چې د فرانسې د انقلاب نه د مخه په اروپايي هېوادو کې ملي ټولنې نه وې جوړې شوې. پدې توگه د ملي ټولنې د جوړېدو لپاره د خلکو تر منځ قانوني مساوات حتمي دي.

سره لدې چې قانوني مساوات د ملت جوړولو بنسټ دی خو تر څو پورې چې په ملي هويت باندې موافقه نه وي شوې قانوني مساوات نه شي کولی چې د ملي ټولنې د جوړېدو پروسه پرمخ بوزي. په غيرو متجانسو ټولنو کې چې د ملي هويت موضوع نه وي حل شوې، ډيموکراسي چې د قانوني برابرۍ لوړه بڼه ده ان سياسي ناکراري منځ ته راولي او د ملي ټولنې د جوړېدو ستونزې لا گرانوي. پدې ترتيب د ملي ټولنې په هويت باندې موافقه او د ملي هويت تعميم د ملي ټولنې د جوړېدو او سياسي پرمختگ لپاره لومړی اړين شرط گڼل کيږي.

د افغانستان د دولت تيره د ستر احمدشاه بابا په لاس ايښودل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاهي دولت که څه هم د ډېر وخت لپاره قوي دولت و، خو سدوزي واکمنو د ملت جوړولو لپاره کومه روښانه ستراتیژي نه درلوده او زما په اند دوی د ملت جوړېدو په موضوع نه پوهېدل. د احمد شاه بابا دولت د ده د لمسیانو او د محمدزي واکمنو په لومړی کلونو کې ډېر کمزوری شو. زما په اند امیر شیرعلي خان په خپله دوهمه واکمني کې د ملي دولت د ټینګېدو او د ملي ټولنې د جوړېدو لپاره ټینګ ګامونه واخېستل چې که د انګلیسانو له خوا په افغانستان دوهمه جګړه نه وای تپل شوې نو د دې شونتیا وه چې افغانستان د ملت جوړېدو اصلي مسیر ته داخل شوی وای.

د امیر عبدالرحمن له خوا په نسبي توګه قوي دولت جوړ شو. د امیر عبدالرحن او د هغه زوی امیر حبیب الله خان دواړو د دولت جوړېدو ته پام وکړ خو د ملت جوړولو او اقتصادي ودې ته یې ځانګړې توجه و نه کړه. د باچا امان الله خان په واکمني کې د ملت جوړولو، اقتصادي ودې او ډیموکراسي پروسې یو ځای پیل شوې خو د ملت جوړولو هڅې یې نیمګړې وې او د ملي هویت په هکله قاطعیت او روښانتیا نه درلوده. شاه امان الله خان د خلکو د قانوني مساوات په هکله کلکې هلې ځلې وکړې خو څرنګه چې د ملي هویت مسله حل شوې نه وه نو د ۱۹۲۹ کال اړدوړ نه یوازې د ملت جوړولو، اقتصادي ودې او ډیموکرسۍ پروګرامونه ناکام کړل، بلکې نادرشاه او بیا صدراعظم هاشم خان د دولت د ټینګېدو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې.

احدي وايي چې د صدراعظم محمد هاشم خان دا ستراتیژي چې د اکثریت قوم او ژبه (پښتانه او پښتو ژبه) په ملي هویت کې اساسي برخه ولري عملي ستراتیژي ده خو حکومتونو د هغې په پلي کولو کې د قوي عزم نه کار وانخېست او په پایله کې د ملت د جوړېدو په لاره کې دغه لومړنۍ ستراتیژي ناکامه شوه. د صدراعظم شاه محمود خان او صدراعظم محمد داودخان په دورو کې د ملت جوړولو د پروسې پر ځای اقتصادي ودې ته



زیاته پاملرنه وشوه او د محمد ظاهرشاه د مشروطه پاچاهۍ په دوره کې د ملت جوړولو، اقتصادي ودې او ډیموکراسۍ پروسې ټولې یو ځای پیل شوې. د ملي هویت په هکله د ظاهرشاه ستراتیژي دا شوه چې پښتو او دري به رسمي ژبې وي او پښتو به برسېره پر هغې چې رسمي ژبه ده ملي ژبه هم وي. احدي وايي چې که څه هم دا یوه معقوله ستراتیژي وه خو د پلي کولو په لاره کې یې هېڅ ډول اغېزمن ګامونه پورته نه شول. د دې سره سره چې ظاهرشاه د خلکو د قانوني مساوات په هکله اغېزمنې هلې ځلې وکړې، خو څرنګه چې ملي هویت پوخ نه و د دغې دورې د لیبرال ازادیو نه د قومي اختلافاتو د غښتلتیا په لاره کې ګټه پورته شوه او د ملت د جوړېدو پروژه یو ځل بیا ناکامه شوه.

د محمد داود په دوهمه دوره کې ډیموکراسي د منځه ولاړه، د ملي وحدت په هکله کوم واضح فورمول طرح نه شو او د دولت په استحکام او اقتصادي ودې باندې ټینګار وشو. د خلقیانو په دوره کې د ملي وحدت پرځای په طبقاتي جګړې ټینګار وشو او پرچمیانو قومي اختلافات تشویق کړل او غوښتل یې حکومت د قومي اقلیتونو په مرسته ټینګ کړي. د برهان الدین رباني په دوره کې د ملي وحدت ځای قومي جګړو ونیو.

د ملي هویت په ټاکلو کې د ژبې موضوع ډېر اهمیت لري. د ډېورنډ د کرښې د تېرېدو د مخه پښتانه په افغانستان کې دومره زیات وو چې پښتو باید د افغانستان یواځینۍ رسمي او ملي ژبه وای. اوس هم په افغانستان کې پښتانه د شمېر له مخې د ۶۳ ٪ او د ژبې په لحاظ ۵۵ ٪ نه زیات دي پدې اساس هم باید پښتو ملي او رسمي ژبه وي. څنګه چې پښتنو د پارس نه سیاسي ازادي واخېسته خو د کلتوري ازادۍ په لاسته راوړلو کې پاتې راغلل او افغان واکمن د ملت جوړولو په پروسه کې د ژبې په اهمیت نه پوهېدل نو د دوی د ناپوهي او بې پروایي له امله تر ډېره وخته پښتو رسمي اهمیت نه درلود. کله چې د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې پښتو ته د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هویت په ټاکلو کې اهمیت ورکړ شو، په عمل کې پښتو نـه یـوازې دا چـې د دري په نسبت یې لومړیتوب نه درلود، بلکې په واقعیت کې دوهمـه درجـه او محکومه ژبه وه.

پدې ترتیب د هېواد د ملي یوالي لپاره په مـلي هویـت موافقـه تـر ټولـو مهـم شرط دی او د ملي هویت پر موافقې برسېره د ټولنیز، سـیاسي، اقتصـادي او نورو برخو کې قانوني برابري ده. په واقعیت کـې دغـه دوه مهـم شرطونـه د ملي یووالي منځ ته راتلو لپاره بنسټ جوړوي.

د احدي په اند دهېواد د ملت جوړونې په پروسه کې د هویت په ټاکلو کـې باید «د افغانستان د ټولو وګړو شمېر او ځینې تاریخي واقعیتونه په نظر کـې ونیسو. پدې کې شک نشته چـې د افغانسـتان د ټولـو قومونـو نـه د پښـتنو شمېر زیات دی. دا هم ښکاره ده چې پښتون او افغان مترادفـې کلیمـې وې او وروسته د افغان کلیمه عام شموله شوه او د افغانستان ټول وګـړي یـې پـه غېږه کې ونیول. همدغه دلیل دی چې د دولت هویت تل افغان و.... زمـوږ پـه سـیمه کـې نـور قومونـه ځـانګړي دولتونـه لـري. تاجکسـتان، ازبکسـتان ترکمنستان، ایـران او ترکیـه ټـول قـومي دولتونـه دي. د دغـو ټولـو دولتونـو هویـت د هـر هېـواد د اکثریـت پـه قـوم پـورې تړلـی دی. څرنګـه چـې پـه افغانستان کې پښتانه د ټولو نه لوی قوم دی، د ملي ټولنې هویـت بایـد چـې افغان وي. پدې اساس که له اول نـه د افغانسـتان سـیاسي پرمختـګ د نـورو ډېرو هېوادونو د انکشاف مسیر تعقیب کړی وای، پښـتو بایـد د افغانسـتان یـواځینۍ رسـمي او مـلي ژبـه وای او اوس پښـتو د افغانسـتان د ټولـو اوسېدونکو د تفاهم وسیله وای. خو په افغانستان کـې سـیاسي پرمختـګ لـه نورمال مسیر نه اوښتی دی او سره لدې چې د پښتنو نفـوس پـه سـلو کـې د پنځوسو نه زیات دی ګڼ شمېر اقلیتونه د پښتو پـر ځـای دري زده کـړې او موږ باید دغه واقعیت د ملي ټولنې په جوړولو کې په نظر کـې ونیسـو. پـدې اساس ښه به دا وي چې پښـتو او دري دواړه رسـمي ژبـې وي، خـو سـیاسي



عدالت، تاریخي واقعیت او په هېـواد کـې د پښـتنو اکثریـت دا حکـم کـوي چې پښتو دې د افغانستان ملي ژبه هم وي.»۲۲۴

کاکړ وایي چې «په افغانستان کې د سروال نـه نیـولې تـر کاتـب او چپـړاسي پورې ټول هغه کسان چې له بیت المال یـاني لـه ملـت لـه خزانـې نـه معـاش اخلي په پښتو او دري ژبو باید لیک وکولی شي . پښتو دې د فارسي په څېـر په نظر او عمل کې رسمي او دفتري ژبه وي او پـه ښـوونځیو، پوهنتونونـو او قضایي محاکمو کې د قانون له مخې د اکثریت په حیث ځای ولري.»۲۲۵

د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره یوې اوږد مهاله ستراتیژۍ ته اړتیـا ده. څرنګـه چې ایران د خپلې ژبې د پرمختګ لپاره اغېزمنه ستراتیژي لري هغـه دا چـې د نړۍ د ژبو نه هر ډول علمي او د هنري ادب کتابونه پـه پاړسـو ژبـاړي. د دې لارې خپله ژبه شتمنوي او خپله هـم پـه پاړسـو ژبـه اثـار لیکـي. دوی د خپلې ژبې د پرمختګ د ستراتیژۍ په پلي کولو کې پوره بریالي دي.

پاکستان هم د ژبې اغېزمنه ستراتیژي لري هغه دا چې نړیوال مالوماتو تـه د انګرېزي ژبې د زده کړې له لارې لاسرسی لري او اردو ژبې تـه هـم هـر ډول اثار ژباړي. پاکستان هم د خپلې ستراتیژۍ په پلي کولو کې بریالي دي.

پښتانه اړ دي چې د نړیوالو علمي مالوماتو د لاسرسی په موخه انګلیسي ژبه زده کړي او د انګلیسي ژبې نه هرډول اثار په پښتو ژبه وژباړي او خپلـه ژبـه شتمنه کړي. نن پښتانه ځوانان لګیا دي چـې د ژبـاړې لپـاره د کمپیـوټر پـه مرسته داسې د ژباړې پروګرامونه جوړ کړي چې د انګلیسي ژبې نه هر ډول کتاب د یوې تڼۍ پـه کښېکښـلو سره د سـترګې پـه رپ کـې وژبـاړل شي او ژباړه بیا د مسلکي کسانو له خوا د سمون وروسـته د چـاپ لپـاره تیـاره شي.

پدې ترتیب به انګلیسي د علم د لاسته راوړو او بهرنۍسوداګرۍ ژبه، پښـتو شتمنول د ملي پېژاند د ساتنې او غښتلتیا لپـاره اړینـه وسـیله ده او پښـتانه باید پخپل وطن کې پښتو د زده کړې، اقتصاد او دفتر ژبه کړي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځونه

۱-محمد حسن کاکړ، پښتون، افغان، افغانستان، ۲ کابل،۲۰۱۱
۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۳-۲)
۳-کاکړ (۲۰۱۱، ٦)
۴-کاکړ (۲۰۱۱، ٦)
۵-کاکړ (۲۰۱۱، ٦)
٦-کاکړ (۲۰۱۱، ۸-۷)
۷-کاکړ (۲۰۱۱، ۳۲)
۸-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۰۰)
۹-محمد حسن کاکړ، د جان کیګن لیکنه، «جنګ او زموږ نړۍ» د ژباړونکي سریزه،۹
۱۰-محمد حسن کاکړ، د هومر بالابانس لیکنه، د ژباړونکي سریزه، ۲٦-۲۷، کابل،۲۰۱۰
۱۱- کاکړ (۲۰۱۱، ٦۹)



۱۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۰۵-۱۰۴)
۱۳-رحمت ربي زیرکیار، ژبه د بابا ادمه تر دې دمه، انټر نېټ، د پښتونخوا سایټ، ۱۵
۱۴-زیرکیار، پورتنی اثر، ۱۷
۱۵-سید بهادرشاه ظفر کاکاخیل، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۲٦٦ پېښور
۱٦-ګل جانان ظریف، پښتو مېخمري ډیبونه ۲۵۰۰ کاله د مخه، ۱، پېښور، ۱۹۹٦
۱۷-ظریف (۱۹۹٦، ۵)
۱۸-محمد دوست شینواری، د افغانستان ژبې او توکمونه، ۵۲
۱۹-اجمل خټک، قصه زما د ادبي ژوند، ۲۰۵-۲۰۴ پېښور ۲۰۰۵
۲۰-کبیر ستوری، ژبساپوهنه، ۴۹، پېښور، ۲۰۰۰
۲۱-زلمی هېوادمل، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، ۵۲۲ لاهور،۱۳۷۳
۲۲-شهسوار سنګروال، د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، ۵۹۹ پېښور، ۱۹۹۷
۲۳-هېوادمل (۱۳۷۳،۵۱۵
۲۴-هېوادمل (۱۳۷۳، ۵۱۵)
۲۵-روبرت زیګلر، یودي دې لوشې، نانسيـ ایزنبرګ، د ماشومانو وده، ۵۸ یوهو،لایدن۲۰۱۳
۲٦-اشرف غني احمدزی، د عادلانه نظام لار، ۲۲۹ د انټرنېټ د سایټ
۲۷-اشرف غني، پورتنی اثر، ۲۳۰
۲۸-باچا خان، زما ژوند او جدو جهد، ۳۳۳ پېښور۲۰۰۸
۲۹-محمد حسن کاکړ، زما غوره لیکنې، ۱٦-۱۵ کابل ۲۰۱۰
۳۰-زیرکیار د مخه یاد شوی اثر، ۵۹
۳۱-اشرف غني، د عادلانه نظام لار، ۲۳۷
۳۲-کاکړ ((۲۰۱۱، ۱))

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳-حبیب الله تږی، پښتانه، ۲ پېښور ۱۹۹۹
۳۴-تږی(۱۹۹۹،۳-۵)
۳۵-تږی(۱۹۹۹، ۱۲)
۳٦-تږی(۱۹۹۹، ۱۸)
۳۷-تږی(۱۹۹۹، ۱۹
۳۸-تږی(۱۹۹۹، ۲۱)
۳۹-تږی(۱۹۹۹، ۲۱)
۴۰-محمد حسن کاکړ، رڼا او دفاع، ۱۱٦ پېښور ۱۹۹۹
۴۱-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۱۸)
۴۲-کاکړ (۱۹۹۹، ۱۲۰-۱۱۹)
۴۳-کاکړ ((۲۰۱۱، ۲۱))
۴۴-تږی(۱۹۹۹، ۳۰ )
۴۵-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۱۹)
۴٦-تږی(۱۹۹۹، ۳۰ )
۴۷-تږی(۱۹۹۹، ۳۱ )
۴۸-تږی(۱۹۹۹، ۳۱ )
۴۹-تږی(۱۹۹۹، ۳۱-۳۲)
۵۰-تږی(۱۹۹۹، ۳۲)
۵۱-کاکړ(۲۰۱۱، ۱۲۱
۵۲-تږی(۱۹۹۹، ۳۸)
۵۳-تږی(۱۹۹۹، ۳۹)
۵۴-تږی(۱۹۹۹، ۴۰)
۵۵-تږی(۱۹۹۹، ۴۰)
۵٦-تږی(۱۹۹۹، ۴۰)
۵۷-تږی(۱۹۹۹، ۴۱)



۵۸-تږی(۱۹۹۹، ۴۱)
۵۹-تږی(۱۹۹۹، ۴۳)
٦۰-تږی(۱۹۹۹، ۴۳)
٦۱-کاکړ (۲۰۱۱ ، ۱۰۵)
٦۲-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۰۵)
٦۳-ستوری (۲۰۰۰، ۴٦)
٦۴-الفنستېون، د کابل سلطنت، ۲۰٦ د د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ژباړه، کابل ۲۰۰۸
٦۵-عبدالشکور رشاد، تقریظ، شپږمه پاڼه، هېوادمل (۱۳۷۳)
٦٦-رشاد پورتنی تقریظ شپږمه او اومه پاڼې
٦۷-جبیب الله تږی، د مشرق په اسمان کې د مغرب ستوري، ۴۲،پېښور، ۲۰۰٦
٦۸-غلام محمد غبار، تاریخ مختصر افغانستان، ۳۰-۲۹
٦۹-محمد حسن کاکړ، افغان، افغانستان و افغان ها و تشکیل دولت در هندوستان فارس و افغانستان، ۲۹-۲۸، پېښور۲۰۰۰
۷۰-کاکړ (۲۰۱۱، ۱۴۸)
۷۱-محمد هوتک، پټه خزانه، ۳۴ دوهم چاپ د پوهنې وزارت د دارالتألیف ریاست، ۱۹۳۹
۷۲-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۴۰-۴۸)
۷۳-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۵۰)
۷۴-زلمی هېوادمل، د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۴۹، دویم چاپ،پېښور۱۳۷۹
۷۵-هېوادمل (۱۳۷۹، ۵۰)
۷٦-محمد هوتک (۱۹۳۹، ٦۲)
۷۷-هېوادمل (۱۳۷۹، ۵۵)
۷۸-مبارک علي، د تاریخ هینداره ۱۵۴، د اسدالله عضنفر ژباړه، کابل ۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۹-هېوادمل (۱۳۷۹، ۳۳)
۸۰-هېوادمل (۱۳۷۹، ۳۴)
۸۱-هېوادمل (۱۳۷۹، ۳۴)
۸۲-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۲۴)
۸۳-هېوادمل (۱۳۷۹، ٦۱)
۸۴-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۰)
۸۵-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۴)
۸٦-هېوادمل (۱۳۷۹، ٦۸)
۸۷-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۸۴)
۸۸-هېوادمل (۱۳۷۹، ۷۳)
۸۹-هېوادمل (۱۳۷۹، ۷۴)
۹۰-هېوادمل (۱۳۷۹، ۷۴)
۹۱-هېوادمل (۱۳۷۹، ۷۵)
۹۲-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۷۰)
۹۳-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۷۲)
۹۴-ظفر کاکاخیل، (۴۷۰)
۹۵-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۷۸)
۹٦-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۷۸)
۹۷-هېواد مل (۱۳۷۳، ۳۲)
۹۸-دوست شینواری، (۴۵)
۹۹-دوست شینواری، (۴۵)
۱۰۰-تړی (۲۰۰٦، ۳۱)
۱۰۱-کاکړ (۲۰۱۰،۱۲ او ۱۳۹)
۱۰۲-کاکړ(۲۰۰۰، ٦۱)
۱۰۳-(کاکړ،۲۰۱۰، ٦٦)



۱۰۴-هېوادمل (۱۳۷۳، ۱۲۴)
۱۰۵-هېوادمل (۱۳۷۳، ۱۷۱)
۱۰٦-هېوادمل (۱۳۷۳، ۱۷۵)
۱۰۷-محمد اعظم سیستاني، ظهور افغانستان معاصر و احمدشاه ابدالي، ۱۱۵
پېښور ۲۰۰۷
۱۰۸-ظفر کاکاخیل()
۱۰۹-کاکړ(۲۰۰۰، ٦۲)
۱۱۰-محمد انور نومیالی، د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي،۴۵ کندهار ۱۹۹۰
۱۱۱-هېوادمل (۱۳۷۹، ۱۴۴)
۱۱۲-هېوادمل (۱۳۷۳، ۲۱۹)
۱۱۳-هېوادمل (۱۳۷۹، ۱۷۵)
۱۱۴-رحمان بابا، دشعر دیوان،۲۵۰-۲۴۹
۱۱۵-هېوادمل (۱۳۷۹، ۱۷۷)
۱۱٦-هېوادمل (۱۳۷۹، ۱۷۷)
۱۱۷-هېوادمل (۱۳۷۹، ۱۷۸)
۱۱۸-هېوادمل (۱۳۷۹، ۱۷۹)
۱۱۹-هېوادمل (۱۳۷۹، ۲۱٦)
۱۲۰-عبدالحی حبیبي، د پښتو ادب لنډ تاریخ،۳۹
۱۲۱-هېوادمل (۱۳۷۳، ۲۸۹)
۱۲۲-هېوادمل (۱۳۷۳، ۲۹۱)
۱۲۳-هېوادمل (۱۳۷۳، ۴۰۰)
۱۲۴-هېوادمل (۱۳۷۳، ۴۳۴)
۱۲۵-هېوادمل (۱۳۷۳، ۴۴۵)
۱۲٦-هېوادمل (۱۳۷۳، ۴٦۰)
۱۲۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۸- سیستاني (۲۰۰۷، ۱۵۱)
۱۲۹-محمد معصوم هوتک، سل پګړۍ یو پړونی،۴۲، پېښور ۲۰۰۷
۱۳۰-معصوم هوتک (۲۰۰۷، ۱۴)
۱۳۱-سیستاني (۲۰۰۷، ۱۸۵)
۱۳۲-محمد ولي ځلمی، د افغانستان او روسیې د سیاسي روابطو لنډه تاریخچه،۲۵-۲۷ کراچي ۱۳۷۴
۱۳۳-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۸۰)
۱۳۴-محمد عثمان رستار تره کی، افغان هوتکي پاځون،۲٦-۲۵ د مقالو ټولګه، پېښور۲۰۰۵
۱۳۵-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۱۴)
۱۱۳٦-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۲۰۲)
۱۳۷-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۴۰)
۱۳۸-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۳٦)
۱۳۹-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۳۲)
۱۴۰-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۸۸)
۱۴۱- محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۱۴)
۱۴۲- محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۷۲)
۱۴۳-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۳۰)
۱۴۴-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۲٦-۱۲۸)
۱۴۵-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۹۸)
۱۴٦-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۳۴)
۱۴۷-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۰۸)
۱۴۸-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱۵٦)
۱۴۹-محمد هوتک (۱۹۳۹، ۱٦۲)
۱۵۰-هېوادمل (۱۳۷۹، ۲۰۴)



۱۵۱-سیستاني (۲۰۰۷، ۸۸)
۱۵۲-کاکړ(۲۰۰۰، ۷۰)
۱۵۳-سیستاني (۲۰۰۷، ۳۲٦)
۱۵۴-احمدشاه بابا، د احمد شاه بابا دیوان، ۳۵-۳٦ دویم چاپ، پېښور۱۹۹۹
۱۵۵-هېوادمل، (۱۳۷۳، ۲۵۴-۲۵۵)
۱۵٦-هېوادمل (۱۳۷۳، ۲۵۵)
۱۵۷-هېوادمل (۱۳۷۳، ۲٦۷)
۱۵۸-محمد صدیق روهي ادبي څېړنې ۳۲۸ پېښور۲۰۰۷
۱۵۹-روهي ۲۰۰۷، ۳۲۹-۳۲۸)
۱٦۰-روهي ۲۰۰۷، ۳۳۲)
۱٦۱-الفنسټون، (۲۰۰۸، ۳۲۵)
۱٦۲-الفنسټون، (۲۰۰۸، ۳۲۵)
۱٦۳-عزیزالدین وکیلي، د تیمورشاه دیوان، ۲۵-۲٦ کابل۱۳۵٦
۱٦۴-سیستاني (۲۰۰۷، ۳۵۸)
۱٦۵-سید جمال الدین افغان، تتمه البیان في تاریخ الافغان، ۴۵ د محمد رفیق ژباړه، پېښور ۲۰۰۷
۱٦٦-محمد ابراهیم اعطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه لیکنه، ۳۸-۳۹ کابل ۱۳۸۲
۱٦۷-سیستاني، (۲۰۰۷، ۳٦۰)
۱٦۸-الفنسټون (۲۰۰۸، ۲۰۷)
۱٦۹-محمد غوث خیبري، پښتانه د فرهنګي ښکېلاک په ځنځیرونو کې ٦۹ چاپ کال ۲۰۰۲
۱۷۰-تړی، (۲۰۰٦، ۴)
۱۷۱-ګ. ف. ګیرس، د مېړني اولس ادبیات، ۱۸۰-۱۸۱ پېښور ۲۰۰۸
۱۷۲-تړی (۲۰۰٦، ۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۳-تړی (۲۰۰٦، ۹۳-۹۴)
۱۷۴-تړی (۲۰۰٦، ۹۵-۹٦)
۱۷۵-تړی (۲۰۰٦، ۱۴۲-۱۴۳)
۱۷٦-تړی (۲۰۰٦، ۱۵۴)
۱۷۷-تړی (۲۰۰٦، ۱۷۷)
۱۷۸-تړی (۲۰۰٦، ۱۷۷-۱۷۸)
۱۷۹-محمو طرزی خاطرې، د پوهاند ډاکټر کاکړ ژباړه، ۴ پېښور ۲۰۰۷
۱۸۰-کاکړ، میوند د افغانستان د تاریخ څلی، دمقالو ټولګه،۷۳ ۲۰۰۱
۱۸۱-محمو طرزی (۲۰۰۷، ۲٦-۲۵ )
۱۸۲-محمود طرزی (۲۰۰۷، ۳۲)
۱۸۳-کاکړ (۲۰۰۱، ۹۴)
۱۸۴-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۳)
۱۸۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۳۵)
۱۸٦-غوث خیبري، (۲۰۰۲، ٦۹)
۱۸۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۷۵-۷۴)
۱۸۸-تړی، (۲۰۰٦، ۱۲۷)
۱۸۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۰-۴۱)
۱۹۰-امیر عبدالرحمن، تاج التواریخ، ۲۹۱-۲۹۰ پېښور ۱۳۷۵
۱۹۱-محمد صدیق روهي، د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۵۵ کابل ۱۹۹۹
۱۹۲-روهي (۱۹۹۹، ٦۸)
۱۹۳-روهي (۱۹۹۹، ۷۲-۷۳)
۱۹۴-روهي (۱۹۹۹، ۷٦)
۱۱۹۵-روهي، (۱۹۹۹، ۷۹)
۱۹٦-روهي (۱۹۹۹، ۸۱)
۱۹۷-محمد حسن کاکړ، د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه، ۴۷،



پېښور ۲۰۰۵
۱۹۸-کاکړ (۲۰۰۵، ٦۹)؟
۱۹۹-باچاخان، (۲۰۰۸، ۱٦۳)
۲۰۰-باچا خان، (۲۰۰۸، ۱٦۳)
۲۰۱-محمد اعظم سیستاني، علامه محمود طرزي، شاه امان الله و روحانیت متنفذ ۱۸۵، پېښور۲۰۰۴
۲۰۲-سیستاني، (۲۰۰۴، ۱۷۷)
۲۰۳-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۲-۴۳)
۲۰۴-عبدالغفار فراهي، افغانستان د دموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې، ۱۹۲دوهم چاپ پېښور ۲۰۰۲
۲۰۵-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۳-۴۴)
۲۰٦-خیر محمد ماموند، افغانستان د یرغلونو په لار کې، ۲۰۹-۲۰۷، هالنډ،اتریخت۲۰۱۲
۲۰۷-سید امین مجاهد، حریانات پشت پرده لویه جرگه قانون اساسي، ۹۰-۸۹ کابل ۱۳۸۷
۲۰۸-مجاهد (۱۳۸۷، ۱۳۵)
۲۰۹-مجاهد (۱۳۸۷، ۱۳۸)
۲۱۰-اشرف غني، د عادلانه نظام لاره ۱۴۰-۱۳۹
۲۱۱-ګیرس، (۲۰۰۸، ٦۴)
۲۱۲-باچا خان، (۲۰۰۸، ۲۳۳-۲۳۲)
۲۱۳-سید عثمان سنجش، باچاخان په افغانستان کې،۷۲ پېښور۲۰۰۸
۲۱۴-اجمل خټک، (۲۰۰۳،۱۸۳)
۲۱۵-اجمل، (۲۰۰۳، ۲۲۲-۲۲۱)
۲۱٦-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۷)
۲۱۷-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۸-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۸)
۲۱۹-کاکړ (۲۰۱۰، ۴۹)
۲۲۰-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۰)
۲۲۱-کاکړ (۲۰۱۰، ۵۱)
۲۲۲-انورالحق احدي، ملي مسلې، ۲۵، پېښور۲۰۰۱
۲۲۳-احدي، (۲۰۰۱، ۲۵)
۲۲۴-احدي، (۲۰۰۱، ۳٦)
۲۲۵-کاکړ، (۲۰۱۰، ۵۲)

په دغه لیکنه کې د لاندو اثارو نه هم استفاده شوې ده:

۱-عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، د عبدالروف بېنوا ژباړه، کندهار ۲۰۱۲

۲-عبدالحی حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی او دوهم ټوک، پېښور ۲۰۰۵

۳-محمود الحسیني، تاریخ احمد شاهي، پېښور ۲۰۰۱

۴-فیض محمد کاتب، سراج التواریخ، کابل ۱۳۳۱

۵-محمد اقبال وزیري، د باچا خان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه، پېښور ۲۰۱۰

٦-محمد اقبال وزیري، د ثور پاڅون، د کې جي بي دسیسې او شوروي یرغل،پېښور ۲۰۰۷

۷-محمد حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیک تاریخ، لایډن ۲۰۰٦



# پښتنو ته اوس حتمي شوې چې
# خپله پښتو او هویت وساتي

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ
اگست، ۲۰۱۴

پښتنو په خپل اوږده تاریخ کې له خپلې ژبې سره بې پروایي کړې ده، که څه هم دغې ژبې د هر پښتون په روزل کېدلو او د استعدادونو په انکشاف کې اساسي اثر لرلی دی. پښتو داسې ژبه ده چې مطالب پکې په دقیق ډول افاده کېدلی شي. گرامر یې پراخ، اوازونه یې ډېر او جوړښت یې ښه منظم دی. له څلوېښت نه ډېر اوازونه لري، په داسې حال کې چې فارسي دوه دېرش او انگریزي شپږویشت اوازونه لري. د گرامر په برکت یې مطالب پکې دغسې دقیق او لنډ ادا کېدلی شي، چې شاید په ډېرو نورو ژبو کې هغسې ادا نه شي: راغی، راغله، ورغلل، درغلل، لاړ، لاړه، لاړل، لاړلې. د پښتو لومړني جوړونکي به د لوړ استعداد خاوندان وو، چې د دغسې ښو صفتونو ژبه یې جوړه کړې ده.

داسې ښکاري چې د پښتو لومړني جوړونکي ساکا وي، ځکه چې پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغومره چې د ساکي ژبې سره نږدې ده، له بلې ژبې سره دومره نږدې نه ده. د اریایي ژبو نامتو متخصص جیورج مارګن سټرن لا وایي چې «... پښتو بې له دې چې له ساکي ژبې سره وتړله شي، بل کېدون نه لري.»ساکا او پښتانه په اصل کې لکه چې یو ټبر وي، یا پښتانه د ساکا د ټبر څانګه وي. ساکي ژبه او پښتو له اوستایي ژبې سره هم نزدې دي. د اوستا ژبه له ویدي دورې نه وروسته هسکه شوې، په داسې حال کې چې پښتو او ساکي ژبه تر هغې نه د مخه راوتلې دي.

پروفیسر مک ګورن د منځنۍ اسیا لرغونی امپراتوری مولف وایي چې په لرغوني مهال کې ساکا د اسیا د لویې وچې یو ستر ټبر و، لکه د التای د غرونو درو اوسېدونکي چې وروسته د مغولي ټبرونو په نامه یاد شول، هم لوی ټبر و. ساکا د التای د غرونو په لوېدیځ کې، د تیان شان غرونو په دواړو خواوو سیمو کې، په منځنۍ اسیا کې، په اریانه کې او په شمالي هند کې د کوچیانو په شان ژوند کاوه. دوی دولتونه او امپراتوري ګانې هم لرلې دي. ساکي پارتیانو په مخزیږدې ۲۵۴ کې د دغسې امپراتورۍ بنسټ کېښود، چې فارس، مرو، او هرات یې برخې وې.دغه امپراتوري چې د روم د امپراتورۍ رقیبه وه، څه کم پنځه پېړۍ وپایېده. دا په زیږدي ۲۲۴ کې وه چې د فارس ساساني پاچا اردشیر هغه نسکوره کړه، او پارتیا یې خراسان ونوموله، یاني هغه هېواد چې د فارس په ختیځ کې پروت دی. پارتیان په اصل کې ساکا وو. د دوی بله امپراتوري په سیستان کې وه، چې د ګوندوفارس په سروالي ان تر شمالي هند پورې غزېدلې وه. سیستان له ساکستان نه راوتلی نوم دی او اوسېدونکي یې ساک زي نومېدل، چې په اسلامي دوره کې اسحق زي شول لکه اسپه زي، چې یوسف زي شول.

د بخدي اوسېدونکی، ارساس (Arsace) د پارتیه دولت موسس و. ده دغه کار وروسته له هغه وکړ، چې په بخدي کې په ۲۵۹ مخزیږدې کې د یونان-باختري دولت په پښو درول شوی و. دی چې د ارساک (Arsak) یا ارشاک



په لقب یادېده د پرنای (Per nae) څانګې مشر و، چې د دهای (Dahae) د قوم یوه څانګه وه، او هغه د ساکا د لوی کانفدریشن مساګیتای (Massagetae) ټبر ته منسوبه وه. د ځینو په نظر د پښتون نوم له پارتیه یا پورتون څخه راوتلی دی. له پورتون نه پښتون کېدل، او سرچینه یې طبیعي ښکاري. په لندن کې یوه عادي یوسف زي پښتون ځانله پورتون وایه.

د ریګویدا په مذهبي سندرو کې پکتها (Paktha) د پکتهاس (Pakthas) ټبر پاچا یاد شوی، او دغه ټبر پښتانه ګڼل شوي دي. د پکتها د خلکو د بل پاچا نوم توریانا(Turyana ) و.په اوستایي دوره کې د تاریخ پلار هېرودت په خپل تاریخ نومي اثر کې د ویدي دورې پکتهاس د پکتیان په نامه او هېواد یې د پکتویکا په نامه یاد کړی دی. له بلې خوا ایران پوه دهخدا په خپل فرهنګ دهخدا کې وایي چې د پارتیانو ژبه په «پرثوه» یا «پرتو» یادېده چې هغه وروسته پهلوي شوه، او پهلوي بیا په دوه ژبو ووېشل شوه: اشکاني پهلوي او ساساني پهلوي یا شمالي پهلوي او جنوبي پهلوي. د فارس خلکو پارتیان اشکانیان بلل چې دا د ارشاک لقب نه راوتلی نوم دی. وروسته د ساساني پاچا اول شاهپور په وخت کې د نقش رستم په نامه ډبرینه لیکنه په درې ژبو-پارتي، منځنۍ فارسي او یوناني کې، یا د دهخدا د فرهنګ له مخې په اشکاني پهلوي، ساساني پهلوي او یوناني کې وکښل شوه. په دغې ډبرینې لیکنې کې د افغان نوم هم د ابګان (Abgan) په بڼه په دغه ډول یاد شوی دی: ګوندافر ابګان رازماد ( Gondafer Abgan Razmad). داسې ښکاري چې ابګان هم د پارتیانو نوم و. امریکایي پروفیسر شپرنګلینګ (Springling) دغه تعبیر د لومړي ځل لپاره وړاندې کړی دی. دغه نوم په همدغه بڼه وروسته د فردوسي په شاهنامه او نورو معتبرو منابعو کې یاد شوي، او وروسته افغان شوی دی.

په دغه ډول پښتون یو ډېر لرغونی ټبر دی، او دولتونه او امپراتوري ګانې یې جوړې کړې دي، چې وروستۍ امپراتوري یې د احمدشاه بابا وه. خو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت نه چې پارتیه خراسان ونومول شوه، هم دوی او هم یې ژبه له قوت او برم نه ولوېدل. د پښتنو د بېرته توب لاملونه ډېر دي. خو دوه اساسي علتونه یې د ډېرو پښتنو له خوا د پښتو پرېښوول، یاني خپل هویت ترک کول او په خپلو کې تربوري، او گوندي ماري کول دي. د تاریخ په بهیر کې ډېرو پښتنو خپله ژبه پرې ایښې ده. په دغه کار سره دوی خپل هویت او پښتونوالي له لاسه ورکړې ده. په نتیجه کې د دوی استعدادونو ښه وده ونکړه، ځکه چې د یوه چا استعداد هغومره چې د هغه په مورنۍ ژبه کې وده کوي، په بلې ژبې کې یې نه شي کولی. له پخوا نه په لوېدیځو پښتنو کې فارسي او په ختیځو پښتنو کې اردو د پښتو په تاوان د ننه شوې. او لا هم د ننه کیږي. د ډېورنډ کرښې لا خپله پښتانه په رسمي ډول سره وېشلي دي.

د پښتو په ترکېدلو سره پښتونوالي هم له لاسه وتلې ده. پښتونوالي چې د پښتنو د کلتوري ارزښتونو ټولگه ده په اصل کې ژوند طرز دی چې پښتنو ته یې د ژوند لارې چارې ایستلې، او د کولتور خاوندان کړي دي یاني له ابتدایي او خپل سر طبعي حال نه بېرون کړي، او د سرېتوب په لار روان کړي دي. سره له دې ډېرو پښتنو په شمالي هند، مشهد، او حتی د ننه په افغانستان په تېره په هرات او کابل کې پښتو پرې ایښې ده. اوس دغسې نیمگړي او حل شوي پښتانه لږ نه دي. که دغسې پښتانه له اول نه په نظر کې ونیسو ټول شمېر یې ممکن له اوسنیو پښتنو نه ډېر وي. دغه حال پښتانه ډېر ضعیف کړي دي.په داسې حال کې چې دوی لوی ټبر او د ژوند ډگر یې هم پراخ و، چې ځینې بېلگې یې اوس هم له افغانستان او د پښتونخوا نه د باندې لیذل کیږي.

همدا اوس د چیچنیا په خلکو کې د سوچه پښتو نومونو خلک لیدل کیږي. تېر کال چې د امریکې د باستون په ښار کې دوه وروڼو د منډې په سیالۍ کې په ځغاستونکو ډزې وکړې، په اصل کې له چیچنیا څخه و، چې پلار یې



اوس هم هلته د انځور په نامه ژوند کوي. بله بېلگه یې د مخه په منځنۍ اسیا کې لیدل شوې ده.شوروي لرغون پوهانو په مرو او خوارزم کې دغسې ښارگوټي لوځ کړي چې د نومونو وروستاړی یې کلا دی لکه تیشک کلا (Teshik-kala)، کوپرک کلا (Koprik-kala) او داسې نور. په افغانستان کې دغسې ترکیبي نومونه تر اوسه هم رواج لري لکه زمان خان کلا، شاه غاسي کلا او داسې نور. د هېرودت په وخت کې د همدغې سیمې د یوې ساکي ملکې نوم زرینه وه، چې هغه سوچه د پښتو نوم دی. د لوی سکندر په وړاندې د بخدي پښتون سپېتا منز نږدې دوه نیم کاله وجنگېد او وروسته د هغه لور اپامه (Apama) د سکندر د ختیځې امپراتورۍ ځای ناستي سلوکوس نیکاتور مېرمن شوه او د دوی زوی په یونان- باختري دوره کې د لومړي انتیکوس په نامه پاچایي وکړه. نیکاتور د ای خانم ښار موسس هم و. په هند کې هم د پښتو اثار لا ډېر دي. هلته د دهلي اسلامي سلطنت په اوږدې دورې کې لودیان او سوریان په ملي سویه، او نور پښتانه په تېره یوسف زي په محلي سویه سروالان وو.

خو اوس په پښتنو کې د تربوري، گوندیماري تر څنگه د ترور یا ترهگري افت هم په قوت روان شوی..لا غټ افت په دوی کې ځان وژنه او بل وژنه ده، چې اوس په ټول افغانستان کې په تېره د ډېورنډ کرښې په دواړو خواوو سیمو یاني په پښتنو کې عامه شوې ده، او ډېر ولسي مشران یې هم له مینځ نه وړي دي. که دغه افت د نورو افتونو تر څنگ همدغسې روان وي، هغه ممکن تر ټولو هغو خطرونو څخه ډېر مضر تمام شي ، چې افغانانو ته او په خاص ډول پښتنو ته تر اوسه پېښ شوي دي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال ژوندلیک

محمد اقبال وزیري په ۱۳۲٦ کال کې په سوویلي وزیرستان کې زیږېدلی دی. په ۱۳۳۵ کال کې د خوشحال خان په لیسه کې په درېیم ټولګي کې شامل او په ۱۳۴۴ کال کې د خوشحال خان د لیسې نه فارغ شو. په ۱۳۴۵ کال کې د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې شامل شو. په همدې کال د لوړو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته ولېږل شو. ده په ۱۳۵۲ کال کې خپلې زده کړې د مسکو په دولتي پوهنتون کې د فیلولوژۍ په څانګه کې پای ته ورسولې او د ماسټرۍ ډیپلوم یې لاسته راووړ او په همدې کال یې د کابل د پولیتخنیک په انستیتوت کې د روسي ژبې د استاد په توګه دنده پیل کړه.

په ۱۳۵۵ کال کې د محمد داود د واکمنۍ په مهال د سیاسي فعالیت له کبله بندي شو. د ثور انقلاب د بریالیتوب وروسته په ۱۳۵۷ کال کې د دهمزنګ د بندیتون نه خوشې شو او د افغانستان د وسله وال پوځ د سیاسي چارو د عمومي رییس په توګه وټاکل شو. په همدې کال د افغانستان د خلک ډموکراتیک ګوند د مرکزي کومیټې او د افغانستان د ډموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا غړی شو. برسېره پردې د وطن د دفاع د عالي شورا غړی، دافغانستان د خلک ډموکراتیک ګوند د مرکزي کومیټې د تیوري د کمیسون غړی او د افغانستان د خلک ډموکراتیک ګوند



د مرکزي کومیټې د عدل د څانګې مسؤل هم و.

د ۱۳۵۸ کال د جدي په شپږمه نېټه په افغانستان باندې د شوروي یرغل سره جوخت بیا بندي شو او د لسو کالو او درې میاشتې د بند تېرولو وروسته د څرخي پله د بندیتون نه ایله شو. اوس د هالنډ په ښکلي هېواد کې د خپلې کورنۍ سره یو ځای په دوردرېخت کې اوسېږي. د ده لاندې څلور اثار د مخه خپاره شوي دي.

۱-د ثور پاڅون، د کې جي بې دسیسې او شوروي یرغل

۲-د باچاخان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه

۳-د چخوف داستانونه: «د سراچې کور»، «د واړه سپي مېرمن» او «نومولې» سپړنه (تحلیل) او ژباړه

۴-د ادبیاتو تیوري

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**